مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ (الفتح ۲۹)

# حق پالونکي

## دحق دلارى داتلو غازيانو او شهيدانو معتمد لنډ تاريخ


جمع كوونكى

دافغانستان نامتو عالِم الحاج قيام الدّين كشّاف



www.nanafghan.com

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ (الفتح : ٢٩)

# حقپالونکي

## د حق دلارې دا تلو غازيانو او شهيدانو معتمد لنډ تاريخ

**جمع کوونکی:**

دافغانستان نامتو عالِم الحاج قيام الدّين کشّاف

احمد حبيبي

**مکتبه حبيبيه**

ارګ بازار، کندهار، افغانستان

# حقپالونکي

د حق د لارې د اتلو غازیانو او شهیدانو معتمد لنډ تاریخ

بسم الله الرحمن الرحيم

# په [ حقپالونكي ] کی دبيان سوو صحابه ؤ رضي الله عنهم فهرست



| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| * | دناشر سريزه | ۱۲ |
| * | دراتولوونکی سریزه | ۱۴ |
| | **[ الف ]** | |
| ۱ | حضرت ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه | ۲۰ |
| ۲ | حضرت ابو ذر غفاری رضي الله عنه | ۲۳ |
| ۳ | حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه | ۲۷ |
| ۴ | حضرت ابو ايوب انصاری رضي الله عنه | ۳۰ |
| ۵ | حضرت اُبیّ بن كعب رضي الله عنه | ۳۴ |
| ۶ | حضرت اسيد بن حضير رضي الله عنه | ۳۸ |
| ۷ | حضرت ابو هريره رضي الله عنه | ۴۲ |
| ۸ | حضرت ابو طلحه زيد بن سهل انصاری رضي الله عنه | ۴۶ |
| ۹ | حضرت ارقم بن ابی الارقم رضي الله عنه | ۵۰ |
| ۱۰ | حضرت ابو جندل بن سهيل رضي الله عنه | ۵۳ |
| ۱۱ | حضرت ابو دجانه انصاری رضي الله عنه | ۵۷ |
| ۱۲ | حضرت انس بن مالك رضي الله عنه | ۶۰ |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱۳ | حضرت ابن ام مکتوم رضي الله عنه | ۶۴ |
| ۱۴ | حضرت ابو لبابه انصاری رضي الله عنه | ۶۸ |
| ۱۵ | حضرت اسعد بن زراره رضي الله عنه | ۷۲ |
| ۱۶ | حضرت ابو سلمه عبدالله مخزومی رضي الله عنه | ۷۶ |
| ۱۷ | حضرت ابو العاص بن ربیع رضي الله عنه | ۸۲ |
| ۱۸ | حضرت ابو سفیان مغیره بن الحارث رضي الله عنه | ۸۶ |
| ۱۹ | حضرت ابو سفیان بن حرب رضي الله عنه | ۹۰ |
| | [ ب ] | |
| ۲۰ | حضرت بلال حبشی رضي الله عنه | ۹۵ |
| ۲۱ | حضرت براء بن مالك رضي الله عنه | ۹۸ |
| | [ ت ] | |
| ۲۲ | حضرت تمیم بن اوس داری رضي الله عنه | ۱۰۲ |
| | [ ث ] | |
| ۲۳ | حضرت ثابت بن قیس انصاری رضي الله عنه | ۱۰۶ |
| | [ ج ] | |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۴ | حضرت جعفر طیار رضي الله عنه | ۱۱۱ |
| ۲۵ | حضرت جابر بن عبدالله انصاری رضي الله عنه | ۱۱۵ |
| ۲۶ | حضرت جریر بن عبدالله البجلی رضي الله عنه | ۱۱۹ |
| | [ ح ] | |
| ۲۷ | حضرت حمزه بن عبد المطلب رضي الله عنه | ۱۲۲ |
| ۲۸ | حضرت حنظله بن ابی عامر رضي الله عنه | ۱۲۶ |
| ۲۹ | حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه | ۱۲۸ |
| ۳۰ | حضرت حسان بن ثابت انصاری رضي الله عنه | ۱۳۲ |
| ۳۱ | حضرت حبیب بن زید رضي الله عنه | ۱۳۷ |
| | [ خ ] | |
| ۳۲ | حضرت خبیب بن عدی رضي الله عنه | ۱۴۱ |
| ۳۳ | حضرت خباب بن الارت رضي الله عنه | ۱۴۵ |
| ۳۴ | حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه | ۱۴۸ |
| ۳۵ | حضرت خالد بن سعید رضي الله عنه | ۱۵۲ |
| | [ ز ] | |
| ۳۶ | حضرت زید بن حارثه رضي الله عنه | ۱۵۶ |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۳۷ | حضرت زبیر بن العوام رضي الله عنه | ۱۲۰ |
| ۳۸ | حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه | ۱۲۳ |
| ۳۹ | حضرت زید بن خطاب رضي الله عنه | ۱۲۷ |
| ۴۰ | حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه | ۱۷۱ |
| | [ س ] | |
| ۴۱ | حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه | ۱۷۲ |
| ۴۲ | حضرت سعد بن عامر رضي الله عنه | ۱۷۹ |
| ۴۳ | حضرت سلمان فارسی رضي الله عنه | ۱۸۴ |
| ۴۴ | حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه | ۱۸۸ |
| ۴۵ | حضرت سعید بن زید رضي الله عنه | ۱۹۱ |
| ۴۶ | حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه | ۱۹۴ |
| ۴۷ | حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه | ۱۹۸ |
| ۴۸ | حضرت سالم مولی ابی حذیفه رضي الله عنه | ۲۰۲ |
| ۴۹ | حضرت سهیل بن عمرو رضي الله عنه | ۲۰۷ |
| | [ ش ] | |
| ۵۰ | حضرت شرحبیل بن حسنه رضي الله عنه | ۲۱۱ |
| | [ ص ] | |

| شماره | مضمون | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۵۱ | حضرت صهیب رومی رضي الله عنه | ۲۱۵ |
| | [ ض ] | |
| ۵۲ | حضرت ضرار بن ازور اسدی رضي الله عنه | ۲۱۸ |
| | [ ط ] | |
| ۵۳ | حضرت طلحه الخیر رضي الله عنه | ۲۲۲ |
| ۵۴ | حضرت طفیل بن عمرو رضي الله عنه | ۲۲۶ |
| | [ ع ] | |
| ۵۵ | حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه | ۲۳۰ |
| ۵۶ | حضرت عکرمه بن عمرو بن هشام رضي الله عنه | ۲۳۴ |
| ۵۷ | حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه | ۲۳۷ |
| ۵۸ | حضرت عمار بن یاسر رضي الله عنه | ۲۴۰ |
| ۵۹ | حضرت عبد الله بن رواحه رضي الله عنه | ۲۴۴ |
| ۶۰ | حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه | ۲۴۸ |
| ۶۱ | حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه | ۲۵۱ |
| ۶۲ | حضرت عبد الله بن زبیر رضي الله عنه | ۲۵۴ |
| ۶۳ | حضرت عثمان بن مظعون رضي الله عنه | ۲۵۸ |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۶۴ | حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه | ۲۶۲ |
| ۶۵ | حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه | ۲۶۶ |
| ۶۶ | حضرت عبد الله بن جحش رضي الله عنه | ۲۷۰ |
| ۶۷ | حضرت عمرو بن عبسه رضي الله عنه | ۲۷۳ |
| ۶۸ | حضرت عبیده بن حارث رضي الله عنه | ۲۷۶ |
| ۶۹ | حضرت عمرو بن جموح رضي الله عنه | ۲۸۱ |
| ۷۰ | حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه | ۲۸۵ |
| ۷۱ | حضرت عتبه بن غزوان رضي الله عنه | ۲۸۹ |
| ۷۲ | حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام رضي الله عنه | ۲۹۳ |
| ۷۳ | حضرت عدی بن حاتم طائی رضي الله عنه | ۲۹۸ |
| ۷۴ | حضرت عمیر بن سعد رضي الله عنه | ۳۰۲ |
| ۷۵ | حضرت عباد بن بشر رضي الله عنه | ۳۰۶ |
| | [ ق ] | |
| ۷۶ | حضرت قیس بن سعد بن عباده رضي الله عنه | ۳۱۱ |
| ۷۷ | حضرت قتاده بن نعمان انصاری رضي الله عنه | ۳۱۵ |
| | [ ک ] | |
| ۷۹ | حضرت کعب بن مالك انصاری رضي الله عنه | ۳۱۹ |
| | [ م ] | |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ٨٠ | حضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه | ٣٢٣ |
| ٨١ | حضرت مقداد بن عمرو رضي الله عنه | ٣٢٧ |
| ٨٢ | حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه | ٣٣٠ |
| ٨٣ | حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه | ٣٣٣ |
| ٨۴ | حضرت مثنى بن حارثه رضي الله عنه | ٣٣٧ |
| | [ هـ ] | |
| ٨۵ | حضرت هشيم بن عتبه رضي الله عنه | ٣۴١ |
| ٨٦ | حضرت هشام بن عاص رضي الله عنه | ٣۴۵ |
| | [ ى ] | |
| ٨٧ | حضرت يزيد بن ابو سفيان رضي الله عنه | ٣۵٠ |
| * | دذكر سوو صحابه كرامو رضي الله عنهم لنډه پيژندنه | ٣۵۴ |
| * | دحقپالونكي مأخذونه | ٣٩٩ |
| * | ددې كتاب دمؤلف نور چاپ سوى آثار | ۴٠٠ |


* * *

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلوة والسلام علی رسول الله ﷺ وعلی اله واصحابه الذین جاهدوا فی الله. امابعد:

دپېښور له رادیو څخه دافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت لپاره دخپریدونکو مواعظو او بیانیو په لړ کی، چی له (۱۳۵۸) هـ ش کال څخه را پدیخوا می د (**اسلامی نظام**) تر سرخط لاندی پرله پسی اورولی دی دنورو مختلفو دینی اوسیاسی موضوعاتو ترڅنګ چی مخکښی دهغه څه برخی په دوو ټوکونو کښی چاپ سویدی په موضوع (**دحق دشمعی پتنګان**) تر عنوان لاندی، دصحابه ؤ کرامو رضی الله عنهم دژوند حالات دی چی د (۱۹۸۷) م کال دجولای له (۷) نیټی څخه پیل د (۱۹۸۹) م دجون تر (۱۵) نیټی پوری خپاره شوه او پدی دوران کی زیات شمیر محترمو اوریدنکو وخت په وخت غوښتنه کوله چی دغه مضامین په کتابی شکل کښی چاپ شی ترڅو داوسنیو اوراتلونکو نسلونو داستفادی وړوی او دهوا په څپو کښی له مینځه ولاړ نشی ما دګرانو اوریدونکو هڅوونکو اوله مینی ډکو احساساتو ته په جواب ورکولو دپېښور راډیو په اجازه ددغی مجموعی په چاپولو پداسی شان اقدام وکړ چی همغه لنډ مضامین کټ مټ می راواخیستل اوبی له دی چی دوهمه کتنه پر وکړم یا لمن لیك اوڅه ضروری تعلیقات ورباندی زیات کړم نشر ته می وسپارل خودا معذرت وړاندی کوم چی که محترم لوستونکی په تفصیل سره دصحابه کرامو رضی الله عنهم دژوند دحالاتو دمطالعی تنده محسوسوی نو دراډیوی پروګرام دلنډ او تنګ وخت په نظر کښی نیولو سره به ما مجبور وګڼی نه مقصِر.

**دصحابه وو رضي الله عنهم دسيرت انتخاب:**

ددی موضوع په انتخاب کښی زما خاص مطلب داؤ چی دافغانستان مجاهد ملت چی دتاریخ پدی دورکښی پر کومه لاره قدم کیښود هغه په حقیقت کښی داسی له مصیبتونو اوکړاوونو څخه ډکه اواغزنه لاره ده چی درسول الله ﷺ دخوږو ملګرو غوندی کلك ایمان قوی عزم، اخلاص، صبر، توکل، ایثار اوقربانی غواړی اوددی اغزنی لاری لارویان به هغه کسان وی چی رسول الله ﷺ اودهغه شریعت ورته له خپله ځانه له خپلو خوږو اولادونو له خپل پلار اومور اوددنیا له ټولو خلګونه محبوب او ګران وی اوددی مبارك حدیث مصداق وی چي:

(لاَ يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنُ اَحَبُّ اِلَيْهِ مِنْ وَّالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ) ، (بخاری)

یعنی هیڅ یو له تاسی نه ترهغه پوری مؤمن نشی کیدی ترڅوچی زه ورته له مور اوپلار اولاد اوټولو خلګو څخه محبوب نه سم.

دالار په ګلونو فرش بستر اودخوندورو خوراکونو دسترخوان نه دی بلکی دا دجهاد اوهجرت لاره ده دبند اوزندان لاره ده دا دتکالیفو اومحرومیتونو لاره ده په سمڅو او غارونو کښی دشپو ورځو تیرولو لاره ده په سرونو باندی دلوبو کولو لاره ده اوبالاخره دالله جل جلاله اورسول ﷺ سره دمینی پخاطر دمالونو او اولادونو د قربانولو لاره ده.

ددی سختی اواغزنی لاری لومړنی لارویان دحق دشمعی هغه پتنګان دی چی الله تعالی دهغوی په باب دسورة توبه په (۱۰۰) آیت کښی فرمائی:

وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ.

هغه مهاجرین او انصار چی هغوی ترټولو دمخه دایمان دعوت ته په لبیك ویلو کښی وړاندی شول اوهغه کسان چی وروسته له ریښتینوالی سره په هغو پسی راغلل الله جل جلاله له هغوی نه راضی شو اوهغوی له الله جل جلاله نه راضی شول الله جل جلاله دهغوی لپاره داسی جنتونه تیار کړیدی چی ترهغه لاندی به ویالی

بهيږي او هغوی به پکښی دتل لپاره اوسيږي همد اډير لوی بريالیتوب دي.

هو! په ريشتيا سره د اډير لوی بريالیتوب دی چی له چا څخه الله ﷻ راضی شی اوخپله رضا په همدی دنيا کښی ورته اعلان هم کړی په ټولو عبادتونو کښی دبنده هدف همدا وی چی الله ﷻ راضی شی هيڅ يو نعمت او دولت دالله ﷻ درضا له نعمت اودولت سره سيالی نسی کولای او دغه لوی نعمت دحق دشمعی پتنګانو ته ځکه په نصيب شو چی هغوی دحق په لاره کښی دميړانی اوپه بندګی کښی داخلاص خاوندان وه او پدی خبره باندی دسورۀ فتح (۲۹) آيت شاهد دی چي:

مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ .

محمد (ﷺ) دالله ﷻ رسول دی اوکوم کسان چی له هغه سره ملګری دی هغوی پرکافرانو سخت اوپخپلو مينځو کښی خوا خوږی دی ته چی کله هغوی وينی په رکوع اوسجده اودالله درضا په طلب کښی به يی ووينی دسجدو نښی نښانی دهغوی پر تندی باندی موجودی دی چی په همدی نښانو سره له ليری پيژندل کيږي.

درسول اکرم ﷺ دخوږو ملګرو ښه صفت همدا بيان شويدی چی:

دخپل محبوب دشريعت داقامت لپاره ددين ددښمنانو په مقابل کښی ډير سخت يعنی دفولادو دغره په څير ولاړ وو نه له مرګ او ژوبلی څخه ويريدل اونه له تهديد اوفشار څخه نه ددښمن دسيسو له خپل سپيڅلی هدف څخه واړولی سول اونه مادی طمعی اوحرص په هرراز ترخو شرايطو اوحالاتو کښی دخپل هدف خواته مخ په وړاندی روان وه او هرڅومره سختی يی چی کوله هغه ددښمنانو په مقابل کښی وه نه دخپلو مومنانو وروڼو، په خپل مينځونو کښی خو هغوی ډير زيات زړه سواندی او خواخوږی وه آن تردی پوری چی دتنګسی په وختونو کښی يی خپلو وروڼو ته پرخپل ځان باندی ترجيح ورکوله لکه چی ددی مدعا داثبات ښه شاهد دسوره حشر (۹) آ يت دی چي:

﴿وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْكَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾

يعنى (دوى خپلو ورونو ته پخپل ځان باندى ترجيح وركوى اګركه پخپله په تنګسه كښى وي). دكافرانو سره سخت برخورد پخپلو مينځو كښى خوا خوږى اوداللّٰه ﷻ په عبادت كښى اخلاص هغه صفتونه دى چى دمسلمانانو دحريت عزت او عظمت تضمين كوى كه مسلمانان داسلام ددښمنانو په مقابل كښى له سخت مقاومت صبر ثبات او استقامت نه كار وانخلى سربښندنى او قربانى ته تيار نشى مصيبتونه ونه زغمى لوږى تندى ونه ګالى خپل اودخپلو خوږو اولادونو ژوند له اسلام نه لوګى نكړى نه به دخداى په دى ځمكه كښى اسلامى نظام قايم شى او نه به مسلمان ته دعزت ژوند په برخه شى كه ژوندى وى هم دنورو تر لاس لاندى به دذلت بى خونده ژوند تيروى اوپه مړو به حساب وي.

همدارنګه كه مسلمانان پخپلوكښى خواخوږى اوغم شريك نه وى دټولنى تركيب يى ديوبدن دغړو په څيرنه وى يوبل ته دمرستى اوهمدردى لاس ونه غزوى دديوال دخښتو په څير يو بل ته اوږه ورنكړى اوهر يو دخپل ځان په غم كښى وى نو بيا ددښمن په مقابل كښى مقاومت نشى كولاى اوټول به دځان ځانى په حالت كښى ددرندو مصيبتونو ښكار شي.

اوكه دادواړه صفتونه موجود وى خوچى بنده دخداى په وړاندى دعاجزى سر كښته نكړى له هغه څخه دنصرت اومرستى غوښتنه ونكړى بياهم پخپل قوت دبرى اوكاميابى منزل ته نشى رسيدى دجهاد اومبارزى په ميدان كښى دمؤمنانو اسره دخداى (ج) نصرت وى اودخداى (ج) نصرت دمتقيانو اونيكانو په برخه كيږى دبريالى توب په دغه رازونو باندى صحابه كرام رضي الله عنهم ډير ښه پوهيدل اودا درى ٣ واړه صفتونه يى درلودل ځكه خو دهغوى په ټولنه كښى دمادى وسايلو دنشتوالى سره سره دهغوى ټولنه دغره په شان محكمه وه دنړى هيڅ يو طاقت ورسره ډغرى وهلو ته زړه نشو ښه كولاى دهغوى دعبادت اوقربانيو په بركت اللّٰه تعالى خپل دين چى يو وخت دښمنانو دكعبى په خوا او شا كښى ځړګنديدو اوخپريدوته نه پريښود په كمه موده كښى دعربى نړى په

ګوټ ګوټ کښې اوبيا له هغه نه دباندې په ډير عزت او عظمت سره خپور کړ اودجهل پر نيلي سپرو مغرورو واکمنانو ورته دتسليم اواحترام سرونه کښته کړل صحابه کرامو رضي الله عنهم دا غوره صفتونه اولوړ خويونه په نبوی مدرسه کښې زده کړی وه او دهغوی ژوند اوسيرت دنبوی سيرت هنداره ده که له يوی خوا دهغوی سترګی دخپل محبوب ﷺ دمبارك مخ په ليدو رڼيدلی له بلی خوايی قدم په قدم دهغه دعمل اوکړو وړو عکاسی کوله او دخپلی لاری دمشال په توګه يی ور څخه کار اخيست که وويل شي چې هر صحابي مجسم قرآن ؤ ډيره مبالغه به نه وی ځکه چې دقرآن عملی صورت ددوی په سيرت کښې ليدل کيده اوپه عمل کښې تفسير کيده.

دوی په ډيرو سختو شرايطو اوحالاتو کښې درسول (ﷺ) ملګرتيا غوره کړه او دهغه ﷺ دصحبت په چينه يی دزړه او دماغ کروندی خړوبه شوی.

دوی دهدايت داسمان هغه ځلانده ستوری دی چې دهغو په رڼا کښې دانسانيت طوفانی بيړۍ دنجات دساحل خوا ته خپله لاره وپيژندله دوی که ددنګو ماڼيو اوږدو او پلنو سړکونو اودپلونو اوبندونو معماران نه وه خو د جهالت په زلزله نړيدلی انسانيت هغه ماهر معماران وو چې دزړونو کنډوالی يی دمجللو ښارونو په څير ودانی کړی اودهغو په تيارو ګوټونو کښې يی د ايمان، تقوی، ترحم، صدق، اخوت اومحبت ډيوی بلی کړی او ترڅو چې دا ځمکه اواسمان وی دا ډيوی به بلی وی ددوی پر نقش قدم باندی تګ داسلام دسر لوړی اودمسلم امت دسلامتيا عزت او برم ضامن اوحق ته درسيدو هغه محکم تناب دی چې دالله جل جلاله خواته غځيدلی دی ترکومه وخته چې مسلمانان ددوی پر نقش قدم باندی روان وه دحريت، عزت اوشرف ژوند ور په برخه ؤ خوکله چې مسلمانانو له دی لاری نه فاصله ونيوله اودمعنوی عزت پرځای يی دظاهری عيش اوعشرت خواته مخه کړه نو دذلت کندوته وغورځيدل اودنورو لاس ته کښيناستل خو الحمدلله چې دتاريخ پدی دورکښې دافغانستان مؤمن اومجاهد ملت دجهاد اوهجرت دلاری په مخ کښې نيولو سره دحق دشمعی ددغو پتنګانو کارنامی يو ځل بيا تازه کړی اودهغوی دژوند دحالاتو په نظر

كښې نيولو سره چې هره ترخه صحنه ورباندې راغله نا اشنا نه وه اوپه پوره صبر سره يې وزغمله.

دسره وحشي او بې دينه جلادانو دلاسه دغير انساني تعذيبونو په دوران كښې دحضرت بلال حبشي، حضرت ابو فكيهه، حضرت عمار بن ياسر، حضرت عبد الله بن ياسر، حضرت مصعب بن عمير، حضرت زبير بن العوام، حضرت ابو جندل بن سهيل، حضرت ابوذر غفاري، حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت عثمان بن مظعون، حضرت طلحه بن عبيدالله، حضرت خباب بن ارت، حضرت عثمان بن عفان، حضرت عياش بن ابي ربيع، حضرت سلمه بن هشام حضرت وليد بن وليد، حضرت صهيب بن سنان رضي الله عنهم او نورو دتعذيبونو حالات او همدارنګه دبيبيانو له جملې نه دحضرت سميه بنت خباط حضرت زنيره، حضرت لبينه، حضرت نهديه، حضرت ام عبيس اوحضرت حمامه رضي الله عنهن دژوند دردوونكي واقعات ورياد شول چې دظالمانو مشركانو دلاسه په بيلا بيلو ډولونو دظلم په ژرنده اوړه كيدل خو هيڅ يو مصيبت دهغو په ايمان كښې يوه ذره تزلزل رانه وستلى شو.

همدارنګه كه دوحشي روسانو دوحشيانه بمباريو او عامو وژنو لامله خپل وطن پريښودلو ته مجبور شول اولوړې تندې وربانډې راغلي نو درسول الله (صلى الله عليه وسلم) او دهغه دملګرو دهجرت او نبوي مسجد كښې داصحاب صفه رضي الله عنهم حالت يې له ياده ونه ايسته، كه په تش لاس د نړۍ له ستر نظامي طاقت سره د جنګ په متعددو ډګرونو كښې مخامخ شول پدې عقيده وجنګيدل چې په جنګ كښې دكاميابي راز دپوځ او وسلې په ډيروالي كښې نه بلكې په استقامت او صبر اودقرباني په جذبه كښې نغښتې دى او دايمان او عقيدې وسله تربلې هرې وسلې قوي ده اوپه زړه كښې يې دصحابه كرامو رضي الله عنهم دجهاد اوفتوحاتو ياد تازه شو چې په بدر كښې درې سوه ديارلس ۳۱۳ دناكافي وسلې لرونكي مؤمنان دكافرانو دزر ۱۰۰۰ كسيز مجهّز لښكر په مقابل كښې دأحد په جګړه كښې اووه سوه ۷۰۰ مؤمنان ددرې زره ۳۰۰۰ كسيز كفرى لښكرپه مقابل كښې داحزاب په جنګ كښې درې زره ۳۰۰۰ مؤمنان دځلور

ويشت زره ۲۴۰۰۰ كسيز مجهّز كفرى لښكر په مقابل كښى، د موته په جنګ كښى درى زره ۳۰۰۰ مؤمنان د ديرش زره ۳۰۰۰۰ كسيز لښكر په مقابل كښى اودتبوك په جګړه كښى ديرش زره ۳۰۰۰۰ مؤمنان ددوو لكو ۲۰۰۰۰۰ كافرانو په مقابل كښى په پوره ثبات جنګيدلى او روستى برى هم مؤمنانو ته په نصيب شوى ؤ.

كه دحق اوباطل دمعركو په بيلا بيلو ډګرونو كښى يى دشهادت جامونه وڅيښل نودرسول الله (ﷺ) دهغو ملګرو دشهادت يادىى تازه كړ چي هغوى په خپلو وينو سره داسلام بڼ ښيرازه وساته اوترڅو چى دادنيا ودانه وى ددغه بڼ په ميوو اوګلونو سره به دمؤمنانو تالو خوږ اودماغ به يى معطّر وي. ددى كاروان مخكښانو: حضرت سيد الشهداء حمزه (رض)، حضرت طلحه (رض) بن عبيد الله، حضرت عبدالله بن زبير (رض)، حضرت مصعب بن عمير (رض)، حضرت زيد بن حارثه (رض)، حضرت جعفر بن ابى طالب، حضرت عبد الله بن رواحه، حضرت سعد بن معاذ، حضرت سعد بن عبيد، حضرت طفيل بن عمرو، حضرت عمرو بن طفيل، حضرت ابو حذيفه بن عتبه، حضرت عكرمة بن ابو جهل، حضرت عبدالله بن عبدالله بن اُبىّ، حضرت ابو دجانه سماك بن خرشه، حضرت زبير بن العوام، حضرت نعمان بن مقرن، حضرت عبدالله بن جحش، حضرت خبيب بن عدى، حضرت زيد بن الدثنه، (رضي الله عنهم) اونورو دفانى ژوند په قربانولو سره ابدى اونه ختميدونكى ژوند وګاټه اوپه سپينو مخونو اوهسكو غاړو پخپل محبوب محمد رسول الله ﷺ پسى ولاړل.

خدا رحمت كند اين عاشقان پاك طيـــنت را

بنا كردند خوش رسمى بخاك وخون غلطيدن

دافغانستان دجهاد شهيدان دهمغوى پر نقش قدم روان شول اوكه خداى كول داخرت په تل پاته او جاودانى ژوند كښى به په جنت كښى له همغوى سره ملګرى وى.

لكه څنګه چى دجهاد اوقربانيو په نتيجه كښى درسول الله (ص) خواږه ملګرى پخپل هدف كښى چى هغه داسلامى نظام قايمول اودشرك اوجهالت

دشیطانی رژیم له مینځه وړل ؤ کامیاب شول همداسی به زمونږ مجاهد ملت هم پخپل دغه هدف کی کامیابیږي. انشاء الله

* * *

## (حضرت ابو عبیده بن الجراح ) ﷺ

دحضرت ابو عبیده بن الجراح اصلی نوم عامر بن عبد الله بن الجراح ؤ او دقریشو دبنو فهد کورنۍ ته منسوب ؤ هغه وخت دحضرت صدیق اکبر ﷺ په دعوت په اسلام مشرف سوی ؤ چي لا فخر الرسل (ص) دار ارقم ته نه ؤ داخل سوی. دبدری صحابه ؤڅخه ؤ دعشره مبشرهٔ ؤ یو تن او په هغو کښی هم شامل چي تر ونی لاندی یی درسول الله (ص) په لاس دسربښندنی بیعت کړی ؤ.

په کوم وخت کښی چی حضرت ابو عبیدهٔ (رض) داسلام حق دعوت قبول کړ په هغو شرایطو کښی اسلام قبلول داور په سکروټو کښی دلاس ننه ایستلو په څیر ؤ خو ابوعبیدهٔ (رض) دغه اورته په ورین تندی او پوره افتخار سره وردانګل ځکه ومنل چی الله ﷻ اورسول ﷺ ورته له خپله ځانه ګران وو.

ابوعبیده (ض) یو سربښندونکی مجاهد دزهد اوتقوی صدق او امانتداری سمبول ؤ له همدی امله کله چی په نهم ۹ هجری کال کښی دنجران دخلګو نماینده ډله مخی ته راغله اوویی غوښتل چی درسول الله (ص) استازی ورسره ولاړشی اودحق دعوت اوتعلیم ورته وکړی نو سرور کائنات (ص) هغوی ته وفرمایل: (زه به له تاسی سره یو ریښتونی امانتدار ولیږم) حضرت عمر (رض) فرمائي: کله چی پیغمبر (ص) له لمانځه نه وزګار شو ښی اوکیڼی خواته یی کتل اوما به دځان ورښولو لپاره ځان ورغځوه ترڅو چی دغه سعادت او دامین لقب راپه برخه شی پدی ترځ کښی دهغه نظر په ابو عمیده (رض) باندی ولګیده اوورته یی وفرمایل: اخرج معهم فاقض بینهم بالحق فیما اختلفو فیه. (له دوی سره ولاړ شه اوددوی ترمینځ ددوی دذات البینی (خپل مینځی) شخړو په هکله دحق فیصله وکړه) داهغه وخت ؤ چی پیغمبر ﷺ فرمایلی وو: (لکل امة امین وامین هذه الامة ابو عبیدة) (دهرامت لپاره یوامین سته اوددی امت امین عبیده دي).

ابو عبیده (ض) په دریمه قافله کښې حبشې ته هجرت کړی ؤ اوبیا دمدینې په لومړیو مهاجرینو کښې هم شامل ؤ ابوعبیده (رض) ته الله ﷻ او رسول ﷺ او داسلام مبارك دین ترمور اوپلاره اوخپلو خپلوانو ډیر محبوب ؤ ددی اثبات هغه دبدر په معرکه کښې داسې وکړ چې دالله ﷻ دخوښې لپاره یې دخپل پلار سر په توره غوڅ کړ.

دأحد په جګړه کښې چې مسلمانان په سخته ازموینه کښې ولویدل ابو عبیده (رض) له رسول الله (ص) سره دخپلې بې حده مینې څرګندونه داسې وکړه چې ابوبکر صدیق (رض) وائی دأحد په ورځ په رسول الله (ص) باندې یو سخت ګوزار داسې وشو چې دزغرې دجنګې خولۍ دوې کړۍ دهغه په دواړه خواته اننګو کښې ښخې شولې، زه دهغه خواته ور روان وم کتل مې چې یو سړی پداسې بیړه دهغه خواته په منډه دی لکه چې په وزرونو الوزی اودا سړی ابوعبیده ؤ، ماچې کله غوښتل چې دسرورکائنات (ص) له اننګونه کړۍ وباسم نو ابوعبیده راته قسم واچوه ویې ویل: داکار ماته پریږده، زه به یې وکړم په مخامخ غاښ باندې یې دیوه مخ کړۍ را وایستله، کړۍ یې چې وغورځوله دهغه غاښ هم ورسره وغورځیده بیایې دبل مخ کړۍ په بل مخامخ غاښ سره ونیوله هغه یې چې وایستله بل غاښ یې هم ورسره ووت.

ددې زړه دردوونکې منظر په کتلوچې درسول الله (ص) مبارك مخ په وینو رنګ ؤ ابوعبیده په خواشینې سره وویل: (څنګه به فلاح ومومې هغه قوم چې دخپل پیغمبر مخ یې په وینو رنګ کړ او هغه یې دپروردګار خواته دعوت کوي). دخدای (ج) دلارې دغه ستر مجاهدپه ټولو غزاګانو کښې دیو تکړه قوماندان په صفت برخه واخیستله څومره لوی شان ؤ دابوعبیده چې دسلاسل په غزا کښې چې کله رسول الله (ص) دعمرو بن العاص (رض) لپاره دمرستې لښکر ورلیږه اوپه هغه کښې حضرت ابوبکر صدیق (رض) اوحضرت عمر (رض) غوندې شخصیتونه شامل وه نو ابو عبیده (رض) یې ددغه لښکر قوماندان وټاکه. دخبط په غزا کښې چې کله رسول الله (ص) څه دپاسه درې سوه تنه مجاهدین دحضرت ابو عبیده (رض) ترقیادت لاندې ولیږل، پدې غزا

کښې له مجاهدينو سره دخوراك لپاره ديوڅه اندازه خرماؤ نه پر ته نورڅه نه وو. حتی دومره سختي پر راغله چې يوتن مجاهدته به يې دورځې يوه دانه خرما ورکوله، ټوله ورځ به يوه سړی هغه يوه دانه خرما داسې رودله لکه ماشوم چې دمور تی روی اوبه يې ورپسې څښلې اوپه هغې به يې ګوزاره کوله اوکله چې هغه هم ختمې سوی بيا به يې دونو پاڼې خوړلې او اوبه به يې ورپسې څښلې خو دمجاهدينو په صبر اوثبات کښې څه سوستی رانغله.

درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته هم ابوعبيده (رض) دابوبکر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما دخلافت په دور کښې دخدای (ج) په لار کښې جهاد ته ادامه ورکړه. کله چې د شام او ايران د جګړو اوږده لړۍ شروع شوه ابوبکر صديق (رض) د شام خواته ابو عبيده، د فلسطين خواته عمرو بن العاص د اردن خواته شرحبيل بن حسنه او د دمشق خواته يزيد بن ابی سفيان وټاکل خو درخصتيدلو په وخت کښې يې ورته هدايت ورکړ چې که د جګړې په ترڅ کښې تاسې يوځای کيدوته اړ وزي، نوبيا به ستاسې ټولو قوماندان ابوعبيده وي. حضرت ابو عبيده (رض) چې کله روانيده ابوبکر صديق (رض) ترمشنية الوداع پوری ورسره مشايعت وکړ او دخدای پامانی په وخت کښې يې ورته وويل: (ابوعبيده ښه عمل کوه چې ژوندی يې جهاد کوه چې مری شهيد مړ شه خدای (ج) دی ستا عملنامه ستاپه ښی لاس کښې درکړي، په دنيا اواخرت کښې دی ارمان پوره شه. په خدای (ج) قسم، زه هيله من يم چې ته له هغو خلګو څخه يې چې له الله (ج) نه ډير بيريږی. له دنيا سره يې مينه نه وي، داخرت غوښتونکی وی الله (ج) په تاباندی ډيره پيرزوينه کړيده چې ته داسلام دلښکر دمشرپه حيث دالله (ج) له دښمنانو سره دجنګيدو لپاره روان يې نوکوم خلګ چې له الله نه منکر دي، له هغه سره شريك نيسی اوددروغو خدايان يې ځان ته نيولی دی له هغو ټولو سره جهاد وکړه.

الله تعالی حضرت ابوعبيده (رض) ته پدی سترو جنګونو کښې ستره فتح په نصيب کړه دشام اوروم لښکرو ته ئی ماتی ورکړه اوپه بی شميره سيمو کښې دتوحيد بيرغ ورپيده.

حضرت عمر (رض) دشام داوړدو جګړو په ترڅ کښی حضرت ابوعبیده (رض) ته دحضرت خالد بن ولید (رض) په ځای دقوماندانی فرمان ولیږه. هغه دا فرمان پټ وساته اودجګړې له پای ته رسیدو نه وروسته یی ورکړ. خالد بن ولید وویل: (یرحمك الله ابا عیده ما منعك ان تخبرنی حین جاءك الکتاب) ابو عبیده الله (ج) دی په تاباندی رحم وکړي، ولی دی همغه وخت خبر نکړم چی دغه فرمان درته رسیدلی ؤ ؟

امین الامت جواب ورکړ: (انی کرهت ان اکسر علیك حربك وما سلطان الدنیا نرید و لا للدنیا نعمل کلنا فی الله اخوة).

ما دانښه ونه ګڼله چی جګړه درباندی خرابه کړم، موږ خو نه دنیوی اقتدار غواړو اونه ددنیا لپاره کار کوو، موږ ټول دخدای (ج) په لاره کښی وروڼه یو.

ابو عبیده (رض) دعمر فاروق (رض) نه مخکښی وفات شو حضرت عمر (رض) یوه ورځ وفرمایل: (لوکان ابو عبیده بن الجراح حیاً لاستخلفته فان سالنی رب قلت استخلفت امین الله (ج) وامین رسوله (ص).

یعنی که ابوعبیده بن الجراح ژوندی وای مابه خپل جانشین ټاکلی ؤ او که پروردګار دهغه په باب رانه پوښتنه کړی وای ویلی به می وای چی ما دالله ﷻ او رسول الله ﷺ امین خپل جانشین ټا کلی ؤ. (رضی الله تعالی عنه)

## ( حضرت ابو ذر غفاری ) رضي الله عنه

حضرت ابو ذر چی اصلی نوم یی جندب بن جناده ؤ بنو غفار قبیلی ته منسوب له مدینی منوری نه اتیا میله لیری دبدر په خواوشا کښی هغی لاری ته نژدی اوسیده چی له مکی مکرمی نه دشام او فلسطین په لوری تللی وه.

دحضرت ابوذر دقبیلی دټولو خلګو ورځنی شغل که څه هم لاری شکول، اودتجارتی کاروانونو لوټول ؤ خوده ته الله تعالی د اسلام له راتګ نه لا دمخه دتوحید لاره ښودلی وه اوپه فطری ډول له شرك اوبدو عملونو څخه بیزار او متنفرؤ، پخپله یی دځان لپاره دیوه خدای دبندګی څه طریقه ټاکلی وه اودشپی زیاتره برخه به الله تعالی ته په سجده پروت ؤ، په صحیح مسلم کښی راغلی دی چی په ابوذر (رض) باندی لا داسلام راوړلو نه مخکښی دخدای بیره

مسلطه وه، پخپله دهغه نه روايت دی چي: زه به دشپی دلمانځه لپاره دريدم او تر هغه به ولاړ پاتی کيدم چی صبح کاذب به راوخوت بيا به می ځان داسی پر مزکه وغورځوه چی تا به ويل کومه ټوټه پرته ده اوهغه وخت به را ولاړيدم چی دلمر تودوخه به راباندی ولگيده. دبنو غفار خلگو به دهغه له خولی نه د (لا اله الا الله) ذکر اوريده اوحيرانيدل به چی دغه سړی په څه ليونتوب اخته شويدي.
پدی وخت کښی په مکه باندی داسلام دلمر وړانگی خپری شوی وی اومحمد رسول الله (ص) دتوحيد دعوت پيل کړی ؤ يوه ورځ دغفار قبيلی يوسړی مکی ته ولاړ، هلته دتوحيد دبلنی له طرز نه خبر شو کله چی بيرته راغی حضرت ابو ذرته ئی وويل ابوذره ستاپه رقم په مکه کښی يوسړی (لا اله الا الله) وائی او خلگ له بت پرستی نه منع کوی ابوذر (رض) ددی خبر په اوريدلو سمدلاسه خپل ورور انيس چی يو اوچت شاعر او ځيرك سړی ؤ دحالاتو معلومولو لپاره مکی ته وليږی، انيس چی کله بيرته راستون شو ابوذر (رض) ته يی خپل تأثرات وړاندی کړل ويی ويل: خلگو دتوحيد داعی ته شاعر اوجادوگر وايه مگر په خدای قسم چی هغه نه شاعر دي، نه کاهن اونه جادوگر، هغه خلگو ته دنيکی په لوری دعوت ورکوی اوله بديو نه يی منع کوی دابوذر (رض) په زړه کښی دسرور کائنات (ص) دليدو مينه څپانده شوه پخپله مکی ته ولاړ، دکعبی تر څنگ ديره شو.

څو ورځی يی په لوږه پداسی حال کښی تيری کړی چی يوازی دزمزم په اوبوبه يی گوزاره کوله په پای کښی حضرت علی (رض) ورسره مخامخ شو پوښتنه يی وکړه: وروره زه داڅو ورځی تادلته وينم، نه پوهيږم دڅه شی په لټه کښی يی. ابوذر (رض) جواب ورکړ: که ته له ما سره مرسته کوی اوزما حال نه افشاء کوی نو خپل مقصد به درته ووايم علی (رض) چی اطمينان ورکړ نو حضرت ابوذر (رض) دزړه حال هغه ته بيان کړ علی (رض) هغه له ځانه سره دپيغمبر (ص) حضورته وروست اوپه اسلام مشرف شو.

رسول اکرم (ص) ابوذر (رض) ته وظيفه ورکړه چي: ته اوس بيرته ولاړ شه خپلی قبيلی ته دحق دعوت وړاندی کړه اوکله چی ددعوت دڅرگند اعلان خبر

درته ورسیده بیا مکی ته راشه. ابوذر (رض) عرض وکړ: ای دالله رسوله که اجازه راکوی په خدای (ج) قسم چی زه همدا اوس په مکه کښی خپل اسلام اعلانوم. دالله حبیب (ص) چی دهغه توده ولوله اودقربانی جذبه ولیدله چوپ پاتی شو.

ابوذر (ض) دکعبی حرم ته ولاړ، دمشرکانو یوی غونډی ته په خطاب یی وویل: (ای خلگو! له یوه خدای (ج) نه پرته بل معبود برحق نشته اومحمد (ص) دالله (ج) ریښتونی رسول دي) ددې اعلان په اوریدلو سره مشرکان له ځلورو خواوو نه په ابوذر (رض) باندی راټول شول اوله حده زیات یی وواهه پدی وخت کښی عباس (رض) بن عبد المطلب وړاندی شو خلگوته یی وویل: دا سړی وپیژنی دا دبنو غفار قبیلی څخه راغلی دی که تاسی دی ووژنی نو ستاسی یوتجارتی کاروان به هم دمقصد پړاوته ونه رسیږي. ښه داده چی دبنو غفار قبیله دځان دښمنه ونه گرځوی دعباس (رض) پدی وینا سره یی ابوذر (رض) خوشی کړ.

بیا له هغه وروسته حضرت ابوذر (رض) خپل وطن ته ولاړ، هلته یی خپلی کورنی او ټولی قبیلی ته دتوحید بلنه وړاندی کړه چی دهغه دبلنی په اثر زیاتره خلك په اسلام مشرف شول ابوذر (رض) ډیر کلونه داسلام دیو مؤثر داعی په حیث وظیفه اجرا کړه اوپه پای کښی دتبوك له غزا نه مخکی مدینی ته مهاجر شو. دتبوك په غزا کښی ابوذر (رض) هم دسرور کائنات (ص) په ملگرتیا کښی په سفر روان شو.

په لاره کښی دهغه اوښ لټ شو اوله قافلی نه بیرته پاتی شو. مجبور شو دخپل سفر وسایل یی پخپلو اوږو باندی راواخیستل .اسلامی لښکر په یو ځای کښی توقف وکړ.

یو سړی پیغمبر (ص) ته عرض وکړ: یارسول الله! یو سړی له لیری نه راروان دی نه پوهیږم چی څوك به وي؟

رسول الله (ص) وفرمایل: ابوذر به وي. کله چی لږ رانژدی شو په ریشتیا سره ابوذر (رض) ؤ. رسول الله (ص) وفرمایل: ابوذر (رض) یوازی گرځي،

یوازې به مړکیږي او دقیامت په ورځ به یوازې راپاڅیږي، یوه ورځ رسول الله (ص) دصحابه ؤ په مینځ کښې ناست ؤ حضرت ابوذر (رض) راغی اوسلام یې واچوه، پیغمبر (ص) وفرمایل (ما اظلت الخضراء وما اقلت الغبراء اصدق لهجة من ابی ذر) اسمان پداسې چا باندې خپل سیورې ندې اچولې اوځمکې داسې څوك پخپلو اوږو ندې را اخیستې چې له ابوذر نه دریښتینې لهجې خاوند وي؟

هو! حضرت ابوذر په هغه وخت کښې دفدائیانو له کاروان سره یو ځای شو چې له خدیجة الکبری، صدیق اکبر، علي مرتضی، اوزید بن حارثه (رضی الله عنهم) نه پرته بل چا (اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا رسول الله) نه ؤ ویلې. کله چې ددواړو جهانو سردار له دې فانې دنیا نه رحلت وکړ دابو ذر (رض) دزړه دنیاګۍ ورانه شوه مدینه یې پریښودله شام ته ولاړ اوهلته اوسیدونکې شو حضرت ابوذر (رض) دټولو اخلاقي محاسنو خاوند ؤ ددنیا له شتمنې څخه یې سخته کرکه وه، دفقر ژوند یې خوښ وو، په حق ویلو کښې دخپلې زمانې مثالي انسان ؤ اغنیاؤ ته دهغه دپیغام لنډیز داؤ : ای شتمنو خلګو! که تاسې خپل مالونه دالله (ج) په لاره کښې ونه لګوي، نو دقیامت په ورځ به ستاسې په ذخیره کړې دولت سره ستاسې مخونه، اړخونه اوشاګانې وداغل شي په یاد ولري، چې په مال کښې درې شیان شریك دي: وارث چې سترګې په لاره دي چې تاسې به کله له دې دنیا نه رخصتیږې چې ستاسې پر مال دولت باندې خیټه واچوي، تقدیر چې ستاسې څخه له پوښتنې کولو پرته خپله فیصله صادروي اوپخپله تاسې که تاسې له دغو دواړو نه میدان ګټلای شی اومسابقه وړلی شی نودا کار هرو مرو وکړئ الله تعالی فرمائي:

(لن تنالوا البر حتی تنفقوا مماتحبون) تاسې هیڅکله نیکي نسې موندلې ترڅو چې دخپلې خوښې وړشیان انفاق نکړې. یوه ورځ امیر معاویه (رض) ابو ذر (رض) ته یوموټې پیسې ولیږلې، هغه سمدلاسه په بیوزلو باندې وویشلې، په دویمه ورځ امیرمعاویه (رض) دازمیښت لپاره یوسړی ورولیږه چې هغه پیسې چې وتاته رالیږل شویدې، بیرته یې راکړه مطلب یې داؤ چې که پیسې

ورسره پاتی وی نو پوښتنه به ترینه وسی چی ته خو دیوی ورځی لپاره هم مال جمع کول ناروا بولی اوپخپله دی ولی د اکار کړیدی؟

خو ابوذر (رض) دقاصد په جواب کښی وفرمایل: ماهغه پیسی دسهار له لمر ختلو مخکښی په مسکیینانو باندی وویشلی امیر معاویه (رض) ته چی داخبره ورسیدله ویی ویل: واقعاً ابوذر ریښتونی دی څه چی وائی عمل هم ورباندی کوی. دعمر په پای کښی حضرت ابوذر (رض) دعربو په بیدیا کښی ربذه نومی ځای ته ولاړ اوهلته میشت شو. د (۳۱) هجری کال دحج په شپو او ورځو کښی ناروغ شو. یوازی دهغه میرمن اویوه لور ورته ناستی وی او ژړل یی ابوذر (رض) پوښتنه وکړه: ولی ژاړئ ؟

هغوی جواب ورکړی: ته په یوه بیدیا کښی وفات کیږی ځوك به ستا په کفن دفن کښی له موږسره مرسته وکړی؟

ابو ذر (رض) جواب ورکړ: رسول اکرم (ص) یوه ورځ موږ څو کسانو ته ویلی وو چی له تاسی نه یو تن به په یو بیدیا کی وفات کیږی اویوه ډله لاروی مسلمانان به دهغه په جنازه کښی ګډون کوی. اوس له هغی جملی نه یوازی زه پاتی یم نور ټول په ښارونو کښی وفات شویدی نودرسول الله (ص) دوینا مصداق همدازه یم. همداسی وشول یوه ډله سپاره راغلل چی عبد الله بن مسعود (رض) پکښی ؤ هغوی دحضرت ابوذر (رض) جنازه ادا کړه اوپه ډیر احترام سره یی په نمناکو سترګو خاورو ته وسپاره. (رضی الله عنه)

## ( حضرت اسامه بن زید ) رضي الله عنه

ابو محمد اسامه بن زید (رض) دبنو کلب قبیلی دبنو قضاعه له کورنۍ څخه اودپیغمبر (ص) جلیل القدر صحابی ؤ دهغه پلار زید بن حارثه (رض) ددواړو جهانو سردار (ص) په زوی والی نیولی ؤ دځلورو لومړنیو مؤمنانو له جملی نه ؤ او په صغارت کښی په اسلام مشرف شوی ؤ اود (محبوب رسول) په غوره لقب باندی مشهورؤ دهغه مور برکت (رضی الله عنها) چی په ام ایمن سره مشهوره وه هغه بی بی وه چی سرور کائنات (ص) یی په غیږ کښی لوی کړی ؤ او پیغمبر (ص) به ورته مور ویل. حضرت اسامه (رض) ددغسی مور

اوپلار دسترګو تور ؤ اوطبعي خبره ده لکه چی حافظ بن حجر؂ وائی هغه له اسلام نه پر ته نور څه نه پیژندل.

په رسول اکرم (ص) پسی یی مدینی منوری ته پداسی حال کښی هجرت وکړ چی عمریی تقریباً اوه کاله ؤ دلمړنیو غزاګانو په دورکښی اسامه کم عمره ؤ ځکه خوپیغمبر (ص) هغه ته په جهادکښی دشریکیدو اجازه ورنکړه. درسول اکرم (ص) له حضرت اسامه سره دومره مینه وه چی دعمر تردیارلس **۱۳** کلنی پوری به په ازادانه ډول نبوی حرم ته داخلیده یوه ورځ په نبوی حرم کښی ناست ؤ ام المومنین عائشه صدیقه (رضی الله عنها) هم موجوده وه رسول کریم (ص) حضرت اسامه ته وکتل مسکی شو او حضرت عائشی (رضیی الله عنها) ته یی وویل: عائشی! که اسامه نجلی وای مابه ښی ګینهی ور اغوستلی او سینګاروله به می تر څو چی یی دښکلا اوازه خپره شوی وای اوله هر لوری به یی دخواستګاری جرګی راتلی. په مسند احمد کښی پخپله له حضرت اسامه (رض) نه روایت نقل شویدی چی پیغمبر (ص) به زه پر خپل ورانه باندی کښینولم اوپر کین ورانه باندی به یی حضرت حسن بن علی (رض) کښینوه او بیابه یی دعا کوله (الهی) زه پر دغه دواړو باندی رحم کوم ته هم پردوی باندی رحم وکړه، په صحیح بخاری کښی راغلی دی (کله به چی رسول اکرم (ص) اودس کوی حضرت اسامه (رض) به اوبه وراچولی دمکی دفتح په سفر کښی حضرت اسامه (رض) له رسول اکرم (ص) سره ملګری ؤ یوازی ملګری نه چی په همدی دوران کښی یوواری داسی پیښه شوه چی درسول اکرم (ص) دسپرلۍ داوښی تر څنګ حضرت عثمان (رض) حضرت طلحه (رض) اوحضرت بلال (رض) روان وو او حضرت اسامه (رض) درسول الله (ص) ترشا پر اوښه باندی سپور ؤ.

په (۱۱) هجری کال کښی رسول اکرم (ص) دشام دسرحدونو دحفاظت لپاره یو لښکر تیار کړ، پدی اوه سوه لښکر کی پر حضرت ابوبکر صدیق (رض) حضرت عمر فاروق، حضرت ابو عبیده بن الجراح، حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) او حضرت سعید بن زید (رضي الله عنهم) سربیره نور زیات شمیر دلوی

مقام خاوندان صحابه شامل وه او ددی لښکر امارت یی حضرت اسامه (رض) ته چی پدی وخت کښی اتلس یانولس کلن زلمی ؤ وسپاره ځینو کسانو پدی کار باندی تعجب ښکاره کړ چی ځنګه دیوکم عمر زلمی ترقیادت لاندی داسی لوی لوی صحابه کرام (رضی الله عنهم) جهادته لیږل کیږی؟

کله چی سرور کائنات (ص) ته دهغوی دملاحظی خبر ورسیده پداسی حال کښی چی ناروغ اومبارك سریی په یوه ټوټه تړلی ؤ له کوره راوؤت، دممبر دپاسه کښیناست اودیوی خطبی په ترځ کښی یی وفرمایل : (ای خلګو! تاسی چی ددی لښکر دقائد په هکله څه ویلی دی زه خبر شوی یم، داڅه نوی خبره نه ده، دده دپلار په هکله هم تاسی دمخه دغسی خبری کولی. په خدای قسم دی چی پلاریی هم دقیادت مستحق ؤ اودی هم مستحق دی، پر ماباندی هغه هم ډیر ګران ؤ اودی هم. له دی امله تاسی له ده سره ښه چلن وکړی، دی ستاسی له غوره کسانو څخه دی) صحابه ؤ عرض وکړ: یارسول الله موږ ستا فیصله په سر سترګو منو همدغه زلمی به زموږ قاید وی. درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته ابوبکر صدیق (رض) اوحضرت عمر فاروق (رض) هم له حضرت اسامه (رض) سره ډیره زیاته مینه کوله اودهغه احترام یی ساته.

ابن اثیرؒ په اسد الغابه کښی لیکلی دی چی عمر فاروق (رض) دخپل خلافت په دور کښی صحابه کرامو ته معاشونه وټا کل پدی لړ کښی یی خپل زوی ته دوه نیم زره اوحضرت اسامه (رض) ته دری زره معاش مقرر کړ حضرت عبدالله بن عمر (رض) شکایت وکړ ویی ویل: پلاره نه زه په کومه غزا کښی له اسامه نه شاته پاتی شوی یم اونه ته دده له پلار زید نه خو تا داسامه لپاره له ما نه زیات معاش مقرر کړیدی؟

فاروق اعظم (رض) جواب ورکړ: دی په رسول الله (ص) باندی له تانه زیات ګران ؤ اودده پلار ستا له پلار نهورباندی زیات ګران ؤ. له هغه وروسته حضرت عبد الله بن عمر (رض) دحضرت اسامه ډیر زیات احترام کوی، بلکی دهغه له اولاد سره یی هم مینه کوله یوه ورځ یی دنبوی مسجد په یوه ګوښه کښی یو ښکلی زلمی ولیده، له عبد الله بن دینار څخه یې چی ورسره ناست ؤ

پوښتنه وكړه: دازلمى څوك دى؟

هغهٔ ورته وويل: (دا داسامه بن زيد زوى محمد دى) حضرت عبدالله بن عمر (رض) وويل: (كه رسول الله (ص) ژوندى واى له ده سره به يې ډېر مينه لرلاى) حضرت اسامه (رض) په صورت او سيرت دواړو ډېر ښكلى ؤ دزهد او تقوى سمبول ؤ دشپې زاهد اودورځې مجاهدؤ كلونه كلونه يې دسرور كائنات (ص) دعبادت طريقه ليدلى وه په همغه شان عبادت به يې كاوه په سپين ږير توب كښې به يې هم په هفته كښې دوى ورځې دوشنبه او پنجشنبه روژه نيوله چا ور څخه پوښتنه وكړه: داروژى خوفرض ندى ته كمزورى يې ولى ځان تكليفوى؟

جواب يې وركړ: دائكه چې رسول الله (ص) به هم پدغو دوو ورځو كښې روژه نيوله. (رضى الله عنه)

## ( حضرت ابو ايوب انصارى ) رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

سرور كائنات ﷺ دبعثت دديارلسم كال دربيع الاول په مياشت كښې له مكې معظمې سره خداى پامانى وكړه مدينې منورى ته مهاجر شو په قبا كښې له څو ورځې تم كيدو نه وروسته چې كله مدينې ته روان شو نو دهغه انصارو دلارى په دواړو خواو كښې داستقبال شانداره صفونه جوړ كړى وه، دالله اكبر، جاء رسول الله شعارونه يې وركول اود (اهلاً وسهلاً) او مرحبا په نعرو سره يې دعقيدت اواخلاص پيرزوينى وړاندى كولى دبامونو دسر څخه ددى خوږى ترانى زمزمه پورته كيدله چې:

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَـــا مِنْ ثَنِيَّـــاتِ الْوَدَاعِ
وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا مَـــا دَعَـــى لِلّٰهِ دَاعٍ
اَيُّهَـا الْمَبْعُوْثُ فِيْنَا جِـئْتَ بِالْاَمْرِ الْمُطَاعِ

دوداع دغرونو له څوكونه پر موږ باندى دڅوارلسم سپوږمۍ راوختله پر موږ باندى شكر واجب دى ترڅو چې دالله خواته يوداعى باقى وى، اى موږته راتلونكى تاله ځانه سره داسى حكم راوړيدى چې منل اواطاعت يې فرض دى.

هلته دبنو نجار په نوم يوه قبيله درسول اكرم دپلار ماما خيل هم ميشته وه كله چې دهغوى محلى ته ورسيدى نو ورو نجونو په دى شعر كښې دمحبت جذبه څرګندوله :

نَحْنُ جِوَارُ مِنْ بَنِى النَّجَارِ يَا حَبَّـــذَا مِنْ جَـــارِ

موږ دبنو نجار قبيلى نجونى يومحمد (ﷺ) څومره ښه ګاونډى دى.

رحمة للعلمين دهغوى له څنګ نه په تيريدو كښې په موسكا شونډو وفرمايل: بچيانو! ايا تا سى له ما سره مينه لرى ؟

هغوى په يوه رږغ جواب وركړ: هو! يا رسول الله ، پيغمبر (ص) وفرمايل: زه هم له تاسى سره مينه لرم.

پدى ترتيب هرى قبيلى لكه بنى بياضه، بنى ساعده بنى حارث اوبنى عدى په ډيره ځپانده اوګرمه ولوله داهيله كوله چې كاشكى رحمة للعلمين دهغوى ميلمه شى دقبيلو مشرانو لكه عتبان بن مالك (رض) سعد بن عباده (رض) عبد الله بن رواحه (رض) عباس بن عباده (رض) خارجه بن زيد (رض) زياد بن لبيد (رض) فروه بن عمرو (رض) سعد بن ربيع (رض) سليط بن قيس (رض) منذر بن عمرو (رض) اواسيره بن ابى خارجه (رض) هريوه دمسابقى په ډول عرض كوى چې: يارسول الله زموږ ځان اومال ستا په خدمت كښې دى زموږ فقير خانى ته تشريف راوړى. خو رسول الله (ص) چې پر قصوا نومى اوښه باندى سپور ددوى له مينځ نه تيريده په موسكا شونډو به يې همدا جواب وركاوه چې: (خلوا سبيلها فانها مأمورة) داوښې لاره خوشى كړى دا د خداى (ج) لخوا مؤظفه ده. يعنى دا اوښه چې په هرځاى كښې څملى همغه به درسول الله ددمى اواقامت ځاى وى. ټول زړونه په درزا وو چې اوس به نو دچا داقبال ستورى ځليږى چې دهغه په دسترخوان باندى ددوارو جهانو سردار ميلمه شى. اوښه دخداى (ج) په حكم ولاړه ديوه دوه پوړيز كور مخى ته چې نن هلته دمسجد نبوى لويه دروازه ده ودريدله، پيغمبر (ص) ورڅخه كښته نشو، هغه بيا روانه شوله وړاندى ولاړه خو بيرته را وګرځيدله اوپه لومړنى ځاى كښې څملاستله دا دچا كور ؤ ؟

دا دحضرت خالد بن زید (ابو ایوب انصاری) کورۇ دا سعادت الله تعالی ده ته په برخه کړی ۇ، حضرت ابو ایوب انصاری (رض) دخزرج قبیلی ته منسوب له نبوی هجرت نه یودیرش کاله مخکښی زیږیدلی اوله هجرت نه مخکښی دحضرت مصعب بن عمیر (رض) ددعوت اوتبلیغ په اثر په اسلام مشرف شوی ۇ چی وروسته یی بیا دبیعتِ عقبه ثانیه په وخت کښی له رسول الله (ص) سره مخامخ لیدنه کتنه وشوه اودهغه په لاس یی دسر ښندنی بیعت وکړ.

ابوایوب انصاری (رض) دوپ کوټی درلودی، یوه په لاندی اوبله په پاسنی پوړ کښی دپیغمبر (ص) حضورته یی عرض وکړ: یارسول الله، تاسی په پاسنی پوړ کښی واوسیږی پیغمبر (ص) وفرمایل: ماته به دخلګو تګ راتګ وی زما لپاره لاندینی کوټه ښه مناسبه ده، حضرت ابو ایوب انصاری (رض) دپیغمبر ﷺ له غوښتنی سره سم لاندینی کوټه وزګاره کړه او پخپله یی په بالا خانه کښی استوګنه غوره کړه خوکله یی کولای شول چی هلته استراحت اوارام وکړی پداسی حال کښی چی ددواړوجهانو سردار لاندی اوسیده، دهغوی روح پدی ناکراره ۇ چی بادار په لاندینی کور اونوکران دی په پاسنی کور کښی استوګن وی، یوه شپه ابو ایوب انصاری اودهغه میرمنی ترسهاره دکوټی په ګنج کښی په ناستی ناکراره تیره کړه اوکله چی سهارشو خپل حالت یی پیغمبر (ص) ته بیان کړ او هیله یی وکړه چی پیغمبر (ص) خپله دیره ورسره بدله کړی چی هغه (ص) ددوی خواهش ومانه.

دابو ایوب انصاری (رض) کورنی به تر هغه ډوډی نه خوړله ترڅو به چی سرور عالم (ص) نه وه خوړلی اوکله به چی له پیغمبر (ص) نه خواړه بیرته راغلل په کاسه کښی به یی دهغه دمبارکو ګوتو داغونه لټول اودتبرك لپاره به یی له همغه ځایه خوراك کاۇ. کله چی دهجرت په دویم کال داسلامی جهادونو لړۍ شروع شوه داسی غزا نه وه چی حضرت ابو ایوب انصاری دی دپیغمبر (ص) ملګرتیا نه وی کړی.

دپیغمبر (ص) له رحلت نه وروسته یی هم دحق اوباطل په هره معرکه

کښي ګډون درلود، دهغه يوازني شعار چي شپه او ورځ اوپه پټه او ښکاره به يې تکراروه دالله تعالى دافرمان ؤ چي: (انفروا خفافاً وثقالاً) په يوه غزا کښي يې هم دقيادت اوامارت غوښتنه نکوله اوپدی به له حده زيات خوشحاله ؤ چي ديوعادی عسکر په صفت په اسلامی لښکر کښی داسلام تر بيرغ لاندی ولاړ شي.

دحضرت عمر فاروق (رض) دخلافت په بختور دور کښي چي داسلامی لښکر اسونو داسيا اوافريقا په لکونه مربع ميله مځکه ترپښو لاندی کړه په زياترو دغو جنګونو کښي درسول الله (ص) ميلمه پال برخه درلوده. دحضرت علي مرتضى (رض) دخلافت په دور کښي څه موده ابو ايوب انصاری (رض) دمديني منوری مرکزی اميرؤ دحضرت علي (رض) له شهادت نه وروسته يې ګوښه ناسته غوره کړه خو بيابه يې هم په زړه کښي دجهاد مينه څپانده وه امير معاويه (رض) چي کله دقسطنطنيه دتسخيرولو لپا ره لښکر وليږه حضرت ابو ايوب انصاری (رض) ديوعادی مجاهد په صفت پکښي شامل ؤ. دمسلمانانو دلښکر کشتئ چي دروم له بحيری نه تيری شوی اوپه يو موزون ځای کښي په دريدو يې عسکر کوز کړل روميانو وربانديی حمله وکړه. يو غښتلی مجاهد عبد العزيز بن زراده په تنهائي سره پر رومی لښکر حمله وکړه پدی وخت کښي ځينو کسانو ږغ وکړ چي داکار دخدای (ج) ددی فرمان په خلاف دی چي: (ولا تلقوا بايديکم الى التهلکة) تاسی پخپله خپل ځانونه په هلاکت کښي مه اچوی حضرت ابوايوب انصاری (رض) وفرمايل: ددی آيت معنى اوتفسير ددی برعکس دی. ددی شان نزول داسی ؤ چي دامن په وختونو کښي انصارو اراده کړی وه چي په کارو بار مصروف شي اوکوم تاوانونه چي دجنګونو په وخت کښي ورته رسيدلی دی هغه تلافی کړی، دهغو له دی تصميم نه وروسته دغه آيت نازل شو چي په جهاد کښي مصروفيت تاوان او هلاکت نه بلکی له جهاد نه ګوښه کيدل پخپلة خپل ځان په هلاکت کښي اچول دی، دهغه له دی تفسير کولو نه وروسته مسلمانانو په رومی لښکر باندی حمله وکړه اوالله تعالى فتح ورنصيب کړه.

دابو ایوب (رض) څخه دلښکر قائد پوښتنه وکړه چی: څه حاجت په زړه کښی لری؟ جواب یی ورکړ: کله چی وفات شم زما مړی ددښمن په خاوره کښی وړاندی ولیږی ترڅو یوه ورځ داسی راسی چی هم هلته داسلامی لښکر داسونو دقدمو خرپهار اورم همداسی وشول له وفات نه وروسته دابو ایوب انصاری (رض) مړی په استانبول کښی ښخ کړی شو چی نن هم دهغه زیارت ته خاص اوعام ورځی.

پیرِ هرات حضرت خواجه عبدالله انصاری (رض) دحضرت ابو ایوب انصاری (رض) له اولاد څخه دی همدارنګه دهغه له اولادی نه دوه نامتو شخصیتونه حضرت یوسف انصاری اوحضرت علاؤ الدین انصاری (رح) هندوستان ته راغلی وه اونن چی دنړۍ پدی برخه کښی څوك په انصاری شهرت لری زیاتره دهمغه له اولادې څخه دی. (رضی الله عنه).

## ( **حضرت اُبیّ بن کعب** ) رضی الله عنه

حضرت ابی بن کعب (رض) دمدینی منوری دانصارو دخزرج قبیلی دبنو نجار له کورنی څخه اوله نبوی هجرت نه مخکښی په اسلام مشرف شوی ؤ کله چی رسول اکرم (ص) مدینی ته هجرت وکړ حضرت ابی بن کعب (رض) هغه څوك ؤ چی ترټولو دمخه دقرآن مجید دلیکلو سعادت ورپه برخه شو یعنی په انصارو کښی دوحی لیکونکو په جمله کښی دړومبی والی امتیاز ده ته الله تعالی ورکړ.

حضرت ابی بن کعب (رض) له پخوا نه په لیك لوست پوهیده، تورات یی لوستی ؤ اودانصارو له تعلیم یافته کسانو څخه شمیرل کیده. کله چی دحق او باطل تر مینځ دجنګونو لړۍ شروع شوه حضرت ابی بن کعب (رض) په هیڅ یوه غزا کی دسرور عالم ملګرتیا پری نښودله له بدرنه واخله ترطائف پوری، ټولو غزاګانو کی یی ګډون وکړ.

دحضرت ابی بن کعب (رض) له رسول اکرم (ص) اودالله له پاك کلام دواړو سره دومره زیاته مینه وه چی اټکل یی ګران دی، دخپل وخت زیات تره برخه به یی درسول اکرم (رض) په مجلس کښی تیروله اوپیغمبر (ص) به ورته

قرآن کریم اوروی او ورباندی حفظ کاوه به یی اودوحی لیکلو کاربه یی هم ورڅخه اخیست، له قرآن اوپیغمبر سره دحضرت ابی بن کعب دمینی پلوشې په اسمانونو کښی هم خوری شوی وی اوپخپله الله تعالی یی تائید کړی ؤ.

یوه ورځ په نبوی مجلس کښی ناست ؤ چی په ناڅاپی ډول پر هغه باندی دوحی دراتګ اثار ولیدل شول او دځینو روایتونو له مخی په مبارکه ژبه یی دسورة البینه عبارات جاری شول.

حضرت ابی بن کعب (رض) ددغه سورت الفاظ ټکی په ټکی اوریدل او لیکل یی. کله چی جبریل رخصت شو رسول اکرم (ص) حضرت ابی (رض) ته وویل: (الله تعالی ماته امر کړیدی چی زه تاته قرآن واوروم).

حضرت ابی بن کعب (رض) عرض وکړ: یارسول الله ایا الله تعالی زما نوم اخیستی دی؟

ویی فرمایل: (هو) ددی خبری په اوریدلو سره له ډیری خوښی نه دحضرت ابی (رض) په سترګو کی اوښکی راډنډ شوی اوبیسده شو.

دالله تعالی له امر سره سم رسول اکرم (ص) دحضرت ابی بن کعب (رض) تعلیم ته دخاصی پاملرنی په برکت په نتیجه کښی هغه دقرآن مجید حافظ او دقرآنی علومو یومتبحر عالم شو دهغه له قرائت سره درسول اکرم (ص) دومره مینه وه چی یوځل یی وفرمایل: (په ټولو خلګوکی لوی قاری ابی بن کعب دی) یوځل پیغمبر (ص) له هغه څخه پوښتنه وکړه چی: (په قرآن مجید کښی ډیر زیات عظمت لرونکی ایت کوم یودی ؟

حضرت ابی (رض) عرض وکړ: (ایة الکرسی) دهغه ددی جواب په اوریدلو سره رسول اکرم (ص) ډیر زیات خوشحاله شو او ویی فرمایل: (ابی ته دی تل پدی علم خوشاله اوسی). سرورعالم (ص) حضرت ابی (رض) ته اجازه ورکړی وه چی څنګه یی خوښه وی اوکله وغواړی پوښتنه کولای شی له همدی امله به هغه هروخت له نبوی فیوضاتو څخه استفاده کوله اوزیاتره وخت به لا داسی پیښیدله چی دپوښتنی پرته به رسول اکرم (ص) هغه ته دقران مجید اسرار او رمزونه وښودل.

پخپله له حضرت ابی بن کعب (رض) څخه روایت دی چی یوځل پیغمبر راته وفرمایل:

(ایا داسی یو سورت درونه ښیم چی نه په تورات کښی شته، نه په زبور کښی اونه په انجیل کښی اونه پخپله په قرآن کښی دده په څیر بل نازل شویدی؟ ماعرض وکړ: ولی نه، یا رسول الله ! هرو مرو یی راوښیاست ویی فرمایل: (ښه ده، له دغی دروازی څخه به لا وتلی نه یی چی وبه یی پیژنی له هغه نه وروسته رسول اکرم (ص) پاڅیده اوزه هم ورسره پاڅیدم لاس ترلاسه می ورسره نیولی ؤ اوخبری یی راسره کولی، ماورڅخه ځان شا شاته کاوه پدی خاطر چی هسی نه چیرته ددی سورت له راښودلو نه مخکښی له دروازی څخه ونه وزی کله چی دروازی ته نژدی شوم عرض می وکی یا رسول الله هغه سورت راوښایاست چی وعده مو راسره کړیده، ویی فرمایل: کله چی ته دلمانځه لپا ره دریږی څه لولی ؟

(همدغه سورت دی، اودا سبع مثانی دی چی دده په باب الله تعالی فرمایلی دی: (ولقد اتیناك سبعا من المثا نی والقرآن العظیم) یعنی موږ تاته اوه آیتو نه درکړل چی مکرر لوستل کیږی اوقرآن عظیم مو درکړ.

حضرت ابی بن کعب (رض) ترداسی حده درحمة للعالمین (ص) دخاصی پیرزوینی مورد ؤ چی په خپله په نبوی دور کښی ددرس اوافتاء مقام ته ورسیده، خلګو به ورڅخه قرآن زده کاؤ او دمختلفو مسئلو په هکله به ئی پوښتنی ورڅخه کولی.

حضرت ابی (رض) چی له رسول اکرم (ص) څخه څه اوریدل هغه به یی په ژوند کښی دلاری مشال ګرځاوه. یوه ورځ په نبوی مجلس کښی ناست ؤ چی یو سړی راغی عرض یی وکړ:

یا رسول الله موږ چی ناروغه کیږو اویا څه نور تکلیفونه راته رسیږی ایا پدی کښی هم څه ثواب شته؟

ویی فرمایل: (هو: پدی ناروغیو او تکلیفونو سره دمسلمان ګناهونه رژیږی) حضرت ابی (رض) پوښتنه وکړه: ایا په وړو غوندی تکلیفونو سره هم

دمسلمان ګناه رژیږي؟
وبی فرمایل (واړه واړه تکلیفونه خوپرېږده چې که دمسلمان په پښه کی اغزی دننه شي هم دهغه دګناهونو کفاره ګرځی) ددی خبری په اوریدلو سره یی په ایمانی جوش او ولوله کښي دادعا له خولی نه ووتله: پروردګاره! تل می په تبه اخته ولره خو دجمعي دلمانځه، حج، عمری، اوجهاد کولو وس او قدرت ورسره راکړه، سیرت لیکونکی وائی چې له هغه وروسته به تل دحضرت ابی خفیفه غوندی تبه په بدن کښي وه. رسول اکرم (ص) دژوند تر پایه پوری حضرت ابی (رض) ته خاصه پاملرنه کوله اودا پاملرنه یی دالله تعالی په امر وه پیغمبر (ص) دخپل رحلت په کال یعنی په (۱۱) هجری کال کښي هم دوروستي ځل لپاره حضرت ابی بن کعب (رض) ته قرآن کریم واوروه او وییی فرمایل: جبریل راغی اوویی ویل چې ابی ته قرآن واوروه.
دسرور عالم (ص) له رحلت نه وروسته دحضرت ابوبکر صدیق دخلافت په دور کښي چې کله دقرآن حکیم دتدوین لپاره اهتمام وشو نو دقرآن دلیکنی لپاره دصحابه کرامو یوه ډله حافظان وټاکل شول خوددغی ډلی مشر حضرت ابی بن کعب ؤ هغه به قران وایه اونورو به لیکی.
حضرت ابی بن کعب (رض) ته حضرت عمر فاروق (رض) سید المسلمین اوسید القرآء ویل یعنی دمسلمانانو سردار اودقرآن دقاریانو سردار، یوازی حضرت عمر (رض) نه بلکی ټول صحابه پدی معترف وه چې حضرت ابی (رض) دقرآن حافظ ، ژوندی سند اومتبحر عالم ؤ، ټولو یی ډیر زیات احترام ساته او کله به چې دقرآن مجید دکوم آیت په هکله څه پوښتنه پیدا کیدله نو له هغه څخه به یی پوښتنه کوله حضرت ابی بن کعب (رض) به ویل: په مؤمن کښي باید هرو مرو د اځلور صفتونه موجود وی:
۱. که مصیبت پر راشی صابر اوسی.
۲. که نعمت ورپه برخه شي شاکر اوسی.
۳. که فیصله کوی عادل اوسی.
۴. اوچې څه وائی نو رینښتیا ویونکی او صادق اوسی حضرت ابی (رض)

دقرآن په انوارو کښې عمر تیر کړ دتلاوت اولمانځه په وخت کښې به یې له سترګونه اوښکې بهیدلې، هره دریمه شپه به یې قرآن کریم ختم کوی. په (۳۲) هجری کښې یې له دنیا نه سفر وکی. (رضی الله عنه)

## ( هاشمی حضرت اُسَید بن حضیر ) رضي الله عنه

حضرت اسید بن حضیر (رض) د انصارو داوس قبیلې دبنو اشهل کورنۍ څخه اودهغه پلار حضیر بن سماك دخپلې قبیلې سپه سالار اویو نامتو باتور ؤ حضرت اسید (رض) له نبوی هجرت نه مخکښې هغه وخت په اسلام مشرف شو چې حضرت مصعب بن عمیر (رض) دبنو اشهل قبیلې سیمې ته نزدې په یوه باغ کښې ناست دحق په دعوت او تبلیغ مصروف ؤ.

حضرت اسید په ډیر غضب ورغی اوحضرت مصعب (رض) ته یې په تنده لهجه وویل: تا څنګه داجرئت کړیدی چې زموږ سیمې ته راشی اوزموږ خلک له خپل پلرنی دین څخه واړوی؟ که عافیت غواړی نوډیرژرله دی ځایه ولاړشه) حضرت مصعب (رض) په ډیر زغم سره ددعوت په نرمه او خوږه لهجه جواب ورکړ:

ګرانه وروره! مهربانی وکړه، یوه شیبه کښینه، زما خبره واوره که دی خوښه شوه ښه ده اوکنه نوبیا خپل تصمیم ونیسه. په حضرت اسید (رض) باندی دحضرت مصعب (رض) دغی خوږې اونرمی وینا اغیزه وکړه، کښیناست، هغه ورته دقران کریم دځو مبارکو آیتونو په لوستلو سره دحق دعوت وړاندی کړ.

دهغه په اوریدلو سره داسید (رض) دزړه دنیاګی چې دلیك لوست خاوند باشعوره سړی ؤ بدله شوه او سمدلاسه یې ایمان راؤړی اوویې ویل: (په موږ کښې یو بل مخور سړی هم شته، که چیرته هغه دحق دین ومنی نو ټول قوم به په اسلام مشرف شی مطلب یې حضرت سعد بن معاذ (رض) ؤ چې دی یې له مدینې څخه دحضرت مصعب (رض) دایستلو لپاره رالیږلی ؤ له دی وینا څخه وروسته حضرت اسید (رض) پاڅیده اوحضرت سعد بن معاذ (رض) ته ورغی: حضرت سعد (رض) دده په لیدلو وویل (قسم په خدای دی اوس ستا هغه څیره

نده کومه چی له دی خوا نه دتګ په وخت کښی وه لکه چی ستا په فکر کښی یی هم څه تغیر راوستی دی. بیا ډدیری غصی په حال کښی پخپله دهغه باغ خواته روان شو چیرته چی حضرت مصعب (رض) دخپل میلمه پال حضرت اسعد بن ذراره (رض) ترڅنګ دیره ؤ خوحضرت سعد (رض) هم له هغی صحنی سره مخامخ شو چی حضرت اسید (رض) ورسره مخامخ شوی ؤ او دخدای (ج) په فضل اودخپل نیك فطرت په مرسته دکفر له تیاری نه داسلام رڼا ته راووت. دحضرت اسید بن حضیر اوحضرت سعد بن معاذ (رض) داسلام راوړلو په برکت د انصارو په ټولو کورنیو کښی دحق ډیوه بله شوه او په ډیر لږ وخت کښی دیثرب (مدینی) په فضا کښی دالله اکبر لړزوونکو نعرو رږغ خپور شو. دبعثت په (۱۳) کال دحج په موسم کښی دحق دشمعی پتنګانو یوه (۷۵) کسیزه ډله چی (۷۳) نارینه اودوه میرمنی وی مکی معظمی ته راغلل. په یوه ټاکلی شپه کښی دعقبی په خواکښی راټول شول سرورکائنات هم تشریف راؤړ دوی ټولو پیغمبر (ص) ته دعوت ورکړ چی مدینی منوری ته هجرت وکړی او دهغه په لاس یی دقربانی اوسرښندنی بیعت وکړ دابیعت په تاریخ کښی دبیعت عقبه ثانیه په نوم یادیږی او داسلامی تاریخ یوه زرینه پاڼه ده چی په هغه کښی حضرت اسید بن حضیر (رض) موجود ؤ، او ددینی چارو دحفاظت لپاره له (۱۲) منتخبو نمایندګانو څخه یوتن حضرت اسید (رض) وټاکل شو. درسول اکرم (ص) له هجرت نه وروسته چی داسلامی جهاد لړۍ شروع شوه، یوازی دبدر په غزا کښی دشرعی عذر لامله حضرت اسید (رض) شرکت ونشو کړای خوپه نورو ټولو غزاګانو کښی دالله له رسول ﷺ سره ملګری و.

داحدپه مشهوره تاریخی غزاکښی حضرت اسید (رض) له هغو سرښندنکو څخه ؤ چی په ډیر سخت حالت کښی یی خپلی سینی ددښمن ګوزارونو ته سپر کړی وی او دخدای له حبیب (ص) څخه یی دخپلو سرونوپه بیه دفع کوله. پدی غزا کښی حضرت اسید (رض) اوه زخمونه خوړلی وو. داحزاب په غزا کښی ددوو سوو مجاهدینو په مشر تابه برخه وال ؤ اوڅو ورځی مسلسل یی څلور ویشت ساعته دخندق مراقبت اوڅارنه کوله. په (۲) هجری کال کښی حضرت

اسید (رض) دبیعت رضوان سعادت وگاته، هلته چی ترونی لاندی یو زر او ثلور سوو صحابه ؤ ﷺ دالله (ج) درسول په لاس دسربندنی بیعت وکړ اوالله تعالی هغوی ته دخپلی رضا اعلان وکړ وییی فرمایل: (لقد رضی الله عن المؤمنین اذ یبایعونك تحت الشجرة ) یعنی الله تعالی له مؤمنانو څخه راضی شو چی کله یی له تا سره ترونی لاندی بیعت کوی.

دمکی دفتحی په سفر کښی، دحنین، طایف او تبوك په غزاگانو کښی او بالاخره دحجة الوداع په مبارك تاریخی سفر کښی حضرت اسید (رض) ددواړو جهانو له سردار (ص) سره ملگری ؤ. حضرت اسید (رض) به خپل زیاتره وخت درسول الله (ص) په مجلس کښی تیراوه او په ازادانه ډول به یی له هغه سره خبری کولی یوه ورځ یی دخوش طبعی خبری کولی او خپل ملگری یی خندول، کله چی دهغه ظرافت له اندازی نه لړ څه زیات شو نورسول اکرم (ص) دچړی په څوکه په تشی کښی وټومبه حضرت اسید (رض) عرض وکړ: یا رسول الله ستا د چړی څوکی ډیر ژوبل کړم پیغمبر (ص) وفرمایل: (وروره! خپل قصاص رانه واخله) عرض یی وکړ: (یا رسول الله ستا دچړی څوکه زما پر بربنډ بدن باندی ولگیده، اوستا پربدن قمیص دی، دا قصاص څنگه پوره کیدای شی؟

رسول اکرم (ص) فوراً خپل قمیص پورته کړئ وییی فرمایل (راشه خپل قصاص واخله) دهغه سترگی له اوښکو ډکی شوی، په بیړه وروړاندی شو، د پیغمبر (ص) مبارك اړخ یی په مینه مینه په مکرر ډول ښکل کړ، بیا یی له ژړا نه په ډکه لهجه عرض وکړ: یا رسول الله مور اوپلار می ترتا جار شی، زه به څنگه له تا څخه قصاص اخلم، په خدای (ج) قسم چی زما همدغه مقصد ؤ چی ستا دمبا رك اړخ ښکلولو سعادت راپه برخه شی.

دحضرت اسید (رض) دبی شمیره غوره صفتونو ترڅنگ یوصفت داؤ چی همیشه به یی په ډیره مینه دقرآن حکیم تلاوت کاؤ په صحیح بخاری کښی پخپله له هغه څخه روایت را نقل شوبدی چی وایی:

یوه شپه می دسوره بقره تلاوت کاؤ ها خواته څنگ ته می آس تړلی ؤ دتلاوت په وخت کښی یی ټوپونه وهل، زه به چی چوپ شوم هغه به هم غلی

شو اومابه چی لوستل شروع کړل هغه به ټوپونه وهل شروع کړل څنګه چی زما زوی یحیی اس ته نژدی ولاړ ؤ وویریدم چی هغه ته څه تکلیف ونه رسوی، سلام می وګرځاوه یحیی می ځانته رانژدی کړ، په ناڅاپی ډول می دآسمان خواته وکتل ومی لیدل چی دسرله پاسه می دچتری غوندی وریځ ولاړه ده چی دبرېښنا غوندی رڼا پکښی بلیږی. سهار می داحالت پیغمبر (ص) ته بیان کړ: ویی فرمایل:

(ابن حضیره! په همدی شان سره تلاوت کوه او هرو مرو یی کوه) عرض می وکړ: یارسول الله! کله چی دسهار سپیدی وچاودلی هغه وریځ چی رڼا پکښی بلیدله دآسمان خواته پورته شوه اوله نظره می غائبه شوه) رسول الله (ص) وفرمایل: پوهیږی چی دا څه شی ؤ ؟

عرض می وکړ: نه ویی فرمایل: ملائکه وه چی ستا دتلاوت اوریدو لپاره راغلی وه، که تاتر سهاره لوستل نه وای بس کړی هغوی به ترسهاره اوریدلای تر دی پوری چی خلګو به لیدلی وای.

څنګه چی له رسول الله (ص) سره دحضرت اسید بن حضیر (رض) له حده زیاته مینه وه، دی هم ددواړو جهانو دسردار دزیات شفقت مورد ؤ اوډیر ورته ګران ؤ حتی په ځینو مسائلو کښی به یی ورته سفارش کاؤ اورسول الله (ص) به دهغه سفارش مانه. دسرور عالم (ص) له رحلت نه وروسته حضرت اسید (رض) دسیدنا ابوبکر صدیق اوسیدنا عمر فاروق (رضی الله عنهما) دخاص احترام څخه برخمن ؤ اوپه مهمو چارو کښی به یی له هغه څخه مشوری اخیستلی. دحق دشمعی پتنګ، دغه جلیل القدر صحابی په (۲۰) هجری کال کښی له دی فانی دنیا نه رخصت شو، په کومه ورځ چی وفات شو، په ټوله مدینه کښی ماتم خپور شو، دټولو مهاجرینو اوانصارو سترګی لمدی وی امیر المؤمنین عمر فاروق (رض) دبی شمیره صحابه ؤ په ملګرتیا دهغه مورته ورغی دهغه جنازه یی جنة البقیع ته راوړله پخپله یی دهغه دجنازی لمونځ ادا کړ او بیایی په لمدو سترګو دغه ستر اسلامی شخصیت چی سرور کائنات ورته د (**نعم الرجل**) لقب ورکړی ؤ دبقیع په هدیره کښی خاورو ته وسپاره.

# حضرت ابو هريرة رضي الله عنه

درسول اکرم (ص) په خوږو ملګروکښې يوداسې شخصيت ؤ چې ډدير ښه ذکاوت قوی حافظې اولويې علمی پانګې خاوند ؤ صرف څلور کاله يې ددواړو جهانو دسردار ملګرتيا په برخه شوې وه خو دنبوی حديثو په باب به حتی هغو کسانو هم ورڅخه پوښتنې کولې چې له شلو کلونو څخه زيات وخت دصحابيت په مقام کښې ورباندې تير شوی وو. داجليل القدر صحابی حضرت ابوهريرة دؤسی (رض) ؤ. حضرت ابو هريرة (رض) ديمن ددؤس قبيلې دعبد شمس له کورنۍ څخه ؤ، رسول الله (ص) دهغه دغه نوم په عبد الرحمن باندې بدل کړ او په ابو هريرة سره يې ځکه شهرت درلود چې هغه پيشو ساتلې وه او ډيره مينه يې ورسره کوله نوځکه خلګو ورته دپيشو پلار (ابو هريره) ويل.

حضرت زيد بن ثابت (رض) وائی: يوه ورځ موږدرې تنه چې يوديمن دؤس قبيلې ته منسوب ؤپه نبوی مسجد کښې ناست دخدای (ج) په يادونه اودعا کښې بوخت وو. پدې ترڅ کښې دالله رسول (ص) تشريف راوړ موږ چوپ شوو ويې فرمايل: (خپل کارته ادامه ورکړئ) موږ په لوړ اواز دعا کوله اوپيغمبر (ص) امين ويل، په پای کښې زموږ دواړو له دعا نه وروسته دؤسی زلمی په دعا کښې وويل: (الهی زما ملګرو چې څه درڅخه وغوښتل ماته هغه هم راکړه اوسربيره پرهغه داسې علم هم راکړه چې هيڅکله مې هير نشي) رسول الله (ص) امين وويل: ددې دعاپه اوريدلو سره مااوزما هغه بل ملګری عرض وکړ: يارسول الله! موږ ته دې هم داسې علم راکړل شي چې هيڅکله موهير نشي. ويې فرمايل: دابرخه دغه دؤسی زلمی ته ورسيدله اودازلمی حضرت ابوهريره (رض) وو.

حضرت ابوهريره (رض) په ماشومتوب کښې دخپل پلار له سيوری څخه محروم شوی ؤ په ډير فقر اوبيوزلې کښې را لوی شو، هره ورځ به يې پسونه پيولو ته بيول اومابښام به کورته راستنيده، د اسلام بلنه ورته ددؤس قبيلې درئيس طفيل بن عمرو (رض) لخوا وړاندې شوه چې هغه دمخه مکې ته تللی اوپه اسلام مشرف شوی ؤ. کله چې په (۷) هجری کال دخيبر دغزا په دوران

کښې حضرت طفيل بن عمرو (رض) دخپل قوم له اتيا ؤ کورنيو سره مدينې منورې ته ولاړ، په همدې کاروان کښې حضرت ابو هريره (رض) او دهغه مور اميمه (رضى الله عنها) هم شامله وه.

له رسول الله (ص) سره له همدې لومړنۍ کتنې څخه وروسته چې په خيبر کښې وشوه بيا تر رحلت پورې، ابو هريره (رض) له نبوي صحبت څخه ګوښه نشو، نه په سفر کښې نه په حضر کښې، نه په شپه کښې، اونه په ورځ کښې، يوازې دخوب په وخت کښې به ورڅخه جدا ؤ خو نور ټول وختونه به يې له نبوي ارشاداتو څخه استفاده کوله اوټول نبوي احاديث به يې پخپل ذهن کښې ذخيره کول.

له کومو اوو تنو صحابه ؤ څخه چې له زرو نه زيات حديثونه روايت شويدي په هغو کښې لومړی لمبر مقام دحضرت ابوهريره (رض) دی داځکه چې: له حضرت عبدالله بن عباس نه (۲۲۶۰) حديثونه له حضرت عائشه صديقه (رضى الله عنها) څخه (۲۲۱۰) حديثونه. له حضرت عبدالله بن عمر (رض) څخه (۱۲۳۰) حديثونه له حضرت جابر بن عبدالله انصاری (رض) څخه (۱۵۴۰) حديثونه له حضرت انس بن مالك (رض) څخه (۱۲۸۶) حديثونه اوله حضرت ابو سعيد خدري (رض) څخه (۱۱۷۰) حديثونه روايت شويدي مګر له حضرت ابوهربره ( رض) څخه (۵۳۷۴) حديثونه روايت شويدي.

ددې دليل دا ؤ چې له يوې خوا رسول الله (ص) ورته دعا کړې وه اوله بل پلوه ټولو صحابه ؤ رضي الله عنهم يوڅه کاروبار درلود مهاجرين په تجارت اوانصار په باغدارۍ او بزګرۍ کښې بوخت وو مګر يوازې حضرت ابو هريره (رض) داسې څوك ؤ چې ددنيا له چارو څخه وزګار اوخپل ژوند يې نبوي صحبت اودعلم زده کړې ته وقف کړې ؤ يوځل ځينو کسانو حضرت ابو هريره (رض) ته وويل: ته ډېرو زياتو حديثونو روايت کوې پداسې حال کښې چې مهاجرين اوانصار دزياترو حديثونو روايت نکوی؟

په جواب کښې يې وويل: (زما مهاجرين ورونړه به په تجارتي چارو کښې اوزما انصار ورونړه به دکرنې اوباغدارۍ په چارو کښې مصروفيدل خوزه به هر

وخت درسول الله (ص) په خدمت کښې حاضر وم کله به چې نور خلګ غائبيدل زه به دپیغمبر (ص) په صحبت کښې موجود وم، زه صرف دفقیرانو دټولګی یو غړی وم، خلګو به چې هیرول ما به زده کول.

په لومړیو وختونو کښې دابو هریره (رض) له ذهن څخه ځینی حدیثونه هیریدل، پدی کار باندی هغه روحاً ځوریدی یوه ورځ یی عرض وکړ: (یا رسول الله! ﷺ له ماڅخه ستا ځینیويناوی هیریږی؟

ویی فرمایل: (څادر وغوړوه) کله چې ابو هریره (رض) خپل څادر وغوړوه، پیغمبر (ص) پکښې خپل لاس کیښوده، بیا یی وفرمایل:

داپه سینی پوری ومښه، ابو هریره (رض) همداسی وکړل، دصحیح بخاری په کتاب العلم کښې دهغه خپله وینا ده چې له هغه وروسته می بیا هیڅ شی نه هیریدل.

دحضرت ابوهریره (رض) په حافظه کښې دومره حدیث ذخیره شوی وو چې پیغمبر (ص) به ویل: (ابو هریره دعلم ظرف دی) حافظ ذهبی (رح) یوه واقعه رانقل کړیده چې یوځل ترڅو ورځو پوری ابو هریره (رض) دخوراك لپاره څه ونه موندل له لوږی څخه بیتابه شو، دباندی ووت، په لویه لاره کښې وغځیده، پدی ترڅ کښې حضرت ابوبکر صدیق (رض) پرلاره تیریده، زړه یی وغوښتل چې څه خواږه ورڅخه وغواړی اوخپل حال ورته بیان کړی مګر جرئت یی ونکړای شو، دکنایی په ډول یی دقران حکیم دهغه ایت دتفسیر پوښتنه ور څخه وکړه چې په هغه کښې توصیه شویده چې باید دفقیرانو اومسکنانو لاس نیوی وشی، هغه دایت مفهوم ورته بیان کړ او ورڅخه روان شو، وروسته حضرت فاروق اعظم (رض) راغی، هغه هم همداسی وکړل، په پای کښې رسول الله (ص) ته راغی، دابو هریره (رض) دڅیری په لیدلو دهغه په لوږه وپوهیده، له ځا نه سره یی کورته بوتی، هلته چا له شیدو څخه ډکه یوه کاسه ایښی وه چې دهدیی په توګه ورلیږل شوی وه پیغمبر (ص) وفرمایل (ورشه ټول اهل صفه راوله) ابو هریره (رض) له امرسره سم، اصحاب صفه راوستل، بیا رسول الله (ص) ابوهیره (رض) ته وفرمایل: (دا شیدی ټولوته ورکړه چې ویی څښی)

اصحاب صفه چې شمیر یې اویا ۷۰ کسانو ته رسیده شیدی یې په ماړه نس وڅښلی خوبیاهم یوڅه پاتې شوی پیغمبر (ص) ابو هریره (رض) ته وفرمایل: (داپخپله وڅښه هغه وڅښلی، بیا یې وفرمایل: (وڅښه بیایې وڅښلی، بیایې وفرمایل: (وڅښه) بیایې وڅښلی تردې پورې چې په پای کښې یې عرض وکړ: په هغه ذات قسم چې ته یې بر حق پیغمبر رالیږلی یې نور زماپه خیټه کښې ځای نشته، له هغه وروسته پاتې شیدی پخپله رسول الله (ص) وڅښلی.

حبر الامت حضرت ابوهریره (رض) دخپلې کونډې مور امیمه سره، سره له دی چې تر ډیره وخته په جاهلیت کښې پاتې وه ډیر زیات احترام ساته داځکه چې دده دیتیمۍ اوښکې یې پاکې کړې وې اودفقیرۍ اوبیوزلۍ په حالت کښې یې دده پالنه کړې وه. ده په پرله پسې توګه دتوحید دعوت ورته وړاندې کاؤ اوهغې به ردوه، له بده بدتره دا چې یوه ورځ یې درسول اکرم (ص) په شان کښې دبې ادبۍ الفاظ استعمال کړل، ابو هریره (رض) په ژړا سره درسول الله (ص) حضورته ورغی او واقعه یې بیان کړه، هیله یې وکړه چې دده دمور دهدایت لپاره دعا وکړې پیغمبر (ص) سمدلاسه دعا وکړه: (الهی! دابو هریره مورته هدایت نصیب کړه) ابوهریره په ډیری خوښی سره کورته ولاړ، ویې لیدل چې موریې غسل کوی، کله چې فارغه شوه، ویې ویل: (زویه! ته شاهد اوسه ما په الله ﷻ په رسول ﷺ باندې دزړه له کومې ایمان راوړیدی) ابو هریره (رض) ډیر خوشاله شو، بیرته دپیغمبر (ص) حضورته ورغی، عرض یې وکړ: (یا رسول الله زیری درکوم چې زما مور په اسلام مشرفه شوه، ددې زیری په اوریدو سره دالله رسول هم ډیر زیات خوشاله شو. ابوهریره (رض) که له یوی خوا داسې متبحر عالم ؤ چې په زرګونو زرګونو شاګردان یې وروزل او نن هم کله چې یو واعظ اوخطیب دممبر دپاسه دحدیث په بیانولوپیل کوی نو زیاتره خپله وینا داسې شروع کوی چې: عن ابی هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله (ص)... خوله بلې خوا له خیبر نه نیولی تر تبوك پورې په ټولو غزاګانو کښې دخدای (ج) په لار کښې جنګیدلی دی.

په (۵۸) هجری کال کښې چې کله له دنیا نه رخصتیده دځنکدن په حالت

کښې یې وویل: (خدایه! زه ستا دملاقات لېوال یم، ته هم زما ملاقات خوښ کړه) دهغه دجنازې لمونځ دمدینې امیر حضرت ولید بن عتبه (رض) ادا کړ، لوی صحابه لکه عبدالله بن عمر (رض) او ابو سعید خدری (رض) دهغه له جنازې سره روان وو اوپه جنة البقیع کښې خاورو ته وسپارل شو. (رضی الله عنه)

## ( حضرت ابو طلحه زید بن سهل انصاری ) رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

حضرت ابو طلحه زید بن سهل دمدینې دانصارو دخزرج قبیلې دبنو نجار له کورنۍ څخه ؤ له بیعت عقبه ثانیه نه مخکې په اسلام مشرف شوی ؤ له اسلام راوړلو نه مخکښې یې دبنو نجار یوی کونډې میرمنې ام سلیم بنت ملحان ته دنکاح پیغام ولیږه هغه دمدینې دنورو زیاترو خلکو په څېر دحضرت مصعب بن عمیر (رض) په دعوت سره په اسلام مشرفه شوی وه اوپه خپل زوی انس بن مالك (رض) باندې یې کونډتوب کاوه دابو طلحه دپیغام په جواب کښې یې وویل: (ما دخدای (ج) په ریښتونی پیغمبر محمد رسول الله (ص) باندې ایمان راوړیدی ته دلرګی دبت بندګی کوی داسې شی دی معبود نیولی دی چې نه چاته ګټه رسولای شی نه زیان، زه دیوه خدای جَلَّ جَلَالُهُ عبادت کوونکې اوته مشرك یې، زما او ستا نکاح څنګه کیدای شی؟

دحضرت ام سلیم (رضی الله عنها) جواب پر ابو طلحه باندې سخته اغیزه وکړه، له څو ورځو تیریدو نه وروسته ام سلیم (رضی الله عنها) ته ورغی اوپه ایمان مشرفه سو ام سلیم (رضی الله عنها) دومره دهغه په ایمان راوړلو خوشاله شوه چې ورته یې وویل: اوس حاضره یم له تاسره نکاح وکړم، مادې مهر، مال اودولت همدرنه نه غواړم، ستا اسلام به زما مهر وی) له اسلام راوړلو نه څه موده وروسته حضرت ابوطلحه (رض) په هغې پنځه اویا کسیزې ډله کښې مکې معظمې ته ولاړ چې هغوی په لیلة العقبه کښې دالله جَلَّ جَلَالُهُ درسول (ص) په لاس دسر ښندنې بیعت وکړ چې دسیرت لیکونکو په نزد په بیعت عقبه ثانیه کښې دبرخې اخیستونکو صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ درجه دخلفاءِ راشدینو، ازواجو مطهراتو او لومړنیو مهاجرینو نه پس له نورو ټولو صحابه ؤ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ څخه لوړه

او بهتره ده.

له هجرت نه وروسته چې کله رسول اکرم (ص) د مهاجرینو او انصارو په مینځ کښې دیو یو مهاجر او یو یو انصاری دوروروالی تړون کاؤ نو دحضرت ابو طلحه عقد مواخات یې داسلامی تاریخ دنامتو فاتح او داسلامی لښکر دمشهور قوماندان حضرت ابو عبیده بن الجراح رضي الله عنه سره وکړ. په (۲) هجری کال کښې چې کله دحق اوباطل لومړنۍ معرکه یعنی دبدر غزا مینځ ته راغله، حضرت ابو طلحه زید بن سهل انصاری (رض) له هغو دری سوه دیارلس تنه پاکو هستیو څخه یو تن ؤ چې هغوی په تاریخ کښې دبدری صحابه ؤ له افتخاره ډك لقب ګټلی او دګناهونو دبښل کیدو اعلان ورته شویدی.

ددریم هجری کال دأحد په تاریخی غزا کښې هم حضرت ابو طلحه (رض) په ډیره مینه اوپه خورا توده ولوله برخه واخیستله او دامتحان په هغو سختو شیبو کښې چې یو شمېر صحابه کرامو رضي الله عنهم عقب نشینی وکړه، رسول الله (ص) یوازی دڅو محدودو کسانو په مینځ کښې دکفارو مقابلی ته پاته شو غاښ مبارك یې شهید اومبارك مخ یې زخمی شوی ؤ اومطهری وینی ورباندی بهیدلی، پدی وخت کښې حضرت ابو طلحه خپل ځان دپیغمبر (ص) په وړاندی سپر ګرځولی ؤ هر غشی به چې دخدای جل جلاله دښمنانو درسول اکرم (ص) خواته ګوزاروه، ده به ورته خپله سینه نیوله، دغره په شان محکم ولاړ ؤ په ډیر جوش سره یې لیندۍ چلوله اوله ځانه سره یې دا زمزمه کوله :

نَـفْسِيْ لِنَـفْسِكَ الْفِـدَاءُ وَوَجْـــهِيْ لِوَجْـهِكَ الْوِقَـاءُ

زما سر دی ستا له سره قربان وی زمامخ دی ستا دمخ په وړاندی سپروی.

پدی دوران کښې دری لیندۍ دهغه په لاس کښې ماتی شوی، یو لاس یې ددښمن دګوزار سره شل شو خوله خولی نه یې أف قدری هم وانه وریدل شو، رسول الله ( ص) دهغه دسرښندنی په ګرمه ولوله له حده زیات خوښ شو ویی فرمایل: (په پوځ کښې دابو طلحه اواز له سلو کسانو څخه بهتر دی). دأحد نه وروسته یې داحزاب په جګړه اونورو ټولو غزاګانو کښې برخه واخیستله، په اتم ۸ هجری کال کښې دمکی دفتحی په لس زره کسیز اسلامی لښکر کښې

هم دپيغمبر (ص) سره ملگرى ؤ دحنين په جگړه کښې دخپلې مجاهدى ميرمنى ام سليم (رضى الله عنها) په ملگرتيا برخوال ؤ، او دهغې په لاس يو ويشت تنه مشرکان دجهنم کندى ته وليږل شول، ام سليم (رضى الله عنها) پدى غزا کښې توره په لاس له نبوى شمعى څخه لکه پتنگ تاويدله، حضرت ابو طلحه (رض) پيغمبر (ص) ته عرض وکړ: (يا رسول الله ام سليم توره په لاس ولاړه ده) رسول الله (ص) له ام سليم نه پوښتنه وکړه: په توره باندى څه کوى)؟

هغى عرض وکړ: (يا رسول الله! که کوم مشرك نژدى راشى پدى سره به يى خيټه ورڅيرى کړم). زيدبن سهل انصارى (رض) يوازى مجاهد نه بلکى دقرآن اوحديث فاضل عالم هم ؤ، يوازى بدنى جهاد نه بلکى دخداى په لار کښې دمال په انفاق کښې هم دهغه سارى کم ليدل کيده. يوه ورځ ماښام مهال يو بيوزلى سړى نبوى مجلس ته راغى اوعرض يى وکړ: (يا رسول الله! زه مسافر يم، په مدينه کښې داستوگنى او ډوډى خوړلو ځاى نلرم، زما سره مرسته وفرماياست پيغمبر (ص) څوك وليږه، له ازواجو مطهراتو نه يى پوښتنه وکړه چى په کور کښې دخوراك څه لرى؟

دهغوى لخوا جواب راغى چه دهيڅ يوى په کورکښې دخوراك څه نشته، بيايى صحابه ؤ ته مخ واړوه ويى فرمايل: (څوك دى چى دالله ﷻ دغه بنده ميلمه کړى؟

حضرت ابو طلحه (رض) سمدلاسه پاڅيده، عرض يى وکړ: (يارسول الله! زه به يى بوځم له هغه وروسته کورته ولاړ اوخپلى ميرمنى ته يى دميلمه دراتلو خبر ورکړ. هغى وويل: يوازى دماشومانو لپاره لږ څه خواړه شته، له هغى نه پرته په خداى قسم، چى په کور کښې هيڅ شى نشته). ابو طلحه وويل: (خيردى، ماشومان ولوبوه، وږى يى ويده کړه، دهغوى خواړه به ميلمه ته کښيږدو، دسمولوپه پلمه څراغ مړکړه، په تياره کښې ميلمه ته ډوډۍ کښيږده، موږ به هسى په کاسه کښې ورسره لاس وهو چى ميلمه ونه پوهيږى چى موږ تش لاس وهو اوڅه نه خورو) همد غسى يى وکړل، ميلمه يى وپاله، ميړه، ميرمن او ماشومانو په لوږه شپه تيره کړه، کله چى سهار دپيغمبر (ص) په

حضور مشرف شو دهغه په مبارکه ژبه دا ايت جاري ؤ: (ويؤثرون على انفسهم ولو كان بهم خصاصة) هغوی نورو ته پر خپل ځان ترجيح ورکوی اګر که پخپله وربانډی تنګسه (لوږه) وی. بيا يی ابو طلحه ته وفرمايل (دشپی چی تاسی له ميلمه سره کوم چلن وکړ، دالله تعالی ډير خوښ شو) يوه ورځ درسول اکرم (ص) په مجلس کښی ناست ؤ چی دا ايت نازل شو (لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون) هيڅکله به ثواب ونه مومئ ترڅو چی خپل محبوب اوګران مالونه دالله (ج) په لار کښی ونه لګوی. ابو طلحه نبوی مسجد ته مخامخ ديوه حاصل خيزه ګڼ باغ مالك ؤ، په هغه کښی (بيرحاء) کوهی ؤ، ډيری خوږی اوبه يی وی چی پيغمبر (ص) به په ډيره مينه څښلی، په مدينه منوره کښی دغه راز جايداد ډير لوی نعمت ؤ، پاڅيده عرض يی وکړ: (يارسول الله! زما محبوب دولت بيرحاء دی، زه دا دخدای (ج) په لاره کښی وقف کوم او په خدای (ج) قسم که دا خبره پټيدای شوای مابه هيڅکله نه وای ښکاره کړی). پيغمبر (ص) دهغه پدی جذبه له حده زيات خوشاله شو اوويی فرمايل: (پخپلو خپلوانو باندی يی تقسيم کړه). حضرت ابوطلحه (رض) درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته دومره خپه ؤ چی تابه ويل دغمونو غر وربانډی را غورځيدلی دی مګر پدی وخت کښی هم الله تعالی داسی سعادت ورپه برخه کړ چی بل چاته نه ؤ په برخه شوی، دپيغمبر (ص) دمبارك قبر دکيندلو خبره مينځ ته راغله دصحابه کرامو ﷺ نظر ته ابو طلحه چی په لحد کيندلو کښی ماهر ؤ اوابو عبيده بن الجراح چی په شق قبر کيندلو کښی ماهر ؤ راغلل، په دواړو پسی يی پيغام وليږه او فيصله يی داسی وکړه چی: هريو چی دمخه راغی همغه به قبر وکيني او ځنګه چی لحد قبر دالله (ج) درسول خوښ ؤ نو دصحابه کرامو دزړه هيله دا وه چی کاشکی ابو طلحه مخکښی راورسيږی، دهغوی دزړه له هيلی سره سم ابو طلحه مخکښی راغی اوددواړو جهانو دسردار دقبر کيندنی سعادت ورپه برخه شو.

ابو طلحه (رض) دخلفاءِ راشدينو اوامير معاويه (رض) په دور کښی هم وخت نا وخت په جهادونو کښی برخه اخستله په پای کښی دخپل عمر په اويا

کلنی کښی په هغه بحری سفر کښی شامل شو چی دامیر معاویه (رض) لخوا دقسطنطنیه دنیولو لپاره لښکر لیږل شوی ؤ، په بیړۍ کښی یی روح علیین ته والوت اوکله چی ساحل ته ورسیدل په ټاپو کښی دفن کړای شو. (رضی الله عنه)

## حضرت ارقم بن ابی الارقم رضي الله عنه

رسول اکرم (ص) دبعثت په لومړنیو وختونو کښی دتوحید دعوت او تحریك پداسی شان سره چی دهغه دقوم جاهلی تعصب اوغصه په ناڅاپی ډول راونه پاریږی چی ددوه نیم زرو کلونو په اوږدو کښی دخدای تعالی لخوا کوم پیغمبر ورته نه ؤ را لیږل شوی او نه یی غوږونه دتوحید له رږغ سره اشنا وو، له همدی امله به یی دعوت هم په پټه چلوه او خپل دینی مراسم به یی هم په پټه اجرا کول. دمکی په ګوښه ځایونو کی به یی په پټه لمونځونه ادا کول او ډیر کوشش به یی کاؤ چی څوك ورباندی خبر نشی، مګر سره له دی هم دمشرکانو غوږونو ته دپیغمبر (ص) اودهغه دګوتو په شمیر سرښندونکو پیروانو خبرونه ورسیدل او هغوی پدی لټه کښی شول چی دلمانځه په ادا کولو یی ووینی اواذیت اوازار ورته ورسوی لکه چی یو دوې واقعی همداسی پیښی شوی؟ که څه هم مسلمانانو ته یی ضرر ونشو رسولای مګر بیاهم دآینده خطر اندیښنه پیدا شوه چی هسی نه مشرکان دقومی او قبیلوی جګړی ډګر ګرم کړی دهمدغه عملی حکمت په رعایت او نظر کښی نیولو سره رسول الله (ص) غوښتل، داسی یومحفوظ ځای پیدا شی چی هلته دکافرانو دحملی ویره نه وی ترڅو په ډاډه زړه لمونځ ادا کړی او ددعوت تدابیر ونیسی. ددغسی یو مرکز په لټه کښی و، چی یوه ورځ یو نولس کلن شل کلن زلمی دپیغمبر (ص) حضور ته راغی، عرض یی وکړ: (یارسول الله! زه دصفا غونډی تر څنګ یو پراخ کور لرم چی بیت الله ته نژدی واقع دی، هغه تاسی ته نذرانه کوم، مسلمانان چی څه غواړی هلته یی کولای شی اومشرکان نشی کولای چی هلته داخل شی اویا خنډونه ایجاد کړی) پیغمبر (ص) ددی زلمی دحقپالنی پدی توده ولوله له حده زیات خوشاله شو، هغه ته یی دخیر او برکت دعا وکړه او د

هغه سخاوت مندانه پیشکش یی قبول کړ اوهمدغه کوردمسلمانانو دغونډیدو عبادت او ددعوت او تبلیغ مرکز وګرځول شو. دایثار او فداکارۍ دغه پیکر څوك ؤ ؟

دا دبنو مخزوم قبیلې ارقم بن ابی الارقم رضی الله تعالی عنه ؤ حضرت ارقم بن ابی الارقم (رض) دبعثت په لومړیو دریو کلونوکښې هغه وخت دایمان دقیمتی خزانې مالك شوی ؤ چې دمؤمنانو شمیر دګوتو دشمیر څخه زیات ؤ.

هغه وخت چې داسلام اوتوحید نوم په خوله اخیستل دوحشیانه تعذیبونو اودرندو مصیبتونو سمندر ته وردانګل ؤ هغه وخت چې دعدل اوانصاف بیرغ یی پورته کړی چې په هغه سره دمادیت پرستو مشرکانو دحیوانیت، وحشت او بربریت او غیر انسانی ظلمونو مخنیوی کیده له مرګ سره لوبیدل ؤ.

دایمان راوړلو په وخت کښې دحضرت ارقم (رض) عمر داولس کلنی په خواوشا کښې ؤ خودده همت دومره لوړؤ چې په هغو سختو حالاتو کښې یی رسول اکرم (ص) او دهغه خوږو ملګرو ته پخپل کور کښې پناه ورکړه چې دار ارقم دیوه خدای (ج) دبندګی او دحق ددعوت مرکز او منبع وګرځید، پیغمبر (ص) هم هلته اوسیده، دنیك فطرت خاوندان پرله پسی ورتلل اوددوارو جهانو دسردار په لاس یی دایمان او سرښندنی بیعت کاؤ یعنی له همدی مبارك کور نه دتوحید انوار خپریدل اودشرك په تورو لوخړو پټ زړونه یی روښانه کول چې په همدی سلسله کښې داسلامی تاریخ نامتو بهادرانو سید الشهداء حمزه (رض) اوجهان کشاء عادل عمر فاروق (رض) هم دار ارقم ته ورغلل او دایمان په دولت معمور شول او بیا هغه دور راورسید چې مؤمنانو په ښکاره څرګنده دکعبې ترڅنګ لمونځ ادا کړ او په لوړ اواز دتکبیر دنعرو زمزمی پورته سوی.

له حضرت عبدالله بن مسعود (رض) څخه روایت دی چې: (په خدای قسم، ترڅو پوری چې عمر (رض) اسلام نه ؤ راوړی، موږ دکعبې په خوا اوشا کی لمونځ نشو ادا کولی دار ارقم دبعثت له دریم کال نه دبعثت تر شپږم کال پوری داسلامی دعوت دمرکز او دپیغمبر (ص) اومؤمنانو دپناه ځای حیثیت درلود خوپدغه موده کښې چې څومره کسان په ایمان مشرف شویدی کله چې دهغوی

دژوند حالات اوسیرت بیانیږی ددار ارقم اهمیت او عظمت دانسان سترګو ته نیغ دریږی.

حضرت ارقم بن ابی الارقم (رض) لکه څنګه چی داسلام په مکی دور کښی خپل ژوند دالله ﷻ دپاك حبیب (ص) په ژوند پوری تړلی ؤ اوتل به له نبوی شمعی څخه دپتنګ په څیر تاویده اوهر راز ستونزی او کړاوونه یی زغمل، دهجرت له عامی اجازی نه وروسته په مدینه منوره کښی هم له نبوی صحبت اوفیوضاتو نه برخمن ؤ، دمهاجرینو اوانصارو تر مینځ دورورولی دعقد په سلسله کښی دحضرت ارقم (رض) دمواخات تړون له حضرت ابو طلحه زید بن سهل انصاری (رض) سره وشو. ددویم هجری کال درمضان په میاشت کښی چی کله دبدر تاریخی لویه غزا مینځ ته راغله حضرت ارقم (رض) په هغی کښی برخوال ؤ، علامه ابن اثیر په اسد الغابه کښی لیکلی دی چی دحق او باطل پدی لومړنی معرکه کښی رسول الله (ص) حضرت ارقم (رض) ته یوه توره ورکړه چی په همغی سره له پیل نه ترپایه په پوره میړانه وجنګیده. نه یوازی په بدر کښی بلکی په أحد، احزاب، حنین اونورو ټولو غزاګانو کښی حضرت ارقم بن ابی الارقم (رض) دجهاد دمیدان یو غښتلی عسکرؤ. دحضرت ارقم (رض) په دیانت او امانتداری باندی درسول الله (ص) ډیر زیات اعتمادؤ. دهمدی اعتماد له مخی یی دزکات دمالونو دتحصیل وظیفه ورسپارلی وه او حضرت ارقم (رض) درسول اکرم (ص) دژوند تر پایه دغه وظیفه په ډیره ښه توګه سرته ورسوله.

حضرت ارقم (رض) دصدق، زهد، تقوی او شجاعت سمبول ؤ اود خدای (ج) په عبادت کښی دومره حریص ؤ چی یوځل یی دثواب ګټلو په نیت په بیت المقدس کښی دلمانځه ادا کولو اراده وکړه، دسفر تیاری یی ونیوه او داجازی اورخصت اخیستلو لپاره دپیغمبر (ص) حضورته راغی، رسول الله (ص) ورڅخه پوښتنه وکړه: بیت المقدس ته دڅه لپاره ځی دتجارت اوکه دکوم بل مقصد لپاره؟ عرض یی وکړ: یا رسول الله! مور اوپلار می درنه ځار شه، دثواب ګټلو په نیت هلته دلمانځه ادا کولو لپاره ځم. پیغمبر (ص) وفرمایل: (په نبوی

مسجد کښی یولمونځ ادا کول له بیت الله نه پرته نور ددنیا له ټولو مساجدونه زر درجی فضیلت لری.

ددی ارشاد په اوریدلو سره حضرت ارقم (رض) دسفر اراده ترك کړه حضرت ارقم (رض) دسرور کائنات (ص) له رحلت نه وروسته څه دپاسه څلویښت کاله ژوند وکړ، تر هغه وخته ژوندی ؤ چی دراشدینو خلفاؤ دور تیر شو اوپر ټوله اسلامی نړۍ باندی دحضرت امیر معاویه (رض) حکومت ټینګ شو په پای کښی دسیرت لیکونکو درروایتونو داختلاف له مخی په (**۵۳**) یا (**۵۵**) هجری کال کښی د (۸۳) یا (**۸۵**) کلونوپه عمر له دی فانی دنیانه داخرت دنه ختمیدونکی ژوندانه په لور روان شو. په طبقات ابن سعد کښی راغلی دی چی حضرت ارقم ﷺ له وفات نه دمخه وصیت کړی ؤ چی زما دجنازی لمونځ به حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) ادا کوی، څنګه چی هغه له مدینی څخه په یو څه لیری فاصله عقیق نومی ځای کښی اوسیدی او راتګ یی وځنډیدی نو دمدینی والی مروان بن الحکم وویل: (جنازه به ترکومه دسعد بن ابی وقاص راتګ ته ایساره وی، زه به یی دجنازی لمونځ ادا کړم دحضرت ارقم (رض) زوی عبید الله (رض) دخپل پلار دوصیت په احترام دمروان خبره ردکړه اوجنازه ترهغه معطله شوه، ترڅو چی حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) تشریف راؤړ اودجنازی دلمانځه له ادا کولونه وروسته داسلام دآسمان دغه ځلانده ستوری دبقیع په هدیره کښی خاورو ته وسپارل شو. (رضی الله عنه)

## حضرت ابو جندل بن سهیل ﷺ

سهیل بن عمرو دقریشو له مشرانو څخه اودلسانی فصاحت لرلو له کبله یی دقریشو دخطیب په نامه شهرت درلود خوله بده مرغه چی دهغه دغه خدای (ج) ورکړی نعمت داسلام او مسلمانانو پر ضد استعمالیده، دهغو بد بختو خلګو په لومړی صف کښی ولاړؤ چی هغوی دحضرت رسول اکرم (ص) اودحق ددعوت پر خلاف دریغ نیولی ؤ او شپه ورځ یی داهڅه وه چی اسلامی تحریك وځپی، دتوحید عاشقان وځوروی اوله راز راز کړاوونو او مصیبتونو سره یی مخامخ کړه ددی ټولو خنډونو سره سره دتوحید رڼا دشرك تیاری روښانولی او

ورځ په ورځ داسلام دنفوذ دایره پراخیدله، په مکه کښې داسې کورنی نه وه چې په هغې کښې دی دتوحید څرك نه وی لګیدلی، که پلاربه دشرك په تررږمې کښې پاتې ؤ زامن او لوڼی به یې دحق پلویان وو که میړه به مشرك پاتې ؤ ښځه به یې مسلمانه وه که ښځه به مشرکه وه میړه به یې دتوحید دعوت ته لبیك ویلی ؤ دسهیل بن عمرو دکورنی هم همدغه حالت ؤ که پخپله دحق ددعوت سره سخت دښمن ؤ خو دهغه دوې لوڼی سهله (رضی الله عنها) او ام کلثوم (رضی الله عنها) او دوه زامن عبد الله (رض) او ابو جندل (رض) چې اصلی نوم یې عاص ؤ دحضرت محمد رسول الله (ص) سره بیعت کړی ؤ. سهیل بن عمرو چې دکفر اوشرك علمبردار ؤ خپل زوی ابوجندل (رض) ته یې داسلام په راوړلو داسزا ورکړه چې زولنی یې په پښو کښې ورواچولی او په کلونو کلونو یې آن دنبوی هجرت تروختنه بندی وساته بلکې له هجرت نه وروسته هم دحدیبیې دسولې تر زمانې پورې دتعذیبونو داور په بټۍ کښې سوځیده.

دشپږم هجری کال دذی القعدی په میاشت کښې رسول اکرم (ص) له یو زر اوڅلور سوه تنه صحابه کرامو (رض) سره دعمری ادا کولو په نیت له مدینې منورې نه دمکې معظمې خواته روان شو قریشو ته چې خبر ورسیده مکې معظمې ته دمسلمانانو دداخلیدو دمخنیوی لپاره یې تدابیر ونیول رسول اکرم (ص) له مکې نه په یو څه فاصله کښې په حدیبیه نومې ځای کښې دیره شو، قریشو ته یې پیغام ولیږه چې (موږ یوازې دعمرې ادا کولو په غرض راغلی یو، نه دجنګ لپاره. نو ښه داده چې قریش له موږ سره مؤقتې صلح وکړی).

قریشو ددې پیغام په جواب کښې عروه بن مسعود ثقفی دخپل استازی په توګه دخبرو اترو لپاره درسول الله (ص) حضورته ولیږه. هغه دراستنیدو په وخت کښې قریشو ته دخپلو سترګو لیدلی حالات بیان کړل، ویې ویل: زه دقیصر کسری او نجاشی دربارونو ته ورغلی یم، قسم په خدای (ج) دی چې ما هیڅ باچا دخپل رعیت په مینځ کښې دومره محبوب ندی لیدلی لکه محمد (ص) دخپلو یارانو اوپیروانو په مینځ کښې له ډیر احترام نه په غټو سترګو دهغه خواته نه ګوری، دهغه په وړاندې په لوړ اواز نه ږغیږی، دهغه په یوه

اشاره ځانونه اورته غورزوی اودهغه په امرخپلی وینی قربانوی نوښه داده چی مخه یی ونه نیوله شی. له هغه وروسته رسول اکرم (ص) حضرت عثمان (رض) دخپل استازی په توګه ورولیږه چی قریشو هغه په مکه کښی بندی وساته او دیخواته په مسلمانانو کښی داخبره مشهوره شوه چی حضرت عثمان (رض) شهید کړای شویدی، رسول الله (ص) څوارلس سوه صحابه راټول کړل او بیعت یی ورڅخه واخیست ټولو صحابه ؤ دفخر کائنات (ص) په لاس دځان ځارونی بیعت وکړ چی هغه ته په تاریخ کښی دبیعت رضوان نوم ورکړ شویدی. که څه هم وروسته څرګنده شوه چی دحضرت عثمان (رض) دوژل کیدو خبر غلط ؤ خوقریش چی دمسلمانانوله تصمیم څخه خبرشول نوسولی ته یی غاړه کیښوده اودابو جندل (رض) پلار سهیل بن عمرو دقریشو دنماینده په صفت حدیبیې ته ورغی دسولی په معاهده کښی یوه ماده داوه چی: که له قریشو نه څوك مسلمانانو ته راشی هغه به بیرته په لاس ورکوی دمعاهدی ټول شرائط اومواد لانه ؤ ختم شوی چی حضرت ابو جندل (رض) زولنی په پښو کښی حدیبیې ته راغی، دهغه له مبارکو پښو څخه چی زنځیرونو زخمی کړی وی وینی بهیدلی، غږ یی وکړ زما مسلمانو وروڼو داسلام راوړلو په جرم کښی زما داحال دی چی زما پلار کلونه ماته دغه سزا راکړی ده، هیله من یم چی ددی تعذیبونو او کړاوونو څخه نجات راکړی) دهغه پلار سهیل بن عمرو دصلحی دلفظ نامی دیوی مادی په اساس اصرار وکړ چی ابو جندل (رض) دی بیرته وروسپارل شی ابوجندل (رض) پدی وخت کښی فریاد وکړ چی زه څنګه بیرته هغه چاته سپارل کیږم چی هغوی ما له اسلام نه دکفر خوا ته اړوی؟

دغی ماجرا پرحضرت عمر فاروق (رض) باندی سخته اغیزه وکړه، درسول الله (ص) په حضور کښی یی عرض وکړ: (یا رسول الله! ایا ته په حقه سره پیغمبر نه یی؟ جواب یی ورکړ: (ولی نه) عرض یی وکړ: (ایا موږ په حقه او زموږ دښمنان په باطله نه دی؟ ویی فرمایل: (ولی نه) عرض یی وکړ: (نو موږ ولی له کفارو سره دغه شرائط ومنو؟

ویی فرمایل: (دا دالله (ج) حکم دی، زه دالله (ج) دحکم تابع یم الله ﷻ

زموږ ساتونکی او مرستندوی دی) بیا رسول الله (ص) ابو جندل ته وفرمایل: (صبر وکړه زموږ دکار نتیجه ډیره ژر څرگندیدونکی ده، خدای (ج) به ستا او دنورو مظلومو مسلمانانو دنجات لپاره یوه لاره پیدا کړی) درسول الله (ص) دپیش گوئی سره سم یو بل صحابی ابو بصیر (رض) چی دابو جندل (رض) دسر نوشت په څېر حالت کښی واقع ؤ اوابو جندل (رض) له مکی نه وتښتیدل دمدینی پرځای دهغی ساحلی لویی لاری ترڅنگ دیره شول چی له مکی نه شام ته تللی وه اوپر هغی باندی به دقریشو تجارتی قافلی تلی راتلی په ډیره لنډه موده کښی دابوبصیر اوابوجندل (رض) ترڅنگ زیات شمیر مسلمانان ورغونډ شول اویو ستر ټولگی ورڅخه تشکیل شو. دقریشو تجارتی کاروانونه به یی راگرځول او ددښمن دا لاره یی په اغزو پټه کړه چی په نتیجه کښی قریشو پخپله دمعاهدی ددغی مادی دماتیدو پیشنهاد وکړ اوپدی ترتیب درسول اکرم (ص) هغه هیله ترسره شوه چی: (الله تعالی به دمظلومو مسلمانانو د نجات لپاره لاره برابره کړی) پیغمبر (ص) ابوجندل (رض) اوابو بصیرته خط ولیږه چی مدینی ته راشی. دابوبصیر (رض) خودژوند شیبې پوره وی مخکی له دی نه چی مدینی منوری ته راورسیږی له دی فانی دنیانه رخصت شو مگر ابوجندل (رض) له خپلو ملگرو سره مدینی منوری ته راغی ابوجندل (رض) مدینی ته له راتگ نه وروسته دمکی دفتح حنین، طایف، تبوك اونورو ټولو غزا گانو کښی ددواړو جهانو له سردار (ص) سره ملگری ؤ له ایمان راوړلو نه وروسته مکی ژوند یی دحق له حریم نه ددفاع لپاره په زولنو کښی تیر شو او دمدنی ژوند لومړی کلونه یی دحق دلاری په جهادونو کښی. درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته دصدیقی دور په موده کښی ابوجندل (رض) په مدینه کښی اوسیده خو دفاروقی دور په ترڅ کښی چی کله دشام دجنگونو اوږده لړۍ پیل شوه ابو جندل (رض) دهغه لښکر په ملگرتیا دیو مجاهد په صفت شام ته ولاړ چی درومیانو پر خلاف جنگیدل. شپږ کاله پرله پسی په جهاد مصروف اوپه پای کښی دعمواس دتاریخی طاعون ساری ناروغۍ باندی په اخته کیدو دجهاد په میدان کښی وفات شو. (رضی الله عنه)

## حضرت ابو دجانه انصاری ﵁

حضرت ابو دجانه انصاری چی اصلی نوم یی سماك بن خرشه ؤ دانصارو دخزرج مشهوری قبیلی دساعده له کورنی څخه ؤ مدینی ته درسول الله (ص) له هجرت نه دمخه په اسلام مشرف شوی اودمدینی له ۹ توریالیو کسانو څخه یو تن ؤ.

له حق دین اودالله تعالی (ج) له برحق پیغمبر سره یی له حده زیاته مینه وه، دنورو حقپالونکو په څیر دهغی ورځی په انتظار کښی ؤ چی درسالت په روښانه لمر باندی دمدینی چاپیریال رڼا شی، هغه وخت راورسیده او ددواړو جهانو سردار حضرت محمد مصطفی (ص) مدینی ته هجرت وکړ ابو دجانه به دحق له شمعی څخه دپتنګ په شان تاویده اوخپل ژوند یی دبشریت دلارښود صحبت او خدمت ته وقف کړ.

دهجرت په دویم کال درمضان په میاشت کښی چی کله دبدر غزا پیښه شوه اودحق اوباطل ترمینځ معرکه ګرمه شوه پدی وخت کښی دمشرکانو له صفونو څخه دبنو سهم یومشهور جنګیالی، عاصم بن ابی عوف بن جبیره چی دغټی اوقوی جوسی خاوند او د درنده ځناور غوندی خوی یی درلود پداسی حال کښی میدان ته راوړاندی شو چی له ډیری غوسی نه یی زګونه له خولی نه بادیدل په ډیر کبر اوغرور سره یی توره پړکوله او ناری یی وهلی: (ای قریشو! نن په هغه سړی باندی ایله ونکړئ چی دقبیلو په مینځ کښی یی درز اچولی دی، نن به زه یاهغه وژنم اویا به له خپل ژوند څخه لاس په سرکیږم ددی بد مرغه انسان اشاره درحمت للعلمین (ص) خواته وه دهغه ددی چیغی په اوریدو سره دحقپالونکو زړونه په جوش راغلل او دموحدینو له صفونو څخه حضرت ابودجانه (رض) پداسی حال کښی دعاصم خواته ورغی چی په سره دسمال سره یی سر تړلی او توره یی پړکوله، پر عاصم باندی یی داسی قوی ګوزار وکړ چی بل ګوزار ته اړتیا پاتی نشوه، اوځای پرځای راوپرځیده او ددوزخ لاره یی په مخ کښی ونیوله له هغه وروسته یوبل مشرك، معبدبن وهب کلبی راوړاندی شو، ابودجانه انصاری (رض) هغه هم په عاصم بن ابی عوف پسی دجهنم کندی

ته ولیږه. دبدر په ورځ داسلام ددغه نامتو قهرمان په لاس دمشرکانو دوه نور جنګیالی، ربیعه بن اسد اوابو مسافع اشعری هم ووژل شول اوزیات شمیر کسان زخمیان شول.

په صحیح مسلم او مسند احمد بن حنبل کښی له حضرت انس بن مالك (رض) څخه روایت دی چی د أحد په غزا کښی رسول الله (ص) یوه توره پخپل لاس کښی ونیوله ویی فرمایل: (څوك به دا توره واخلی؟ )

ټولو په هیله مندی سره دحضرت فخر الرسل (ص) خواته وکتل، ورپسی یې وفرمایل : (څوك به ددی توری حق اد ا کړی؟)

ددی خبری په اوریدو سره ټول غلی شول، یوازی حضرت ابودجانه سماك انصاری (رض) پاڅیده عرض یی وکړ: (یا رسول الله مور او پلار می درنه ځار شه زه به ددی توری حق ادا کړم، خو تاسی را وښیاست چی ددی حق څه دی؟

رسول الله (ص) وفرمایل: ددی حق دادی چی پرمسلمان باندی به نه پورته کیږی اوچی داتوره درسره وی له کافر څخه به نه تښتی) علامه ابن اثیر (رح) په اسد الغابه کښی لیکلی دی چی حضرت ابو دجانه (رض) دتوری له اخیستلونه وروسته له خپل عادت سره سم په سره دسمال سره خپل سر وتاړه او په ډیر غرور سره دجنګ میدان ته روان شو، رسول الله (ص) دکبر او غرور په حالت کښی دهغه دتګ په لیدلو وفرمایل:

اګرکه دکبر اوغرور قدمونه اخیستل دالله تعالی نه خوښیږی خو بیا هم په دغسی وختونو (دکافرانو له عسکرو سره دمخامخ کیدو په وخت) کښی څه پروانلری) حافظ ابن کثیر (رض) په خپل مشهور کتاب: البدایه والنهایه کښی دابن هشام په حواله پدی روایت کښی داهم زیاته کړیده چی: کله چی ابودجانه (رض) خپل سر په سره دسمال سره وتاړه نو انصارو وویل: (ابو دجانه! دمرګ په پټۍ باندی سر تړلی دی) معنا داچی ابو دجانه (رض) به دکفارو مقابلی ته پداسی حال کښی وړاندی کیده چی دمرګ شعار به یی دسر دپاسه ښکاریده.

دجنګ میدان ته دداخلیدو په وخت کښی یی له ځانه سره دا زمزمه کوله:

انا الذی عاهدنی خلیلی ونحن بالسفح لدی النخیل

ان لا اقوم الدهر فی الکیول　　　　اضرب سیف الله والرسول

زه هغه څوك یم چی له مانه زما خلیل محمد (ص) ژمنه اخیستی ده، په داسی حال کښی چی موږ نخلستان ته نژدی دغره په لمن کښی اوسیږو.

داچی زه به په ټول ژوند کښی په وروستی صف کښی ونه دریږم، دالله ﷻ او رسول په توری سره به ګوزارونه کوم.

له حضرت کعب بن مالك انصاری (رض) څخه روایت دی چی ما دأحد په جنګ کښی ولیدل چی دکافرانو یو پهلوان چی له سره تر پښو پوری په جنګی زغره کښی نغښتی اوپه وسله سمبال ؤ پرمسلمانانو یی حملی کولی او ورسره یی ناری وهلی: زما ملګرو! دا خلګ (مسلمانان) دپسونو درمی غوندی په یو ځای کښی بند کړی. پدی وخت کښی په ناڅاپی ډول دمسلمانانو له صفونو څخه یوزغره وال مجاهد راووت پر مشرك پهلوان باندی یی دتوری داسی سخت ګوزار وکړ چی هغه دوه ټوټی شو، زه دمجاهد ترشا ولاړ وم ، ماته یی مخ راواړوه او له مخی نه یی دزغری څیره ایسته کړه راته ویی ویل: کعبه! ما وینی، زه ابو دجانه یم)، له حواری رسول حضرت زبیر بن العوام (رض) څخه هم دغسی روایت نقل شویدی خوپه هغه کښی داهم زیاته شویده چی پدی جګړه کښی دهند بنت عتبه ترمشری لاندی دمشرکانو ښځو ګډون کړی ؤ پخپلو عشقی انقلابی ترانو سره یی خپل نارینه جنګ ته هڅول، حضرت ابو دجانه (رض) وړاندی ورغی دهندی پر چټ باندی یی توره کښیښودله، هغی چیغی وهلی چی: هلئ راشئ چی ما وژنی مګر هیڅوك یی خواته ورنغی، ابو دجانه (رض) توره ورڅخه پورته کړه بیرته راغی، حضرت زبیر (رض) وایی: (ما ورنه پوښتنه وکړه چی ولی دی هغه ښځه ونه وژله ؟

جواب یی راکړ: (ماته شرم راغی چی درسول الله (ص) په توری سره یوه ښځه ووژنم، ښځه هم دومره بی څوکه (بی کسه) چی چیغی یی ووهلی اوڅوك یی خلاصولو ته رانژدی نشو.

په همدی جګړه یعنی دأحد په غزا کښی چی کله مسلمانان دخدای ﷻ له ازموینی سره مخامخ شول، مسلمانان شهیدان اوزخمیان شول، داسلام لښکر

تیت پرك اورسول الله (ص) له خپلو ځو تنو سرښندونکو سره دجنګ په میدان کښې زخمي اومحاصره پاتې شو نو دهغو سرښندونکو له جملې نه چې تر پایه پورې درسول الله (ص) دمخې سپر وو یو هم حضرت ابو دجانه (رض) ؤ پدې سختو شیبو کښې دابو دجانه توری ډیر دښمنان درسول اکرم (ص) له مخې نه وشړل اوپخپله یې داحال ؤچې په بدن کښې یې داسې ځای نه ؤ چې دغشې اوتورې ګوزار یې نه ؤ خوړلی. دکفارو له په شا تمبیدو نه وروسته رسول کریم (ص) وفرمایل: ابودجانه ډیره ښه جګړه وکړه.

له بدر اواُحد نه وروسته په نورو ټولو غزاګانو کښې هم حضرت ابودجانه (رض) دمجاهدینو په لومړۍ صف کښې ځای درلود او په هر محاذ کښې یې عملاً داثابته کړه چې په رښتیا دنبوي شمعې پتنګ دی.

درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دصدیق اکبر (ض) دخلافت په دور کښې حضرت ابو دجانه (ض) دجهاد لړۍ جاري وساتله او بالاخره دمسیلمة کذاب پرخلاف دیمامې په مشهوره تاریخي جګړه کښې خپل هغه لوړ هدف ته ورسید چې یومسلمان دهغه لپاره ژوند کوي یعنې دخدای (ج) په لاه کښې شهادت (رضی الله عنه).

## حضرت انس بن مالک ﵁

حضرت انس بن مالك بن نضر دانصارو دخزج قبیلې دبنو نجار کورنۍ ته منسوب او دعمر په اته کلنۍ کښې یې دتوحید مبارکه کلمه په ژبه جاري شوې وه پلار ئې متاسفانه پخپل جاهلي مسلك کښې مړ شوی ؤ خو دهغه مور حضرت ام سلیم (رضی الله عنها) له نبوي هجرت نه دمخه داسلام په مقدس دین مشرفه شوې وه ورسره دحضرت انس (رضی الله عنها) تره انس بن نضر، خاله ام حرام (رضی الله عنها) اوماما حضرت حرام بن ملحان (رضی الله عنه) هم دایمان ددولت خاوندان شول کله چې دفخر کائنات (ص) دهجرت په وسیله په یثرب باندې سمسور پسرلی راغی اوپه ګوټ ګوټ کښې داسلام دعطرو خوشبوئي خوره شوه، په همدې وختونو کښې یوه ورځ یوه پتمنه بي بي په داسې حال کښې دپیغمبر (ص) حضور ته ورغله چې نهه کلن ښکلی هلك هم

ورسره ؤ، عرض ئی وکړ: یارسول الله! مور اوپلارمی درنه ځار شه، دازما دزړه ټوټه ده، تاته ئی دنذرانی په ډول وړاندی کوم، هیله ده دخپل خدمت لپاره یی قبول کړی) رسول الله (ص) دهغی داخلاص په ولوله شاباسی ووایه، دهلك پر تندی ئی دمهربانئ لاس راښکود، دخیر او برکت دعا ئی ورته وکړه او دهغی پتمنی بی بی له غو ښتنی سره سم ئی دخپل رحمت مورد وګرځوه.

الله ! الله ! څومره لوړ مقام دی داچی څوك دسرور کونین (ص) خدمتګار شی، حضرت انس (رض) دهمدی لوړ مقام په برکت، سره له دی چی دعمر په لحاظ کشر ؤ خو دفضلیت په لحاظ دمشرانو صحابه ؤ په صف کښی ځای ونیوه.

حضرت انس بن مالك (رض) پرله پسی ترلسو کلونو پوری ددواړو جهانو دسردار (رض) دخدمت له سعادت نه برخوردار ؤ اوپدی دومره اوږده موده کښی درحمة للعلمین (ص) دشفقت وریځ ورباندی خوره او درحمت باران پری اوریده.

دخپل بادار دخدمت لپاره حضرت انس (رض) داسی مهال ویش جوړ کړی ؤ چی دسهار له سپیده داغ نه مخکی درسول الله (ص) کورته ورتلی غرمه به دلږ شیبی لپاره بیرته خپل کورته راتلی ماسپښین به بیاپه خدمت کښی حاضر ؤ دورځی تر پایه پوری اوکله به دشپی ترناوخته پوری پاتی کیده. پدی دومره اوږده موده کښی کله هم داسی پیښه نشوه چی دسرور کائنات (ص) په وچولی (تندی) مبارك کښی دحضرت انس ﷺ په نسبت ګونځه پیدا شوی وی.

په بیهقی او په صحیح بخاری کښی پخپله له حضرت انس (رض) څخه روایت دی چی ما لس کاله دخپل بادار محمد رسول الله (ص) په خدمت کښی تیر کړل خو کله هم داسی پیښه نشوه چی پر ما به غوسه شوی وی، ان تر دی پوری چی کله کله له ما څخه څه کار خراب شویدی بیا ئی ملامتی را باندی نده اچولی دکورنی کوم غړی به که دکار په ورانیدو څه ویل نو فرمایل به ئی: هیڅ مه وایاست که دازیان مقدر نه وای هیڅکله به نه ؤ رسیدلی.

په مسند احمد بن حنبل کښی راغلی دی چی یوځل پیغمبر (ص) حضرت

انس (رض) په کوم کار پسی ولیږه، په لاره کښی په یوځای کښی ماشومان لوبیدل حضرت انس (رض) دهغوی ننداری ته ودریده، پدی کښی څه وخت تیر شو، چی رسول الله (ص) ولیده حضرت انس ته ئی وویل چی هغه دی رسول الله (ص) را روان دی، حضرت انس. (رض) ددی پرځای چی وتښتی په ډیر ادب سره ودریدی، رسول الله (ص) نژدی راغی، دحضرت انس (رض) لاس ئی ونیوه اوپه موسکا سره ئی ورته وفرمایل چی: (ځه پخپل کار پسی ولاړ شه ترڅو چی حضرت انس (رض) له خپل کار څخه بیرته نه ؤ راغلی رسول الله (ص) ددیوال سیوری ته ناست ؤ دهغه لاره ئی څارله. حضرت انس (رض) په ډیر ځنډ تللی ؤ، کله چی کور ته ولاړ، دهغه مور صحابیه بی بی حضرت ام سلیم (رض) ورڅخه دځنډویدو پوښتنه کړه، حضرت انس جواب ورکړ: رسول الله (ص) په یوکار پسی لیږلی وم، ام سلیم ورڅخه پوښتنه وکړه: ( څه کار ؤ ؟ )

جواب ئی ورکړ: ماته رسول الله (ص) ویلی دی چی چا ته ئی مه وایه ، حضرت ام سلیم ورته وویل: (زویکیه پام کوه چی هیڅکله چاته ونه وائی) ، (حضرت انس (رض) هغه راز په ټول عمر کښی افشاء نکړ) .

څومره چی حضرت انس (رض) درسول الله (ص) په خدمت اونوکری کښی مخلص ؤ، هغومره درسول الله (ص) هم له هغه سره مینه وه حضرت انس (رض) ته به ئی، زویکیه یا انیس ناری وهلی اوتل به ئی دهغه پرسر باندی دمینی لاس راښکوده اودهغه روزنی ته ئی خاصه پاملرنه وه، په ترمذی شریف کښی له حضرت انس نه روایت دی چی یوځل رسول الله (ص) راته وفرمایل: (ای زما وړوکیه زویکیه! ډیر کوشش کوه ترڅو چی دی وس وی چی خپله شپه او ورځ داسی تیره کړی چی دچا په نسبت دی په زړه کښی تاو تریخوالی نه وی دا زما سنت دی، دچا چی زما له سنت سره مینه وی، د هغه له ما سره مینه ده او دچا چی له ما سره مینه وی، هغه به له ماسره په جنت کښی یو ځای وی.

پیغمبر (ص) به کله نا کله له حضرت انس ﷺ سره دخوش طبعئ خبری کولی، یوځل ئی حضرت انس (رض) ته وفرمایل: (یا ذا الاذنین) یعنی ای ددوه غوږونو خاونده! یوځل پیغمبر (ص) دحضرت ام سلیم (رض) کورته تشریف

یوور، هغې پیشنهاد وکړ: (یا رسول الله! زما زویکی انس ته دعا وکړه (رسول الله (ص) اوږده دعاورته وکړه اوپه پای کښې وفرمایل: (اللهم اکثر ماله وولده وادخله الجنة) ، (ای خدایه: دده مال او اولاد زیات کړه اوجنت ته ئې داخل کړه). دهمدې دعا برکت ؤ چې حضرت انس تر ټولو انصارو زیات شتمن ؤ او دومره اولادونه ئې لرل چې دوفات په وخت کښې دهغه دزامنو، لوڼو او لمسیانو شمیر له سلوتنو څخه زیات ؤ دحق او باطل دلومړنې معرکې یعنې دبدر دغزا په وخت کښې دحضرت انس (رض) عمر ددولس کلونو ؤ اوپیغمبر (ص) په جنګ کښې دشریکیدو لپاره دپنځلس کلنې عمر شرط کړی ؤ ددې شرط دنشتوالی سره سره بیا هم حضرت انس (رض) دغزا په میدان کښې موجود اودخپل بادار په خدمت کښې مصروف ؤ دأحدپه غزا کښې هم حضرت انس ؓ ته دپیغمبر (ص) ملګرتیا په نصیب وه اګر که دعمر هغه معیار ته نه ؤ رسیدلی چې رسول الله (ص) په جنګ کښې دګډون کولو لپاره شرط کړی ؤ. حضرت انس (رض) داحزاب په غزا کښې، په بیعت رضوان، په غزوة خیبر، په عمرة القضاء، دمکې دفتح په سفر کښې، دحنین، طائف او تبوك په جنګونو اودحجة الوداع په سفر کښې له سرور کائنات (ص) ملګری ؤ.

په یوولسم هجری کال چې کله سرور عالم (ص) له دې فانی دنیا نه سفر وکړ، پر حضرت انس (رض) باندې غرونه غرونه غمونه راغلل په ترمذی شریف کښې له حضرت انس (رض) نه روایت دی وائي :

په کومه ورځ چې رسول الله (ﷺ) مدینې ته داخل شو نو ټوله مدینه ځلیدله اوپه کومه ورځ چې وفات شو نوټوله مدینه توره تالاره وه، موږ لادهغه دمزار له دوړو څخه لاسونه نه ؤ څنډلی چې دخپلو زړونو په کیفیت کښې مو تغییر ومونده.

له رحلت نه وروسته چې کله ابوبکر صدیق (رض) دمسلمانانو خلیفه وټاکل شو، حضرت انس (رض) په پوره اخلاص له هغه سره بیعت وکړ، او ابو بکر صدیق (رض) دعمر فاروق (رض) په مشوره، دزیات اهلیت اوکفایت لرلو لامله حضرت انس (رض) دبحرین والی وټاکه. دعمر فاروق (رض) په دور کښې

حضرت انس (رض) په زيات شمير اسلامی جهادونو کښی شريك ؤ نه يوازی دجهاد دميدان يوغښتلی سپاهی ؤ بلکی دعلم او فضيلت داسمان يو ځليدونکی ستوری هم ؤ، دحديثو دروايت په اعتبار سره دصحابه ؤ په لومړی صف کښی ځای لری اوله هغه څخه (۱۲۸۶) حديثونه روايت شويدی. درسول الله (ص) دخادم حضرت انس (رض) عمر په جهاد، دقرآن، سنت اوفقهی دعلومو په تدريس اوزهد اوتقوی کښی تير شو، په پای کښی په (۹۳) هجری کښی د (۱۰۳) کالو په عمر پداسی حال کښی لدی بی وفا دنيا نه رخصت شو چی په هغه وخت کښی له ابو الطفيل نه پرته دځمکی پرمخ بل صحابی ژوندی نه ؤ، قطن بن مدرك کلابی (رح) دهغه دجنازی لمونځ ادا کړ او بصری ته نږدی په طف نومی ځای کښی دهدايت داسمان پرډغه ځلانده ستوری باندی خاوری واړول شوی. (رضی الله عنه)

## حضرت ابن ام مکتوم رضي الله عنه

درسول اکرم (ص) خواږه ملګری که څه هم ټول هغه لوړ شخصيتونه دی چی دهغوی تګ لاره دقيامت تر ورځی پوری دامت مسلمه دلاری مشال او دژوند په کړليچونو کښی دسمی لاری خواته دهدايت منبع ده خوپه دوی کښی ځينی هستئ داسی شته چی دهغوی دمقام او مرتبی په عظمت اولوړتيا باندی قرآن کريم صراحت کړيدی او هرکله چی يو مسلمان دالله جل جلاله دپاك کلام تلاوت کوی دهغوی قدر اومنزلت ئی سترګوته نيغ دريږی لکه چی په سورة (عبس وتولّی) کښی ديو مونسی او معذور صحابی دمعنوی قوت او دالله جل جلاله په وړاندی دهغه دلوړتيا اوعظمت يادونه شويده او په تنبيهی الفاظو کښی دهغه خواته دسرور کائنات (ص) پاملرنه اوتوجه وراړول شويده. دحق دشمعی دغه پتنګ جليل القدر صحابی حضرت عبدالله بن ام مکتوم (رض) ؤ چی دبينائی له نعمت څخه محروم او دبعثت په لومړنيو دريو کلونو کښی په اسلام مشرف شوی ؤ اودحقپالونکوپه هغه سپيڅلی ډله کښی شامل ؤ چی دسابقون الاولون لقب ورکړل شويدی.

دده دپلار نوم قيس بن زائده او دمورنوم يی ؤ عاتکه بنت عبدالله چی په

تاریخ کښې په أُمِّ مَکْتُوْم سره مشهوره ده. ابن أُمِّ مَکْتُوْم دحضرت خدیجة الکبرى (رضی الله عنها) سکنی دماما زوی ؤ او پداسی حال کښې چی دسر سترګی ئی ړندی وی خو دزړه په سترګو ئی دحق او هدایت لاره له اکثره سترګه ورو ښه لیدله اودخپلی باطنی بینائی له امله دالله تعالى په وړاندی محبوب اوګران ؤ. یوه ورځ دحق لټولو اوداسلام زده کولو لپاره په ډیره مینه دهادی برحق سرور عالم (ص) مجلس ته په منډه منډه ورغی، داهغه مرحله وه چی لا پیغمبر (ص) ته دځرګند تبلیغ امر نه ؤ شوی او دحق اوباطل تر مینځ طوفانی کشمکش نه ؤ شروع شوی.

دقریشو لویانو به درسول اکرم (ص) خبری اوریدلی او غوږ به ئی ورته نیوی، پدی ورځ په نبوی مجلس کښې داسلام بانفوذه دښمنان لکه عتبه، شیبه، ابو جهل، أمیه بن خلف اوابی بن خلف غوندی خلګ ناست ؤ، پیغمبر (ص) ډیره هڅه کوله چی که دغسی با نفوذه خلګ دکفر اوګمراهی له ترږمیو نه راووزی او داسلام په دایره کښې داخل شی، نو دهغوی په اسلام راوړلو سره به اسلامی تحریك قوت ومومی په همدی وخت کښې عبد الله بن ام مکتوم (رض) په مجلس کښې مداخله وکړه عرض ئی وکړ: (ارشدنی یا رسول الله) یعنی ای دالله رسوله! ماته سمه لاره وښیه دا مداخله درسول الله (ص) خوښه نشوه، دهغه پوښتنی ته ئی څه اعتناء ونکړه په وچولی مبارك کښې ئی خط ولویده اومخ ئی ترینه واړوه، پدی منظور چی دقریشو سردارانو ته خپل دعوت پوره وړاندی کړی اوابن ام مکتوم (رض) چی دحضرت ام المؤمنین خدیجة الکبرى (رضی الله عنها) دماما زوی ؤ په کور کښې ئی هم له رسول الله (ص) څخه خپلی پوښتنی کولی شوی.

مګر الله تعالى خپل حبیب داسلامی دعوت اوتحریك په مزاج باندی پوه کړ او په تنبیهی الفاظو کښې ئی ورته وفرمایل:

﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١﴾ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ ﴿٤﴾ أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ﴿٥﴾ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ

يَسۡعَىٰ ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخۡشَىٰ ﴿٩﴾ فَأَنتَ عَنۡهُ تَلَهَّىٰ ﴿١٠﴾ كَلَّآ إِنَّهَا تَذۡكِرَةٞ ﴿١١﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾

ترجمه: تريو وچولی سو اومخ يی واړوه پدی خبره چی هغه ړوند ورته راغی، ته څه پوهيږی کيدای شی چی هغه سم شی يا نصحيت ته ځير شی او نصيحت کول هغه ته ګټه ورسوی ؟ چاچی بی پروائی وکړه تا دهغه لوری ته پاملرنه وکړه پداسی حال کښی چی که هغه سم نشی پرتا ئی څه ضمانت دی ؟ او څوك چی پخپله تاته په منډه راغی اوهغه ويريده، تا له هغه نه مخ واړوه، هيڅکله داسی نده، داخو نصيحت دی، دچاچی خوښه وی ودی منی.

معنا داچی دحق مينان که ډير کمزوری، بيوسی اوبی چاره خلګ وی هم الله تعالی ته له هغو بانفوذه او بارسوخه خلګو نه ډير محبوب اوګران دی چی هغوی اسلامی دعوت ته څه اعتنا نکوی اوقيمتی شی ورته نه ښکاری دادحق ديو داعی مسئوليت اوذمه واری نده چی هرو مرو به قوی خلګ دځان ملګری کوی بلکی ديو داعی مسئوليت دا دی چی خلګو ته دحق په لوری دعوت ورکړی که دچا خوښه شی وبه ئی منی اوکه ئی ونه منی دهغه معامله له خدای سره ده. دحق دعوت ډير لوړ اوقيمتی شی دی، دا دعوت چاته محتاج ندی بلکی انسانان ورته محتاج دی.

جبرائيل عليه السلام چی کله دسورهٔ عبس دغه مبارك ايتونه محبوب رب العالمين ﷺ ته لوستل. دهغه پريشانی اوانديښنه شيبه په شيبه زياتيدله خوکله چی د (کلا انها تذکرة) مبارك ايت ته ورسيده نو رسول کريم (ص) وپوهيدی چی داپه حقيقت کښی ددعوت په هکله درس اوپوهنه ده.

وروسته سمدلاسه دابن ام مکتوم (رض) کورته ورغی هغه ئی مجلس ته راؤست، خپل مبارك څادرئی ورته وغوړاوه اوهغه ئی په ډير درناوی اواحترام سره ورباندی کښينوه. دسوره عبس له نازليدو نه وروسته پيغمبر (ص) ، پاکو بيبيانو، اوټولو صحابه ؤ دحضرت ابن ام مکتوم (رض) ډير زيات احترام کاؤ په مستدرك حاکم کښی له ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه (رضی الله عنها) څخه روايت رانقل شويدی چی ابن ام مکتوم (رض) به چی هرکله نبوی حرم ته

ورتلی نوهغی (رض) به ورته شات په مخ کښی ایښودل. حافظ ابن عبد البر لیکلی دی چی ابن ام مکتوم (رض) به چی هرکله په نبوی مجلس کښی حاضریدی نو رحمة للعلمین (ﷺ) به ویل: هغه ځوك دی په خیر راشی چی دهغه په باره کښی داسمانونو اوځمکی مالك زه تنبیه کړی یم بیابه ئی ورڅخه پوښتنه کوله، ووایه که څه حاجت لری ؟ درسول الله (ص) لخوا چی کله صحابه ؤ ته اجازه وشوه چی مدینی ته هجرت وکړی نو حضرت ابن ام مکتوم (رض) هم مدینی ته هجرت وکړ اوسره لدی چی معذور اونابینا ؤ دهجرت او پردیسئ ټول مشکلات ئی په ډیر اخلاص سره وزغمل.

ابن ام مکتوم رضي الله عنه دقرآن کریم حافظ ؤ خلګوته به ئی دقرآن تعلیم کاؤ، نه یوازی په نبوی مسجد کښی مؤذن ؤ بلکی کله ناکله به ئی دامامت وظیفه هم سرته رسوله. په هغه وختونو کښی چی پیغمبر (ص) له مدینی څخه دباندی وتلی دی دیارلس ځله ئی ابن ام مکتوم خپل قائم مقام او دلمانځه امام ټاکلی دی. حضرت ابن ام مکتوم (رض) به نبوی مسجدته دپنځه وخته لمانځه لپاره حاضریده که څه هم چی دلاری په کنډو کپرو کښی به ئی تیندکونه خوړل اوپه تکلیفیده به. سره لدی چی هغه معذور ؤ او دا ایت دهم ده په باب نازل شوی ؤ چی: (لا یستوی القاعدون من المؤمنین غیر اولی الضرر والمجاهدون فی سبیل الله باموالهم وانفسهم).

ترجمه: یعنی کوم مؤ منان چی بی له عذره په کورونو کښی ناست دی په مرتبه کښی له هغو مؤمنانو سره برابر ندی چی دالله جل جلاله په لار کښی په سر او مال سره جهاد کوی مګر ددی عفوی او استثناء سره سره ابن ام مکتوم (رض) به کله ناکله په ړندو سترګو دجنګ په میدان کښی دمجاهدینو په صف کښی ولاړ ؤ اودجهاد بیرغ به ئی په لاس کښی نیولی ؤ. دنبی کریم (ص) له رحلت نه وروسته هم صحابه کرامو رضي الله عنهم دحضرت ابن ام مکتوم (رض) ډیر زیات احترام ساته اوپه تیره بیا عمر فاروق (رض) دخپل خلافت په دور کښی دهغه لپاره کافی معاش ټاکلی ؤ اویو خدمتګارئی ورته مقررکړی ؤ چی له کوره ترجوماته به ئی بیوی اوراوستی به ئی کله چی عمر فاروق (رض) حضرت سعد بن ابی

وقاص (رض) دعراق فتح کولو لپاره ولیږه نوابن ام مکتوم (رض) سره لدی چی معذور ؤ په اسلامی لښکر کښی شامل شو، همدارنګه دعلامه ابن حجر دوینا له مخی حضرت عبدالله بن ام مکتوم (رض) دقادسیه په جګړه کښی برخوال ؤ. دجنګ زغره ئی اغوستی وه، بیرغ ئی په لاس کښی نیولی او دمجاهدینو دصفونو په مینځ کښی ولاړ ؤ خو دجنګ دګرمیدو په وخت کښی چی کله دصفونو ترتیب پخپل حال پاتی نشو نو په همدی وخت کښی ابن ام مکتوم (رض) دشهادت جام نوش کړ او پخپل خواږه محبوب (ص) پسی داخرت په سفر روان شو. (رضی الله عنه)

## حضرت ابو لبابه انصاری (رضي الله عنه)

حضرت ابو لبابه رفاعه بن عبد المنذر دمدینی دانصارو داوس قبیلی دعمرو بن عوف له کورنۍ څخه اودقباء له اوسیدونکو څخه ؤ له هجرت نه مخکښی په اسلام مشرف شوی اوله هغو کسانو څخه ؤ چی دعقبی په ناؤ کښی یی دسرور کائنات (ص) په لاس دسرښندنی بیعت کړی ؤ یعنی په هغی سپیڅلی ډله کښی شامل ؤ چی دجمهور علماؤ په نزد دهغوی درجه دبدر له صحابه ؤ څخه هم لوړه ده. له هجرت نه وروسته چی کله فخر الرسل (ص) قباء ته تشریف راؤړی نوحضرت ابولبابه (رض) دنورو هرکلی کوونکو غوندی په ډیره توده ولوله دهغه استقبال وکړ اوبیایی پداسی اخلاص سره ددواړو جهانو دسردار خدمت کاؤ چی دفرشتو وربانډی رخه (غبطه \ قصد) راتله. ابن هشام داهم لیکلی دی چی کومو صحابه ؤ کرامو رضي الله عنهم چی له نبوی هجرت نه مخکښی هجرت کړی اوقباء ته رسیدلی وو حضرت ابولبابه دیوشمیر لومړنیو مهاجرینو میلمه پال ؤ او درینښتینو انصارو درجه اوسعادت ورپه برخه ؤ.

دهجرت په دوهم کال درمضان په میاشت کښی چی کله دبدر دغزا په وخت کښی دزرکسیز مجهز لښکر مقابلی ته دری سوه دیارلس تنه مؤمنان روان شول له دوی سره صرف شپیته اوښان اودوه اسونه وو اوله مدینی نه تر بدرپوری اتیا میله لاره یی پداسی شان ووهله چی پر یو یو اوښ باندی دری دری تنه غازیان په نوبت سره سپریدل. دیوه اوښ په سپرلی کښی دری کسان

شريك وو: سروركائنات (ص) فاتح خيبر علی مرتضیٰ (رض) اوحضرت ابولبابه (رضی الله عنه) دنوبت له مخی چی كله ابولبابه پراوښ سپور شو نورسول الله (ص) اوحضرت علی (رضی الله عنه) ورسره پياده روان وو ابولبابه عرض وكړ:

يارسول الله! مور اوپلار می درنه ځار شه، ته پر اوښ سپور شه، زه به پياده درسره ځم، رسول اكرم (ص) وفرمايل: (نه! داوښ دسپرلی نوبت ستادی، ته په تگ كښی له مانه زيات تكړه نه يی او بله داچی زه هم غواړم چی دخدای په لاره كښی دپياده تگ ثواب وگټم).

په همدی سفر كښی چی كله روما نومی ځای ته ورسيدل نورسول اكرم (ص) حضر ت ابولبابه (رض) ته امر وكړ چی ځه بيرته مدينی ته ولاړ شه اوهلته زما دنائب په صفت وظيفه ترسره كوه، ابولبابه (رض) دخپل پيشوا امر ومانه اوسرور كائنات (ص) هغه دبدر په مجاهدينو كښی وشميره او دنورو غازيانو په اندازه يی دغنيمت له مالونو څخه برخه وركړه حضرت ابولبابه ته يوازی دبدر دغزا په دوران كښی نه بلكی دعلامه ابن سعد (رح) دوينا له مخی دبنی قينقاع اوسويق په غزاگانو كښی هم په مدينة كښی دفخرالرسل (ص) دنيابت، سعادت ورپه برخه وو.

ابولبابه رفاعه بن عبد المنذر انصاری (رض) دبدرله غزانه وروسته په اُحد، احزاب خيبر اونورو غزاگانو كښی له خپل پيشوا (ص) سره ملگری ؤ او په هره غزا كښی يی په ډيره ولوله برخه اخيستی ده.

په پنځم هجری كال كښی داحزاب په غزا پسی يو وخت دبنی قريظه په غزا كښی داسی يوه پيښه مينځ ته راغله چی په تاريخ كښی دحضرت ابو لبابه (رض) دبی ساری شهرت باعث وگرځيدله چی دهغی لنډيز دا دی:

دمدينی يهودی قبيلی بنو قريظه په ظاهره له مسلمانانو سره دننگی تعهد كړی ؤ خو دپردی ترشا داسلام اومسلمانانو پرضد وه دهجرت په پنځم كال كښی چه كله دكافرانو مختلفو ډلو ددولس زره كسيز مجهز لښكر په برابرولو پرمسلمانانو ناځاپی حمله راوړه اوداسلام مركز مدينه منوره يی محاصره كړه، داډيره نازكه مرحله وه او دتعهد پر اساس پر بنو قريظه ؤ باندی لازمه وه چی

لومړی خوبی دمسلمانانو ملاتړ کړی وای اوکنه نولړ ترلړه بیطرفه پاتی شوی وای خوهغوی دایو کارهم ونکړ بلکی له کافرانو سره په سازش کولو یی دښار دامنیت په مختل کولو لاس پوری کړچی ددی خطرناك عمل نه په خبریدو سره رسول الله (ص) حضرت سعد بن معاذ (رض) اوحضرت سعد بن عباده (رض) له خپل دغه پیغام سره ورولیږل چی پدی نازکه مرحله کښی نه ښائی خپل تعهد مات کړی. مګر بنوقریظه په جواب کښی وویل: موږ نه محمد (ص) پیژنو اونه زموږ او دهغه ترمینځ کوم تعهد اوپیمان شته.

ددی ځواب په اوریدو سره رسول اکرم (ص) چوپ شو خو دکفارو دلښکر له تیښتی نه وروسته یی دبنو قریظه کلاګانی محاصره کړی چی له پنځه ویشتو ورځو محاصری نه وروسته هغوی دمقاومت همت له لاسه ورکړ او پیشنهاد یی وکړ چی دخبرو اترو لپاره دی حضرت ابو لبابه چی دهغه قبیله ددوی له زړو حلیفانو څخه وه ورولیږل شی، رسول اکرم (ص) دبنو قریظه غوښتنه ومنله اوحضرت ابولبابه یهودو ته مشوره ورکړه چی وسله کښیږدی خو ددی خبری ترڅنګ یی پخپل لاس سره دخپلی مری خوا ته اشاره وکړه، معنایی داوه چی تاسی به دخپلی غداری اوخیانت له کبله وژل کیږی. ددی اشاری کولو سره سم یی په زړه کښی را وګرځیدله چی ما خو دمسلمانانو یو حربی راز افشا کړی، که یهودیان دمرګ دخطر لیدلو لامله په کوم خطرناك اقدام لاس پوری کړی اومسلمانانو ته څه زیان ورسوی ددی مسئولیت به زما پرغاړه وی ددی احساس له امله ولړزیده ځان یی دخدای اورسول سره دخیانت مرتکب وګاڼه، (انا لله وانا الیه راجعون) یی وویل او له سترګو نه یی دومره اوښکی وبهیدلی چی ږیره یی لمده شوه، له ډیره خجالت نه له پیغمبر (ص) سره مخامخ نشو، نبوی مسجد ته ولاړی اوهلته یی خپل ځان په نبوی ستنی پوری، په ځنځیر باندی کلك وتاړه، شپه ورځ یی الله تعالی ته زاری کولی چی: خدایه! زما قصور معاف کړه.

خوراك څښاك یی پریښود، یوازی دلمانځه اوانسانی ضرورت لپاره به یی خان خوشی کاؤ او بیا به یی خپلی لور ته ویل چی ما وتړه، کله کله به یی

لور یوه یوه دانه خرماپه خوله کښی ورکوله چی دهغه قوت لا یموت شی، دبنو قریظه یهودو خپله سزا ومیندله، نارینه یی ووژل شول ښځی اوماشومان یی اسیران ونیول شول، خوحضرت ابولبابه لاهم هغسی تړلی ؤ پیغمبر (ص) هم دهغه دخوشی کولو موضوع خدای ته وسپارله اوویی فرمایل: (که په لومړی وخت کښی ابولبابه ماته راغلی وای، مابه ورته دالله نه مغفرت غوښتی ؤ خو اوس چی څه وشول هغه شویدی) حضرت ابو لبابه ډیری ورځی په همدی تکلیف کښی تیری کړی، له ډیری ژړا نه یی دسترګو بینائی کمزوری شوه او بدن یی هم دومره ضعیف شوی ؤ چی بی هوښه پرځمکه راولویده. همدا هغه وخت ؤ چی دغفور رحیم خدای درحمت سمندر څپانده شو اوپر پیغمبر (ص) باندی دسهار له ختلو نه مخکښی دسورهٔ انفال دا ایتونه نازل شول:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٧﴾
وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴿٢٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ
وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ ﴾

ترجمه: ای مؤمنانو! له الله اورسول سره خیانت مکوی اوپخپلو امانتونو کښی هم خیانت مکوئ پداسی حال کښی چی پوهیږی. پدی پوه شئ چی ستاسی مالونه اوستاسی اولادونه دازمیښت وسایل دی اوله الله سره لوی اجر دی، ای مؤمنانو! که تاسی له خدایه وویریږی نوالله به تاسی ته دتمیز قدرت درکړی اوستاسی بدی به درڅخه ایسته کړی اوستاسی قصور به دروبښی الله دلوی فضل خاوند دی).

پیغمبر (ص) چی پدی وخت کښی دحضرت ام سلمه (رض) په حجره کښی ؤ په موسکا شونډو یی وفرمایل: (دابو لبابه توبه قبوله شوه) ام سلمه (رض) عرض وکړ: مور اوپلار می درنه ځار شه، که اجازه وی چی زه ابولبابه ته زیری ورکړم؟ ویی فرمایل: (اجازه ده) بیا هغی (رضی الله عنها) له خپلی حجری نه

چی مسجد ته نژدی وه، غږ وکړ: (ابولبابه مبارك شه، ستا توبه قبوله شوه) دا اوازه ډیره ژر په ښار کښی خپره شوه او خلګ ډلی ډلی راتلل حضرت ابو لبابه ته یی مبارکی ورکوله، خلګو چی وغوښتل ابولبابه له ستنی څخه خلاص کړی نوهغه وویل: (ترڅو چی رسول الله (ص) ماګناه ګار خلاص نکړی زه به هم دلته تړلی یم) رسول الله (ص) چی دسهار دلمانځه لپاره راغی هغه یی پخپل مبارك لاس سره پرانستی.

اوس هم په نبوی مسجد کښی یوه ستن دابو لبابه په ستنی مشهوره ده. حضرت ابولبابه (رض) چی عذر یی دالله به دربار کښی قبول شو او دمغفرت زیری ورکړل شو سربیره پدی چی یو سرښندونکی مجاهد ؤ درسول (ص) په مجلس کښی دهمیشه کښینستلو لامله دعلم خزانی هم ورپه برخه شوی وی چی عبدالله بن عمر (رض) غوندی جلیل القدر صحابی اوسعد بن مسیب (رح) عبدالرحمن بن یزید (رح) ابوبکر بن عمرو بن حزم (رح) سالم بن عبد الله (رح) اونافع مولی ابن عمر (رح) غوندی دتابعینو لویان دهغه شاګردان وو. (رضی الله عنه)

## حضرت اسعد بن زراره (رضي الله عنه)

حضرت اسعد بن زراره دمدینی دانصارو دخزرج دمشهوری قبیلی دبنو نجارله کورنی څخه ؤ اودهغو کسانو په لومړی صف کښی یی ځای درلود چی هغوی دعقبه په ناؤ کښی دسرور کائنات (ص) په لاس دسرښندنی بیعت وکړ اوهغه ته یی دعوت ورکړ چی دمکی له ظالمانو څخه هجرت وکړی اومدینی منوری ته ولاړ شی.

الله تعالی حضرت اسعدبن زراره ته صحالح فطرت ورکړی ؤچی دجاهلیت په زمانه کښی هم له شرك او بت پرستی څخه متنفر اودتوحید منونکی ؤ. کله به یی چی دیثرب له یهودی عالمانو څخه داخر الزمان پیغمبر دبعثت خبره اوریدله نوپه زړه کښی به یی داهیله څپانده کیدله چی کاشکی ماته هم ددغه پیغمبر (ص) دلیدلو سعادت راپه برخه شی دهغه داسپیڅلی هیله پداسی شان ترسره شوه چی دبعثت په (۱۱) کال دحج په موسم کښی په منی کښی دعربوله

ګوټ ګوټ نه دراغليو قبيلو خلګو خيمي درولی وی، رسول اکرم (ص) له خپل عادت سره سم پدی خيمو کښی ګرځيده اوخلګوته يی دحق بلنه وړاندی کوله. پدی لړ کښی چی کله دجمره عقبه څنګ ته ورغی ويی ليدل چی په يوه خيمه کښی شپږ کسان چی له دری سوه ميله ليری فاصلی يثرب نه راغلی ناست دی او پخپلو کښی په خبرو اترو بوخت دی.

رسول الله (ص) پر هغوی سلام واچوه اوويی فرمايل: (تاسی به زما خبری ته غوږ کښيږدی؟)

هغوی عرض وکړ: ولی نه، ووايه څه ويل چی غواړی، پيغمبر (ص) په ډيره خوږه لهجه دالله ﷻ دجلالت اوعظمت پيغام ورته واوروه، دتوحيد بلنه يی ورکړه او ويی فرمايل: (زه دالله وحده لاشريك له رسول يم اوپدی مامور شوی يم چی دخدای بندګانو ته سمه لاره وښيم) دغو شپږو کسانو چی نومونه يی وو: اسعد بن زراره، عقبه بن عامر، عوف بن حارث بن عفرا، رافع بن مالك، قطبه بن عامر اوجابر بن عبدالله، درسول کريم عليه افضل التحية والتسليم ويناپه ډيره مينه اوپوره غور سره واوريدله اوبيايی عرض وکړ: (الله تعالی چی په تا باندی کوم کلام نازل کړيدی دهغه څه برخه موږ ته واوروه؟)

پيغمبر (ص) دسورة ابراهيم په لوستلو شروع وکړه، دځو ايتونو په لوستلو سره دقرآن مجيد فصاحت اوبلاغت دهغوی پرزړونو باندی ژوره اغيزه وکړه، يو بل ته يی سره وکتل او ويی ويل:

(قسم په خدای چی داهماغه پيغمبر دی چی زموږ دسيمی يهوديان يی تل يادونه کوی، راځئ چی موږ په ده باندی په ايمان راوړلو کښی له يهودو نه مخکښی شو).

ټولو عرض وکړ: ای محمده موږ دزړه له کومی ستا دعوت منو اوشاهدی وايو چی الله ﷻ يودی اوته دهغه رينښتونی رسول يی پدی شپږو کسانوکښی حضرت اسعد بن زراره لومړی مؤمن ؤ چی وړاندی شو اوعرض يی وکړ: (يا رسول الله! ماته دی مبارك لاس راکړه چی زه درسره داسلام بيعت وکړم بيا ورپسی دهغه نور پنځه ملګری وړاندی شول او دسرور کائنات (ص) په لاس

يی بيعت وکړ اوپه اسلام مشرف شول. حضرت اسعد بن زراره اودهغه پنځه مؤمن ملگری چی کله مدينی ته ستانه شول هلته يی پخپلو قبيلو کښی دحق تبليغ شروع کړ چی دهغوی ددعوت په برکت ځينی نيك فطرته خلگ په اسلام مشرف شول. په راتلونکی کال يعنی دبعثت په (۱۲) کال کښی دمدينی دولس تنه مسلمانان دحج په موسم کښی مکی ته ولاړل، لس ۱۰ دخزرج اودوه داوس قبيلی څخه وو چی په خزرجيانو کښی يوتن حضرت سعد بن زراره (رض) هم ؤ، رسول الله (ص) چی دهغوی له راتگ نه خبرشو دشپی يی منی ته تشريف يوؤړ او دعقبه په ناؤ کښی يی له هغو سره ليدنه کتنه وشوه، ټولو ته دپيغمبر (ص) دبيعت کولو سعادت په نصيب شو او ددی خبرو ژبنه يی وکړه ، چی:

۱- موږ به شرك نه کوو.

۲- غلا به نه کوو.

۳- دبيحيايی دچارو به نه مرتکب کيږو.

۴- خپلی لونی به نه وژنو.

۵- په چا پوری به تور تهمت نه وايو.

۶- درسول الله (ص) له امرنه به سر نه غړوو، په هرحال کښی به يی امر منو که دسختی حالت وی اوکه داسانی.

۷- په هرحال کښی به حق وايو اودحق په لاره کښی به دهيچا له محاکمی څخه نه ويريږو. له بيعت کولونه وروسته پيغمبر (ص) هغوی ته وفرمايل: که تاسی خپله ژبنه پوره کړه نوتاسی به دجنت مستحق ياست اوکه ژبنه موماته کړه نوبيا دالله تعالی خوښه ده چی بخښنه درته کوی اوکه په عذابوی مو. دغه بيعت ته په تاريخ کښی بيعت عقبه اولی وايی دعلامه طبری اوابن هشام دوينا له مخی دغوبيعت کوونکو صحابه ؤ درخصتيدوپه وخت کښی له رسول الله (ص) څخه غوښتنه وکړه چی دقرآن دتعليم لپاره هغوی ته يومعلم ورکړی. رسول الله (ص) دهغوی پيشنهاد منظورکړ اوددی سترخدمت لپاره يی حضرت مصعب بن عمير (رض) ورسره مدينی ته وليږه او دټولو سيرت ليکونکو دمتفقه روايت له مخی دقرآن معلم حضرت مصعب (رض) په مدينه کښی

دحضرت اسعد بن زراره (رض) میلمه ؤ او دهم هغه کوریی دتعلیم اوهدایت او دتبلیغ اودعوت مرکز وګرځوه ګواکی دمدینی پرتیارو کوټو باندی به دهدایت پلوشی دهمغه له کورڅخه خوریدلی اودا سعادت هم الله تعالی هغه ته په برخه ورکړی ؤ په ډیره لږ موده کښی دمدینی په زیات شمیر کورونو کښی داسلام دلمر وړانګی خپری شوی او داوس اوخزرج دمشهورو قبیلو په کورنیو کښی داسی کور پاتی نشو چی لږ ترلږه یو تن یی په اسلام نه وی مشرف سوی. خو له دی سره سره متاسفانه ددغو قبیلو سرداران تریو وخته له اسلامی دعوت سره نا اشنا پاتی وو چی له دی امله طبیعی خطره ده داسلامی دعوت دتعمیم په مخکښی څه خنډونه موجود وو مګر الله تعالی ددی خنډونو ایسته کولو لپاره هم لار هواره کړه. دحضرت مصعب ددعوت او دحضرت اسعد بن زراره دحمایت په برکت دمدینی لوی سرداران لکه حضرت اسیدبن حضیر اوحضرت سعد بن معاذ په اسلام مشرف شول اوبیا دهغوی په بلنه ډیر زیات خلګ دحق دشمعی پتنګان شول او دمدینی پرټوله فضابه دتکبیر دنعرو وړانګی پورته کیدلی. دنبوت په (۱۳) کال دمدینی دمسلمانانو پنځه اویا کسیز ټولګی چی (۷۳) نارینه اودوه بیبیانی وی دحج په موسم کښی مکی ته ولاړل پدی سفر کښی هم حضرت اسعد بن زراره موجود ؤ. داځل بیا رسول الله (ص) دعقبه په ناؤ کښی له خپلو عاشقانو سره پداسی حال کښی ولیدل چی عباس بن عبد المطلب هم ورسره ملګری ؤ. حضرت عباس پدی پوهیدلی ؤ چی دمدینی مسلمانان رسول الله (ص) ته دعوت ورکوی چی مدینی ته هجرت وکړی نویی وویل: (ای دیثرب خلګو! محمد (ص) په خپله کورنۍ کښی یومعزز اومحترم شخصیت دی، مشرکان دده سخت دښمنان دی خوبنو هاشم اوبنومطلب تل دده حمایت اوننګه کړیده اوآینده به یی هم کوی. اوس چی تاسی دعوت ورکوی چی یثرب ته ولاړ شی، ښه فکر وکړی دا ډیره لویه ذمه واری ده اوکه حمایت یی کولای شئ ښه ده اوکنه نوپخپل حال یی پریږدی) دمدینی دمؤمنانو له جملی ته حضرت براء بن معرور (رض) پاڅیده ویی ویل: (عباسه! موږ ستاخبره واوریدله، ته هم واوره اوپه یاد ولره چی موږ بی غیرته خلګ نه یو موږ دتورو

ترسیوری لاندی رالوی شوی یو) ددی بیعت په وخت کښې چی په تاریخ کښې ورته بیعت عقبه ثانیه وائی حضرت اسعد بن زراره (رض) بیا ټرټولو دمخه پاځیدی، درسول الله (ص) لاس یی ونیوه اوخپلو ملګروته یی وویل: (واوری دیثرب خلګو! موږ پدی سفرکښې دخپلو اوښانو توری ددی عقیدی لپاره اوبه کړیدی چی دادالله ﷻ رسول دی، له ځانه سره دده بیول په حقیقت کښې دټولو عربو ددښمنی په محاذکښې دریدل دی، کیدای شی دده دحمایت په لاره کښې ستاسی مشران ووژل اوستاسو بدنونه ددښمنانو په تورو سره ټوټی ټوټی شی، که ددی ټولو سختیو زغملوته چمتو یاست نودی درسره بوځئ الله ﷻ به اجر درکړی او که دویری اوخطر احساس کوی نوپخپل حال یی پریږدی اومعذرت وغواړئ. ټولو وویل: (موږ ددی هرڅه سره سره په خدای قسم دی چی بیعت کوو اوبیابه هیڅکله خپل بیعت مات نکړو) په لیلة العقبه کښې دولس تنه نمایندګان وټاکل شول چی په هغو کښې په خپله حضرت اسعد بن زراره هم ؤ، یوازی نماینده نه بلکی پیغمبر (ص) حضرت اسعدبن زراره (رض) دنمایندګانو درئیس په صفت هم وټاکه. له نبوی هجرت نه وروسته حضرت اسعد بن زراره به هر وخت دسرور کائنات (ص) په خدمت کښې حاضر ؤ اوله نبوی شمعی څخه به دپتنګ په څېر تاویده خوله هغه سره دعمر مهلت ډیره یاری ونکړه او دهجرت دلومړی کال دشوال په میاشت کښې وفات شو اوپخپله رسول الله (ص ) دهغه دجنازی لمونځ ادا کړ.

حضرت اسعد بن زراره (رض) که څه هم داسلام دمدنی دور په لومړیو وختونو کښې له فانی دنیانه سترګی پټی کړی خو دبعثت له (۱۱) کال نه دهجرت ترلومړی کال پوری چی هغه درسول الله (ص) په حمایت اونصرت او داسلام په خپرولو کښې کوم خدمتونه وکړل هغه به ترقیامته پوری داسلامی تحریك دبچیانو دلاری مثال وی. (رضی الله عنه)

## حضرت ابو سلمه عبد الله مخزومی رضي الله عنه

حضرت ابو سلمه عبد الله بن عبد الاسد دقریشو بنو مخزوم قبیلی ته منسوب اودرسول اکرم (ص) له نژدی خپلوانو څخه ؤ دهغه مور بره بنت عبد

المطلب دسرور کائنات (ص) ترور (عمه) وه او دبخاری اومسلم دوینا له مخی حضرت ابوسلمه درسول الله (ص) رضاعی وروړهم ؤ یعنی حضرت رسول اکرم (ص) حضرت ابو سلمه او حضرت حمزه دریو واړو ته حضرت ثویبه شیدی ورکړی وی.

حضرت ابو سلمه (رض) مخزومی اودهغه میرمن ام سلمه (رضی الله عنها) هند بنت ابی امیه په هغه وخت کښې دحق دعوت ته لبیك وویل چی لا رسول اکرم (ص) دحضرت ارقم بن ابی الارقم په کور کښې دیره نه ونیولی یعنی دبعثت په لومړیو دریو کلونو کښې چی دمؤمنانو شمیر دګوتو دشمیر په اندازه ؤ او داسلام نوم په خوله اخیستل دمرګ او ژوبلې اوسختو مصیبتونو داور بټۍ ته وردانګل ؤ دمکی عامو خلګو په ظاهری لحاظ په عیش اونوش اومزو اوچړچو کښې شپې تیرولی او دهوا اوهوس په څپو کښې غرق وه مګر مؤمنان یعنی دخدای ﷻ هغه بندګان چی دژوند او مرګ په اصلی فلسفه پوهیدلی وو، دکائناتو له رمزونو سره اشنا شوی وو او په هغی بلنی پسی روان شوی وو چی په ریښتینی توګه دفلاح اوسعادت لاره ده هغوی له درندو کړاوونو سره لاس په ګریوان وو حضرت ابو سلمه (رض) له همدی ډلی څخه ؤ اودبعثت ترپنځم کال بوری یی دمشرکانو وحشیانه ظلمونه په سړه سینه وزغمل هیڅ یومصیبت هم دهغه په محکمه او راسخه عقیده کښې څه سستی رانه وستلی شوه ځکه چی هغه پدی پوهیده چی دا الهی سنت دی چی دکامیابی او سعادت لاره دخدای درضا او جنت لاره دسختیو په مینځ کښې تیره شویده او ددوزخ لاره دخوندونو او عیاشیو په مینځ کښې.

کله چی پنځه کاله پرله پسی دحق دشمعی پتنګان دنور او رڼا ددښمنانو دلاسه دظلم په ژرنده ویلیدل! اوسړه ځمکه ورباندی هروخت سره وه نوسرور کائنات (ص) اجازه وکړه چی حبشی ته هجرت وکړی هغی ځمکی ته چی دهغی واکمن نجاشی یو خواخوږی انسان ؤ او دپردیسو مظلومانو حمایت او ملاتړ یی کاؤ دمهاجرینو لومړنی ډله پنځه لس کسان وو یوولس نارینه اوڅلور ښځی چی په هغو کښې ابوسلمه (رض) اومیرمن یې دواړه شامل وو له هجرت نه

دری میاشتی وروسته دهغوی غوږ ته اوازه ورسیدله چی مشرکانو ایمان راوړیدی یا داچی درسول اکرم (ص) سره یی صلح کړیده او مؤمنان نه ځوروی نو ددی خبر په اوریدلو مکی ته راستانه شول خو کله یی چی ولیدل چی دمشرکانو وحشت دپخوانه لازیات شوی دی نومجبورشول چی دعربو دتعامل سره سم هریو په مکه کښی دخپلو خپلوانو ننګه اوحمایت تر لاسه کړی.

ابن هشام لیکلی دی چی حضرت ابو سلمه (رض) دخپل ماما ابو طالب په کور کښی پناه واخیستله.

دبنو مخزوم قبیلی خلګو ابوطالب ته ګواښ وکړ چی یوخو تا له پخوانه خپل وراره محمد (ص) په خوا پوری نیولی دی او ملاتړ یی کوی اوبل دی اوس زموږ دقبیلی سړی ابو سلمه ته پخپل کور کښی پناه ورکړه موږ دانشو منلی ابوطالب جواب ورکړ: محمد رسول الله (ص) زما وراره او ابو سلمه می خوریی دی ځکه داحق لرم چی خپل وراره ته پناه ورکړم داحق هم لرم چی خپل خوریی ته پناه ورکړم.

له دی پیښی نه وروسته دحق دښمنانو چی دحق دپلویانو دصبر او استقامت په لیدلو یی دتوحید دانقلاب ویره اوخطر په زړه کښی ورځ په ورځ زیاتیده پر مسلمانانو یی دخپلو ظلمونو لړۍ لا زیاته کړه چی په نتیجه کښی رسول الله (ص) یوځل بیا هدایت وکړ چی حبشی ته هجرت وکړی اوداځل (۸۳) نارینه ؤ اوشلو ښځو هجرت وکړ چی دمهاجرینو پدی قافله کښی هم حضرت ابوسلمه (رض) اودهغه میرمن ام سلمه شامل وو اودبعثت تر دولسم کال پوری په حبشه کښی پاتی شول له نبوی هجرت نه دمخه یی مکی ته تشریف راوړ خو کله یی چی ولیدل چی داسلام اومسلمانانو په مقابل کی دخدای ددښمنانو غوسی اودښمنی له پخوانه زیات تاؤجن دی نو دنبوت په (۱۲) کال یی مدینی ته دهجرت اراده وکړه.

پدی وخت کښی دهغه ټوله شتمنی یو اوښ ؤ خپله میرمن ام سلمه (رضی الله عنها) اوخپل زوی سلمه یی پراوښ سپاره کړل او پخپله پیاده ورسره روان شو. دحضرت ام سلمه (رضی الله عنها) قبیله بنو معیره چی خبر شول نو راغلل

اوښ يې محاصره کړ اوابوسلمه (رض) ته يې وويل: ته کولای شی چی ولاړشی خوزموږ خورلڼه درسره نه پريږدو هغوی ام سلمه (رضی الله عنها) له اوښ نه کوزه کړه اوله ځانه سره يې بوتله اودابوسلمه (رض) دقبيلی خلګ راغلل سلمه يې له خپلی مور نه جداکړ اوهغوی ته يې وويل: تاسی چی خپله لور زموږ له تربور نه بيله کړه موږ خپل هلك نه پريږدو چی له تاسی سره ولاړ شی.

علامه بلاذری (رح) ليکلی دی چی پدی کشمکش کښی دحضرت سلمه دلاس هډوکی مات شو چی بيا دمرګ تروختِه پوری سم جوړ نشو. ښځه په يوه اوزوی په بله خوا ولاړ خوددی دردوونکی منظر ليدلوسره ابوسلمه (رض) پر خپل زړه دصبر غټه تيږه کيښودله اويوازی دمدينی په لور روان شو له حق سره دمينی په خاطر دری کسيزه کورنی دری ټوټی شوه ام سلمه (رضی الله عنها) دبنو مغيره په قبيله کښی سلمه دبنو مخزوم دبنو عبد الاسد په کورنی کښی اوابو سلمه (رض) په مدينه منوره کښی درې واړو يوله بل نه دجدائی غمونه ګالل.

حضرت ام سلمه (رضی الله عنها) يوکال مسلسل هرسهار به له کوره راوتله ټوله ورځ به پرابطح نومی غونډۍ باندی ناسته وه ژړا اوزاری به يې کوله. يوه ورځ دبنو مغيره يوزړه سواندی سړی دهغی داحالت وليده زړه يې وردريده دخپلی قبيلی افراد يې راټول کړل او هغوی ته يې وويل:

دا ښځه زموږ خپله وينه ده موږ به ترڅو پوری دا له خپل ميړه او زوی نه جدا ساتو ای بنومغيره داظلم دی اوزموږ قبيله دخپل شرافت اوشجاعت لامله ظلم نه خوښوی. دهغه دوينا په اوريدو سره دخلګو په زړه کښی رقت پيدا شو حضرت ام سلمه (رضی الله عنها) ته يې وويل کولای شی چی ولاړه شی مدينی ته اوله خپل ميړه سره يوځای ژوند وکړی بنو عبد الاسد چی خبر شول هغوی هم سلمه خپلی مورته وسپاره حضرت ام سلمه (رضی الله عنها) خپل زوی په غيږ کښی واخيست پر اوښ سپره شوه اودمدينی لاره يې په مخ کښی ونيوله دمکی وادی ته نژدی په تنعيم نومی ځای کښی دبنو عبدالدار قبيلی يوشريف انسان عثمان بن طلحه چی له حديبيې نه وروسته په اسلام مشرف شو په مخه

ورغى پوښتنه يې وكړه: اى دابن اميه لورى! چيرته ځې؟

جواب يې وركړ: مدينې ته. پوښتنه يې وكړه: څوك درسره دى؟

جواب يې وركړ: الله اوبل زما دا ماشوم زوى، عثمان بن طلحه ته غيرت ودريده دهغى داوښ مهار يې ونيوى او ورسره روان شو كله به چې شپه راتله نو اوښ به يې په يوى ونى پورى تاړه پخپله به هم ليرى په يوه گوښه كښې ويده كيده او چې سهاربه شو بيابه يې اوښ راوسته ام سلمه (رضى الله عنها) او سلمه (رض الله عنه) به پراوښ سپاره شول هغه به پياده ورسره روان وو څو چې دمدينې قباء نومى ځاى ته ورسيدل هلته چې حضرت ابوسلمه (رض) ديره ؤ. حضرت ابوسلمه (رض) دخپلې ميرمنى اوماشوم زوى په ليدلو له حده زيات خوشاله شو او دالله تعالى شكر يې ادا كړ. عثمان بن طلحه بيرته دمكې خواته روان شو.

حضرت ام سلمه (رضى الله عنها) به تل داخاطره يادوله ويل به يې: (داسلام په خاطر دابو سلمه له كورنۍ نه زيات به پرچا باندې غمونه نه وى راغلى اوله عثمان بن طلحه نه زيات شريف اوخوا خوږى انسان مې بل نه دى ليدلى) حضرت ابو سلمه (رض) اودهغه ميرمن ام سلمه (رضى الله عنها) درى ځلى هجرت كړيدى دوه ځله حبشې ته اويو ځل مدينى منورى ته گواكى دژوند يوه برخه يې دخداى درضا لپاره په پرديسى اومحروميت كښې تيره كړه. كله چې رسول اكرم (ص) مدينى ته هجرت وكړ نو دمواخات دعقد په لړ كښې يې دحضرت ابوسلمه (رض) ورورولى دمشهور انصارى صحابى حضرت ابوخيثمه (رض) سره برقراره كړه اودهغه داستوگنې لپاره يوه ټوټه ځمكه وركړه چې هغه په كښې مينه ودانه كړه اوپه كښې ميشت شو.

حضرت ابوسلمه (رض) نه يوازى داسلام دروښانه لمر راختو له لومړيو وختونو راهيسې ددعوت ددور بې شميره ستونزى وزغملى بلكې دجهاد دگرم سنگر يواتل سپاهى هم ؤ دهجرت ددويم كال درمضان په مياشت كښې چې كله دبدر تاريخى غزا مينځ ته راغله اوپه هغى كښې درى سوه ديارلس تش لاسو مؤمنانو دكافرانو دزركسيز مجهَّز لښكر دمقابلې لپاره دقربانى او

سربندنی په توده ولوله ومیدان ته ودانګل پدې وخت کښی حضرت ابوسلمه (رض) ددغی مشهوری معرکی یو سر ښندونکی برخوال او داسلامی لښکر یو نامتو عسکرؤ. یو کال وروسته بیا دهجرت په دریم کال دأحد تاریخی غزا مینځ ته راغله حضرت ابوسلمه (رض) په دی غزا کښی هم دسرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ دجګړی په دوران کښی دابو اسامه جشمی په نوم یو مشرك په کمین کښی ناست اوپرهغه باندی یی دیو زهرجن غشی وار وکړ چی دهغه متې سخت زخمی شو. له یوی میاشتی علاج نه وروسته په ښکاره روغ شو خو د هغه غشی زهرو ورو ورو دهغه په بدن کښی کار کاؤ ترڅو چی څه موده وروسته ډیر سخت ناروغ شو رسول اکرم (ص) دهغه پوښتنی ته ورغی کورته چی داخل شو حضرت ابوسلمه (رض) په ځیرځیر سره دهغه مبارك مخ ته وکتل اوبیله دی چی خبری ورسره وکړی روح یی والوته پداسی شان چی تابه ویل درسول الله (ص) راتګ ته دهغه روح ایسار ؤ سرور کائنات (ص) دهغه دجسد ترڅنګ ودریده او دعایی وکړه (الهی! دده قبر پراخ او روښانه کړه اوله نورنه یی مالا مال کړه. خپل دغه بنده ته مغفرت وکړه اودسمی لاری دموندونکو په ډله کښی لوړه درجه ورکړه).

په مسند احمد بن حنبل کښی پخپله دام سلمه (رضی الله عنها) دارروایت راغلی دی چی: یوه ورځ ابوسلمه (رض) درسول الله (ص) له مجلس نه ډیر خوشاله راغی راته ویی ویل: نن درسول الله (ص) وینا ډیر خوشاله کړم. هغه وفرمایل: (یومسلمان چی دغم په وخت کښی دادعا وکړی چی خدایه! پدی مصیبت کښی راسره مرسته وکړه او ښه نعم البدل راکړه نو خدای تعالی یی دعا قبلوی) کله چی ابوسلمه (رض) وفات شو زه ډیره غمجنه شوم اوهمدا دعا می وکړه خوپه عین وخت کښی می فکر وکړ چی له ابوسلمه (رض) نه به ښه نعم البدل څوك وی؟

کله چی زما عادت تیر شو او پخپله رسول الله (ص) راته دنکاح پیغام ولیږه نوراته ثابته سوه چی الله تعالی ماته له ابوسلمه (رض) ښه نعم البدل راپه برخه کړ. (رضی الله عنه)

## حضرت ابو العاص بن ر بیع رضي الله عنه

حضرت ابو العاص بن ربیع چی اصلی نوم یی لقیط ؤ دقریشو دبنو عبد شمس له کورنۍ څخه اودهغه دنسب لړۍ په څلورم پلار عبد مناف کښی دسرور کائنات (ص) دنسب سره یوځای کیږی او دهغه په یووالی سر بیره یی له رسول الله (ص) سره دوینی پیوند هم درلود پدی معنی چی درسول الله (ص) له دریو زومانو څخه یو تن ؤ چی دوه نور حضرت عثمان ذو النورین (رض) او حضرت علی (رضی الله عنه) وو. دسرور کائنات (ص) مشره لور حضرت زینب (رضی الله عنها) دحضرت ابو العاص په نکاح کښی حضرت رقیه اوام کلثوم (رضی الله عنها) یوه په بلی پسی دحضرت عثمان بن عفان په نکاح کښی او جنتی بی بی حضرت فاطمة الزهراء (رضی الله عنها) دحضرت علی بن ابوطالب (رض) په نکاح کښی وی.

له یوی خوا دا اوله بلی خوا دحضرت ابو العاص مور هاله بنت خویله دام المؤمنین حضرت خدیجة الکبری (رضی الله عنها) سکنۍ خور وه چی دصحابیت سعادت ورپه برخه ؤ اوله حضرت خدیجة الکبری (رضی الله عنها) نه وروسته تریو وخته ژوندۍ وه اودسرور عالم (ص) په وړاندی یی خاص مقام اومنزلت درلوده لکه چی حافظ ابن عبد البر (رح) په الاستیعاب کښی لیکلی دی چی یو ځل له مکی مکرمی نه مدینی منوری ته درسول الله (ص) دلیدنی لپاره ورغله درسول الله (ص) کورته چی ورسیدله دکورپه دروازه کښی یی دداخلیدو داجازی غوښتلو لپاره غږ وکړ، له دی کبله چی دهغی اواز دحضرت خدیجة الکبری ( رضی الله عنها) له اواز سره پوره شباهت درلود نوپیغمبر (ص) ته ام المؤمنین خدیجة الکبری (رضی الله عنها) چی دامهات المؤمنین په لړ کښی لومړنۍ بی بی لومړنۍ مسلمانه اودمحمدی دعوت په ترخو سختو پړاوونو کښی دپیغمبر (ص) خواخوږی اوملګری وه وریاده شوه اوام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه (رضی الله عنها) ته یی وفرمایل: دابه دخدیجی خور هاله وی، هغه چی کورته ننوتله نوسرور کائنات (ص) دهغی ډیر زیات احترام او درناوی وکړ.

دابن اثیر اوحافظ ابن حجر عسقلانی دوینا له مخی حضرت ابو العاص له خلګوسره په برخورد کښی دډیر ښه سلوك خاوند اوپه چارو کښی ډیر زیات امانتدارؤ اوسربیره په امانتداری ډیر زړه ور اوتوریالی هم ؤ چی عربو به هغه ته (دحجاز زمری) ویل له بعثت نه مخکښی دحضرت خدیجی (رضی الله عنها) په پیشنهاد رسول الله (ص) خپله مشره لور حضرت زینب (رضی الله عنها) هغه ته په نکاح کړه. کله چی رسول کریم صلوات الله علیه وسلامه دحق دعوت پیل کړ دخپلی مور حضرت خدیجه الکبری (رضی الله عنها) په تعقیب حضرت زینب (رضی الله عنها) هم په اسلام مشرفه شوه خو له بده مرغه ابو العاص فردی اوقومی مصالحو ته په ایمان باندی تر جیح ورکړه اودخپل پلرنی مذهب په حال کښی ایسار پاتی شو او دپخوا په شان ئی ژوند ژواك ته ادامه ورکړه. ابوالعاص که دمؤمنانو په ډله کښی ونه دریده خو دهغو کسانوپه صف کښی هم ولاړنه ؤ چی هغوی خپل ټول طاقت درسول الله (ص) اودهغه دمؤمنو ملګرو دځورولو په لاره کښی په کار اچولی ؤ بلکی په سختو حالاتو کښی به یی دسرور عالم (ص) اومسلمانانو سره خوا خوږی کوله لکه چی په شعب ابی طالب کښی دپیغمبر (ص) اوبنو هاشم دمحاصری په دوران کښی یی څو ځله خوراکی مواد دمشرکانو دخنډ کیدو سره سره هلته ورسول چی رسول الله (ص) دهغه دهمکاری اوخوا خوږی دستاینی په باب وفرمایل: (ابو العاص زموږ دزوموالی حق ادا کړ).

له نبوی هجرت نه ورو سته دبدر په معرکه کښی ابو العاص نه غوښتل چی درسول الله (ص) اومسلمانانو پرضد جګړی ته ولاړ شی خو مشرکانو دبی زړه توب دپیغور په ورکولو سره هغه دیته اړویست چی زړه نازړه داسلام ددښمنانو په صف کښی ودریږی کله چی مشرکانو دجنګ په میدان کښی ماتی وخوړله اویا تنه یی ووژل شول اواویا تنه نور یی دمسلمانانو په لاس اسیران ونیول شول نوابو العاص هم دیو انصاری صحابی حضرت عبدالله بن جبیر (رض) په لاس بندی ونیول شو او وروسته بیا دغه بندیان دفدیی په ورکولو سره خوشی کړای شول چی پدی کښی حضرت زینب (رضی الله عنها)

هم دابو العاص دخوشی کولو لپاره دیمن دعقیقو هغه غاړګۍ دفدیی په ډول ولیږله چې حضرت ام المؤمنین خدیجة الکبری (رضی الله عنها) هغې ته دتحفی په ډول سره ورکړې وه رسول الله (ص) ته ددی غاړګۍ په لیدلو سره حضرت خدیجة الکبیری (رضی الله عنها) وریاده شوه اوله مبارکو سترګو یی اوښکی توی شوی، صحابه ؤ کرامو رضی الله عنهم ته یی وفرمایل:

(که مناسبه ګڼی نودغه غاړګۍ بیرته زینب ته ولیږی ځکه چې دا دهغې دمور دلاس نښه ده دابو العاص فدیه داده چې مکی ته ولاړشی اوزینب مدینی ته راولیږی. صحابه ؤ رضی الله عنهم ددی پیشنهاد په وړاندی دمننی سرونه کښته کړل اوابو العاص هم داشرط قبول کړ. له خوشی کیدونه وروسته مکی ته ولاړ اوله وعدی سره سم یی حضرت زینب (رضی الله عنها) دخپل کشر ورور کنانه بن ربیع په ملګرتیا دمدینی منوری خواته رخصت کړه دقریشو مشرکان چې له واقعی نه خبر شول هغوی یی تعقیب کړل اوپه (ذی طوی) نومی ځای کښی یی لاندی کړل، یومشرك هبار بن اسود دنیزې په ګوزار سره حضرت زینب (رضی الله عنها) له اوښ نه را وغورځوله هغه حامله وه اوپه دی ګوزار سره دومره صدمه ورته ورسیدله چې حمل یی سا قط شو.

کنانه دبې رحمو مشرکانو مقابله وکړه او حضرت زینب (رضی الله عنها) ته یی نجات ورکړ، تربطنِ یاجج نومی ځای پوری یی ورسره ملګرتیا وکړه او له هغه ځایه وړاندی درسول الله (ص) محبوب حضرت زید بن حارثه (رض) له حضرت زینب (رضی الله عنها) سره ملګری شو اوهغه یی مدینی منوری ته ورسوله. په شپږم کال ابو العاص بن ربیع له یو تجارتی کاروان سره شام ته روان ؤ چې په عیص نومی ځای کښی دمجاهدینو یوټولۍ پرکاروان باندی حمله وکړه اودهغوی ټول مالونه یی ونیول اومدینی ته یی یووړل. ابوالعاص هم مدینی ته ورغی اوهلته یی له حضرت زینب (رضی الله عنها) څخه پناه وغوښتله اوهغی هم له دی کبله پناه ورکړه چې په ټول ژوند کښی یی له هغې سره ښه سلوك کړی ؤ او بیایی رسول الله (ص) ته پیشنهاد وکړ چې دهغه مالونه دی بیرته ورکړل شی.

سرور کائنات (ص) دهغی پیشنهاد صحابه ؤ ته وړاندی کړو صحابه ؤ کرامو ﷺ چی دژوند یوازنۍ هیله یی دخپل مولی محمد مصطفی (ص) خوښی حاصلول ؤ دابو العاص ټول مالونه بیرته ورکړل او هغه مکی ته ولاړ. ددی کار ښه نتیجه دا راووتله چی ابوالعاص داوم ۷ هجری کال دمحرم په میاشت کښی مدینی ته راغی او درسول الله (ص) په مبارك لاس یی دایمان او سربښندی بیعت وکړ.

رسول الله (ص) دابو العاص له ایمان راوړلو نه وروسته دهغه (رض) او حضرت زینب (رضی الله عنها) ترمینځ دنکاح عقد بیا له سره تجدید کړ، له حضرت زینب (رضی الله عنها) سره دژوند مهلت ډیره یاری ونکړه اوپه اتم هجری کال کښی له دی فانی دنیا نه داخرت په سفر روانه شوه. ابو العاص (رض) دهغی په جدائی باندی له حده زیات خپه شو اودهغی دوفادارۍ حق یی داسی ادا کړ چی بله نکاح یی ونکړه.

دزینب (رضی الله عنها) څخه دابو العاص دوه اولادونه شوی وو، یوزوی علی (رض) اویوه لور امامه (رضی الله عنها) چی پر رسول الله (ص) باندی له حده زیات ګران وو دمکی دفتحی په وخت کښی رسول الله (ص) علی بن ابو العاص (رض) له ځانه سره پراوښ باندی سپور کړی ؤ چی پدی وخت کښی دهغه عمر دپنځلسو کلونو په خوا اوشا کښی ؤ.

له حضرت امامه بنت ابو العاص سره هم درسول الله (ص) ډیره زیاته مینه وه یوځل چی دحبشی باچا نجاشی یوه ګوتمۍ دسوغات په توګه رسول الله (ص) ته رالیږلی وه نو رسول الله (ص) وفرمایل: (زه به دا ګوتمۍ هغه چاته ورکوم چی تر ټولو زیاته راباندی ګرانه ده).

داوریدونکو ګومان ؤ چی دابه حضرت عائشه (رضی الله عنها) ته ورکوی په داسی حال کښی چی درسول الله (ص) مطلب له مشرانو څخه نه بلکی له کشرانو څخه ؤ بیاوروسته یی حضرت امامه (رض) راوغوښتله اوهغه یی ورپه ګوته کړه.

دحضرت رسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته داسلام دلومړی خلیفه

حضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دور کښې دارتداد خطرناکه فتنه را مینځ ته شوه چې دمرتدانو اومسلمانانو ترمینځ دجګړې په لړ کښې ترټولو ستره او سخته جګړه دمسیلمة الکذاب دځلوېښت زره کسیز مجهَّز لښکر پر ضد دیمامې جګړه وه حضرت سیدنا ابو العاص بن ربیع (رض) پدې جګړه کښې برخوال ؤ او دخدای ﷻ ددښمنانو پرضد ترهغه پورې په پوره میړانه وجنګیده ترڅو چې یې دشهادت جام نوش کړ. (رضی الله عنه)

## حضرت ابو سفیان مغیره بن حارث ﷺ

حضرت مغیره بن حارث بن عبد المطلب چې په کنیت نوم ابوسفیان سره مشهور ؤ درسول الله (ص) سکنئ دتره زوی ؤ اودا هغه ابو سفیان نه ؤ چې بنو امیه قبیلې ته منسوب اوپه څلورم پلاریعنې عبدمناف کښې دهغه دنسب لړۍ له رسول الله (ص) سره یو ځای کیدله. ابو سفیان مغیره بن حارث پرنسبې خپلولۍ سربیره درسول الله (ص) رضاعی ورور هم ؤ یعنې ده هم دحضرت حلیمه سعدیه شیدې رودلې وې، له ماشوم متوب نه دبعثت تروخته درسول الله (ص) ډیرخوږ اوصمیمې ملګرې اودوست ؤ خوهې افسوس !!! کمه ملګرتیا چې ډیره ګټوره وه دهغې له سعادت څخه پوره شل کاله محروم اوبې برخې پاتې شو. دمحمدی بعثت نه وروسته چې دانسانانو داقبال دازمیښت مرحله وه ابو سفیان بن حارث ددې پرځای چې دتوحید دعوت ته لبیك ووائې دهدایت اونجات لاره په مخ کښې ونیسې او دخپلولې اوځلوېښت کلنې ملګرتیا دحقوقو په رعایت سره له بل هرچانه مخکښې دحق له کاروان سره روان شې برعکس دحق ددښمنانو په کتار کښې ودریده، نه یوازې په لاس سره یې رسول الله (ص) او دهغه صدیقو او سرښندونکو ملګروته له هیڅ ډول اذیت رسولونه ډډه ونکړه بلکې په ژبه سره یې هم چې دشعر او شاعرې غټ استاد یې درلوده داسلام دپیغمبر اومسلمانانو بدګویې کوله. له نبوی هجرت نه وروسته چې پیغمبر ته داسلامې دعوت دخپرولو په خاطر دخدای ددین ددښمنانو پرضد دجهاد پیل کولو امر وشو ابو سفیان بن حارث پدې وخت کښې هم دشیطان دلښکرو مټ اوباز وؤ او لا هماغسې دشرك او ضلالت په

ګړنګونو کښې يې تيندکونه خوړل او داسلام دحقانيت دڅرګندو شواهدو او نښانو ليدلو سره سره پخپل باطل دريځ باندې کلك ولاړ اوله حق دين څخه يې په زړه کښې کرکه پرته وه.

دحق اوباطل په لومړنۍ ستره معرکه يعنې دبدر په جګړه کښې چې دلوی خدای په خاصه مرسته او نصرت دمشرکانو زرکسيز مجهَّز لښکر ددرې سوه اوديارلس تنو مؤمنانوپه مقابل کښې ماتې وخوړله ابوسفيان بن حارث دباطل پوځ يوسپاهی ؤ ابولهب بن عبد المطلب پدې جګړه کښې برخه نه وه اخيستی او سترګې په لاره ؤ چې که څوك راشي چې دجګړې دنتائجو په باب ورڅخه پوښتنه وکړي چې دلومړي ځل لپاره يې پرخپل وراره ابو سفيان بن حارث باندې سترګې ولګيدې اوډغ يې وکړ: وراره دلته راشه اوراته ووايه چې په بدر کښې څه پيښ شول؟

ابو سفيان بن حارث جواب ورکړ: قسم په خدای چې موږ له داسې خلګو سره مخامخ شوو چې زموږ اورميږونه يې رامات کړل ځينې يې راڅخه ووژل او ځينې نوريې بنديان ونيول. اوقسم په خدای دی چې زموږ په مقابل کښې داسې کسان جنګيدل چې سپين مخونه يې وو او دهغوی دسپرلۍ اسونو دځمکې او اسمان په مينځ کښې ټوپونه وهل نه له هيڅ شی سره مشابه کيدای شول او نه يې څه شی مخې ته دريدای شو.

. له دې خبرونه دابو سفيان بن حارث بن مطلب داؤ چې درسول الله (ص) اومؤمنانو دملاتړ لپاره له اسمانه پرښتې راکوزې شوی وی خوددی ټولو مشاهداتو سره سره بياهم دهغه داقبال ستوری دضلالت په تورو وريځو کښې پټ ؤ او دحق پرخلاف دريځ باندې ټينګ ولاړ ؤ.

مغيره بن حارث ؤ او دا بدمرغی، ترڅو چې دهجرت په اتم کال خبر ورته ورسيده چې حضرت سرور کائنات (ص) له لوی لښکرسره راروان دی اوغواړی مکه فتحه کړي. ددی خبرپه اوريدلو سره له حده زيات وارخطا شو اوخپلې ښځې غزنه بنت قيس ته يې وويل: اوس په قريشو کښې داطاقت نشته چې ددی لښکر مقابله وکړي ما ډير کلونه له محمد (ص) او مسلمانانو سره سخته

دښمنی کړیده که دهغو لاس ته ورشم ژوندی به می پری نږدی ښه داده چی ټوله کورنۍ لدی ځایه وتښتو مخزنه بنت قیس چی دنیك فطرت اوپوهی خاونده وه ورته وویل: ته وینی چی عرب اوعجم ډلی ډلی دمحمد رسول الله (ص) تربیرغ لاندی دریږی خو افسوس چی ته اوس هم ددښمنی په محاذ کښی ولاړ یی تاته مناسبه داوه چی له نورونه مخکښی دی دمحمد (ص) ملګرتیا غوره کړی وای.

ددی جواب په اوریدوسره دهغه دزړه په دنیا کښی انقلاب راغی دتیښتی پرځای یی دیته ترجیح ورکړه چی دکفر له تیارونه دایمان رڼا ته پناه یوسی سپرلۍ یی تیاره کړه خپل زوی جعفر یی له ځانه سره واخیست او دمدینی لاره یی په مخ کښی ونیوله چی تصادفا په ابواء نومی ځای کښی له اسلامی لښکر سره مخامخ شو. دخپلی ماضی په نظر کښی نیولو سره دویری په څپو کښی غرق شو چی که ناڅاپه دکوم مسلمان لاس ته ورشی نو مخکښی له دی چی له رسول الله (ص) سره مخامخ شی وبه وژل شی له اوښ نه کوزشو پرمخ یی نقاب واچوه یومیل فاصله یی پیاده ووهله او درسول (ص) حضورته ورغی له مخ نه یی چی نقاب لیری کړ او درسول الله (ص) نظر ورباندی ولګیده هغه ورڅخه خپل مخ واړاوه بیایی مخی ته ودریده رسول الله (ص) بیا ورڅخه مخ واړوه چی په پای کښی مغیره او دهغه زوی جعفر دواړو په لوړ ږغ وویل: (نشهد ان لا اله الا الله ونشهد ان محمدا رسول الله) او په ژړ غونی لهجه یی وویل ما وبخښه یارسول الله! سره له دی چی ابوسفیان پوره شل کاله داسلام په دښمنی کښی تیر کړی وه خو درسول الله (ص) دمهربانی اورحمت سمندر څپانده شو او ورته یی وویل (لا تشریب یا ابا سفیان) ملامتی درباندی نشته ای ابو سفیانه. بیا وروسته یی حضرت علی (کرم الله وجهه) ته وسپاره چی په مسنونه ډول اودس درباندی وکړی اوبیرته یی راولی دطهارت نه وروسته چی کله درسول الله (ص) حضور ته راوستل شو نوپیغمبر (ص) حضرت علی (کرم الله وجهه) ته وفرمایل: اعلان وکړه چی رسول الله (ص) له ابوسفیان نه راضی شو ای خلګو تاسی هم ورڅخه راضی شی.

ﷲ ! ﷲ ! دحضرت مغیره بن حارث لپاره په ژوند کښی داڅومره دخوښی شیبی وی چی رسول الله (ص) ورته خپله رضا اعلان کړه او دایمان په قبلیدو سره یی تیر ګناهونه وبخښل شول او دپاکانو په صف کښی یی ځای ونیوه.

هغه له خپل خدای (ج) سره تعهد وکړچی آینده به دالله (ج) اودهغه درسول داطاعت اوداسلام دسرلوړی په لارکښی داسی قربانی ورکوی چی تیرګناهونه وربانډی تلافی کړی دمکی له فتحی نه چی درمضان په میاشت کښی وه یوه میاشت وروسته دحنین تاریخی غزا مینځ ته راغله په دی جګړه کښی مسلمانان دلوی ازمیښت سره مخامخ شول دښمنان ورته په کمین کښی ناست اوپه ناڅاپی ډول یی ډیره سخته حمله وربانډی وکړه. چی دمسلمانانو صفونه تیت پرك اوبی نظمه شول یوازی څو سرښندونکی مؤمنان وو چی درسول الله (ص) خوا وشاته په میړانه ولاړ وو او جنګیدل حضرت مغیره بن حارث پدی سختو شیبو کښی درسول الله (ص) دآس جلب په چپ لاس اوتوره په ښی لاس کښی نیولی وه او پر دښمنانو بی ګوزارونه کول. رسول الله (ص) پدی سختو شیبو کښی دازمزمه وکړه: (اِلَیَّ اَیُّهَا النَّاسُ! اَنَا النَّبِیُّ لاَ کَذِبْ ، اَنَا ابْنُ عَبْدُ الْمُطَّلَبْ)

ای خلګو زماخواته راشی زه پیغمبر یم پدی کښی دروغ نشته زه دعبدالمطلب زوی یم ددی غږ په اوریدو سره مؤمنان یوځل بیا دخپل سردار محمد مصطفی ﷺ خواوشاته راټول شول اوپه منظم ډول ددښمن پرضد وجنګیدل چی په پای کښی الهی نصرت ورپه برخه سو اودښمنان له ماتی سره مخامخ شول.

وروسته بیا رسول الله (ص) دابو سفیان بن حارث دمیړانی څخه دخوښی څرګندولو په باب وویل: (ابوسفیان زما وروردی) دوروری دخطاب په اوریدو سره ابوسفیان له ډیری خوښی نه بی اختیاره درسول الله (ص) مبارك قدمونه ښکل کړل اوهغه یی پخپلو اوښکو سره ووینځل. حضرت ابوسفیان بن حارث یوازی دجهاد دمیدان اتل سپاهی نه بلکی دزهد اوتقوی داسمان یو ځلانده ستوری هم ؤ په مسجد کښی شپه اوورځ په عبادت دریدل دهغه دژوند ستره مشغله وه. یوه ورځ چی رسول الله (ص) مسجد ته دداخلیدو په حال کښی ابو

سفیان ولیده نوام المؤمنین عایشی (رضی الله عنها) ته یی وویل:
عائشی! د اسړی پیژنی؟ هغی عرض وکړ: نه، یا رسول الله! ویی فرمایل: دازما دتره زوی ابو سفیان بن حارث دی، له ټولونه مخکښی مسجد ته راځی اوله ټولونه وروسته بیرته ځی درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته په ابو سفیان باندی ودانه دنیا ورانه شوه اوتل به یی داهیله کوله چی له دی فانیګۍ دنیانه سفر وکړی اوله رسول الله ( ص) سره یوځای شی چی لږ موده وررسته الله (ج) دهغه داهیله پوره کړه دیادولو وړخبره ده چی هغه له خپل مرګ نه دری ورځی مخکښی پخپله خپل ځان ته قبر وکینده، خلګو په تعجب سره پوښتنه وکړه: دا څه کوی؟ جواب یی ورکړ دازما استوګنځی دی. دځنکدن په وخت کښی دهغه خپلوانو ورته ژړل خوهغه په جواب کښی وویل: مه ژاړی له اسلام راوړلونه وروسته الله (ج) له هرډول خطا اوګناه څخه ساتلی یم دقبر له کیندلو نه دری ورځی وروسته وفات شو. عمر فاروق (رض) یی دجنازی لمونځ ادا کړ اوپه جنت البقیع کښی خاورو ته وسپارل شو. (رضی الله عنه)

## حضرت ابو سفیان بن حرب رضی الله عنه

حضرت ابوسفیان صخر بن حرب دقریشو دبانفوذه پلرګنۍ بنو امیه مشر ؤ، اوپه څلورم پښت عبدمناف بن قصی کښی دهغه دنسب لړۍ دسرور کائنات (ص) دنسب سره یوځای کیدله. داسلام دلمر دراختلوپه وخت کښی دابوسفیان عمر تقریبا دپنځوسو کلونو په خوا اوشا کښی ؤ په محمدی بعثت سره دحق اوباطل ترمینځ اوږده مبارزه پیل شوه دقریشو هغه مشران چی تر پرونه یی حضرت محمد مصطفی ﷺ ته دصادق اوامین لقبونه ورکول او دهغه ریښتینوالی او امانتداری یی دزړه له کومی منلی وه نن په خپل ټول طاقت سره دهغه ددښمنی په محاذ کښی ودریدل چی ابو سفیان صخر بن حرب هم ددغه ډلی یو فرد ؤ خو دهغه دښمنی دابو لهب، ابو جهل، عقبه بن ابی معیط، امیه بن خلف، نضربن حارث، ولیدبن مغیره، اسود بن عبد یغوث، او نورو اشرارو له دښمنۍ سره توپیر درلود. کوم ذلیل حرکتونه چی درسول اکرم (ص) په مقابل کښی له هغوی څخه صادریدل له ابوسفیان څخه نه صادریدل بلکی

په ابوسفیان کښې دمروت اومیړانی خویونه موجودوو. حافظ ابن حجر لیکلی دی چې: له بعثت نه وروسته چې کله مشرکانو پخپلو غیرِ انسانی اوذلیلو حرکتونو سره پیغمبر (ص) ځوروی نوهغه ﷺ به کله ناکله دهغوی له شر څخه دځان ژغورلو پخاطر دابو سفیان کورته ورتلی له دی امله چې ابو سفیان له یوی خوا دبنو امیه رئیس اوله بلی خواعسکری قائد ؤ نودمکی خلګو ورڅخه ویره کوله اودا جرئت یی نشو کولای چې دهغه کورته داخل شی اوپر محمد (ص) باندی لاس پورته کړی ابوسفیان او دهغه دکورنۍ غړو به درسول اکرم (ص) سره پدغسی حالاتو کښې ښه چلن کاؤ اودهغه حمایت به یی کاؤ. امام جلال الدین سیوطی دحضرت عبدالله بن عباس (رض) روایت رانقل کړېدی چې: (دبعثت په لومړیو وختونو کښې یو ورځ ابوجهل جنتی بی بی حضرت فاطمة (رضی الله عنها) په څپیړه ووهله هغه پدی زمانه کښې ماشومه وه، په ژړا ژړا خپل کورته ولاړه اوخپل مهربان پلار محمد مصطفی (ص) ته یی فریاد وکړ، رسول اکرم (ص) ورته وفرمایل: لوری ورشه ابوسفیان ته دابو جهل ددی ظلم حال بیان کړه. حضرت فاطمة (رضی الله عنها) چې کله ابوسفیان ته ورغله ابوسفیان هغه له لاسه ونیوله اوابو جهل ته ورغی حضرت فاطمی (رضی الله عنها) ته یی وویل: لوری دابوجهل پرمخ هم هغسی ګوزار وکړه لکه چې پرتا یی ګوزار کړیدی (که دی څه ووایی نوزه به یی جواب ورکړم) حضرت فاطمی (رضی الله عنها) له ابوجهل نه خپل انتقام واخیست اوبیرته خپل کورته ولاړه پیغمبر ﷺ ته ئی قصه وکړه هغه لاس په دعا شو او ویی ویل: (خدایه! دابو سفیان دانېه سلوك هیر مکړی سیرت پوهانو ډیری داسی پیښی په مستندو حوالو سره رانقل کړیدی چې له هغو څخه څرګندیږی چې ابو سفیان صخر بن حرب په زړه کښې دمحمد رسول الله (ص) په رېښتینولی باندی قائل ؤ خو قومی تعصب دهغه او داسلام ترمینځ پرده ګرځیدلی وه. په شپږم هجری کال کښې دحدیبیی له سولی نه وروسته رسول اکرم (ص) دګاونډیو هیوادونو دمشرانو په نوم ددعوت نامو لیږلو په لړ کښې دحضرت دحیة کلبی (رض) په لاس دروم قیصر هرقل ته چې پدی وخت کښې په بیت المقدس کښې ؤ یوه

دعوت نامه ولیږله دپیغام رسیدلو په وخت کښې ابو سفیان هم دیوی تجارتی قافلې سره هلته تللی ؤ اوپه غزه کښې استوګن ؤ هرقل ابوسفیان خپل حضور ته وغوښت اودپیغمبر (ص) په باب دهغوی تر مینځ دا پوښتنې اوجوابونه تبادله شول:

**هرقل**: داسړی چې دنبوت دعوه یې کړیده په نسب کښې څنګه دی؟

**ابو سفیان**: دډیر شریف او لوړ نسب خاوند دی.

**هرقل**: له دینه مخکښې هم چا دده په کورنۍ کښې دغسې دعوه کړیده؟

**ابو سفیان**: نه.

**هرقل**: کومو کسانو چې دده پیروی غوره کړیده هغوی بانفوذه خلګ دی او که کمزوری؟

**ابوسفیان**: زیاتره کمزوری اوبیوزلی خلګ دی.

**هرقل**: دهغه پیروان زیاتیږی اوکه کمیږی ؟

**ابو سفیان**: ورځ په ورځ زیاتیږی.

**هرقل**: ایا داسې پیښه شویده چې له ایمان راوړلو وروسته څوك بیرته ورڅخه اوښتی وی؟

**ابو سفیان**: نه

**هرقل**: له خپل تعهد او وعدې څخه یې کله مخالفت کړیدی؟

**ابو سفیان**: نه، خو اوس موږ ورسره یوه معاهده کړیده وبه ګورو چې څه کوی.

**هرقل**: ستاسې او دهغه ترمینځ کله جګړه پیښه شویده؟

**ابو سفیان**: هو.

**هرقل**: میدان چا ګټلی دی؟

**ابو سفیان**: کله موږ اوکله هغه.

**هرقل**: دهغه دعوت څه شی دی؟

**ابو سفیان**: وائی چې دیوه خدای بندګی وکړئ، دالله ﷻ سره په عبادت کښې څوك مه شریکوی دپلرونو او نیکونو مذهب پریږدئ، لمونځ ادا کوئ، ریشتیا وایاست، دپاك نبې لاره غوره کړئ، خیراتونه اوصدقات ورکوی اوله خپلوانو

سره ښه سلوك كوی.

**هرقل**: كه ستا جوابونه ريشتيا وی نوهغه ريښتونی پيغمبر دی، زه پدی پوهيدم چی يو پيغمبر به مبعوث كيږی خو پدی نه وم خبر چی هغه به په عربو كښی مبعوث شی، زه دهغه په ريښتنوالی باندی اعتراف كوم او يوه ورځ به داسی راشی چی هغه به زما ترپښو لاندی دغه خاوره هم ترخپلی ولكی لاندی راولی، كاشكی كيدای شوای چی ورغلی وای اودهغه قدمونه می ښكل كړی وای.

ابو سفيان چی دپاچا له درباره راووت خپلو ملګرو ته يی وويل دمحمد (ص) خبره اوس دی حدته ورسيدله چی رومی پاچاهان هم ورڅخه ويريږی، ابو سفيان سره له دی چی تردغه وخته پوری په اسلام نه ؤ مشرف شوی خودروم دپاچا هرقل دپوښتنو په جوابونو كښی يی په دروغو باندی ژبه ونه خوځوله اوداتول هغه اثار اونښانی وی چی ښودله يی چی يوه ورځ به ابوسفيان داسلام تر بيرغ لاندی ولاړ او دهغو مخلصو مؤمنانو په صف كښی به شامل وی چی الله (ج) له هغوی نه او هغوی له الله (ج) نه راضی شول.

پخپله ابوسفيان خودمكی دفتحی تروخته دايمان له سعادت نه محروم پاتی شو مګردهغه دكورنی غړی په اسلام مشرف شوی وو لكه چی دهغه دوې لونې حضرت رمله چی په أم حبيبه سره يی شهرت درلود اوحضرت رفاعه ، دبعثت له لومړيو وختونو څخه دحق له كاروان سره ملګری شوی وی چی حبشی ته له هجرت نه وروسته حضرت ام حبيبه (رضی الله عنها) په امهات المؤمنين كښی شامله شوه.

اوهمدارنګه دهغه له تربورانو څخه حضرت عثمان بن عفان، حضرت عمرو بن سعيد اوحضرت خالد بن سعيد په مؤمنانو كښی له سابقون الاولون څخه وو.

ابوسفيان داحد اوخندق په جګړو كښی دمسلمانانو پرضد په سختی سره وجنګيده اودهجرت تراتم كال پوری دضلالت په تيارو كښی لا لهانده ؤ مګر په پای كښی دمكی له فتحی نه يوه ورځ مخكښی دهغه داقبال ستوری

وځليده او دقدسيانو له لس زره كسيز لښكر سره يوځاى مكى معظمى ته پداسى ويارِ اواعزاز سره داخل شو چى رسول الله (ص) اعلان وكړ چى: څوك چى حرم ته داخل شى هغه په امن دى، څوك چى دابو سفيان كورته داخل شى هغه په امن دى او څوك چى دخپل كور دروازه وتړى هغه په امن دى.

دابو سفيان كور هغه كور ؤ چى يووخت به رسول الله (ص) هغه ته په داخليدو سره دمشركانو له شرڅخه په امن كيده ځكه خواوس هغه دنورو دامن ځاى وګرځول شو.

داسلام راوړلو په وخت كښى دابو سفيان عمر د (۷۰) كلونو په خوا اوشا كښى ؤ لومړنى غزا چى ابوسفيان پكښى برخه واخيستله دحنين غزاوه چى دمكى له فتحى نه يوه مياشت وروسته مينځ ته راغلى وه. پدى غزا كښى دابو سفيان (رض) په سترګه كښى ددښمن غشى ولګيده اودسترګى ګاټى يى دباندى راووت، پيغمبر (ص) ددغه حالت په ليدلو ورته وفرمايل:

(كه غواړى نوكيداى شى چى زه دعا وكړم او سترګه دى روغه شى خوكه پدى مصيبت صبر وكړى الله (ج) به ددى په بدل كښى جنت دركړى).

حضرت ابوسفيان (رض) ددى زيرى په اوريدو سره دخپلى سترګى ګاټى غوځ كړ، ايسته يى واچوه اوويى ويل: يارسول الله! مور او پلارمى درنه ځار شه، زه جنت غواړم) په حنين سربيره حضرت ابو سفيان ديرموك په جګړه كښى هم له خپلى ټولى كورنۍ سره ګډون وكړ اودهغه زوى حضرت يزيد بن ابو سفيان ددى جګړى قوماندان ؤ.

سيرت ليكونكى وايى چى دحضرت ابوسفيان بله سترګه په همدى جګړه كښى ددښمن په غشى ولګيدله او ووتله چى پدى توګه هغه خپلى دواړه سترګى دخداى په لاره كښى قربانى كړى.

له هغه وروسته پاتى عمر په كور كښى ناست او دخداى ﷻ په عبادت مصروف ؤ چى په پاى كښى دحضرت عثمان (رض) دخلافت په دور كښى په (۳۳) هجرى كښى دتقربيا (۹۷) كلونو په عمرپه مدينه منوره كښى وفات اوپه جنت البقيع كښى خاوروته وسپارل شو. (رضى الله عنه)

## حضرت بلال حبشي رضي الله عنه

دابوبکر صدیق (رض) نوم به چی کله یادیده نوحضرت عمرفاروق (رض) به ویل: ابوبکر سیدنا واعتق سیدنا یعنی بلالا. ابوبکر زموږ سردار دی او زموږ سرداریعنی بلال یی ازادکړ. په جاهلی ژوند اوقانون کښی دبلال غوندی بیوسه اوبیکسه غلامانو لپاره نه یوازی دلویو شخصیتونوپه صف کښی ځای نه ؤ بلکی دانسانیت په سترګه هم ورته نه کتل کیدل خو داسلام ریښتونی مساوات ته وګوری چی ابوبکر صدیق اوبلال (رضی الله عنهما) په یوه ردیف کښی ستایل کیږی نه دحضرت بلال (رض) بدن نوی اونرمی جامی موندلی وی اونه یی پښوپټی اونه په صورت اوځیره ښکلی ؤ خودا چی درسول اکرم (ص) دعاشقانوپه لومړی صف کښی یی ځای درلود نودنړۍ له زر ملیونه مسلمانانو څخه علی الاقل اوه سوه ملیونه مسلمانان دهغه له نوم اوشخصیت سره اشنا دی. داسلامی نړی په ګوټ ګوټ کښی که له یو ماشوم څخه هم پوښتنه وشی چی بلال څوك ؤ؟

نوسمدستی به جواب ووایی چی درسول الله (ص) مؤذن. بلال (رض) په صورت ښایسته نه ؤ سیرت یی دومره ښکلی اوفطرت یی دومره نیك ؤ چی څنګه یی غوږ ته دتوحید ږغ ورسیدی سمدستی یی ورته لبیك وویل دا داسلامی دعوت لومړنی وختونه او هغه دور ؤ چی داسلام په حلقه کښی داخلیدل داور بټۍ ته ورداننګل ؤ.

دحضرت بلال (رض) بادار امیه بن خلف چی کله دبلال له اسلام راوړلو نه خبر شو زړه یی دغوسی څخه ډك شو اوبلال ته یې وویل چی ما اوریدلی دی چی تا ځان ته کوم نوی معبود نیولی دی، ووایه هغه کوم دی؟

بلال جواب ورکړ: محمد (ص) چی دکموم معبود بندګی کوی زه هم دهم هغه بنده یم همغه زما خدای دی. داسلام اعلان ؤ اودمصیبتونو طوفانونه چی پرحضرت بلال (رض) باندی راوالوتل، په مکه کښی دحره په نوم یوسوځونکی ډاګ ؤ چی په غرمو کښی به دسری کړی اوسپنی غوندی ګرمیده، امیه به حضرت بلال رضي الله عنه په ټکنده غرمه کښی ددغه ډاك په سرو شګو کښی بربنډ

ځملاؤ يوه غټه ډبره به يې پرسينه باندې ور ايښودله چې پر اړخ وانه وړی او بيابه يې ورته ويل که غواړی چې له دی عذاب نه خلاص شي دمحمد (ص) له دين نه واوړه اودلات اوعزی ستاينه وکړه، دغه مظلوم بيوسه او بيکسه غلام به په جواب کښې ويل: اَحَدْ اَحَدْ ، يعنی الله (ج) يودی الله (ج) يودی.

کله داتعذيب اوکله به يې خپلو خدمتګارانو ته په لاس ورکړ، هغوی به يې په غاړه کښې پړی واچوه اودمکی په لارو کوڅو کښې به يې راکشوه خود هغه له مبارکی خولی نه چې کوم الفاظ وتل هغه داَحَدْ اَحَدْ الفاظ وو. دسيدنا ابوبکر (رض) کور دبنو جمع په سيمه کی ؤ پر بيکسه حضرت بلال باندی دغو جاری فرعونی مظالمو سخت ځوروه يوه ورځ يې اميه ته وويل: دغه مظلوم نور مه کړوه پرما باندی يې وپلوره، زه به دده په بدل کښې خپل رومی غلام فسطاس چې ستاسی په دين دی درکړم، اميه دفسطاس ترځنګ دڅلويښت اوقيه طلاؤ غوښتنه هم وکړه ابوبکر صديق (رض) داهر څه ومنل او حضرت بلال يې دااميه له قيد نه خلاص کړ. اميه ورته وويل: ابن ابی قحافه که زه ستا پرځای سم دغه غلام به ديوی روپی په شپږمه برخه هم وانخلم ابوبکر صديق (رض) ورته جواب ورکړ: اميه! ته ددی غلام په قدر اوقيمت نه پوهيږی، که له مانه پوښتنه وکړی، زه به يې ديمن په پاچاهی هم بدل نکړم. ابوبکر صديق (رض) حضرت بلال (رض) دغلامی له قيدنه ازاد کړ اورسول اکرم (ص) پدې کارسره له حده زيات خوشاله شو. له هغه وروسته حضرت بلال خپل ټول عمر دسرور کائنات ﷺ خدمت اوملګرتيا ته وقف کړ. له هجرت نه وروسته چې کله داسلامی جهادونو لړۍ شروع شوه حضرت بلال (رض) له بدر نه تر تبوك پوری ټولو غزاګانو کښې برخه واخستله. اميه بن خلف دبدر په غزا کښې د هغه ترنظر لاندی ووژل شو.

دصحابه ؤ په مينځ کښې چې کوم ځانګړی امتياز حضرت بلال ته ور په برخه شو هغه دا ؤ چې رسول اکرم (ص) هغه دمؤذن په حيث مقرر کړی ؤ.

الله (ج) هغه ته ډير لوړ، خوږ اوزړه راښکونکی اواز ورکړی ؤ، کله به يې چې اذان کاؤ دخلکو له سترګونه به اوښکی بهيدلی، حتی ښځی به پربامو

باندی ختلی او غوږ به یی نیوه.

دمکی معظمی دفتح په وخت کښی د نورو وختونو په څیر حضرت بلال (رض) درسول الله (ص) سره ملګری ؤ، له بتانو څخه دکعبی له پاکولو وروسته رسول الله (ص) بلال ته امر وکړ چی دکعبی بام ته وخیژی او اذان وکړه. هغه چی کله د ا کلمات ویل:

(اشهد ان لا اله الا الله ، اشهد ان محمدا رسول الله) دمکی دمځکی او اسمان ترمینځ دغه ښکلی اواز اوزړه راښکونکی زمزمی انګی وکړه زړونه ویلی اومسخر شول. دهجرت په (۱۱) کال چی ددواړو جهانو سردار رحلت وکړ دحضرت بلال (رض) دزړه دنیاګۍ دخپل محبوب په بیلتانه ورانه ویجاړه شوه، څوموده وروسته یی لومړی خلیفه ابوبکر صدیق (رض) ته عرض وکړ چی: (ما له رسول الله (ص) نه اوریدلی دی چی له ایمان نه وروسته بهترین عمل دالله (ج) په لار کښی جهاد کول دی، ماته اجازه راکړه چی خپل باقی عمر په جهاد کښی تیر کړم. ابوبکر صدیق (رض) وویل: بلاله زما عمر زیات تیر شویدی، کمزوری شوی یم دخدای پخاطر مایوازی مه پریږده. په کوم روایت کښی چی راغلی دی چی حضرت بلال (رض) داخبره ومنله داشرط یی وضع کړ چی لتاسره به اوسیږم خوزه درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته اذان نکوم. دصدیق اکبر ﷺ له دورنه وروسته حضرت بلال ﷺ شام ته ولاړ او جهاد ته یی ادامه ورکړه، دفاروق اعظم (رض) په دور کښی چی کله بیت المقدس دمسلمانانو لاس ته ورغی حضرت عمر (رض) وفرمایل: ای زموږ سردار بلاله، نن داسلام په لومړنۍ قبله باندی دتوحید بیرغ رپیدلی دی دخوشحالی پدی بختوره موقع کښی که موږ ته اذان وکړی ډیر به خوښ شو.

حضرت بلال (رض) دهغه سفارش ومانه او په اذان یی شروع وکړه، کله چی داشهد ان محمدا رسول الله الفاظو ته ورسیده صحابه ؤ ته درسول اکرم (ص) وخت وریاد شو اوټولو ډیر زیات وژړل پخپله دعمر فاروق (رض) ستونی له ډیری ژړا نه وچ شو.

دشام له جنګونو نه له فارغیدو وروسته حضرت بلال (رض) همالته

استوګن شو، يوه شپه يې خوب وليده: رسول الله (ص) ورته وويل: بلاله ! ايا ددې وخت نه دی را رسيدلی چې زما زيارت ته ورشې؟

(بلال دهغې شپې په سبا په ډيره چټکۍ دمدينې خواته روان شو. مطهرې روضې ته چې ورسيده، زړه يې دفراق په لمبو بې قراره شو، دومره يې وژړل چې ټولو حاضرينو خپلې اوښکې ورسره يوځای بدرګه کړې. حسن او حسين (رضی الله عنهما) يې په غيږ کښې ونيول اوښکل يې کړل. هغوی غوښتنه وکړه: بابا سبا به ته اذان کوې، دهغوی خواهش يې ومانه خو داذان په وخت کښې په ټوله مدينه کښې دژړا اوخپګان داسې حشر برپا شو چې تابه ويل پيغمبر (ص) همدا نن رحلت کړيدی حضرت بلال (رض) دشپيتو کالو په عمر په دمشق کښې وفات وکړ اوهمالته دفن کړای شو. (رضی الله عنه)

## حضرت براء بن مالک ﵁

حضرت براء بن مالك دمدينې دانصارو دخزرج قبيلې دبنو نجار له کورنۍ څخه، دمالك بن نضر زوی، دأحد دنامتو شهيد انس بن نضر وراره او درسول الله (ص) دخاص خدمتګار حضرت انس بن مالك علاتی ورورؤ له نبوی هجرت نه لږڅه مخکښې دايمان خزانه ورپه برخه شوې وه اوځنګه چې په صغارت کښې يتيم شوی اوبيوزله پاتې شوی ؤ نو ځکه خو دالله ﷻ په خاصو ميلمنو يعنې اصحاب صفه کښې شامل شو، دهغو معززو مؤمنانو په ډله کښې چې دلوږو تندو په زغملو سره يې خپل وخت دالله ذکر او دعلم زده کړې ته وقف کړی ؤ اوپداسې پوهنتون کښې يې تحصيل کاؤ چې له هغوی څخه په پای کښې دنړۍ ډير ښه حکمرانان، مدبرين، سياستمداران، استاذان اومجاهدن جوړ شول.

حضرت براء بن مالك دالله محبوب بنده اودرسول الله (ص) خواخوږی اوپه زړه پوری ملګری ؤ يوه ورځ رسول الله (ص) دخپلو خوږو صحابه ؤ په مينځ کښې ناست اوهغوی ته يې داسلام ښوونه کوله چې په دې وخت کښې حضرت براء پداسې حال کښې راغی چې دسر اوږيرې وريښتان يې په دوړو پټ اودوه زاړه پيوندی څادرونه يې له ځانه تاؤ کړی وو اوپه ډير ادب سره په نبوی

مجلس كښې كښيناست او دخپل پيشوا نصائحو ته يې غوږ ونيوه رسول الله (ص) دخپلو ارشاداتو په ترځ كښې وفرمايل:

ډير داسې كسان شته چې وربښتان يې انجړ اوپه دوړو پټ دي، اودوه ځادرونه يې دتن جامه اودخلګو په نظر كښې ډير حقير دي خوكله چې قسم وخوري الله تعالى دهغوی قسم پوره كوي اوبراء هم له همداسې خلګو څخه دی. دحضرت براء بن مالك (رض) دژوند لوړه هيله دخدای په لاره كښې دشهادت ميندل ؤ او همدې لوړې هيلې ته درسيدو په خاطر ؤ چې په ټولو اسلامي جهادونو كښې برخوال ؤ او دهغه په ټول ژوند كښې شعار داؤ چې ويل به يې: (الله، والجنة).

دحق اوباطل په معركه كښې پردښمنانو باندې برلاسي او غلبه او دخدای نصرت كه څه هم دخدای دلاري دهر مجاهد هدف دی او ددی غوښتونكی وی چې نصرت ورپه برخه شي مګر براء بن مالك به چې هروخت دجنګ په ميدان كښې توره پړكوله نودنصرت پرځای به يې دشهادت غوښتنه كوله، هو: دهغه لوی نعمت غوښتنه چې رسول الله (ص) هم پخپل مبارك حديث كښې دهغه هيله په صراحت سره څرګنده كړيده اوفرمايلي يې دي:

(والذی نفسی بيده لوددت ان اقتل فی سبيل الله ثم احی ثم اقتل، ثم اقتل).

ترجمة: يعنې زمادې په هغه ذات قسم وی چې زماساه دهغه په لاس كښې ده زه له دې سره مينه لرم چې دخدای دلاري په جهاد كښې ووژل شم، بيا را ژوندی شم بيا ووژل شم او بيا راژوندی شم بيا ووژل شم.

براء بن مالك يوه ورځ ناروغ ؤ، صحابه كرام دهغه عيادت ته ورغلل او غمجن ورته كښيناستل، هغه ددوی دخپګان په ليدلو وفرمايل: لعلكم ترهبون ان اموت علی فراشي... لا والله لن يحرمني ربي الشهادة) تاسې انديښمن يئ، چې زه به په بستر كښې مړ شم؟ داسې نه ده زما په خدای قسم دی چې زما پروردګار به ما دشهادت له درجې څخه محروم نكړي.

دسرور كائنات (ص) له رحلت نه وروسته دصديق اكبر (رض) دخلافت په دور كښې په ناڅاپي ډول په ټول عربي چاپيريال كښې دارتداد دفتنې لمبې

بلی شوی اودادومره نازکه اوحساسه مرحله وه چی لږ تساهل ډیر غټ نه تلافی کیدونکی زیانونه مینځ ته راوړل، له دی امله دټولو مرتدانو ځپل په کار وو، په تیره بیا دمسیلمه بن حبیب چی په (مسیلمه کذاب) سره مشهور ؤ ځکه چی هغه لا دمحمد رسول الله (ص) دژوند په وروستیو وختونو کښی له اسلام نه اوښتی ؤ، مدینی منوری ته راغلی اوله پیغمبر (ص) څخه یی غوښتنه کړی وه چی له ماسره تعهدوکړه چی له تانه وروسته به زه ستا خلیفه یم اوپیغمبر (ص) دهغه ددی شیطانی غوښتنی په ردکښی وفرمایل : (خلافت خو لاڅه چی زه به تاته دخپل لاس لکړه هم درنکړم) مسیلمه چی کله بیرته یمامی ته ستون شو، پیغمبر (ص) ته یی په یومکتوب کی ولیکل: (ماته ستا په ماموریت کښی ونډه راکړل شویده، نیمائی هیواد زما او نیمایی دقریشو دی) رسول الله (ص) دهغه دلیك جواب داسی ورکړ چی: (دملك څښتن الله (ج) دی چاته یی چی خوښه شی له خپلو بندګانو هغه ته یی په میراث ورکوی او داخرت ښیګنه دپرهیزګارانو لپاره ده).

دمرتدانو پرضد په ټولو جګړو کښی حضرت براء بن مالك دیوغښتلی سپاهی په صفت برخوال ؤ اوپدی ټولو جنګونو کښی دهغه کارنامی دتاریخ په پاڼو کښی په زرینو کرښو ثبت دی او ترڅو چی دادنیا ودانه وی او دحق او باطل تر مینځ معرکی روانی وی دحضرت براء ﷺ په څیر داتلانو میړانه او جرئت به دخدای ﷻ دلاری دمجاهدینو لپاره اغیزناك درسونه وی.

دیمامی په جګړه کښی دمسیلمه کذاب څلویښت زره کسیزه لښکر چی کله دمسلمانانو په دیارلس زره کسیز پوځ باندی سخته حمله راوړه نو د مسلمانانو په صفونو کښی وار خطائی اوبی نظمی پیداشوه، پدی وخت کښی حضرت براء بن مالك په ډیره ولوله وړاندی شو، او په لوړ ږغ سره یی وویل: این یا معشر المسلمین انا البراء بن مالك هلم الیَّ.

(ای مسلمانانو چیرته ځئ زه براء بن مالك یم زما خواته راشی) دهغه دغی چیغی دمجاهدینو حوصلی لوړی کړی او داسلام لښکر بیرته منظم شو چی وروسته بیاپه همدی دهشتناکه صحنه کښی دحضرت براء (رض) له خولی نه

مسلمانانو ته په خطاب دا جملي ووتلي چي:

يا اهل المدينة لا مدينة لكم اليوم انما هو الله والجنة .

ترجمة: اى دمدينى خلگو! نن په زړه کښې مدينى ته بيرته ستنيدل يعنى ددنيا ارام ژوند مه راگرځوى بلكى له الله سره وصل كيدل او جنت ته تلل په زړه کښې ونيسئ جنگ په پوره شدت سره روان ؤ پدى وخت کښې ددښمن دپوځ يو نامتو جنگيالى چي د (حمار يمامه) لقب ورکړ شوى ؤ دحضرت براء مخى ته راغى ده ﷺ پرهغه كافر دتورى وار وكړ اودوه ټوټى يى كړ. دجگړې دقوت اوشدت په نظر کښې نيولو سره داسلامى لښكر قوماندان حضرت خالد بن وليد (ﷺ) دافيصله وايستله چي ددى جگړې دخاتمى لپاره مناسبه لاره داده چي مسيلمه ووژل شي نويى يوى ډلى ته چي حضرت براء (رض) هم پکښې وو قومانده ورکړه چي دمسيلمه خواته وړاندى شي مسيلمه په وضع باندى په پوهيدلو سره له خپل پوځ سره خپل مشهور باغ (حديقة الرحمن) ته چي ډيرلوړ اومحكم ديوالونه يى لرل وتښتيده، دباغ دروازه هم دومره محكمه وه چي ماتول يى گران ؤ، حضرت براء (رض) مسلمانانوته ږغ وكړ چي: دخداى لپاره ما پرديوال باندى باغ ته وركوز كړئ، مجاهدينو چي كله هغه دباغ پر ديوال باندى كوزكړ هغه دباغ دروازه پرانستله اواسلامى لښكر باغ ته ننووت اوددواړو خواو ترمينځ ډيره سخته جگړه ونښتله، حضرت براء (رض) څه دپاسه اتيا زخمونه خوړلى وو خو حوصله يى ماته نشوه، دجگړې په ترڅ کښې مسيلمه كذاب دحضرت وحشى بن حرب ﷺ په لاس دجهنم كندى ته وليږل شو اودهغه لښكرهم تارومار شو داتياؤ نه دزياتو زخمونو سره سره حضرت براء ﷺ ته شهادت مقدر نه ؤ حضرت خالد (رض) دهغه تداوى وكړه او الله (ج) روغتيا ورپه برخه كړه.

دمرتدانو پر ضد دجگړو سربيره دعراق او ايران په جنگونو کښې هم حضرت براء ﷺ په پوره ميړانه شريك ؤ اوكله چي (۱۷) هجرى كال کښې دخوزستان مشرانو دمسلمانانو پرخلاف دبغاوت بيرغ پورته كړ نوحضرت براء ﷺ دهغوى په ځپلو کښې هم دخپلى تورى جوهر وښوده او په يوازى ځان يى

ددښمن شل تنه ووژل يوه ورځ هغه په زړه راښكونكي اواز شعرونه ويل، دهغه ورور حضرت انس بن مالك خيمي ته ورغی ورته يی وويل: (وروره! دشعر پر ځای ولی د قرآن حكيم تلاوت نكوی؟

جواب يی ور كړ: (انس! ښائی لتاسره ويره وی چی زه به په بستر كښی مړ شم، په خدای قسم دی چی زما مرګ به په بستركښی نه بلكی دجهاد په ميدان كښی وی بله ورځ چی دښمنانو پر اسلامی لښكر باندی سخته حمله وكړه مجاهدين حضرت براء ﷺ ته راټول شول ويی ويل: خدای ستا قسم پوره كوی، نن دعا وكړه چی الله تعالی موږ ته فتح نصيب كړی. حضرت براء لاس په دعا شو ويی ويل: (الهی! مسلمانانو ته پر كافرانو باندی غلبه وركړه ما نن له خپل حبيب (ص) سره وصل كړه) دحضرت براء (رض) دعا قبوله شوه مسلمانانو ته نصرت په برخه شو خوپخپله يی دشهادت جام وڅښه اوله دی فانی دنيانه پخپل خواړه ملګری پسی روان شو. (رضی الله عنه)

## حضرت تميم بن اوس داری ﷺ

حضرت تميم بن اوس داری دشام (لخم) قبيلی ته منسوب دعيسائی مذهب پير وؤ خو الله (ج) هغه ته ډير سپيځلی فطرت په نصيب كړی ؤ دمكی مكرمی اومدينی منوری خلګ به زياتره دتجارت لپاره شام ته تلل، حضرت تميم داری چی كله ددغو تاجرانوله خولی څخه درسول اكرم (ص) اودحق دبلنی خبرونه واوريدل نو زړه يی دا ګواهی وركړه چی محمد مصطفی (ص) بر حق پيغمبر او دهغه دعوت هغه اسمانی پيغام دی چی رب العزت دبندګانو داصلاح لپاره راليږلی دی خوسره له دی هم ترنهم هجری كال پوری پخپل وطن كښی پاتی شو او درسول الله (ص) له ملاقات اودهغه په لاس باندی دبيعت له شرف اوسعادت څخه محروم ؤ ترڅو چی دهجرت په نهم كال دهغه داقبال ستوری وځليده اودخپل ورور نعيم په شمول مدينی ته راغی اودسرور كائنات (ص) په مبارك لاس يی دايمان او سرښندنی بيعت وكړ اوله هغه وروسته شام ته دتلو پرځای يی ديته ترجيح وركړه چی همدلته په مدينه كښی دنبوی شمعی په خوا كښی دپتنګ په څير دمينی او محبت ژوند وكړی او دخپل روح خزان

وهلی کرونده دنبوی فیوضاتو په باران سره خړوبه اوښیرازه وساتی نوله همدی کبله یی په مدینه کښی دائمی استوګنه غوره کړی مورخ ابن اثیر (رح) په اسد الغابه کښی لیکلی دی چی له شام نه مدینی ته دراتګ په وخت کښی حضرت تمیم بن اوس (رض) له ځانه سره دتیلو ډیوی راوړی وی، هغه یی له تیلو نه ډکی کړی او دنبوی مسجد په غولی کښی یی بلی کړی، په دغه شپه چی حضرت رسول الله (ص) دلمانځه لپاره مسجد ته تشریف یووړ اوویی لیدل چی ټول مسجد روښانه اوډیوی پکښی بلی دی له حده زیات خوشاله شو، له صحابه ؤ کرامو ﷺ څخه یی پوښتنه وکړه: نن شپه مسجد چاروښانه کړیدی؟ صحابه ؤ دحضرت تمیم (رض) خواته اشاره وکړه، سرور کائنات (ص) هغه ته دخیر او برکت دعا وکړه اوویی فرمایل (که زما کومه ناواده شوی لور وای نو مابه ده ته په نکاح ورکړی وای) پدی وخت کښی درسول الله (ص) دتره زوی نوفل بن حارث بن عبدالطلب هم په مسجد کښی موجود ؤ، هغه سمدلاسه عرض وکړ: (یارسول الله! زما کونډه لور ام المغیره سته، که دی خوښه وی هغه ورته په نکاح کړه) رسول الله (ص) دحضرت نوفل بن حارث (رض) پیشنهاد ومانه اوپه همغه مجلس کښی یی دام المغیره نکاح له حضرت تمیم بن اوس داری (رض) سره وتړله. ابن ماجه دحضرت ابوسعید خدری (رض) روایت رانقل کړیدی چی: (حضرت تمیم بن اوس داری (رض) لومړنی سړی دی چی په مسجد کښی یی ډدیوی بلولو دغوره عمل بنسټ ایښی دی.

ده دلومړی ځل دپاره په هغه مبارك مسجد کښی ډیوی بلی کړی چی دټولو ظاهری ښکلاؤ فاقد او دسادګی مظهر ؤ دیوالونه یی دخامو خښتو او تیږو څخه، ستنی یی دخرما دلرګیو، چت یی دخرما په لښتو سره پوښ شوی اوفرش یی دشګو څخه جوړ شوی ؤ خودا چی په ډیرو مقدسو لاسونو سره دهغه ودانۍ شوی وه اوپه هغه کښی چی دکومو هستیو مبارك وچولی په سجده کښېته کیدل دهغه معنوی عظمت دومره لوړ ؤ چی داسمانونو پرښتی په هغه کښی عبادت کولوته پسخیدلی، پدی مبارك مسجدکښی دڼا کولو لپاره هم اهتمام نه ؤ شوی، صحابه ؤ به دسپوږمۍ او ستورو په رڼا کښی لمونځونه

ادا کول اوکله کله به درنها کولو ضرورت پېښېده نوصحابه ؤ کرامو به ددی کار لپاره دخرماؤ له لښتو څخه کار اخیست.

په کوم وخت کښې چې حضرت تمیم داری (رض) په اسلام مشرف شوله تبوك نه پرته نوری ټولی غزاګانی تیری شوی وی له دی امله حضرت تمیم داری (رض) ته په نورو غزاګانو کښې دبرخې اخیستلو فرصت نه ؤ میسر شوی مګر دتبوك په غزا کښې چې له یوی خوا دسختی ګرمی موسم اوله بلی خوا دوچکالی لامله دجهاد توښه برابرول ګران کارؤ حضرت تمیم بن اوس داری (رض) په پوره میړانه ګډون وکړ اوداسلام دیوسر ښندونکی سپاهی په توګه یی خپل مسئولیت په ډیره مینه اواخلاص ترسره کړ.

حضرت تمیم داری (رض) تقریبا دوه کاله درسول الله (ص) په ملګرتیا کښې تیر کړل خوپدی موده کښې یی دنبوی مجلس له فیوضاتو نه دومره ګټه واخیستله چې سیرت لیکونکو هغه دقرآن کریم دعلماؤ په ټولی کښې شمیرلی دی اوحتی علامه ابن سعد وائی چې کومو صحابه ؤ چې درسول الله (ص) په ژوند کښې دقرآن راجمع کولو وظیفه سرته ورسوله حضرت تمیم داری (رض) ددغه معتبر کمیسیون غړی ؤ له هغه نه دروایت شویو حدیثونو شمیر په موثوقه توګه ندی تعیین شوی خوبیا هم پدی خبره کښې څه شك اوشبه نشته چې هغه دحدیثو دراویانو په پنځمه درجه کښې ځای لری یعنی په هغه ډله راویانو کښې دی چې له هغو څخه څلویښت یا له څلویښتو نه کم حدیثونه روایت شویدی.

په حدیث پوهنه کښې دهغه مقام اومنزلت له دی خبری نه ښه معلومیدای شی چې دهغه په راویانو کښې دحضرت انس بن مالك اوعبد الله بن عمر او عبد الله بن عباس او حضرت ابوهریره غوندی لویان صحابه شامل دی او په صحیح مسلم کښې مشهور حدیث: الدین النصیحة، له حضرت تمیم داری (رض) څخه روایت شویدی دهغه شاګردان هم داسی ستر شخصیتونه وو چې داسلامی امت دلاری مثالونه ګڼل کیږی لکه روح بن زنباع (رح) شهر بن حوشب (رح) عبدالله بن موهب (رح) اوعطاء بن یزید لیثی (رح). له قرآن کریم

سره دحضرت تمیم داری (رض) له حده زیاته مینه وه اوپه لمانځه کښې به یې دومره اوږد تلاوت کاؤ چې زیاترو صحابه ؤ به ورباندی غبطه کوله یعنی هر یوه به ویل چې کاشکې زه هم داسې وای. هغه به زیاتره وختونه ټوله شپه په لمانځه کښې په قیام سره ویښه تیروله په لمانځه کښې به چې ولاړ ؤ دخدای له ویری څخه به یې پراندامونو لړزه راتله اوپه ځینو وختونو کښې به یې په لمانځه کښې ژړل لکه چې حافظ ابن حجر په (اصابه) کښې لیکلی دی چې حضرت تمیم (رض) یوه شپه په لمانځه کښې قرائت لوسته، کله چې دسورة جاثیه (۲۱) ایت ته ورسیده چې:

(اَمْ حَسِبَ الَّذِیْنَ اجْتَرَحُوا السَّـــیِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَوَاءً مَّحْیَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا یَحْكُمُوْنَ) .

ترجمة: کوم خلګ چې دبدو عملونو مرتکب شویدی ایا هغوی داګومان کوی چې موږ به دوی له هغوکسانو سره برابر کړو چې هغوی ایمان راوړیدی اونیك عملونه یې کړیدی، ددوی اودهغوی ژوند اومړینه به یوډول وی؟ داډیره بده فیصله ده چې دوی یې کوی). پدی وخت کښې یې په قرائت پیل وکړ تر سهاره یې همدا ایت تکراروه او ورسره یې ژړل.

درسول الله (ص) دوه کلن صحبت له حضرت تمیم بن اوس داری (رض) څخه داسې مثالی مؤمن اودحق دشمعې داسې ریښتونی پتنګ جوړ کړی ؤ چې دهغه په هره وینا اوعمل کښې دپیغمبر (ص) اسوۀ حسنه له ورایه ځلیدله، دپیغمبر (ص) په ویناؤ یې په کلکه عمل کاؤ اودهغه په نقش قدم یې قدم ایښود، یوځل یې له رسول الله (ص) څخه دریاکارۍ دغندنی په باب حدیث واوریده له هغه وروسته یې په ټول عمر کښې هڅه کوله چې دهغه دزیات عبادت په حال باندی خلګ خبر نشی. حافظ ابن حجر روایت رانقل کړیدی چې یوځل یوچاله هغه څخه پوښتنه وکړه چې ته په ټوله شپه کښې څورکعته لمونځ کوی؟ حضرت تمیم (رض) دپوښتونکی په پوښتنه باندی ناخوښی ښکاره کړه اوویې ویل چې زه دشپې په یوازیتوب کښې (چې څوك راباندی خبر نشی) یو رکعت لمونځ له دینه ښه ګڼم چې ټوله شپه په لمانځه تیره کړم اوسبایې خلګو

ته ووایم. یو ځل دهغه شاګرد مشهور تابعی حضرت روح بن زنباع دهغه ملاقات ته ورغی ویی لیدل چی هغه دآس لپاره اوربشی پاکوی او دکورنی غړی یی ورسره وزګار ناست دی، حضرت روح په تعجب سره پوښتنه وکړه: (ابو رقیه ایا په کور کښی بل څوك نشته چی د اکار وکړی؟)

حضرت تمیم (رض) جواب ورکړ: (ولی نه، خو بیابه زما اجر ضایع شی، ما له رسول الله (ص) نه اوریدلی دی چی: (کوم مسلمان چی دخپل اس لپاره دانه برابروی اوهغه ته یی ورکوی نودهری دانی په بدل کښی یوه نیکی ورپه برخه کیږی.)

رسول الله (ص) پخپل ژوند کښی دحضرت تمیم دګوزاری لپاره په شام کښی دعینون نومی کلی جایداد ورکړی ؤ چی دشام له فتحه کیدونه مخکښی دپیغبر (ص) داکار دځینو محدثینو لخوا دپیغمبر (ص) له معجزو څخه ګڼل شویدی. حضرت تمیم (رض) نه یوازی درسالت په دور کښی بلکی دحضرت صدیق اکبر، حضرت عمر فاروق اوحضرت عثمان غنی (رضی الله عنهم) په دور کښی هم په مدینه کښی استوګن ؤ او درسول الله (ص) خوږو ملګرو هغه ته داحترام په نظر کتل حتی تردی پوری چی حضرت عمر (رض) به ورته (خیر اهل المدینة) ویل. دحضرت عثمان (رض) له شهادت نه وروسته حضرت تمیم داری (رض) په ډیری خواشینۍ له مدینی منوری سره خدای پامانی وکړه او خپل وطن شام ته ولاړ چی دحافظ ابن حجر دوینا له مخی په څلویښتم هجری کښی وفات اوپه حبرون نومی کلی کښی خاوروته وسپارل شو. (رضی الله عنه)

## حضرت ثابت بن قیس انصاری رضي الله عنه

حضرت ثابت بن قیس انصاری (رض) دمدینی دانصارو دخزرج قبیلی څخه اودهغه مور دطی قبیلی ته منسوبه وه له نبوی هجرت نه مخکښی دبیعت عقبه ثانیه څخه وروسته دایمان دخزانی مالك سوی ؤ لکه څنګه چی حضرت حسان (رض) درسول الله (ص) اواسلام په شاعرسره شهرت موندلی ؤهمدغسی حضرت ثابت بن قیس درسول الله (ص) اواسلام په خطیب سره شهرت درلود الله (ج) هغه ته دتقریر اوخطابت ډیر لوی صلاحیت او استعداد ورکړی ؤ.

دفصيحى ژبى خاوند او ډير لوړ او ډډ اواز يې درلود په (۹) هجرى كال كښى چې په تاريخ كښى دعام الوفود په نوم ياديږى دبنو تميم قبيلې يوهيئت چې اويا كسان پكښى وو مدينى ته راغى، دهيئت مشر اقرع بن حابسى رسول الله (ص) ته وويل: (موږ غواړو له اسلام راوړلو نه مخكښى له تاسى سره خپل افتخارات بيان كړو) پيغمبر (ص) وفرمايل: (زه دافتخاراتو بيانولو اومشاعرو لپاره نه يم مبعوث شوى خوبيا هم كه ته غواړى موږهم حاضر يو) دعطارد بن حاجب په نوم دبنو تميم يوسړى چې ډير زيات ژبه ور اوفصيح خطيب ؤ ودريد اوخپله وينايى پدى مفهوم پيل كړه:

(ستاينه اوصفت دهغه خداى لپاره دى چې پخپل فضل او پيروزينى سره يى موږ دتاج اوتخت مالكان كړى يو دختيز په انسانانو كښى يى ترټولو زيات موږ ته عزت رابخښلى دى، زموږ خزانى له سرو او سپينو زرو څخه ډكى دى چې موږ بى په خلاص لاس سره مصرفوو. موږ په خلګو كښى سارى اوثانى نلرو ايا موږ دخلګو سرداران اوپه هغو كښى دفضيلت خاوندان نه يو؟ كه بل څوك ددى دعوه كوى هغه دى راوړاندى شى زموږ له وينا څخه دى غوره وينا وكړى اوزموږ له وضعى څخه دى ښه وضعه بيان كړى، ماچى څه ويل غوښتل ومى ويل).

دعطارد دوينا له پاى ته رسيدو څخه وروسته رسول اكرم (ص) حضرت ثابت بن قيس ته امر وكړ چې پاڅيږه او دهغه جواب ووايه، حضرت ثابت بن قيس پاڅيده اوپه ډيره جذب اوزړه راښكونكى لهجه يى وويل:

دټول كائنات ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چې دځمكى او آسمانونو خالق دى، پرهغو باندى يې خپل حكم نافذ كړئ، دهغه كرسى اودهغه علم پراخ دى، دمطلقى واكمنۍ اوقدرت خاوند دى، هرڅه چې كيږى دهم هغه په قدرت او امر سره كيږى، دهغه له قدرتونو څخه يودا دى چې له خپلو بندګانو څخه يى يو پيغمبرمبعوث كړ، ترټولو زيات شريف انسان، ترټولو زيات رينښتونى، اوتر ټولو زيات دلوړو اخلاقو خاوند. بيايى پردغه پيغمبر باندى يوكتاب نازل كړ او دخپل مخلوق امانت يى ورته وسپاره، هغه يى له ټولو مخلوقاتو څخه غوره

کړ. دغه پيغمبر خلګوته دحق خواته بلنه ورکړه، دهغه له قوم اوخپلوانو څخه مخکښې مهاجرينو چې دغوره نسب خاوندان اونيك عمله دی دهغه بلنه ومنله ورپسې په ټولو عربو کښې موږ انصارو دهغه دعوت ته لبيك وويل موږ پدی وياړو چې موږدالله انصار اودهغه درسول ملاتړيو. ترڅوپوری چې خلګ ايمان رانه وړی او (لا اله الا الله) ونه وائی موږ به ورسره وجنګيږو، اوڅوك چې دالله اودالله درسول (ص) له منلو څخه انکار وکړی موږ به دهغوی پرخلاف دخدای په لاره کښې جهاد کوو اوجهاد کول زموږ لپاره څه ګرانه خبره نده، ماچې څه ويل غوښتل ومی ويل اوپه پای کښې دټولو نارينه ؤ اوښځو مؤمنانو لپاره دخدای له درباره مغفرت غواړم).

دتقريرونو له مسابقی نه وروسته دشعر مسابقه وشوه چې دبنو تميم لخوا زبرقان بن بدر او دپيغمبر (ص) لخوا حضرت حسان بن ثابت (رض) شعرونه وويل، دوياړونو بيانولو غونډه چې پای ته ورسيدله نو دهيئت رئيس اقرع بن حابس چې پخپله هم مشهور شاعر اوخطيب ؤ پاڅيده او ويې ويل: (قسم کوم چې دمحمد (ص) خطيب اوویاند زموږ له وياندڅخه اودده شاعر زموږله شاعر څخه غوره دی، دهيئت غړو دخپل مشر فيصله تائيد کړه او سمدلاسه ټول په اسلام مشرف شول.

حضرت ثابت بن قيس يوازی لسانی جهادنه بلکی دخدای دلاری په جهاد کښې يې په توری سره هم برخه اخيستله درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دابوبکر صديق (رض) دخلافت په دور کښې دارتداد دفتنی پرضد جهاد کښې په هرمحاذ کښې په توده ولوله وجنګيده، پدی لړ کښې ديمامې جګړه ډيره سخته اومشهوره جګړه وه، کله چې پرمسلمانانو باندی سختی راغله نژدی وه چې پرشا ولاړ شی پدی حساس وخت کښې حضرت ثابت (رض) په لوړ اواز رږغ وکړ قسم په خدای دی چې درسول الله (ص) په ملګرتيا کښې زموږ دجنګيدو کيفيت داسې نه ؤ، بيايې کفن پر سر وتړه، عطر يې ووهل، په يوه خندق کښې ودريده ترنامه پوری يې ځان په شګو کښې ښخ کړ او په يو مناجات کښې يې وويل: (ای پروردګاره! ددښمنانو له عمل نه چې مطلب يې دمسليمة الکذاب

لښکر ؤ بیزاریم اوددی نورو دعمل په باب چی مطلب یی دمسلمانانو سستی ښودل ؤ تاته عذر وړاندی کوم) پدغسی حالت کښی چی نیمایی په قبر کښی ښخ اونیمائی دځمکی پرسرؤ حضرت ثابت توره په لاس دخدای ددښمنانو پر ضد جنګیده هرکافر به چی ورنژدی کیده په توره به یی واهه چی په پای کښی همالته شهید شو.

له حضرت انس بن مالك (رض) څخه روایت دی چی دحضرت ثابت بن قیس پربدن باندی دجنګ ډیره قیمتی زغره وه هغه چی شهید شو، یو مسلمان ورڅخه واخیستله یوبل مسلمان خوب ولیده چی حضرت ثابت ورته وایی: زما فلانی مسلمان ورور له ماڅخه زماجنګی زغره اخیستی ده ته خالد بن ولید ته ووایه چی له هغه څخه زما زغره واخلی، پرما باندی دومره قرض دی، درسول الله خلیفه دی زما زغره، وپلوری او زما قرض دی ادا کړی او زما فلانی غلام دی هم ازاد کړی.

حضرت خالد بن ولید (رض) دازغره بیرته واخیستله مدینی ته ولاړی او ټوله قصه یی حضرت ابوبکر صدیق (رض) ته تیره کړه هغه دحضرت ثابت وصیت پرځای کړ، زغره یی وپلورله دهغه قرض یی اداکړ او دهغه غلام یی هم ازادکړ پدی ترتیب له حضرت ثابت نه پرته په اسلام کښی دهیچا وصیت له مرګه وروسته ندی نافذ شوی خودایوازی حضرت ثابت ؤ چی له مرګه وروسته یی وصیت وکړ او داسلام لومړی خلیفه ورباندی عمل وکړ.

دخدای دلاری شهیدحضرت ثابت بن قیس انصاری (رض) دلویانو صحابه ؤ په کتار کښی ځای لری دهغه دسپیڅلی ژوند دکتاب په مطالعی سره انسان ګوری چی هغه څومره زیات له خدایه ویریده له جهاد سره یی څومره مینه وه او الله ﷻ اورسول ﷺ ورباندی څومره ګران ؤ.

یوه ورځ رسول الله (ص) دخپلو صحابه ؤ په مینځ کښی ناست ؤ دیوی مسئلی په هکله بحث روان ؤ چی په ناڅاپی ډول دځینو صحابه ؤ ږغونه له عادت نه زیات لوړ شول، داوضعه دالله (ج) خوښه نشوه اودمسلمانانو دروزنی پخاطر یی دا ایت نازل کړ:

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لاَ تَرْفَعُوْا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلاَ تَجْهَرُوْا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لاَ تَشْعُرُوْنَ .

ترجمة: ای مؤمنانو خپل ږغونه دپیغمبر (ص) پرږغ باندی مه لوړوی اومه له پیغمبرسره په هغسی زور اوزغرده ږغیږی لکه چی پخپلو مینځوکی ږغیږی چی پدی سره به ستاسی (نیك) عملونه ضایع شی اوتاسی به خبرنه یاست لا.

ددی الهی فرمان په اوریدلو سره ټول صحابه کرام دخدای له ویری نه ولړزیدل او تعهد یی وکړ چی بیابه دپیغمبر (ص) په وړاندی په لوړ اواز سره خبری ونکړی خوپر حضرت ثابت بن قیس باندی دخدای ویره دومره غالبه شوه چی ولاړی دکور په یوه ګوښه کښی کښینستی له سترګو نه به یی اوښکی بهیدلی اوپه ژبی سره یی استغفار وایه کله چی پیغمبر (ص) څو ورځی پرله پسی هغه په مجلس کښی ونه لیدی نوله صحابه ؤ نه یی پوښتنه وکړه چی ایا ثابت بن قیس خو به ناروغ نه وی؟

داوس قبیلی مشر حضرت سعد بن معاذ انصاری (رض) عرض وکړ: (یا رسول الله! زه ورځم چی دهغه خبر راوړم حضرت سعد ورغی له هغه نه یی پوښتنه وکړه: څوورځی دپیغمبر (ص ) مجلس ته نه یی راغلی، رسول الله (ص) زه رالیږلی یم چی ستا دحال پوښتنه وکړم).

حضرت ثابت وویل: دالله (ج) لخوا وعید نازل شویدی چی که څوك دهغه دپیغمبر په وړاندی په لوړ اواز خبری وکړی نوعملونه به یی ضایع شی ته خو پوهیږی چه زه په تاسی کښی دلوړ ږغ خاوند یم، دغه غم زما ملا ماته کړیده چی زما ټول نیك عملونه ضایع شول او ددوزخ مستحق شوم) حضرت سعد بن معاذ (رض) چی کله درسول الله (ص) حضور ته ورغی اودهغه خبره یی ورته واوروله نو پیغمبر (ص) وفرمایل: هغه (ثابت) دوزخی نه بلکی له جنتیانو څخه دی.

امام ذهبی (رح) دهغه له زوی محمد بن ثابت څخه دهمدغسی پیښی یوبل روایت کړیدی، هغه وائی: کله چی دسورۀ لقمان دا ایت نازل شو چی: (إِنَّ اللهَ لَا

يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ) ، ترجمه: الله (ج) هيڅ يو وياړونكى متكبرنه خوښوى) نوپر حضرت ثابت باندى لړزه راغله، په كور كښى كښيناست، په ژړا يى پيل وكړ پيغمبر (ص) يواستازى ورولیږه او دهغه دغياب پوښتنه يى وكړه، هغه عرض وكړ: يارسول الله! زماښكلا اوښائست خوښیږی، ښايسته جامه خوښوم، ویریږم چى له مختالينو او وياړونكو څخه ونه شميرل شم) رسول الله (ص) د موسكا په حال كښى ورته وفرمايل:

( انك لست منهم بل تعيش بخير، وتموت بخير وتدخل الجنة)

ترجمة: نه ته داسى نه يى بلكى ته به په خير كښى ژوندكوى، په خيركښى به مرى او جنت ته به داخليږى.

هو: دسرور كائنات (ص) خبره ريښتيا وه، حضرت ثابت بن قيس (رض) دنبوى شمعى په څنگ كښى ديوپتنگ په څير دخير ژوند وكړ اوپه پاى كښى دخير مړينه يعنى دخداى دلارى په جهاد كښى دشهادت غوره مقام چى په اخرت كښى دجنت مستوجب دى ورپه برخه شو او دهغه نقش قدم دمؤمنانو لپاره غوره سرمشق وگرځيدى. (رضى الله عنه)

## حضرت جعفر طيار رضي الله عنه

دبعثت په دريو لومړنيو كلونو كښى رسول اكرم (ص) دحق دتبليغ وظيفه په سرى اوخفى توگه سرته رسوله خودنبوت په څلورم كال كښى چى كله دقرآن كريم دحجر سورت دا مبارك ايت نازل شو چى:

(فاصدع بما تؤمرو اعرض عن المشركين)

ترجمة: يعنى دتبليغ وظيفه په ډاگه څرگنده اجرا كوه او دمشركانو ددښمنى پروا مكوه نورسول اكرم (ص) دحق دتبليغ كارپه ښكاره توگه پيل كړ، خوش نصيبو خلگو دحق بلنى ته سمدلاسه لبيك ووايه خو كوم بدبخته چى پخپله گمراهى اوشرك باندى ټينگ پاتى سول هغوى له ډيرى غوسى نه ددرندگى مرحلى ته ورسيدل. دتوحيد دلارى پر پيروانو باندى يى داسى ظلمونه شروع كړل چى سړه ځمكه يىورباندى سره كړه، څه موده يى دغه

ظلمونه وګالل خوپه پای کښی دبعثت دپنځم کال درجب په میاشت کښی دالله حبیب (ص) ورته وفرمایل: چی حبشی ته لاړشی، هلته داسی یوباچا واکمن دی چی پرچا باندی ظلم کیدلوته اجازه نه ورکوی، هلته خوا خوږی موجوده ده تاسی ترهغه پوری هلته واوسئ چی الله (ج) ستاسی ددغه کړاؤ دفع کولو لپاره څه لاره برابره کړی له دغی اجازی نه وروسته یوولس نارینه اوڅلور ښځی په همدی کال کښی اواتیا نارینه اتلس ښځی دبعثت په شپږم کال کښی حبشی ته مهاجر شول اوهلته یی سوکاله ژوند پیل کړ. دمکی مشرکان چی کله خبر شول چی مسلمانان په حبشه کښی ارام ژوند تیروی نویوه شیطانی دسیسه یې غوټه کړه چی خپل استازی دحبشی باچا نجاشی ته ولیږی ترڅو چی په مهاجرینو باندی په دار الهجرت کښی ژوند تریخ شی اوله هغه ځایه راوتلوته یی مجبور کړی. ددی کار لپاره یی عمرو بن العاص او عبد الله بن ابی ربیعه له ډیرو قیمتی سوغاتونو سره ولیږل. دمشرکانو هیئت باچاته خپل پیشنهاد وړاندی کړ وییی ویل چی: زموږ ناپوهو اوغولیدلو خلګو خپل پلرنی دین اووطن پری ایښی دی دلته راغلی دی اودلته یی ستاسی دین هم ندی منلی خپل یو نوی دین یی ایجاد کړیدی دهمغه پابندی اوپیروی کوی، زموږ عرض دادی چی دغه خلګ بیرته مکی ته وشړه، دباچا درباریانو چی پدی معامله کښی یی رشوتونه خوړلی وو هغوی هم دمکی هیئت خبره تائیدکړه اوویی ویل چی دغه مهاجر خلګ دی مجبور کړای شی چی بیرته خپل وطن ته ولاړ شی.

نجاشی که څه هم تردغه وخته په اسلام نه ؤ مشرف شوی خویو خواخوږی اوعدل خوښوونکی انسان ؤ دمشرکانو دوفد په جواب کی یی وویل: څنګه کیدای شی چه زه بی له څه پوښتنی کولو څخه دغه مجبور خلك چی خپل وطن یی پری ایښی دی اودلته یی پناه راوړیده له خپل وطن نه وباسم. نجاشی مهاجرین راوغوښتل دقریشو وفد اومهاجرین یوځای دباچا دربارته ورغلل دقریشو هیئت دباچا په وړاندی سجده وکړه اومهاجرین بی له سجدی نه داخل شول باچا لومړی داپوښتنه وکړه چی تاسی ولی زما په وړاندی دتعظیم سجده ونکړه او بیایی وویل چی تاسی ولی دخپل قوم دین پری ایښی بل کوم دین مو

هم ندی غوره کړی اونوی دین مو ایجاد کړیدی؟

له مهاجرینو نه یوتن وړاندی شو ویی ویل: موږ یوازی دالله په وړاندی دسجدی لپاره سرونه ټیټوو له هغه نه پرته بل هیچاته سجده نکوو دویمه خبره داچی موږ دجاهلیت په دورکښی دیوه خدای پرځای دبتانوعبادت کوی مرداری مو خوړلی دفحاشا چاری مو سرته رسولی زموږ زورورو به دکمزورو غوښی خوړلی او دګمراهی په تیاره کښی مو ژوند تیروه بالاخره الله (ج) زموږ په حال باندی رحم وکړ، خپل پیغمبر (ص) یی راولیږی چی هغه موږ ته دیوه خدای دعبادت اوبندګی صدق او امانتداری، له خپلوانو او ګاونډیانو سره دښه سلوك امر کوی.

له وینو تویولو حرامو کارونو، دبی حیائی له چارو، دروغ اوبهتان ویلو څخه مومنع کوی، موږپه هغه باندی ایمان راوړیدی، په همدی خبره موږ ددغو ظالمانوله ظلمونو څخه تنګ شولو اودلته موپناه راوړه لتا څخه زموږ هیله دا ده چی دلته په موږ باندی ظلم ونشی.

دمهاجرینو دمشر له وینانه وروسته نجاشی هغه ته وویل ایا دهغه کلام څه برخه راته اورولی شئ چی الله (ج) ستاسی په پیغمبر باندی نازل کړیدی؟

جواب یی ورکړ هو: بیایی دسوره مریم څو ایتونه ورته ولوستل. باچا او دهغه مذهبی پیشوایانو ورته وژړل او ویی ویل: په خدای قسم، دغه کلام او هغه کلام چی حضرت موسی (ع) راوړی ؤ دواړه له یوی سرچینی څخه راغلی دی، همدارنګه نجاشی دحضرت عیسی (ع) په هکله دمهاجرینو دمشر ددی وینا داوریدو څخه وروسته چی هغه صرف دالله (ج) رسول او بنده ؤ له ځمکی نه یوځلی راپورته کړ ویی ویل: په خدای قسم، دحضرت عیسی (ع) په باب چی تاڅه وویل هغه ددی خلی په اندازه هم له دی نه هاخوا دیخوا بل څه نه ؤ بیا وروسته یی دقریشو استازو ته وویل چی بیرته ولاړ شئ، دا هیڅکله نشی کیدای چی زه دغه خلګ تاسی ته وسپارم اوله خپل وطن څخه یی وباسم.

دمهاجرینو مشر دغه پنځه ویشت **۲۵** کلن زلمی چی په خپله جذابه وینا اوقوی استدلال سره یی دحبشی دواکمن زړه ویلی کړ او دخپلو مسلمانو

ورونږو لپاره يې هلته دامن او اطمينان استوګنځی برابر کړ دحضرت رسول اکرم (ص) دتره زوی او دعلی (رض) مشر ورور حضرت جعفر بن ابی طالب ؤ.

حضرت جعفر (رض) له خپلو مسلمانو ورونږو سره تقريبا (۱۳) کاله په حبشه کښې پاتې شو او دخيبر دغزا په وخت کښې مدينې منورې ته راستون شو له هغه وروسته غزاګانو کښې يې مسلسل برخه واخيستله دمؤته په جنګ کښې چې رسول اکرم (ص) درې زره کسيز لښکر دحضرت زيد بن حارثه (رض) ترقيادت لاندې وليږه پدې لښکرکښې حضرت جعفر (رض) هم شامل ؤ دلښکر رخصتولو په وخت کښې رسول کريم (ص) وفرمايل؟ که په جنګ کښې زيد شهيد سو نوجعفر به دلښکر امير شي اوکه هغه هم شهيد شو نوعبد الله بن رواحه انصاري به دلښکر قيادت په غاړه واخلي. له دې خوا دمجاهدينو درې زره لښکر اوها خواته دعيسائی عربو اوروميانو دمجهز لښکر شمير سل زره تنو ته رسيده.

دمؤته په ميدان کښې دحق او باطل لښکرو جګړه پيل کړه، داسلامې لښکر اميرحضرت زيد بن حارثه (رض) په پوره ميړانه وجنګيده اوپه پای کښې يې دشهادت جام نوش کړ، له هغه وروسته دجهاد بيرغ حضرت جعفر (رض) راپورته کړ، ددښمن په صفونو کښې ديو غښتلی سپاهی په حيثيت ورننوت او پدې مفهوم اشعار يې وويل: جنت څومره ښه اوښکلی دی هغه ته نژدې کيدل څومره خوند کوی. دهغه اوبه ډيرې يخې دی، روميان هغه خلګ دی چې دعذاب نيته يې نژدې شويده دوی کافران دی نبيره يې ورکيدونکی ده- پرما باندې دا فرض ده چې ورسره مخامخ شم ګوزارورباندې وکړم.

پرحضرت جعفر باندې له هرلورې دغشو، تورو او نيزو باران ؤ ټول بدن يې زخمي زخمي ؤ خوله دې سره سره به چې دښمن ورته نژدې کيده هغه به يې په يوګوزار راپرځوی او دجهنم کندې ته به يې ليږی، په پای کښې دښمن دهغه يولاس غوڅ کړ، هغه سمدلاسه بيرغ په بل لاس کښې ونيوه بل لاس يې هم ورنه غوڅ کړ.

هغه بيرغ په خپلو شوټو لاسونو په سينې پورې ټينګ ونيوه په همدې

حالت کښې يې په سينه باندې ددښمن دنيزې ګوزار وخوړ او پداسې حال کښې چې په بدن کښې يې نوى ۹۰ زخمونه وه پرځمکه راولويدى او شهيد شو. له هغه وروسته عبدالله بن رواحه (رض) دلښکر قيادت په غاړه واخيست خوهغه هم دشهادت جام نوش کړ. هلته رسول کريم (ص) دصحابه ؤ په مينځ کښې په مدينه منوره کښې ناست ؤ په ناڅاپې ډول يې وفرمايل: زيد (رض) بيرغ واخيست شهيد شو، جعفر (رض) بيرغ په لاس کښې ونيوه شهيد شو، عبدالله بن رواحه بيرغ راپورته کړ هغه هم شهيد شو اوس دخداى له تورو نه يوى تورى يعنې حضرت خالد بيرغ واخيست اوهغه فاتح شو. دالله رسول دا وينا پداسې حال کښې کوله چې له مبارکو سترګونه يې اوښکې بهيدلې. بيا دحضرت جعفر (رض) کورته ورغى اودهغه ماشومان يې په غيږ کښې ونيول اوورته ويې ژړل، کله چې دجعفر (رض) ميرمن حضرت اسماء (رضى الله عنها) پوښتنه وکړه نونبې کريم (ص) ورته دجعفر (رض) دشهادت خبرواوروه دحضرت جعفر (رض) له شهادت نه وروسته يوه ورځ رسول الله (ص) صحابه ؤ ته وفرمايل چې:

جبرئيل ماته خبر راکړيدى چې الله (ج) جعفر ته دهغه دلاسونو په عوض وزرونه ورکړيدى اوپه جنت کښې پروازونه کوى. (رضى الله عنه)

## حضرت جابر بن عبد الله انصارى رضي الله عنهما

حضرت جابر (رض) دخزرج دقبيلې دبنو سلمه له کورنۍ څخه ؤ له نبوى هجرت نه تقريبا نولس کاله مخکښې زيږيدلى او دبعثت په ديارلسم کال دبيعت عقبه ثانيه په وخت کښې له خپل پلار عبدالله بن عمروبن حرام بن کعب سره يوځاى په اسلام مشرف شوى ؤ، دحضرت جابر پلار عبد الله بن عمرو (رض) داُحُد په تاريخى غزا کښې خپله ګرمه وينه دخپل خالق دربار ته نذرانه کړه او دشهادت جام يې نوش کړ.

سخت زړيو مشرکانو دهغه جسد مثله کړ يعنى غوږونه، پوزه اوشونډې يې ورنه غوڅې کړې، دجګړې له ختميدو وروسته صحابه ؤ دهغه پرمخ څادر وغوړاوه، حضرت جابر (رض) چې کله دخپل پلار له مخ نه څادر پورته کړ او د

هغه حالت یی ولیده سخت یی وژړل، رسول اکرم (ص) ورته وفرمایل: (تاسی وژاړی اوکه ونه ژاړی، پرښتو خپل وزرونه پر عبد الله باندی سیوری کړیدی).

په جامع ترمذی کښی راغلی دی چی داُحُد له غزانه وروسته حضرت جابر (رض) ډیر زیات غمجن ؤ پیغمبر (ص) دهغه دحالت په لیدلو ورځخه پوښتنه وکړه جابره! ولی دومره خپه یی؟

جابر (رض) عرض وکړه (یارسول الله! پلار می شهید شو، ډیر قرضونه او ګڼ شمیرکورنۍ یی راپاتی ده چی ډیرزیات می ځوروی) پیغمبر (ص) وفرمایل: (الله (ج) ستا له پلار سره دهغه له شهادته وروسته بی له حجابه اوبی واسطی خبری وکړی پداسی حال کښی چی الله (ج) له هیچا سره بی حجابه خبری نکوی، هغه یی خپل حضورته وغوښت ویی فرمایل: ای زما بنده! څه چی غواړی ووایه. هغه عرض وکړ: ای پروردګاره! ما بیا دنیاته ولیږه چی ستا له دښمنانو سره وجنګیږم اوبیا شهید شم الله (ج) وفرمایل: دازما قاطع فیصله ده څوك چی له دنیا نه راشی هغه بیرته نه لیږل کیږی، عبدالله عرض وکړ: الهی! زما پسماندګان زما له حال نه خبر کړه. له هغه وروسته دامبارك ایت نازل شو: (کوم کسان چی دالله په لار کښی ووژل شی هغوته مړه مه وایاست بلکی هغوی ژوندی دی. درسول اکرم (ص) ددی مبارکی وینا په اوریدو سره حضرت جابر (رض) داسی محسوسه کړه لکه چی په زخم باندی یی دملهم پټی ایښودل شوی وی.

څو ورځی وروسته رسول الله (ص) دحضرت جابر یوباغ ته سهار مهال لاړ، هلته دخرماؤ پررشه باندی کښېنستی، حضرت جابر (رض) ته یی وفرمایل: خپل قرض داران را وغواړه او په هغو باندی دخرماؤ دحاصلاتو ویش شروع کړه. هغه قرض داران را وغوښتل دخرما ویش یی پیل کړ، او پیغمبر ﷺ دعا وکړه الله (ج) په خرماؤ کښی دومره برکت واچوه چی دټول قرض له ادا کیدونه وروسته هم پاته سی، دقرض له اداء کولو څخه وروسته زیاته اندازه خرماوی وسپمیدی. پدی ترتیب حضرت جابر (رض) دقرض له بار نه خلاص او خورا زیات خوشاله شو. په صحیح بخاری کښی دغه واقعه دپیغمبر (ص) په معجزو

کښې شمیرل شویده.

دخرماؤ له ویش نه په فارغیدو سره حضرت جابر (رض) پیغمبر (ص) له ځانه سره خپل کورته بوتلی خپلی میرمنی ته یی زیری ورکړ چی نن زموږ په فقیر خانه کښې ددواړو جهانو سردار میلمه دی، هغه هم ډیره خوشاله شوه. دوزی بچی یی حلال کړی دهغه غوښه، یوڅه خرماوی او اوبه وړاندی کړی. رسول اکرم (ص) چی له خوراك نه وزګار شو او روانیدی نودکور میرمن عرض وکړ یارسول الله! مور اوپلار می درنه ځار شه، زما پرمیړه اوما باندی درود ووایه: رسول کریم (ص) وفرمایل: (الله دی پرتا اوستا پرمیړه خپل رحمت نازل کړی).

حضرت جابر (رض) په (۱۹) غزاګانو کښې درسول اکرم (ص) سره ملګری ؤ په ځینو غزاګانو کښې په هغه پوری مربوطی ځینی خاصی پیښی مینځ ته راغلی دی لکه دهجرت په پنځم کال داحزاب په غزا کښې چی دکفارو تقریبا (۱۲) زره کسیز لښکر مدینه منوره محاصره کړی وه اومسلمانانو ګرد چاپیره یوژور خندق کیندلی ؤ او ددښمنانو مخه یی نیولی وه.

په صحیح مسلم او دحدیثو په ځینو نورو کتابونو کښې پخپله دحضرت جابر رض روایت نقل شویدی چی دهغه په یوه برخه کښې وایی: (موږ دری ورځی دخندق په کیندلو مصروف وو پدی موده کښې زموږ له ستونی څخه غذا نه وه کښته شوی موږ په خیټو پوری دلوږی له شدت نه تیږی تړلی وی اوحتی دالله ( ج) رسول (ص) په خیټی پوری یوه تیږه تړلی وه ددی حالت په لیدو می زړه وځوریده، دپیغمبر (ص) په اجازه کورته ولاړم، خپلی میرمنی ته می وویل:

نن ما سرور عالم (ص) پداسی حال کښې لیدلی دی چی حوصله می تنګه شویده، ایا په کورکی دخوراك څه شته؟

هغه وویل: لږ څه اوربشی او دوزی یومرغومی شته، ما مرغومی ذبح کړ، په دیګ کښې می واچوه اوزما میرمن اوربشی میچن کړی اوړه یی لامده کړل. دپیغمبر (ص) حضورته ورغلم او دډوډۍ دعوت می ورکړ هغه مهاجرینو او انصارو ته غږ وکړ چی: (ای دخندق خلګو: نن جابر ستاسی لپاره ډوډۍ تیاره

کړيده، تاسی ځانونه تيار کړی، ددی اعلان څخه وروسته رسول الله ﷺ ماته وفرمايل: چی ترڅو موږ نه يو راغلی نه به کتغ له ديگ نه باسی اونه به ډوډی له تنور څخه، زه چی کورته ولاړم ډير وار خطا شوم چی خدايه: دا لږ خواړه به دومره لوی لښکرته څنګه رسيږی؟

پيغمبر (ص) له صحابه ؤ سره تشريف راؤړی، پخپله يی ډوډئ ميده کوله اوپخپله يی کتغ ورباندی اچوه اوخلګو خوړله، ټول ماړه شول خواړه لا نور هم پاتی وو بيايی وفرمايل: تاسی يی هم وخوری اونورو خلګو ته يی هم وليږی ځکه چی خلګ دلوږی په تکليف اخته دی. دصحيح بخاری درروايت له مخی دډوډی خوړونکو شمېر دزرو تنو په خوا اوشا کښی ؤ چی داهم دپيغمبر ( ص) له معجزو څخه شميرل کيږی.

حضرت جابر (رض) سربيره پردی چی دجهاد دميدان يوغښتلی اوتکړه سپاهی ؤ دقرآن اوحديث لوی عالم هم ؤ اودهغو صحابه ؤ په کتار کښی ؤ چی اساطين امت ورته ويل شويدی.

له حضرت جابر (رض) څخه يوزر پنځه سوه څلويښت ۱۵۴۰ حديثونه روايت شويدی. په تاريخ الصغير کښی امام بخاری (رح) ليکلی دی چی هغه دقصاص په باره کښی په يوحديث پسی پراوښ باندی شام ته سفر وکړ اوهغه يی له عبد الله بن انيس (رض) څخه واوريده اوبيرته راستون شو. طبرانی په الاوسط کښی راوړيدی چی هغه يوځل ديوحديث لپاره مصرته هم سفر کړی ؤ. صحيح بخاری دهغه په روايت يوحديث رانقل کړيدی چی: (په حديبيه کښی خلګ تږی شول، له پيغمبر (ص) سره يوه وړه غوندی کوزه وه، اودس يی کاوه، دخلګو دتشويش په ليدلو يی پوښتنه وکړه، څه خبره ده؟

هغوی جواب ورکړ: چی دڅښلو او اوداسه لپاره اوبه نشته، رسول کريم (ص) دکوزی په خوله کښی ګوتی کيښودلی اوبه دهغه له مبارکو ګوتونه را توئيدلی موږهم وڅښلی اوهم مو اودس ورباندی وکړ، پدی وخت کښی موږ يونيم زرکسان وو.

جليل القدر صحابی حضرت جابربن عبدالله بن عمرو چی خپل ټول عمريی

دخدای دلاری په جهاد اودقرآن اوحدیث په زده کړه اوتدریس کښې تیر کړ د (۹۴) کلنی په منځ کښې وفات اوپه جنت البقیع کښې خاروته وسپارل شو. (رضی الله عنه)

## حضرت جریر بن عبد الله البجلی رضی الله عنه

حضرت جریر بن عبدالله بجیله قبیلی ته منسوب ؤ دا قبیله دعربوپه بیلا بیلو سیمو کښې خوره وره پرته وه حضرت جریر دخپلی قبیلی دهغی برخی چی په یمن کښې وه نه یوازی داچی دی مشر ؤ بلکی دده نیکونو په یمن کښې باچاهی هم کړی وه.

له بده مرغه حضرت جریر بن عبدالله البجلی (رض) ډیر ناوخته په اسلام مشرف شو یعنی هغه وخت چی دمکی فتحه اودحنین غزاګانی هم تیری شوی وی اودا داسی زمانه وه چی (اذا جاء نصر الله والفتح ورأیت الناس یدخلون فی دین الله افواجا) انځور په عمل کښې پلی شوی ؤ اوخلګ ډلی ډلی له هر لوری نه راتلل او داسلام تر ژوند بخښونکی بیرغ لاندی دریدل ځینی داسلام راوړلو لپاره ځینی داسلام داحکامو دزده کړی لپاره اوځینی دسولی دلوظنامی لاسلیك کولو لپاره.

دلسم هجری کال درمضان په میاشت کښې یوه ورځ مدینی منوری ته یو باوقاره اوشانداره هیئت راغی چی دهیئت دټولو غړو پرتن باندی یمنی ښکلی لباسونه وو اویو ښایسته ځوان ددی هیئت قیادت کوی پیغمبر (ص) ددی هیئت په لیدلو ډیر زیات خوښ شو حتی چی دهیئت مشرته یی خپل مبارك ځادر وغوړوه او بیایی صحابه ؤ کراموته وفرمایل:

(کله چی تاسی ته دیو قوم معزز سړی راشی دهغه درناوی وکړی). له دی وینا وروسته یی دهیئت له مشر ځخه پوښتنه وکړه دڅه لپاره دلته راغلی یاست؟ هغه عرض وکړ: (داسلام راوړلو لپاره. ددی جواب په اوریدلو درسول الله (ص) په مبارکه څیره کښې دخوښی نښی ولیدل شوی اوویی فرمایل:

ډیره ښه ده، نوتاسی به پدی خبرو کښې له ما سره بیعت کوی چی له الله (ج) نه پرته بل معبود نشته اوزه دالله رسول یم، لمونځونه چی درباندی فرض

کړای شویدی دهغو دادا کولو پایبند اوسی، تاکل شوی زکات به پوره اوپه خپل وخت ورکوی، تل دمسلمانانو خیر غوښتونکی او خواخوږی اوسی ځکه څوك چې په چا باندی رحم نکوی الله پر هغه باندی رحم نکوی.

دخپل امیر اطاعت کوی که څه هم هغه حبشی غلام وی هم. دهیئت مشر حضرت جریر بن عبد الله البجلی (رض) سم دلاسه عرض وکړ: (یارسول الله! زه پدی ټولو خبرو باندی اقرار کوم اودزړه له کومی یی منم، راکړه مبارك لاس دی پیغمبر (ص) دموسکا په حال کښی له هغه نه بیعت واخیست او ورپسی دهیئت نورو غړوهم دتوحید کلمه وویله او دحق دشمعی دپتنګانو په ردیف کښی یی ځای ونیوه اوپه هغو هستیو کښی حساب شول چې الله (ج) دهغوی په باب فرمائیلی دی: (رضی الله عنهم ورضوا عنه) یعنی الله له هغونه راضی شو اوهغوی له الله نه راضی شول. دا وخت درسالت ددور داسی فرصت ؤ چې اسلامی غزاګانی تیری شوی وی خوبیاهم حضرت جریر (رض) دحجة الوداع په سفر کښی له رسول الله (ص) سره ملګری شو او ددی ترڅنګ ابن سعد پخپل طبقات کښی لیکلی دی چې حضرت جریر بن عبدالله (رض) چې کله درسول الله (ص) په مبارك لاس دایمان اوسر ښندنی بیعت وکړ نو پیغمبر (ص) ورڅخه پوښتنه وکړه: (جریره! ستا له قوم څخه چې کومو کسانو اسلام ومانه اوبت پرستی یی پریښودله، هغوی له خپلو بتانو سره څه وکړل؟ جریر (رض) جواب ورکړ: (یا رسول الله: الله (ج) اسلام ته برلاسی په نصیب کړه، په جوماتونو او بیدیاؤ کښی دتوحید نعره (اذان) پورته شو اوخلګو خپل بتان مات کړل.

پیغمبر (ص) پوښتنه وکړه: (ستاسی بت خانه ذی الخلصه څنګه شوه ؟

جریر (رض) عرض وکړ: (یا رسول الله! هغه لا تراوسه پوری شته، کله چې موږ بیرته ستانه شو نو هغه به ونړوو) پیغمبر (ص) وفرمایل:

هو! چې ورشئ هغه ورانه کړی اوماته خبر راکړی حضرت جریر (رض) له خپل هیئت سره پاڅیده اوپخپلی وظیفی پسی روان شو، څو ورځی وروسته بیرته دسرور کائنات (ص) حضور ته راغی اوعرض یی وکړ: یارسول الله موږ ولاړو اوذی الخلصه ته مواور واچوه اوایری موکړه، هیڅا داجرئت ونسو کړای

چې زموږ په مخ کښې ودريږئ). پيغمبر (ص) ددې رپوټ په اوريدو ډير زيات خوښ شو او دحضرت جرير (رض) او دهغه ملګرو لپاره يې دحشر دعا وکړه.

پدې ترتيب دشرك هغه مرکز له مينځه لاړ چې دهغه ځاى خلګو ورته ديمامه کعبې لقب ورکړى ؤ.

حضرت جرير بن عبدالله البجلي (رض) ته ددواړو جهانو دسردار محمد رسول الله (ﷺ) زياته ملګرتيا په برخه نشوه، دپيغمبر (ص) له رحلت نه درې ورځې وروسته يې ديمن له يواوسيدونکې نه چې عمرو نوميده داخبرواوريده، ډير زيات خپه شو اوسمدلاسه دمدينې په لور روان شو، په لاره کښې يوه ډله سپاره چې دمدينې لخوا راروان وو په مخه ورغلل، هغوى هم دسرور کائنات (ص) درحلت خبر تصديق کړ او ورسره داچې حضرت ابوبکر صديق (رض) دمسلمانانو خليفه وټاکل شو نو يې پوره باور راغى چې دده محبوب له دې فانې دنيانه داخرت په لور سفر کړيدى له دې امله دغمونو غرونه پر راپريوتل او دا ودانه دنيا وربانده ورانه شوه.

دحضرت ابوبکر صديق (رض) دخلافت په دور کښې چې کله مسلمانانو شام اوعراق ته لښکرى وخوځولې حضرت جرير (رض) پيشنهاد وکړ چې دبنو بجيده خورې ورې قبيلې دې يوځاى کړاى سى اوماته دې دهغوى مشرتوب را وسپارل شي ترڅو چې زه ديولوى لښکر سره داسلام په خدمت کښې حاضرشم. دمسلمانانو خليفه داخبره معطله کړه اوهغه بيرته يمن ته ولاړ خودعمر فاروق (رض) دخلافت په دور کښې دخليفه دفرمان له مخې داکار سرته ورسيد، دبنو بجيله ټولې پلرګنې يوځاى کړاى شوې او حضرت جرير بن عبدالله بجلي (رض) دهغوى عمومي امير وټاکل شو چې ديو لوى لښکر دقائد په حيث يې دايران او عراق په جنګونو کښې په پوره ميړانه برخه واخيستله اوبې شميره فتوحات ورپه برخه شول.

ګواکې دحضرت فاروق اعظم (رض) دخلافت په دور کښې چې ځومره معرکې مينځ ته راغلې حضرت جرير بن عبد الله په هغو ټولو کښې دجهاد دميدان يوقهرمان سپاهي ؤ يوازې سپاهي نه بلکه دبنوبجيله دګڼ شمير قبيلو

قوماندانی یې کوله دحضرت عمر (رض) له شهادت نه وروسته دمسلمانانو دریم خلیفه حضرت عثمان ذوالنورین (رض) دحضرت جریر بن عبدالله جهادی خدمتونه وستایل او هغه یی دایران دهمدان دوالی په توګه وټاکه چی خپلی ورسپارل شوی وظیفی یی په پوره تدبیر سرته ورسولی اوعملاً یی ثابته کړه چی که له یوی خوا دجهاد دمیدان یوغښتلی قوماندان ؤ ورسره دسیاست په میدان کښی هم یومدبر اداره چی اوځیرك فرمانروان هم ؤ.

دحضرت عثمان (رض) له شهادت نه وروسته حضرت جریر (رض) دڅلورم خلیفه حضرت علی کرم الله وجهه سره هم خپله وفاداری څرګنده کړه اودهغه په لاس یی بیعت وکړ.

حضرت جریر (رض) ته لږفرصت میسر شوی ؤ چی له نبوی صحبتونو څخه استفاده وکړی خو بیاهم له هغه څخه سل حدیثونه روایت شویدی. حضرت جریر (رض) پرپیغمبر (ص) خلفاءِ راشدینو او نورو صحابه ؤ کرامو باندی له حده زیات ګران ؤ او ټولو ورته دخاص احترام په سترګه کتل.

له حضرت جریر (رض) نه روایت دی چی یوځل زه مدینی منوری ته ورغلم اوپداسی حال کښی نبوی مسجدته داخل شوم چی پیغمبر (ص) خطبه اوروله ما سلام واچوه کښیناستم، خلګوپه مینه مینه زما خواته وکتل، مادخپل څنګ له سړی نه پوښتنه وکړه: ایا رسول الله (ص) زه یادولم؟

وییی ویل هو: رسول الله (ص) همدا اوس وفرمایل:

لږ شیبه وروسته به له دغی دروازی یا کړکۍ نه دلته دیمن بهترین سړی راشی. (رضی الله عنه)

## حضرت حمزه بن عبد المطلب رضي الله عنه

حضرت حمزه (رض) بن عبد المطلب درسول اکرم (ص) تره دترور زوی او رضاعی ورور ؤ پدی معناچی له یوی خوا عبدالله بن عبد المطلب اوحضرت حمزه علاتی وروڼه وه له بلی خوا حضرت آمنه او دحضرت حمزه مور هاله سکه دتره لونی وی اودریم داچی دابی لهب وینزی ثویبه (رضی الله عنها) دواړو ته تی ورکړی ؤ پدغو دریونسبتونو سربیره دمور له وفات نه وروسته رسول کریم

(ص) دخپل نیکه عبد المطلب تر مستقیمی پالنی لاندی ؤ نو حضرت حمزه (رض) دهغه دهلکتوب ملګری هم ؤ خوحضرت حمزه له رسول اکرم (ص) نه دوه ۲ کاله مشر ؤ.

په غشی ویشتلو، توره زنی، نیزه بازی اوپهلوانی کښی یی خاص مهارت اوشهرت درلود اوزیاتره ورځنی شغل یی ښکار کول ؤ له بعثت نه وروسته دهمدی شغل لامله تقریباً ترشپږو کلونو پوری حضرت حمزه داسلام دعوت ته پاملرنه ونه کړه ترڅو چی یوه ورځ یوی پیښی دهغه په فکر اوژوندنی مسیر کښی انقلاب راؤست هغه داسی چی دبعثت په شپږم کال رسول اکرم (ص) له دار ارقم نه راووت دصفا غونډۍ ترڅنګ تیریده ابوجهل ورسره مخامخ شو، بی له څه مقدمی اوتمهیدنه یی رسول کریم (ص) اوحق دین ته بدی ردی وویلی سرور کائنات (ص) چی دهغه جواب په سکوت سره ورکړ نو هغه ته لا زیاته غوسه ورغله او وار اوګوزار یی ورباندی وکړ دعبد الله بن جدعان وینزه ددی ماجراشاهده وه چی په ناڅاپی ډول حضرت حمزه (رض) له ښکارنه په راستنیدو کښی دابو قبیس له غره نه راکوز شو. هغی ورباندی رږغ وکړ:

ابوعماره! کاشکی لږڅه مخکښی دلته وای چی لیدلی دی وای عمرو بن هشام یعنی ابوجهل ستا له وراره سره څه بدسلوك اوناوړه برخورد وکړ اوهغه دبیوسی په حالت کښی په پټه خوله ورڅخه روان شو.

دغی خبری دحضرت حمزه (رض) احساس راولړزوه له غوسی نه ډك حرم ته ورغی هلته ابو جهل دقریشو دمشرکانو په غونډه کښی په خبرو بوخت ؤ حضرت حمزه (رض) دهغه پرسر دغشی ګوزار وکړ چی سر یی زخمی شو او وینی ورڅخه وبهیدلی او دګوزار سره یی داهم ورته وویل چی ایا تاسی زما وراره بیکسه ګڼلی دی؟

زما دین هم همغه دی کوم چی محمد (ص) راوړیدی. ابوجهل له دی ویری چی دبنو مخزوم اوبنو هاشم ترمینځ قبیلوی جنګ پیښ نشی هیڅ ونه ویل خو حضرت حمزه (رض) چی کله کورته راغی داسلام دمنلو اونه منلو ترمینځ متردد ؤ ترڅو یی چی الله (ج) داسلام دقبول لپاره سینه پرانسته او دنبی کریم (ص)

حضورته ورغی اوپه اسلام مشرف شو. له اسلام راوړلو نه وروسته حضرت حمزه (رض) خپل زیاتره وخت په دار ارقم کښې درسول اکرم ( ص) په خدمت کښې تیروی اوله نبوی فیض څخه یې استفاده کوله او دیو غښتلی اوباعزمه مسلمان په حیث یې دټولو هغو سختیو اوکړاوونو سره سره چې دخدای ﷻ ددښمنانو لخوا متوجه وو دالله درسول (ص) حمایت اوملاتړ یې کوی. په شعب ابی طالب کښې دبنو هاشم ددری کلنی محاصری په دوران کښې حضرت حمزه (رض) هم درسول الله (ص) په ملګرتیا کښې دمحاصری مصیبتونه وزغمل. کله چې مسلمانانو ته دهجرت اجازه وشوه درسول الله (ص) له هجرت نه څه موده مخکښې حضرت حمزه (رض) هم له یوشمیر مسلمانانو سره مدینی ته مهاجر شو.

له نبوی هجرت نه وروسته چې دجهاد سلسله شروع شوه حضرت حمزه (رض) بیا دجهاد دمیدان یوغښتلی او اتل سپاهی ؤ علامه ابن سعد وایی چې په اسلام کښې دجهاد لومړی بیرغ حضرت حمزه (رض) ته ورکړل شویدی دهجرت دلومړی کال درمضان په میاشت کښې چې کوم ګوریلا (چریکی) ټولګۍ دقریشو دکاروان دمخنیوی لپاره ساحلی سیمی ته ولیږل شوه دهغه قوماندان حضرت حمزه (رض) ؤ اوپه تاریخ کښې دسریه حمزه نوم ورکړل شویدی. ددویم هجری کال دصفری په میاشت کښې چې دابواء غزوی ته کم اویا کسیزه ګوریلا ټولګۍ ولاړه دهغه قآئد هم حضرت حمزه (رض) ؤ.

دهمدی کال دجمادی الاخر په میاشت کښې دذو العشیره غزوه مینځ ته راغله په هغی کښې هم دمجاهدینو دیو نیم سل کسیز ټولګۍ دعلمبرداری سعادت حضرت حمزه (رض) ته په برخه شو.

ددویم هجری کال درمضان په میاشت کښې دبدر لویه غزا مینځ ته راغله حضرت حمزه (رض) په هغی کښې په ډیره ګرمه ولوله او توده جذبه برخه واخیستله پدی جنګ کښې دحضرت حمزه (رض) په لاس دمشرکانو نامتو جنګیالی لکه شیبه بن ربیعه اوطعیمه بن عدی دجهنم کندی ته ولیږل شول، دا ورځ دحضرت حمزه (رض) دمیړانی اوپهلوانی څرګندولو ورځ وه پخپلو دواړو

لاسونو یی توره چلوله اوڅنګه به چی دخدای ﷻ ددښمنانو په صفونو کښی ورګډېدی دهغوی صفونه به یی تارمار کول. ددویم هجری کال دشوال په میاشت کښی دبنو قینقاع غزا پیښه شوه چی یوی خواته دحق پلویان او بلی خواته دمکارو یهودو لښکر ؤ، ابن سعد او ابن هشام وائی چی پدی غزا کښی هم دمجاهدینو بیرغ رسول اکرم (ص) حضرت حمزه (رض) ته سپارلی ؤ. ددریم هجری کال دشوال په میاشت کښی دأحد تاریخی جګړه برپا شوه، هند بنت عتبه لا دمخه پتېیلی وه چی له حضرت حمزه (رض) نه دبدر په جګړه کښی دخپل پلار، تره ورور اوزوی انتقام واخلی همدارنګه جبیر بن مطعم دخپل تره طعیمه بن عدی دقصاص لپاره خپل غلام وحشی بن حرب پدی مامور کړی ؤ چی حضرت حمزه (رض) ووژنی هند بنت عتبه هم هغه ته ددی کار په بدل کښی ډدیر زیات انعام وعده ورکړی وه حضرت حمزه (رض) غټ غټ کافران یوپه بل پسی راپرځول وحشی چی دهغه لپاره په کمین کښی ناست ؤ موقع ومیندله او دنامه په غوټه کښی یی په نیزه وواهه چی له ملا څخه یی ووتله او خپل پاك روح یی خپل خدای ته نذرانه کړ.

مشرکان دحضرت حمزه (رض) په شهادت باندی له حده زیات خوشاله شول په تیره بیا هند بنت عتبه خو دهغه اندامونه هم غوڅ کړل.

دجنګ له پای ته رسیدونه وروسته چی کله دخدای حبیب (ص) دشهیدانو جسدونه کتل دحضرت حمزه رضي الله عنه په مثله شوی جسد باندی یی سترګی ولګیدی هغه ته په خطاب یی وفرمایل: الله دی پر تاباندی رحم وکړی تادخپلو خپلوانو درناوی کوی او دنیکی په چارو کښی دی مسابقه کوله که ستا دخور صفیه (رض) دخپګان اندیښنه راسره نه وای نو مابه ستا جسد پری ایښی وای چی درندګانو اومرغانو خوړلی وای اوته دقیامت په ورځ دهغوی له ګیډو نه راتلی وای په همدی وخت کښی یی داهم وفرمایل چی: جبرئیل (ع) ماته زیری راکړی دی چی دحمزه نوم په اوو اسمانونو کښی اسد الله اواسد الرسول لیکل شویدی په ځینو روایتونو کښی راغلی دی چی پیغمبر (ص) هغه ته پدی وخت کښی داسد الله او سید الشهداء لقب ورکړ. دأحد داویا تنو شهیدانو په مینځ

کښې يوازې حضرت حمزه (رض) داسې ؤ چې اويا ځله دالله رسول ورباندې دجنازې لمونځ ادا کړ دهغه دتکفين لپاره يو لنډ تنګ څادر ؤ چې پر سر يې ورواچوه اوپه پښويې دسرګړې واښه ورواچول او همالته دأحد په ميدان کښې دفن کړای شو. (رضی الله عنه)

## حضرت حنظله بن ابی عامر رضي الله عنه

حضرت حنظله بن ابی عامر انصاری (رض) دمدينې دمشهورې قبيلې اوس دعمرو بن عوف له کورنۍ څخه ؤ دهغه پلار ابی عامر پخپله قبيله کښې يو مخور سړی دتورات او انجيل عالم او داخر الزمان پيغمبر په بعثت باندې قائل ؤ او په زياترو وختونو کښې به يې دابراهيمي دين دحقانيت او ښيګڼو يادونه کوله دهمدغې مفکورې لرلو لامله يې درهبانيت خواته ميلان پيدا کړ اوګوښه ناسته يې غوره کړې وه او شپه ورځ په رياضت مشغول ؤ او دجاهليت په دور کښې يې دمدينې دخلګو په مينځ کښې ديو مذهبي پيشوا حيثيت ميندلی ؤ لکه څنګه چې دمدينې نورو يهودي عالمانو دمحمدي بعثت نه مخکښې خپل حريفان پدې ويرول چې دا دی په دې نژدې وختونو کښې به وروستی پيغمبر مبعوث اواسمانی کتاب به نازل شي او بيابه تاسې زموږ دمقابلې وس او توان ونلرې ابی عامر به هم خلګو ته د اخر الزمان پيغمبر (ص) دراتلو خبرې کولې خوکله چې دغې پيش ګوئې دعمل جامه واغوسته پر مکه معظمه باندې دفاران دغرونو له څوکونه داسلام دلمر وړانګې خپرې شوې نو ابوعامر دمحمد ﷺ رسالت دتصديق پرځای په ګډو وډو خبرو خوله پرانستله اوبيا کله چې سيد المرسلين (ص) مدينې منورې ته هجرت وکړ هغه له پيغمبر (ص) سره دمخالفت اودښمنې محاذ ونيوه دحسد او بغض په لمبو کښې به سوځيده اوخلګ به يې له پيغمبر (ص) اومسلمانانو سره ناوړه سلوك ته هڅول دابی عامر داجهالت ؤ خودهغه زوی حنظله (رض) چې دخورا نيك فطرت خاوند زلمی ؤ درسول الله (ص) دريښتينو عاشقانو اودحق دشمعې دپتنګانو په صف کښې ودريده اوپه اسلام مشرف شو له سرور کائنات (ص) او اسلام سره دهغه دومره مينه وه چې دخپل پلارپه اسلامي ضد حرکتونو باندې له حده زيات

ځوريده اوددی مبارك حديث دروحيىي په تقاضاچې: ستاسی يوتن به هم ترهغه پوری ريښتونی مؤمن نشی ترڅو چی زه ورته دهغه له خپله ځانه دهغه له مور او پلاره اوله ټولو خلګونه محبوب اوګران ونه اوسم.

يوه ورځ درسول اکرم (ص) حضور ته ورغی عرض يی وکړ: يا رسول الله (ص) که اجازه وی زه به دخپل پلار سر غوڅ کړی راوړم؟

رحمة للعلمين (ص) وفرمايل: نه؟ مورږ له هغه سره ناوړه سلوك نکوو، ابو عامر دهغه حسد اودښمنی لامله چی له اسلام اومسلمانانو سره يی لرله مدينه يی پريښوده مکی ته ولاړی او هلته يی له مشرکانو سره لاس يو کړ او داسلام پرضد فعاليتونو باندی يی لاس پوری کړ او ددی وخت په انتظار کښی ؤ چی دکفارو دلښکر په ډله کښی دمسلمانانو پرخلاف جګړه کښی برخه واخلی او د کفر په لمبو کښی سوځيدونکی زړه يخ کړی ددريم هجری کال دشوال مياشت وه دمکی مشرکانو دبدر په تاريخی غزا کښی دخپلو وژل شويو کسانو دغچ اخيستلو لپاره دری زره کسيز مسلح لښکر تيار کړ اوپر مدينه منوره باندی يی حمله وروړه پدی لښکر کښی ابوعامر هم شامل ؤ.

ها خواته رسول کريم (ص) دمجاهدينو لښکر تيارکړ ددی لښکر دروانيدو په وخت کښی حضرت حنظله په کور کښی پاتی ؤ په بستر کښی ټوله شپه ورباندی خورا نا کراره تيره شوه سهار وختی پداسی حال کښی چی لاغسل يی هم نه ؤ کړی دجنګ وسله يی واخيسته اودأحد خواته روان شو هلته دجګړی ميدان ګرم ؤ دحق او باطل صفونه سره مخامخ وه حضرت حنظله (رض) په ډيره ميړانه دجنګ ميدان ته ور ودانګل په تصادفی ډول دقريشو له نوميالی مشر ابوسفيان سره مخامخ شو هغه پرآس سپور ؤ حضرت حنظله (رض) پخپله توره دهغه دآس پښی غوڅی کړی ترڅو پرځمکه يی رانسکور کړی اوويی وژنی خو مخکښی له دی نه چی پرهغه باندی ګوزار وکړی شداد بن اسود ليثی دشا لخوا پرحضرت حنظله (رض) باندی دتوری سخت ګوزار وکړ چی پرځمکه را پريووت اوخپله ځوانی يی خپل خدای ﷻ ته دقيمتی نذرانی په توګه وړاندی کړه او دشهادت جام يی نوش کړ.

حضرت حنظله (رض) دواده په بستر کښې دبیغمی له خوب نه دأحد په شگو کښې پخپلو وینو کښې لت پت راغورځیدو ته ترجیح ورکړه اوخپله ځوانی یی داسلام له مقدس حریم نه ددفاع په لاره کښې لوگی کړه. هو! هغه به دیو مخلص او وفادار مؤمن په صفت څنگه پخپل کور کښې دعیش اوراحت وخت تیروه پداسی حال کښې چی دالله ﷻ حبیب (ص) او دهغه خواږه ملگری دأحُد دغره په لمن کښې دمعرکی په گرم میدان کښې ولاړ وه. دأحد ورځ ډیره سخته او ویرجنه ورځ وه پدی ورځ اویا ۷۰ تنه مجاهدین شهیدان شوی وه دحضرت حنظله (رض) پلار ابوعامر چی دفاسق په لقب مشهور ؤ درسول الله (ص) په مخکښې یی یوخندق کیندلی ؤ اودهغه سریی په پاڼو او بوټو باندی پوښلی ؤ تصادفاً رسول اکرم (ص) په همغه خندق کښې وغورځیده خوعلی کرم الله وجه لاس ورکړ اودخندق نه یی راپورته کړ داداسی حالت ؤ چی درسول الله (ص) مبارك مخ زخمی ؤ اومبارك غاښ یی شهیدشوی په أحدکښې مسلمانانو ته دتکلیف رسیدلو اوازه په مدینه کښې خپره شوی وه چی له هغه ځایه دمسلمانانو بیبیانی هم راوتلی وی په هغوکښې دسرور کائنات (ص) دزړه ټوټه جنتی بی بی فاطمة الزهراء (رضی الله عنها) هم وه هغه چی کله دجنگ میدان ته راورسیدله اوویی لیدل چی دمهربان پلار رحمة للعلمین ﷺ مبارك مخ په وینو رنگ دی او دوینو داری پر رابهیږی نوپه غاړه کښې ورولویدله او دهغه دمبارك مخ وینی یی دخرما دپوټکو په ایره وروچی کړی. دجگړی په پای کښې چی کله رسول اکرم (ص) دجنگ دمیدان خواته وکتل ویی فرمایل:

حضرت حنظله (رض) ته پرښتی غسل ورکوی حضرت ابوأسید ساعدی (رض) وائی چی زه دپیغمبر (ص) ددی مبارکی وینا په اوریدلو دحضرت حنظله (رض) دجسدخواته ورغلم ومی لیدل چی دحضرت حنظله (رض) دسرله ویښتانو څخه اوبه څڅیږی له همدغی ورځی نه وروسته حضرت حنظله (رض) په غسیل الملائکه سره ونومولی شو. (رضی الله عنه)

## حضرت حذیفه الیمان رضي الله عنه

داسلام دوهم خلیفه عمر فاروق (رض) دمدائن دخلگو لپاره نوی والی

وټاکه هغه څوك چي درسول الله (ص) جليل القدر صحابي او په زهد او تقوی سره يې شهرت درلود دعراق په فتوحاتو کښي يې زيات تکليفونه ګاللی وو اوستری کارنامې يې سرته رسولي وی خلګو له ښارنه دباندی دهغه داستقبال او هرکلي لپاره ګنه ګونه جوړه کړی وه او سترګی په لاره وه.

والي په عادی لباس کښي پرشا توری مرکب باندی سپور ښار ته ننووت خو څوك پدی ونه پوهيده چي دچا دراتلو انتظار چي کيده هغه ښارته داخل شويدی له ډيره انتظاره وروسته خلګو پوښتنه وکړه چي زموږ زمامدار والی رامعلوم نشو؟

جواب ورکړل شو چي هغه همدا اوس ستاسی ترمخ تيرشو ښارته داخل شو ددی خبری په اوريدو دښار مشران په تعجب کښي ولويدل داعظيم المرتبة او جليل القدر صحابي چي دفقر او سادګی ژوند يې درلود څوك ؤ؟

داحضرت حذيفه بن اليمان (رض) ؤ ، حضرت حذيفه (رض) دبنو عطان قبيلي دعيس له کورني څخه ؤ دهغه دپلار اصلي نوم حسيل ؤ خوځنګه چي يمنی الاصل ؤ نوځکه يې په يمان سره شهرت درلود پيغمبر (ص) لا مدينی منوری ته تشريف نه ؤ راوړی چي حذيفه اويمان داسلام ددعوت اوازه واوريدله دواړه له مدينی نه مکی معظمی ته لاړل او دپيغمبر (ص) په لاس يې بيعت وکړ او په اسلام مشرف شول.

دبدر په غزا کښي يې درسول الله (ص) دهدايت لامله برخه وانخيستلی شوه خو دأُحُد په تاريخي جګړه کښي زوی او پلار دواړه شريك شول متاسفانه حسيل اليمان (رض) په همدی غزا کښي په اشتباه سره دمسلمانانو په لاس شهيد کړای شو څنګه چي داپيښه په ناپوهی سره مينځ ته راغلی وه نوحضرت حذيفه (رض) همدا وويل چي: يغفر الله لکم، يعنی الله تعالی دی تاسی ته مغفرت وکړی رسول الله (ص) چي له دی حادثي نه خبر شو ډير زيات خواشيني شو دحضرت حذيفه (رض) حوصله يې وستايله بيايي هغه ته ديت ورکړ خو حضرت حذيفه (رض) دديت مال په مسلمانانو باندی صدقه کړ.

داحزاب په غزا کښي چي تقريباً يوه مياشت مدينه منوره دکفری لښکرو

لخوا محاصره وه اوپه پای کښې الله (ج) دډیر سخت اویخ طوفان په را الوزولو سره په غیبي ډول ددې محاصرې ماتولو لپاره لاره برابره کړه پدې وخت کښې حضرت حذیفه (رض) داخلاص او سرښندتې مظهر یوخطرناك ماموریت سر ته ورسوه هغه داسې چې رسول الله (ص) مسلمانانو ته په خطاب وفرمایل:

څوك دې چې دمشرکانو لښکر ته ورشي اودهغوی دبیرته ستنیدو رپوټ راوړي هرڅوك چې دغه وظیفه سرته ورسوي زه هغه ته زیری ورکوم چې په جنت کښې به له ماسره ملګری وي دری ځله یې داخبره تکرارکړه خومسلمانانو یوبل ته کتل په څلورم ځل پیغمبر (ص) وفرمایل: حذیفه! ته ولاړ شه دغه وظیفه سرته ورسوه خو پام کوه چې په کوم مشرك باندې لاس پورته نکړې.

حضرت حذیفه (رض) دحضرت فخر الرسل (ص) دامر دتعمیل پخاطر په ډیره بیړه روان شو دمشرکانو لښکر ته ننوت هغوی روحیات بایللې وو ډیر وار خطا اودتیښتې په حال کښې وه حضرت حذیفه دغه خطرناك ماموریت سرته ورسوه اورپوټ یې دالله ﷻ رسول ته راوړي.

له احزاب نه وروسته حضرت حذیفه (رض) په خیبر، بیعت رضوان، فتح او نورو ټولو سفرونو اوجګړو کښې په پوره میړانه برخه واخیستله او دپیغمبر (ص) ملګرتیا یې وکړه دسرور کائنات (ص) له رحلت نه وروسته هم حضرت حذیفه (رض) په اسلامي غزاګانو کښې برخه وال ؤ په تیره بیا دایران اوعراق قادسیه اونهاوند په جنګونو کښې دهغه کارنامې اسلامي تاریخ په زرین خط پخپله سینه کښې ثبت کړیدي.

دحضرت عمر فاروق (رض) دخلافت په دور کښې چې کله هغه دمدائن والي وټاکل شو نودمدائن خلګ یې راجمع کړل اودهغوی په وړاندې یې دامیر المؤ منین فرمان ولوست چې لیکلي یې وو:

حذیفه بن الیمان ستاسې امیر ټاکل شویدی دهغه امرونه اورئ اواطاعت یې کوی اودهغه غوښتنې ترسره کوی دفرمان له اوریدلو نه وروسته خلګو په یوږغ عرض وکړ خپلې اړتیاوې ووایه چې موږ یې پوره کړو حضرت حذیفه (رض) وفرمایل: زما ضرورت زما دلوږې دفع کولو لپاره خواړه اوزما دمرکب

لپاره وابښه دی ترڅوپورې چې دلته اوسیږم له دې نه زیات به نورڅه ونه غواړم.

یوځل یې په یوه خطبه کښې خلګو ته وویل: دفتنې له ځایونو څخه ځان وژغورئ! خلګو پوښتنه وکړه: د فتنې ځایونه کوم دي؟

جواب یې ورکړ: دامیرانو اوحاکمانو دروازې. خلګ امیرانو ته ورځي دهغوی دغلطو خبرو تائید کوي اوبیا دهغوی ستاینه کوي همدا فتنه ده.

حضرت حذیفه (رض) درسول الله (ص) خاص ملګری او راز دار ؤ او د صحابه ؤ په مینځ کښې یې په صاحب سِرّ رسول الله باندې شهرت درلود حافظ ابن عبد البر (رح) په الاستیعاب کښې لیکلي دي چې ددې لقب وجه تسمیه دا وه چې رسول الله (ص) هغه ته دمنافقانو نومونه ښودلي وو چې هغه دغه رازنه افشاء کاؤ دعمر فاروق (رض) خو دهغه په راز دارۍ باندې دومره اعتمادؤ چې که حضرت حذیفه به دڅه عذر لامله هم دچا دجنازې په لمانځه کښې ګډون ونکړای شو نوحضرت عمر (رض) به هم نه ورتلې پدې فکر چې کیدای شي دا به منافق ؤ ځکه حضرت حذیفه دهغه په جنازه کښې شرکت ونکړ.

جلیل القدر صحابي حضرت حذیفه (رض) دزهد اوتقوی سمبول ؤ. له وړو اوغټو ټولو بدو چارو څخه یې ځان په کلکه ساته پخپله دهغه وینا ده چې: خلګو به له پیغمبر (ص) څخه پوښتنې کولې چې دخیر کارونه کوم دي او مابه پوښتنه کوله چې دشر چارې کومې دي داپدې خاطر چې ویریدم چې دشر او بدۍ کوم عمل راڅخه صادر نشي هغه وپیژنم او ځان ورڅخه وساتم.

له شتمنۍ اودولتمندۍ څخه دحضرت حذیفه (رض) سخته کرکه وه اودفقر اوبېوزلۍ ژوند یې خوښیده دی په مدائن کښې د اسلامي نړیوال عظیم خلافت والي ؤ خودقوت لایموت نه زیات یې نور څه نه لرل تر څپړې لاندې یې ژوند کوی اومرکب یې دسپرلۍ وسیله وه کوم معاش یې چې له بیت المال نه اخیستې یوازې دخوراك څښاك لپاره به یې څو روپۍ ساتلې اونورې پیسې به یې پرمسکینانو باندې ویشلې.

له مدائن نه چې مدینې منورې ته راستنیده حضرت عمرفاروق (رض) ددې لپاره چې معلومه کړي حذیفه (رض) له ځانه سره څه شی راوړي نو دمدینې او

عراق دلويي لارى ترڅنګ دخرماؤ پداسي يوځنګل كښى پټ ناست لاره يى څارله چې له بهرنه چا نشو ليدلى خوده دباندى تيريدونكى ليدل.

له څه وخت انتظار نه وروسته يى وليدل چې په شاتورى مركب باندى سپور سړى پيوندى جامى په تن دسفر په دوړو كښى پټ حضرت حذيفه (رض) تش لاس راغى حضرت عمر (رض) له ځنګل نه ور ووت حضرت حذيفه (رض) يى په غيږ كښى ونيوه اوډيرى مينى په الفاظو كښى يى ورته وويل: قسم په خداى چې تا داسلام حيثيت پرځاى كړ ته زما ورور او زه ستا ورور يم.

دحضرت عمر (رض) دخلافت له دورنه وروسته هم دڅه وخت لپاره حضرت حذيفه (رض) دمدائن اميرؤ يعنى حضرت عثمان (رض) پرخپله وظيفه باندى برقرار پريښود خودهغه له امارتونو سره نه بلكه له جهاد سره مينه وه له امارت نه يى استعفا وكړه او دمجاهدينو په هغه لښكر كښى شامل شو چې دخراسان فتح كولو لپاره روان ؤ له هغه وروسته يى د: رَىْ او: ارمينيه په جګړه كښى په پوره ميړانه ګډون وكړ مګر دحضرت عثمان (رض) دخلافت په وروستيو وختونو كښى بيا دمدائن دوالى په توګه وليږل شو چې په (۳۵) هجرى كال كښى دحضرت عثمان (رض) له شهادت نه څلويښت ورځى وروسته همالته وفات شو. دژوند په وروستيو ورځو كښى به يى ډير زيات استغفاروايه اوژړل به يى خلګو ورڅخه دژړا دسبب پوښتنه وكړه ويى فرمايل: زما سره ددنيا دجدائى غم نشته زه دمرګ استقبال كوم خو ژاړم پدى چې ويريږم په اخرت كښى به را سره څه كيږى.

دځنكدن په حالت كښى يى داخبره تكراروله چې: خدايه! خپل ملاقات دى ماته مبارك كړه ماته له دنيا اوما فيها نه ستا ملاقات محبوب اوګران دى. (رضى الله عنه)

## حضرت حسان بن ثابت انصارى رضي الله عنه

حضرت حسان بن ثابت بن منذر بن حرام دمدينى دمشهورى خزرج قبيلى دبنو نجار له معززى كورنۍ څخه اوله نبوى هجرت نه وروسته چې داوخت يى عمرڅه دپاسه شپيته كاله ؤ دايمان دلازواله خزانى مالك شو په ابو الوليد

کنیت نوم سره یې شهرت درلود او لقب یې ؤ: درسول الله ﷺ شاعر.

دهغه دمور نوم ؤ فربعه بنت خالد دخزرج قبیلې دبنو ساعده کورنۍ ته منسوبه دحضرت سعد بن عباده دتره لور او هغې ته هم دصحابیت شرف په برخه شوی ؤ نه یوازې پخپله حضرت حسان (رض) یوقادر الکلام شاعرؤ بلکې دهغه پلار نیکه او دکورنۍ نور مشران هم دخپل وخت مشهور اوبیساری شاعران وو دشعر او ادب تاریخي ماهر حضرت ابو عبیده وایي:

حضرت حسان (رض) په دریو خصوصیاتو کښې له نورو شاعرانو څخه امتیاز درلود دجاهلیت په دورکښې دمدینې شاعرؤ له نبوي هجرت نه وروسته درسول الله ﷺ شاعرؤ او داسلام دخپریدو په دور کښې دټول یمن بې سارې اوبې سیاله شاعر ؤ.

دعربې قوم اوقبائیلو ترمینځ دښمنیو کښې که له یوې خوا دښو توریالیو ښه اغیزه وه له بلې خوا دتورې له جګړې څخه دژبې دجګړې یاپه بل عبارت دساړه جنګ یا رواني اوتبلیغاتي جنګ اثر هم له هغې څخه که زیات نه وؤ نو کم هم نه ؤ په رښتیا هم ډیر ځله دښمن دتورې په ګوزارونو دومره نه وار خطا کیږي لکه څومره چې دژبې او قلم په تبلیغ له ماتې او رسوایي سره مخامخ کیږي دمکې په قریشوکښې ډیر لوی لوی شاعران وو هغوی به پخپلو شعرونو کښې درسول الله (ص) او دهغه دخوږو ملګرو په تذمیم او تقبیح کښې اشعار ویل چې دهغوی داناوړه تبلیغات به په ډیر کم وخت کښې په تندۍ سره په لیرې اونژدې سیمو کښې خپریدل دمدینې مسلمانان چې کله ددښمنانو له دغو فعالیتونو څخه خبر شول په رواني اوحیاتي لحاظ یې دسخت تکلیف احساس وکړ حضرت علي کرم الله وجهه ته یې پیشنهاد وکړ چې دمکې دشاعرانو دناوړه اوناروا پروپاګنډونو جواب ورکړي هغه داپیشنهاد منظورکړ ویې ویل: زه حاضریم خو پدې شرط چې رسول الله (ص) اجازه راکړي. صحابه کرام رضي الله عنهم درسول الله حضورته ورغلل اوعرض یې وکړ: یارسول الله! زموږ مور اوپلاردې درنه ځارشي مشرکان ستا اوستا دملګرو په شان کښې ناوړه اشعار وایي او پروپاګنډونه خپروي که ستاسې اجازه وي نوعلي رض به دهغوی جواب ووایي؟

پیغمبر (ص) وفرمایل: علی ددی کار وړ ندی بیا وروسته یی دانصارو خواته مخ واړوه وییی فرمایل: کومو خلگوچی په توره سره زما ملاتړ کړیدی ایاهغوی په ژبی سره له ما څخه دفاع نشی کولای؟

پدی وخت کښی حضرت حسان بن ثابت (رض) پاڅیده عرض یی وکړ: یا رسول الله! ددی کار لپاره زه حاضریم په خدای قسم دی دشام دبصری او دیمن دصنعاء ترمینځ به ماته له هغه کلام نه بل کلام محبوب او دقدر وړنه وی چی درسالت ددښمنانو په جواب کښی وویل شی.

حضرت حسان بن ثابت انصاری (رض) که دسپین ږیرتوب بدنی کمزوری اودسترگو دنظر دکموالی لامله نشول کولای چی په اسلامی جهادونو کښی دفولادو توره وچلوی خودهغی پرځای یی دژبی توره پداسی شان چلوله چی له یوی خوایی ددښمن دادیبانو اوشاعرانو ژبی گونگی کړی اوله بلی خوایی خپل ټول شاعرانه استعداد اوصلاحیت دسرور کائنات (ص) په مدح او ستاینه کښی ترنهایی سرحده په کار واچوه دخدای پردښمنانو به دتوری دگوزارونو دومره تاثیر نه لویده لکه څومره چی دهغوی زړونه دحضرت حسان (رض) دژبی په توره زخمی کیدل دهغه ددی خدمت دتمجید او تقدیر په هکله به رسول الله (ص) فرمایل: پرکافرانو باندی دحسان (رض) اشعار له هغو غشو څخه زیات اثرکوی چی په تررږمیو کښی دهغوی پر بدن لگیږی.

ډیرداسی وختونه پیښیدل چی رسول الله (ص) به دهغه دشاعرانه خدمتونو ستاینه کوله یوځل یی هغه ته امر وکړ چی: ای حسان! زما لخوا جواب ووایه ورسره یی دعا وکړه:

الهی دروح القدس په ذریعه دده مرسته وکړه یوبل کرت یی ورته وفرمایل: ای حسانه! ته چی دمشرکانو تقبیح کوی نوجبرئیل (ع) لتاسره ملگری وی حضرت حسان پخپله هم پدی فخر کاؤ چی ژبه یی داسلام دسر لوړی په لاره کښی خوځیږی یوځل یی دیو مشرك په جواب کښی وویل:

| | |
|---|---|
| لسانی صارم لا عیب فیه | وبحری لا تكدره الدلاء |
| هجوت محمدا فاجبت عنه | وعند الله فی ذلك الجزاء |

وجبريل امين الله فينا　　　وروح القدوس ليس له كفاء

معنا داچې: زما ژبه دغوڅوونکې تورې غوندې تيره ده چې هيڅ عيب په کښې نشته او زما کلام داسې صاف او شفاف سمندر دی چې د ډولچو په ورغورځولو سره يې اوبه نه خړيږي تاپخپل شعرکښې دمحمد (ص) تقبيح وکړه اوما دهغه لخوا ستا جواب ووايه چې زما داخدمت دالله په وړاندې اجر لري زموږ په مينځ کښې دالله امانتداره فرشته جبرئيل اوروح القدس موجود دی چې هغه ثانی نلري.

پيغمبر (ص) ددې اشعارو په اوريدلو وفرمايل: (جزاك الله على الله الجنة) يعنې هو! همداسې ده دالله په وړاندې ستا جزاء جنت دی په نهم هجري کال کښې دبنوتميم قبيلې يوهيئت مدينې ته راغی دهغوی شاعر زبرقان بن بدر چې په هغه وخت کښې په اسلام نه ؤ مشرف شوی دخپل بليغ اوفصيح شعرپه څپوکښې يې خپل قومې افتخارات بيان کړل سرور کائنات (ص) حضرت حسان ته امر وکړ چې پاڅيږه او دزبرقان جواب ورکړه هغه پاڅيده فی البديهه يې داسې اشعار وويل چې دبنوتميم قبيلې رئيس اقرع بن حابس اعتراف وکړچې:

ای محمده! قسم خورم چې ستاسې شاعر زموږله شاعر نه ډير ښه دی. په رېښتيا سره څومره ښه ژبه وی هغه چې دمحبوب رب العالمين حضرت سيد المرسلين محمد رسول الله (ص) په مدح اوستاينه باندې خوځيږي حضرت حسان چې ددواړو جهانو دسردار په هکله دبېساری مينې او محبت په څپو کښې څه ويلې موږ دلته دمشت نمونۀ خروار په توګه دڅو شعرونو عبارات او مفاهيم وړاندې کوو:

وَاَحْسَنُ مِنْكَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِىْ　　　وَاَجْمَلُ مِنْكَ لَـمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

خُلِقْتَ مُبَرَّءًا مِنْ كُلِّ عَيْبٍ　　　كَاَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ

يا رسول الله: لتا نه ښايسته زما سترګو هيڅ ندی ليدلی اونه کومې مور لتانه ښايسته زوی زيږولی دی ته له هرعيب نه پاك پيدا کړای شوی داسې لکه چې څنګه ستا خوښه وه همغسې پيدا شوی.

دحضرت حسان (رض) نعتیه اشعار داسی نه وو لکه ددی وخت دشاعرانو غوندی چی کله په افراط کښی له حقیقت نه جار وزی اوکله په تفریط کښی بلکی هغه چی څه ویل هغه به دحقایقو دهنداری انعکاس ؤ لکه دا نمونی:

نبی اتانا بعد یأس وفـــترة      من الرسل والاوثان فی الارض نعبد
فامسي سراجا منیرا وهادیاً      یلـوح کمـا لاح الصقـیل المهـــند
وانذرنا نـاراً وبشـر جـنة      وعلمـنا الاســلام الله نــحـمد

هغه دالله ﷻ دپیغمبرﷺ په صفت پداسی حالاتو کښی مور ته راغی چی دپیغمبرانو دراتګ په لړۍ کښی پوره خنډ راغلی ؤ اوپه دنیا کښی دبتانو دعبادت دور ؤ.

هغه زمونږ لپاره بله ډیوه او هدایت راغی داسی ځلیدونکی لکه صیقل شوی هندی توره چی ځلیږی هغه مونږ ددوزخ له اوره وویرولو او دجنت زیری یی راکړی مونږ ته یی د اسلام تعلیم راکړی چی مونږ ددی کار لامله دالله ﷻ شکر ادا کوو، دنبوی هجرت په لړ کښی دمکی دخلګو بدبختی او دمدینی دخلګو خوشبختی ته داسی ګوته نیسی:

لقـد خاب قــوم مال عنـــهم      وقـدس من یسری الیه ویغـتدی
ترحل عن قوم فزالت عقولهم      وحل علی قـــوم بنـور مجــدد
هداهم بعد الضــلالة ربـــهم      وارشدهم من یتـبع الحـق یرشد

یعنی زیانمن شو هغه قوم چی پیغمبر (ص) ورڅخه ولاړی او عزتمند شول هغه چی پیغمبر (ص) ورغی ا و توره شپه یی په سهار بدله شوه.

له کومو خلګو نه چی پیغمبر ولاړی دهغوی پوهی هم ورسره ولاړی او چا ته چی ورغی هغوی یی پخپل نور سره روښانه کړل اوهغوی ته له ګمراهئ نه وروسته دهغوی پروردګار ددی پیغمبر په ورتګ سره هدایت نصیب کړئ، او سمه لاره یی وروښودله، څوك چی دحق پیروی کوی هغوی سمه لاره مومی.

حضرت حسان (رض) دحضرت معاویه (رض) دخلافت په دور کښی په (**۵۲**) هجری کښی پداسی حال کښی وفات شو چی دهغه عمر تقریبا دیو سل اوشلو کلونو په خواوشا کښی ؤ مګر دهغه داشعارو مجموعی نن هم ددنیا په

ځینو مشهورو موزیمونو کښی موندل کیږی. (رضی الله عنه)

## حضرت حبیب بن زید رضی الله عنه

حضرت حبیب بن زید بن عاصم دمدینی دمشهوری قبیلی خزرج دبنو نجار له کورنۍ څخه او په بیعت عقبه ثانیه کښی یی دسرور کائنات (ص) په مبارك لاس دایمان اوسربښندتی بیعت کړی ؤ پدی بعیت کښی پنځه اویا تنه شامل وه اودری اویا نارینه او دوی ښځی چی یوه دحضرت حبیب مور حضرت نسیبه بنت کعب او بله یی خاله وه دحدیثو او سیرت په کتابونو کښی حضرت نسیبه په کنیت نوم (ام عماره) سره مشهوره ده.

له نبوی هجرت نه وروسته حضرت حبیب بن زید انصاری په سفر اوحضر کښی زیاتره وختونه دسرور کائنات (ص) سره ملګری او دحق له شمعی نه دپتنګ په څیر په پوره مینه اواخلاص تاویده او درسول الله ﷺ دریښتونی پیرو په صفت یی خپل ټول فرائض سرته رسول.

دهجرت په دریم کال دشوال په میاشت کښی چی کله داحد مشهوره جګړه مینځ ته راغله په هغی کښی حضرت حبیب او دهغه مور ام عماره او دهغه ورور عبدالله هم په پوره میړانه برخه واخیستله او ترپایه پوری یی دایمان او بیعت حق ادا کړ په تیره بیا پدی غزا کښی دحضرت ام عماره رضی الله عنها میړانه او قربانی دتاریخ په پاڼو کښی په زرینو کرښو ثبت شویدی.

داحد په غزا کښی چی کله داسلام لښکر له الهی امتحان سره مخامخ شو یو شمیر کسان شهید ان اویو شمیر نور ټپیان شول او پخپله رسول اکرم (ص) ته هم زیات تکلیف ورسیده نو دمسلمانانو په صفونو کښی بی نظمی پیدا شوه اوزیاترو کسانو میدان پریښوده خوددی ټولو سختیو سره سره رسول الله (ص) او ورسره یوشمیر سربښندونکو مؤمنانو ددښمن په مقابل کښی ټینګار وکړ چی په دغه شمیر کسانو کښی یوه دحضرت حبیب بن زید مور حضرت ام عماره (رضی الله عنها) وه هغی له دی حالت نه مخکښی غازیانو ته داوبو رسولو وظیفه اجرا کوله خوکله یی چی ولیدل چی سرورکائنات (ص) دکافرانو دهجوم په مینځ کښی واقع دی نو دابو ژی یی کیښوده توره اوسپر یی را

واخيستل اودرسول ا لله (ص) ترڅنګ دکفارو دګوزارونو په مقابل کښې يې خپله سينه سپر کړه اودنورو سربښندونکو په څير يې دکفارو دهجوم مخه دتورې په ګوزار سره نيوله پدې ترڅ کښې يومشرك وړاندې اوپر هغې باندې يې دتورې وار وکړ حضرت ام عماره (رضى الله عنها) دډال په وسيله دګوزار مخه ونيوله اوبيايې ددښمن داس پښې دتورې په سخت ګوزار سره داسې ووهلې چې هم اس پرمخکه را وغورځيده اوهم پخپله کافر، دحضرت حبيب ورور عبدالله بن زيد انصارى (رض) دتورې په يو وار سره هغه کافر دجهنم کندې ته ولېږه. يوبل مشرك په همدې وخت کښې پر عبدالله باندې دتورې ګوزار وکړ او دهغه کيڼ لاس يې زخمي کړ حضرت ام عماره (رضى الله عنها) دخپل زوى عبدالله پر زخم پټې کيښودله اوويې فرمايل: زويکيه! پاڅيږه تر څو چې ستاپه بدن کښې سا چليږي وجنګيږه همغه مشرك چې حضرت عبدالله بن زيد يې زخمي کړې ؤ بيا راوګرځيده پيغمبر (ص) حضرت ام عماره ته وفرمايل بيداره اوسه دا هغه بد مرغه سړى دى چې عبدالله يې زخمي کړيدى حضرت ام عماره پرهغه باندې دتورې داسې کارې وارې وکړ چې هغه يې دوه ټوټې کړ. حضرت ام عماره (رض) دهغه مشرك مقابلې ته هم ودريدله چې دهغه په ګوزار سره دسرور کائنات (ص) مبارك مخ زخمي شوى ؤ يعنې دقريشو مشهور پهلوان ابن قميه خوهغه دتورې په وار سره دحضرت ام عماره (رض) اوږه زخمي کړه اوپه چټکۍ سره وتښتيده رسول الله (ص) پخپل مبارك لاس سره دام عماره (رض) پرزخم باندې چې وينې ورڅخه بهيدلې پټې ولګوله ام عماره (رض) پدې وخت کښې عرض وکړ: يارسول الله: زما مور پلار دې درنه ځار شي ماته دعا وکړه چې په جنت کښې هم لتا سره يوځاى اوسم رسول الله (ص) دعا وکړه: اى خدايه! ام عماره (رض) په جنت کښې له ما سره يو ځاى کړه ام عماره (رض) ډيره خوشحاله شوه اوويې ويل: اوس نوزه په دنيا کښې دهيڅ مصيبت پروا نلرم حضرت حبيب بن زيد (رض) ددغسې مور شيدې رودلې وې اودهغې ترسيورى لاندې روزل شوى ؤ درسول الله (ص) دژوند په وروستيو وختونو کښې ديمامې رئيس مسيلمه کذاب مرتد شو دنبوت دعوه يې وکړه او

رسول الله (ص) ته يې پدى مفهوم خط وليږه.

دخداى درسول مسيلمه لخوا دخداى درسول محمد (ص) په نامه السلام عليك زه په پيغمبرى كښې لتا سره شريك يم نيمائى باچائى به زما وى او نيمائى دقريشو خو قريش يو متجاوز اوبى انصافه قوم دى.

رسول الله (ص) دهغه دليك جواب پدى الفاظو كښې وروليږه

بسم الله الرَّحمٰن الرَّحيم، من محمد رسول الله الى مسيلمة الكذاب، السلام على من اتبع الهدى.

امابعد: فان الارض يورثها من يشاء من عباده والعاقبة للمتقين.

ترجمة: دالله درسول محمد (ﷺ) لخوا ددروغجن مسيلمه په نامه، سلام دى وى پر هغه چا چې دسمى لارى پيروى كوى له دى نه وروسته دا چې دا مځكه دالله ﷻ ده له خپلو بندګانو څخه چا ته چې وغواړى په ميراث يې وركوى او ښه انجام دپرهيزګارانو لپاره دى.

ددى جواب په ميندلو سره دمسيلمه دكفر او سركښى ديګ له پخوانه زيات په جوشيدو شو او خلګ به يې دظلم په ژرنده اوړه كول تر څو چې دهغه په پيغمبرى اعتراف وكړى. خالد محمد خالد پخپل كتاب (رجال حول الرسول) كښې ليكى چې: رسول الله (ص) حضرت حبيب بن زيد انصارى (رض) دخپل استازى په توګه وروليږه ترڅو چې هغه ته نصيحت وكړى مسيلمه نه يوازى داچې دحضرت حبيب (رض) نصيحت ته غوږ كينښوده بلكى دشيطانى غرور لمبې يې لاتاؤ جنى شوى خپل قوم يې راوغوښت اوحضرت حبيب يې هم په داسى حال كښې دغى لويې غونډى ته راؤست چې پربدن باندى يې دوحشيانه تعذيبولو داغونه موجود وو پوښتنه يې ورڅخه وكړه: (ايا ته شهادى وايې چې محمد ﷺ دالله رسول دى؟

حضرت حبيب رضي الله عنه جواب وركړ: اشهد ان محمد رسول الله بيايې پوښتنه وكړه: ايا ته شاهدى وايې چې زه دالله رسول يم؟

جواب يې وركړ: انى لااسمع شيئا، زه هيڅ شى نه اورم يعنى داخبره هيڅ د اوريدلو نه ده مسيلمه خپل وحشى جلادان راوغوښتل او دعربى مروت پر

خلاف چې دیو استازي او نماینده احترام باید وشي جلادانو دهغه یو یو اندام غوڅوه او په هرځلي به یې پوښتنه ورڅخه کوله ایا دمسلیمه رسالت منې؟
هغه جواب ورکوه نه! هیڅکله نه، بلکې زه شاهدي وایم چې محمد (ص) برحق رسول دی دکذاب مسیلمه دبېرحمه جلادانو په لاس دحبیب بن زید (رض) دبدن غوښې ټوټې ټوټې شوې او په داسې حال کښې له خپل خدای سره وصل شو او دا اشعار یې په ژبه جاري ؤ:
لا اله الا الله محمد رسول الله
کله چې دشهید حبیب مجاهده مور حضرت ام عماره (رض) دخپل زوی له شهادت نه خبره سوه دهغه په مقاومت ثبات اومتانت باندې یې دخدای ﷻ شکر پرځای کړ خو ور سره یې قسم وکړ چې زه به دمسیلمه په وینو کښې خپله توره سره کوم.
درسول الله (ص) له رحلت نه لږوخت وروسته هغه وخت راورسیده داسلام لومړی خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) دمرتدانو پر ضد جهاد شروع کړ د یمامې خواته یې چې کوم لښکر لیږه په هغه کښې دشهید حبیب مور مجاهده بی بی حضرت ام عماره (رض) (نسیبه بنت کعب) پداسې حال کښې چې په ښي لاس کښې توره او په کیڼ لاس کښې یې نیزه وه شامله شوه او دهغې بل زوی حضرت عبدالله بن زید (رض) هم ورسره ملګری ؤ، کذاب مسیلمه داسلامي لښکر په مقابل کښې چې قیادت یې دمشهور فاتح قوماندان حضرت خالد بن ولید (رض) په غاړه ؤ څلویښت زره مجهز لښکر میدان ته را وایستی اوداسې سخته جګړه ونښتله چې علامه طبري وایي: مسلمانانو له دې نه سخته جګړه هیڅکله نه وه لیدلې، حضرت ام عماره (رض) دتورې په بریښنا دجنګ په لیکو کښې ځانته لاره برابروله اومخ په وړاندې دمسیلمه خواته ورروانه وه چې پدې دوران کښې یوولس زخمونه ورته ورسیدل.
مسیلمه ته چې ورنژدې شوه او غوښتل یې چې دنیزې ګوزار ورباندې وکړي ویې لیدل چې مسیلمه دوه ټوټې داس له شانه پرځمکه راوغورځیدی پر هغه باندې په یو وخت کښې ددوو تورو ګوزارونه شوي وو یو عبد الله بن زید

دشهيد حبيب ورور او بل وحشي بن حرب (رض) ورباندی کړی ؤ، حضرت ام عماره (رضي الله عنها) خپل قسم پوره کړ او دهغه په وينو کښې يې خپله توره رنګ کړه اوسمدلاسه يې دلوی خدای دربارته دشکرانی سجده ادا کړه اوپه دی ترتيب دشهيد حبيب دقاتل په مرګ باندی يې سترګې يخی سوی.

دحضرت حبيب بن زيد انصاری (رض) دشهادت داستان دخدای دلاری هر مجاهد او داسلامی لښکر هر اتل او متعهد سپاهی ته دا درس ورکوی چی که داسلام په لاره کښې يی ددښمن په لاس خواږه اندامونه غوښېږی اوکه د عقيدی په خاطر يی د تعذيب په څپو کښې دبدن له لمدو غوښو ټخه وار په وار بوټی جدا کيږی هم خو په اراده اوايمان کښې يې بايد ديوی ذری په اندازه سستی اوتزلزل رانشی او همدا په حقيقت کښې دکاميابی لاره ده. (رضی الله عنه)

## حضرت خبيب بن عدی رضي الله عنه

حضرت خبيب بن عدی انصاری (رض) اوس قبيلې ته منسوب اوله نبوی هجرت نه مخکښې داسلام په مقدس دين مشرف شوی ؤ تل به يې ددواړو جهانو دسردار (ص) له صحبت نه استفاده کوله دايثار اخلاص اوشجاعت سمبول ؤ دبدر دغزا په هغو دری سوه ديارلس تنو مجاهدينو کښې شامل ؤ چی الله (ج) دهغوی دګناهونو دبخښنل کيدو اعلان کړيدی.

په همدی غزا کښې دقريشو دمشرکانو يومشر حارث بن عامر بن نوفل دهمغه په لاس ووژل شو او دجهنم کندی ته ولېږل شو.

په څلورم هجری کال کښې دبنو لحيان مشر سفيان بن خالد دمسلمانانو پرخلاف يوه دوسيه جوړه کړه هغه داسی چی دعضل اوقاری اوه کسان يی دپيسو په بدل کښې استخدام کړل ترڅو داسلام په جامه کښې مدينی منوری ته لاړ شی او په څه بانه پلمه يو شمير مسلمانان له ځان سره راولی اوکافرانو ته يی په لاس ورکړی. دانسی شيطانانو دغه اوه کسيزه ډله مدينی منوری ته ورسيدله درسول کريم (عليه افضل التحية والتسليم) حضور صلى الله عليه وسلم ته يی عرض وکړ چی: له موږ سره څه کسان زموږ علاقې ته واستوه، ترڅو هلته داسلام

تبلیغ وکړي او خلګو ته قرآن شریف وښیي او پدې ترڅ کښې یې داهم زیاته کړه چې زمونږ خلګ له عاصم بن ثابت (رض) سره زیاته مینه لري هغه دی هم په دغه وفد کښې شامل شي پدې کښې دهغوی خاص مقصد داؤ چې عاصم بن ثابت (رض) دسلافه بنت سعد ددوو وژل شویو زامنو مسافع او حارث په بدل کښې ووژل شي اوله هغې نه اعلان شوی سل اوښان په انعام کښې تر لاسه کړي.

نبی کریم (ص) دعضل اوقاري دوفد پیشنهاد قبول کړ دعاصم بن ثابت (رض) تر قیادت لاندې شپږ تنه صحابه کرام یې ورسره ولیږل چې په هغوی کښې یوتن حضرت خبیب (رض) هم ؤ کله چې دقرآن کریم دمعلیمنو دغه ډله رجیع نومې ځای ته ورسیدله دعضل اوقاري جاسوسانو دبنولحیان خلګوته اطلاع ورکړه چې راشي ستاسې دغوښتنې وړ ښکار مو برابر کړیدی دبنو لحیان دوه سوه مسلح کسان ددغو شپږ وتنو دمقابلې لپاره راووتل، دصحابه ؤ کرامو ﷺ چې کله په هغو باندې سترګې ولګیدې نو یوی غونډې ته وختل او هغوی ته یې وویل: ای غدارانو! ولې دعربو دروایا تو پرخلاف کار کوی میلمانه کورته راغواړې او بیایې په وژلو لاس پورې کړې که تاسې دغه ناپاکه اراده لرئ نوواورې چې مونږ به دژوند تر وروستې سلګې درسره وجنګیږو مونږ ته چې هرڅوك نژدې راشي خیر به ونه مومې دوه سوه مسلحو کافرانو پدغو بیوسې لاسو شپږتنه صحابه ؤ ﷺ باندې حمله وکړه درې تنه یې شهیدان کړل او حضرت خبیب بن عدی له خپلو دوو نورو ملګرو حضرت زید بن الدثنه (رض) او حضرت عبدالله بن طارق (رض) سره ژوندي ونیول شول په لاره کښې عبدالله بن طارق (رض) هم شهید کړای شو اوبنو لحیان داسلام دوه پتنګان حضرت خبیب (رض) او حضرت زید بن الدثنه (رض) دمکې بازارته ورسول چې هلته به انسانان دښاریو غوندې خرڅیدل خوپه حضرت خبیب (رض) باندې چې کله دحارث بن عامر زوی خبرشو نوحضرت خبیب (رض) یې دسلو اوښانو په بدل کښې واخیست ترڅو دخپل پلار حارث انتقام ورنه واخلي چې هغه دبدر په جنګ کښې دحضرت خبیب (رض) په لاس وژل شوی ؤ همدارنګه صفوان بن

امیه دبدر په جنګ کښې دخپل وژل شوی پلار امیه به خلف دانتقام اخیستلو لپاره زید بن الدثنه (رض) دپنځوسو اوښانو په قیمت واخیست دا دذیقعدی میاشت وه او قریشو دکفر په حالت کی هم دحرامو میاشتو احترام ساته نو له همدی کبله یی حضرت خبیب (رض) دابن ابی وهاب دوینزی ماریه په کورکی بندی وساته اوزینب بنت حارث یی دهغه څارونکی وټاکله ماریه چی وروسته په اسلام مشرفه شوه دهغی ویناده چی په خدای قسم دی ماله خبیب بن عدی نه بل ښه بندی ندی لیدلی.

هغه به دشپی په لومړی برخه کښې پداسی زړه راښکونکی اواز سره دقرآن تلاوت کاؤ چی دقریشو ښځو به دهغه په اوریدو سره بی اختیاره ژړل.

ما یوه ورځ ددروازی له درز نه وروکتل ومی لیدل چی حضرت خبیب (رض) پداسی حال کښې چی په زنځیرونو تړلی دی دانسان دسر په اندازه دتازه انګورو وږی ورسره دی اوخوری یی اودا دانګورو موسم هم نه ؤ حرامی میاشتی چی تیری شوی قریش راټول شول اوفیصله یی وکړه چی دغه بیوسی مسافر بندی دهغه چاپه بدل کښې ووژنی چی هغه دجنګ په میدان کښې وژل شوی ؤ دتنعیم په مقام کښې یی دار ورته ځوړند کړ اواعلان یی وکړ چی که څوك دخبیب دقتل ننداره کوی رادی شی خلګ ډلی ډلی دعاشق دشهادت ننداری ته په داسی حال کښې ورغلل چی چا درېږ وهلی او چا اتهونه کول جلادانو له حضرت خبیب (رض) نه پوښتنه وکړه که څه غوښتنه لری ووایه دخدای دغه سپیڅلی بنده جواب ورکړ: نور څه نه خو دومره غواړم چی ددوه رکعته لمانځه ادا کولو وخت راکړی.

هغوی اجازه ورکړه اوحضرت خبیب (رض) له لمانځه ادا کولو وروسته وویل: زما عادت داؤ چی اوږد لمونځ به می کاوه اوس می ددی لپاره لنډ کړ چی تاسی ونه وایاست چی خبیب له مرګه ډاریږی او په پلمه وخت تیروی بیا چی ددار ترکړۍ لاندی ودریدی نو پدی مفهوم یی شعرونه وویل:

زه دوژل کیدو په ځای کښې په زنځیرونو تړلی ولاړ او خلګ می ننداری ته راټول شویدی زه ددار تر کړۍ لاندی ولاړ او خلګ راته وائی چی اسلام

پريږده كنې نوشهيد به دى كړو خو دحق دين له پرېښوولو نه وژل كيدل راته ډير ښه دى سترګى مى لمدى دى خوزړه مى له صبره ډك دى هيڅ كله به دښمن ته سر ټيټ نكړم ځكه چى له حق سره وصل كيدونكى يم له مرګه نه ويريږم ددوزخ له سوځونكى اور څخه په كار ده دعرش عظيم مالك له مانه كار اخيستى دى اوماته يى دصبر او تحمل لار ښوونه كړيده دحق دښمنانو له ډيرو وهلو زمابدن تك شين اړولى دى زه دخپلى پرديسى اوبيكسى فريادخپل خالق ته كوم. قسم په خداى كله چى د الله په لار كښى شهيد كيږم پروامى نشته چى په كوم اړخ لويږم او څنګه مى ساخيژى له خدايه هيله من يم كه وغواړى زما دبدن په هره ټوټه به بركت نازل كړى بيايى اسمان ته وكتل تا به ويل دحال په ژبه وائى:

**بجرم عشق تو ام ميكشند غوغائيست تو نيز برسر بام اچه خوش تماشائيست**

له اشعارو ويلو نه وروسته يى دعا وكړه:

خدايه! ماستا درسول پيغام خلګو ته ورسوى ته خپل برحق رسول ته زما دحال خبر ورسوه! ددار په كړۍ كښى له ځړيدونه مخكښى مشركانو خبيب (رض) ته وويل: ايا پدى نه يى خوشاله چى محمد (ص) ستا پر ځاى وى او ته په كور كښى په كراره ناست اوسى؟

جواب يى وركړ: نه په خداى قسم زه داهم نه خوښوم چى دمحمد (ص) په پښه كښى اغزى ولاړ شى اوزه په كور كښى بيغمه ناست اوسم له هغه وروسته حضرت خبيب (رض) په دار وځړول شو تر وروستى سلګى پورى يى دتوحيد كلمه په ژبه جارى وه هلته په مدينه منوره كښى نبى كريم (ص) دصحابه ؤ په مينځ كښى ناست ؤ په ناڅاپى ډول يى وويل: عليك السلام ياخبيب! عليك السلام ياخبيب! خبيبه! په تا دى سلام وى، خبيبه! په تادى سلام وى.

صحابه ؤ رضي الله عنهم په حيرانتيا سره پيغمبر (ص ) ته وكتل رسول كريم (ص) وفرمايل: خبيب دمشركانو په لاس شهيد شو، جبرئيل عليه السلام ماته دهغه لپاره دسلام دغه وحى راوړه.

داده دحقپالونكو لاره الحمد لله چى پدى شلمه پيړۍ كښى په افغانستان

کښې داسلام پتنګان دحضرت خبیب (رض) دقربانی تمثیل کوی دخدای په لار کښې مرګ ته په مینه مینه ورځغلی خوکفر اوکمونیزم ته په هیڅ شان غاړه نږدی. (رضی الله عنه)

## حضرت خباب بن الارت رضي الله عنه

ابوعبدالله خباب بن الارت (رض) دام انصار بیت سباع الخزاعیه غلام او بنو تمیم قبیلی ته منسوب ؤ دده کسب توری جوړول ؤ دمکی سوداګروبه ورنه اخیستلی اوخارجی بازارونو ته به یی صادرولی دتوحید دعوت ته یی پداسی وخت کښی لبیك وویل چی صرف پنځه شپږ کسان په اسلام مشرف شوی وو، او په حقیقت کښی په هغه وخت کښی له رسول اکرم (ص) سره بیعت کول دمصیبتونو غره ته اوږه ورکول ؤ، حضرت خباب (رض) که څه هم یو بی کسه بی اسری پردیس غلام ؤ او پدی ښه پوهیده چی داسلام په څرګندولو سره دمکی قوی او شتمن خلګ هم دمشرکانو له تعذیبونو څخه په امن نشی پاتی کیدای خو سره له دی هغه خپل اسلام پټ ونه ساته اوداسلام دڅرګندولو سره سم دوحشی کافرانو دظلم اوفشار مورد وګرځیده دانسانیت اوشرافت منافی تعذیبونه یی ورکول جامی به یی ترینه وایستلی او داور په سکروټو به یی څملاوه او بیابه یی غټه تیږه په سینه باندی ورایښودله ترڅو چی په اړخ وانه وړی لمدی غوښی به یی په سکروټو باندی کبابیدلی ترهغه پوری به یی څملولی ؤ چی دبدن په وینو زووسره به یی سکروټی سکاره شوی او ددی ټولو تعذیبونو او ظلمونو سره سره دهغه په ایمان کښی دیو ویښته په اندازه تزلزل نه پیښیده دکفارو ددی غیر انسانی وحشیانه ظلمونو څخه چی ډیر زیات په تنګ شو یوه ورځ دپیغمبر (ص) حضورته ورغی په صحیح بخاری کښی راغلی دی چی رسول کریم (ص) پدی وخت کښی دکعبی ددیوال ترسیوری لاندی ناست ؤ څادر مبارك یی ترسر لاندی ایښی ؤ خباب (رض) عرض وکړ: یارسول الله ﷺ ولی زموږ لپاره له الله (ج) نه دعا نکوی پیغمبر (ص) راپاڅیده کښیناست په مخ کښی یی سوروالی پیداشو ویی فرمایل: لتاسی نه مخکښی داسی خلګ تیر شویدی چی داوسپنی په ږمنځو باندی دهغوی غوښی توږل

شویدی یوازی هډوکی یی پاتی شویدی په سرونو باندی یی اری راتیری شویدی اوبدن یی دوې ټوټی شویدی خو بیاهم دهغوی په عقیده کښی تزلزل ندی راغلی او نه یی دین پری ایښی دی الله (ج) به ارو مرو اسلام غالبه وی او تاسی به وینی چی یو سپور سړی به له صنعاء نه ترحضرموته یوازی مزل کوی او له الله نه پرته به له بل چا څخه نه بیریږی درسول اکرم (ص) ددی وینا په اوریدلو سره دحضرت خباب (رض) حوصله لوړه سوه او په اطمینان سره خپل کور ته ولاړ دحضرت خباب باداره ام انمار ډیره سخت زړی ښځه وه هغی به د اسلام راوړلو په خاطر حضرت خباب (رض) ته کله داوسپنی زغره وراغوستله اوپه سرو شګو کښی به یی څملاؤ اوکله به یی په تندی باندی دسروسیخانو داغونه ورکول یوه ورځ رسول الله (ص) تیریدی دا زړه دردوونکی وحشیانه پیښه یی په سترګو ولیدله چی دحضرت خباب (رض) په تندی باندی سره سیخان ایښودل کیږی او داغونه ورکول کیږی په زړه کښی یی درحمت ولوله طوفاني شوه خوبی له دعا نه یی نه یی نور څه په وس کښی وو؟

لاسونه یی داسمان خواته پورته کړل اودعایی وکړه چی: اللهم انصر خبابا ای الله! دخباب سره مرسته وکړه، درسول اکرم (ص) دعاقبوله شوه ډیری ورځی لانه وی تیری شوی چی دام انمار په سرکښی درد پیداشو او دومره یی ناکراره کړه چی اسلامی مؤرخین وائی دسپی په شان به یی انګولل په پای کښی خلګو ورته دعلاج یوه چاره وښودله هغه داچی سرته یی داغونه ورکړل شی ام انمار دغه وظیفه حضرت خباب (رض) ته ورکړه او هغه به سهار اوماښام دام انمار سرته پخپل لاس دسرو سیخانو داغونه ورکول ترڅو چی په پای کښی له همدی تکلیف نه مړه شوه دهجرت دحکم له نازلیدونه وروسته حضرت خباب (رض) مدینی منوری ته هجرت وکړ او کله چی دجهاد لړۍ شروع شوه خباب (رض ) په ټولو غزاګانو کښی درسول اکرم (ص) په ملګرتیا په پوره میړانه او سرښندنه برخه واخیستله او تاریخ دهغه نوم داسلام دمصیبت ځپلیو اوسترو مجاهدینو په لړ کښی ثبت کړ حضرت خباب چی له څه سره مینه لرله هغه دالله جَلَّ جَلَالُهُ اورسول ﷺ رضاء حاصلول ؤ نه یی له ژوند سره مینه وه او نه دژوند له

فانی مادی ښیګڼو سره دخلفائی راشدینو په زمانه کښی چی کله دفتوحاتو دروازه خلاصه شوه نو حضرت خباب (رض) به په ځینو وختونو کښی ژړل او ویل به یی: موږ دخدای درضا پخاطر له رسول الله (ص) سره هجرت وکړ او زموږ اجر دالله پرذمه پاتی شو له موږ څخه ځینی کسان داسی وه چی داخرت په سفر ولاړل او په دنیا کښی یی دخپلو عملونو هیڅ میوه ونه څکله خوځینی نور داسی دی چی عملونو یی ثمره ورکړه او خوری یی مصعب (رض) په احد کښی شهید شو دهغه دتکفین لپاره دهغه له خپل تنګ لنډ څادر نه پرته له موږ سره نورڅه نه وو هغه څادر به چی موږ دهغه سرته راکش کړی پښی به یی لوڅیدلی اوکه پښوته به مو پر راکش کړی سربه یی لوڅیده په پای کښی مو دهغه سر ورباندی پټ کړ اوپه پښو باندی مو دسرګړی واښه ورواچول، اوس دالله په فضل پرموږ باندی نعمتونه را اوریږی، زه ویریږم چی هسی نه الله (ج) زموږ دکړاوونو بدله همدلته پدی دنیا کښی راکړی.

حضرت خباب (رض) دقرآن له معلمینو څخه ؤ حضرت عمر (رض) چی له اسلام راوړلونه مخکښی دخپلی خور کورته په غضب اوغوسه ورغی پدی وخت کښی حضرت خباب له فاطمی اوسعید سره ناست ؤ دقرآن تعلیم یی ورته کاؤ کله چی دسوره طه دځو مبارکو ایتونو په لوستلو سره دعمر (رض) برخلیك اوسرنوشت بدل شونو خباب (رض) ورته وویل: عمره مبارك شه درسول اکرم (ص) دعا ستاپه حق کښی قبوله شویده هغه پرون شپه دعا کړی وه چی الهی! دعمر بن خطاب یا عمر بن هشام (ابوجهل) په اسلام راوړلو سره اسلام ته قوت په برخه کړه دخباب (رض) له دی وینا نه وروسته عمر فاروق (رض) دار ارقم ته ولاړی اودرسول اکرم (ص) په وړاندی یی خپل اسلام اعلان کړی. حضرت خباب (رض) چی داسلام په لار کښی څومره کړاوونه تیر کړل په نورو صحابه ؤ کښی دهغه ساری کم لیدل کیږی یوځل حضرت عمر (رض) ورته وویل: خبابه! موږ ته دخپلو مصیبتونو قصه واوروه! حضرت خباب رضي الله عنه دهغه دپوښتنی په جواب کښی خپله مبارکه شا ورته لوڅه کړه چی داسی سپین سپین داغونه پکښی وه لکه چی دفِس په ناروغی اخته وی حضرت عمر (رض)

حیران پاتی شو خباب (رض) وویل امیر المؤمینه! اور به یی بل کړ زه به یی په سکروټو باندی بربنډ څملولم ترهغه چی زما دبدن دوازګو په غوړو کښی به سکروټی سکور شوی.

حضرت خباب (رض) دعمرپه پای کښی کوفی ته ولاړی هلته وفات او همالته دفن کړای شو کله چی علی کرم الله وجهه دصفین له جنګ نه راستون شو دښارنه دباندی یی قبرونه ولیدل ویی ویل موږ چی تلو دلته قبرونه نه وو دا نوی قبرونه دچا دی؟

جواب ورکړ شو لومړی دلته خباب دفن کړای شو ورپسی شپږ نور کسان. علی (رض) دهغه دقبر ترڅنګ ودریده اوښکی یی له سترګو نه توی شوی او ویی ویل: الله دی په خباب باندی خپل رحمت نازل کړی دزړه په مینه یی اسلام راؤړ پخپله خوښه یی هجرت وکړ.

ټول ژوند یی په جهاد کښی تیر کړ او دحق په لاره کښی یی ډیر زیات مصیبتونه وګالل الله (ج) دنیکو کارانو عملو نه نه ضایع کوی. (رضی الله عنه)

## حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه

حضرت خالد بن ولید داسلامی لښکر ستر قوماندان تاریخ جوړوونکی فاتح اودحق دلاری هغه سرښندونکی اتل ؤ چی تر نن پوری دڅوارلس سوه کلونو په اوږدو کښی دهغه میړانه دژبو وِرد ده اوپه اینده کښی به هم وی، دده دبیساری کارنامو یاد دحق دلاری دمجاهدینو زړونه په درزا اووینه په جوش راولی.

رسول الله (ص) دهغه لپاره دعا کړی وه چی خدایه خالد په اسلام مشرف کړی کله چی دعمرو بن العاص (رض) اوحضرت عثمان بن طلحه (رض) په ملګرتیا دالله جل جلاله درسول (ص) حضورته ورغی اوپه ایمان مشرف شو نو سرور کائنات (ص) صحابه ؤ ته په خطاب وفرمایل: رمتکم مکة بافلاز کبرها. مکی دخپل زړه ټوټی ستاسی خواته درغورځولی ده.

حضرت خالد هغه شخصیت دی چی رسول الله (ص) ورته پخپله مبارکه ژبه دسیف الله لقب ورکړ یعنی دالله جل جلاله توره، مؤرخین ددنیا په ګوټ ګوټ

کښې پدې معترف دی چې دنړۍ هیڅ نور جنګیالی په عسکری اوجنګی مهارت کښې له حضرت خالد سره سیالی نشی کولای، یومصری مؤرخ عباس محمود العقاد پخپل تالیف: (عبقرية خالد) نومی کتاب کښې لیکلی دی: (دعسکری قیادت له صفتونو څخه به هیڅ یوصفت داسی نه وی چې په خالد کښې موجود نه ؤ هغه په جرئت میړانه، زیرکتیا اوپر دښمن باندی په کاری ګوزارونو کښې بیساری ؤ اوپه لږ ساعت کښې دجګړې بڼې ته په تغیر ورکولو کښې ډیر زیات ماهر ؤ.

هو: هغه په هره زمانه کښې دحق دلاری دمجاهدینو دویاړاو افتخار نمونه دی دحق ددښمنانو پرضد معرکو کښې دهغه په نقش قدم باندی تلل دکامیابی رمز اوراز دی. خالد بن ولید (رض) دقریشو دقبیلی دبنو مخزوم له کورنی څخه ؤ په اووم پښت یعنی مرة بن کعب کښې دهغه دنسب لړۍ له رسول اکرم (ص) سره نښلی.

دهغه پلار ولید بن مغیره داسلام او پیغمبر (ص) له سختو دښمنانو څخه اودمکی له بډایانو او شتمنو خلګو څخه ؤ، حضرت خالد (رض) هم تر ډیره وخته دایمان له نعمت نه محروم پاتی شو خو څنګه چې دپیغمبر دعا دهغه په حق کښې قبوله شوی وه بالاخره یی داقبال ستوری وځلیده اوپه اتم هجری کال کښې په اسلام مشرف شو.

هغه دخپل اسلام راوړلو سرګذشت پخپله داسی بیان کړیدی چې: کله چې ما وغوښتل درسول الله (ص) حضورته ورشم له عثمان (رض) بن طلحه اوعمرو بن العاص سره مخامخ سوم هغوی ته می دپوښتنی په. جواب کښې خپله اراده څرګندده کړه بیاپه ګډه سره ورغلو سلام می واچوه پیغمبر (ص) دسلام جواب راکړ اومسکی شو ماخپل اسلام اعلان کړ پیغمبر ( ص) راته وفرمایل:

ماچې ته دیو معقول انسان په توګه پیژندلی همدا می هیله وه چې ستا پوهه به ارو مرو دخیر خواته ستا رهبری وکړی. ما له رسول الله (ص) سره له بیعت نه وروسته عرض وکړ چې: ماته له خدایه دهغه قصور مغفرت وغواړه چې زه دخدای په لاره کښې خنډ واقع شوی یم ویی فرمایل: (په اسلام راوړلو

سره مخکینی ګناوی بخښل کیږی) ماوویل: سره له دی هم ماته بخښنه وغواړه رسول الله (ص) دعا وکړه چی: خدایه! خالد بن ولید که هر څومره ستا په لار کښی خنډونه اچولی وی دهغو بخښنه ورته وکړه له مانه وروسته عثمان بن طلحه او عمرو بن العاص هم په اسلام مشرف شول. دحضرت خالد (رض) له اسلام راوړلو نه دوه میاشتی وروسته دمؤته غزا مینځ ته راغله داتم هجری کال دجمادی الاولی په میاشت کښی پیغمبر (ص) دحضرت زید بن حارثه تر قیادت لاندی دری زره لښکر ولیږه او هدایت یی ورته ورکړ چی (که زید شهید شو نو دلښکر قیادت به جعفر بن ابی طالب کوی او که هغه هم شهید شو نو دلښکر امیر به عبدالله بن رواحه وی).

حضرت خالدبن ولید (رض) پدی لښکر کښی دیو عادی مجاهد په صفت برخه واخیستله. دبصری حکمران چی خبر شو هم یی پخپله خپل فوج تیار سی کړ اوهم یی له خپلو خلیفه ګانو څخه مرسته وغوښتله چی ددښمن دعسکرو شمیر تقریبا دوه لاکه ؤ یومسلمان دشپیتو تنو کافرانو مقابلی ته ولاړ ؤ دمؤته په میدان کښی ددواړو خواؤ ترمینځ خونړۍ جګړه وشوه چی په هغی کښی حضرت زید بن حارثه (رض) او حضرت جعفر بن ابی طالب او حضرت عبدالله بن رواحه یو په بل پسی شهیدان شول له هغه وروسته دلښکر قیادت حضرت خالد (رض) په غاړه واخیست چی په پای کښی فتح دخدای ددوستانو په نصیب شوه، ددی جنګ په دوران کښی چی رسول الله (ص) په مدینه مسجد کښی تشریف درلود په ناڅاپی ډول یی دصحابه ؤ رضي الله عنهم یو ټولګی ته چی هلته موجود ؤ وفرمایل: زید بیرغ واخیست شهید شو ورپسی جعفر بیرغ واخیست هغه هم شهید شو بیا عبدالله بن رواحه بیرغ واخیست هغه هم شهید شو اوس هغه چا بیرغ پورته کړ چی دالله له تورونه یوه توره ده اوهغه فاتح شو سیرت لیکونکی وائی چی الله (ج) ددی جنګ ټوله نقشه درسول الله (ص) مخی ته وړاندی کړه او ټول حالات یی په سترګو لیدل. حضرت خالد (رض) دمؤته له غزانه وروسته هم په هره جګړه کښی دیومیړنی اواتل په صفت برخه واخیستله دیوعادی مجاهد په توګه نه بلکی دیو غښتلی او ماهر قوماندان په صفت.

درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته هم حضرت خالد (رض) دحضرت ابوبکر صدیق (رض) او عمر فاروق (رض) دخلافت په دور کښې دحق او باطل په معرکو کښې برخوال ؤ اوپه هر محاذ کښې دخدای له نصرت او فتحې څخه برخوردار ؤ.

دکسرې ټولو والیانو ته یې پدې مضمون فرمانونه صادر کړل:

بسم الله الرَّحمٰن الرّحيم. دخالد بن وليد لخوا دفارسي واکمنو ته! سلام دې وي پر هغه چا چې دسمې لارې پيروي کوي.

امابعد: ټوله ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چې له تاسې نه يې باچائي واخيستله او ستاسې دسيسې يې شنډې کړې.

کله چې زما داليك در ورسيږ ي نوسمدلاسه ماته خپل بيعتونه راوليږي اوفرمان ته غاړه کښيږدې اوکنه نو زما دې په هغه ذات قسم وي چې له هغه پرته بل معبود نشته چې زه به ارومرو داسې خلګ درولیږم چې هغوی له مرګ سره داسې مينه لري لکه چې تاسې يې له ژوند سره لرئ.

په ريښتيا هم ددې ليك له رسيدنې نه وروسته خلګ ډلې ډلې ورران وو او په اسلام مشرف کيدل دخالد (رض) لپاره دخدای په فضل دځمکې تنابونه لنډيدل او په ګوټ ګوټ باندې يې داسلام بيرغ رپاوه.

دخالد (رض) ټولې اسلامې ژوند داس پر شا باندې او دتورې تربريښنا لاندې تير شو ټول په هغه ستر عبادت تير شو چې رسول الله (ص) هغه ته داسلام لوړه څوکه وبلې دې يعنې دالله ﷻ په لار کښې جهاد. حضرت خالد (رض) دعمر په شپيتم کال رحلت وکړ.

حافظ ابن عبدالبر رحمه الله په الاستيعاب کښې ليکلې دې چي: خالد (رض) دخدای په لار کښې دشهادت دومره هوسمن ؤ چې دځنکدن په شيبو کښې يې په نا اميدې سره وويل: ما پخپل ژوند کښې تقريبا په درې سوه جنګونو کښې برخه اخيستې ده اوزماپه بدن کښې داسې ځاى نشته چې په غشو تورو اونيزو سره زخمي شوى نه وي خو شهيد نشوم اونن مې په بستر کښې داوس په څير سا وزې دهغه پروفات باندې ژړندونکو ښځو ته حضرت عمر (رض) وفرمايل:

تاسی حق لری چی وژاړی خوپام کوی چی په لوړ اواز سورانی ونکړی اوسینی په سوکانو ونه وهئ.(رضی الله عنه)

## حضرت خالد بن سعید رضي الله عنه

حضرت خالد بن سعید دقریشو دبنو امیه له کورنی څخه او دیوی شتمنی او بارسوخه کورنی په غیږ کښی لوی شوی ؤ الله (ج) هغه ته نیك فطرت او لوړ فراست ورکړی ؤ اوداپی غوښتی وو چی دمحمدی دعوت په نور سره دهغه دزړه ګوټونه روښانه کړی دمحمدی بعثت په لومړیو وختونو کښی یوه ورځ حضرت خالد بن سعید اموی چی داوخت دهغه دنوی ځوانی دور ؤ دحضرت ابوبکر صدیق (رض) حضور ته ورغی اوعرض یی وکړ: ای ابوبکره ما نن شپه عجیب اوغریب خوب ولیدی هغه داسی چی دیوی لویی له اوره ډکی کندی پر غاړه ولاړوم اور خورا تاؤجنی لمبی وهلی اوزماپلار پخپلو دواړو لاسونو سره زه داورنه ډکی کندی خواته ورټیل وهلم او کوشش یی کاؤ چی په هغی کښی می وغورځوی خو په دې وخت کښی محمد بن عبدالله (ﷺ) راغی زه یی په هغی کنده کښی له غورځیدو څخه وژغورلم دهمدی کش مکش په څپو کښی له خوبه راویښ سوم اودشپی پاتی برخه می په ډیره اندیښنه کښی تیره کړه او کله چی سهار شو نو دادی چی تاته راغلم ترڅو چی ددی هیبت ناك خوب په تعبیر باندی می پوه کړی؟

حضرت ابوبکر صدیق (رض) ورته وفرمایل زمامشوره داده چی سمدلاسه هغه دین قبول کړه دکوم خواته چی محمد (ص) دعوت ورکوی. ستا دخوب تعبیر څرګند دی چی داسلام په راوړلو اودمحمد مصطفی (ص) په پیروی سره به ددوزخ له اورنه نجات ومومی ستا دپلار په برخه کښی دا نشته هغه به ارومرو ددوزخ داور خوراك شی.

دحضرت ابوبکر صدیق (رض) توصیه دحضرت خالد بن سعید (رض) زړه ته پریوتله سمدلاسه پاڅیده درسول اکرم (ص) حضور ته ورغی اوعرض یی وکړ: ای دعبد المطلب زویه ته خلګوته دڅه شی بلنه ورکوی. پیغمبر (ص) وفرمایل: زما دعوت دادی چی الله یودی شریك نلری همغه دعبادت لائق دی

یوازی دهمغه بندګی وکړه اوما دهغه درسول په توګه ومنه ددغو بتانو بندګی پریږده چې نه څه اوری اونه څه وینی، نه چاته ګټه رسولای شی اونه زیان دپیغمبر (ص) په دعوت سره دحضرت خالد بن سعید اموی په ځیره کښی دخوښی ځلا پیدا شوه دبیعت لپاره یې خپل لاس دسرور کائنات (ص) په مبارك لاس کښی کیښوده اوویې ویل: (اشهدان لا اله الا الله واشهد ان محمدا رسول الله) زه شاهدی وایم چې له الله نه پرته بل برحق معبود نشته اوشاهدی وایم چې محمد ﷺ دالله ﷻ رسول دی). دحق دغه شاهدی دحضرت خالد بن سعید (رض) دزړه له تل نه راوتلی اودژبې له لاری څرګنده شوی وه.

له الله ﷻ اودالله ﷻ له رسول ﷺ سره مینه دهغه په رګونو کښی لکه وینه ځغلیدله هغه چې په کوم وخت کښی دتوحید بلنه قبوله کړه په هغه وخت کښی صرف څلور پنځه تنه دحق له کاروان سره ملګری شوی وو دمکی په شرك ځپلی تیاره چاپیریال کښی دحق له کاروان سره ملګرتیا دمصیبتونو داور بټی ته ورداننګل ؤ پدغه محیط کښی ددوه نیم زره کلونو په اوږدو کښی کوم پیغمبر نه ؤ راپاځیدلی اونه یې غوږونه دتوحید له اواز سره اشناوو، هلته شرك ؤ، انسانانو دبتانو بندګی کوله دقومی اوقبیلوی تعصبونو اودښمنیو په اور کښی سوځیدل زورآورو دضعیفو اوکمزورو خلګو وینی څیښلی، سود او لوټماری دخلګو ورځنی شغل ؤ، ښکاره خبره ده چې پدغه چاپیریال کښی دتوحید او دعدل اوانصاف انقلاب راوستل څه اسانه خبره نه وه خونیك فطرتو اونیك بختو انسانانو ددغو سختیو په مینځ کښی دهر راز کړاوونو په زغملو سره دنجات اوسعادت خواته لاره وایستله اومخ په وړاندی روان وو چې حضرت خالد بن سعید اموی ( رض) هم ددغو سر ښندونکو له جملی څخه ؤ.

کله چې سعید بن عاص دخپل زوی خالد له ایمان راوړلو څخه خبر شو هغه یې راوغوښت او ورته یې وویل: ته خوپوهیږی چې زه دقریشو سرداریم او ترټولو زیات دخپلو پلرنیو عقایدو ساتونکی یم مګر تاداسی کار وکړ چې هغه په قریشو کښی زما دسپکاوی باعث ګرځی ایا داصحیح ده چې تا دمحمد (ص) پیروی غوره کړیده او زموږ دمعبودانو سپکاوی کوی؟

حضرت خالد دخپل پلار دپوښتنې په جواب کښې وویل: «والله انه لصادق ولقد امنت به واتبعته» هو! قسم په خدای چې محمد (ص) پخپل دعوت کښې رېښتونی دی ماپه هغه باندې ایمان راوړېدی اودهغه پیروی می غوره کړېده سعید بن عاص دهغه په وهلو ټکولو پیل وکړ اوورته ویل به یې: «څنګه؟ ایا دې ته حاضر یې چې دمحمد ﷺ پیروی پرېږدې؟

هغه به پرله پسې جواب ورکاؤ: نه هیڅکله که تروهلو اوتعذیبونو لاندې می سا وزی هم خوزه به هیڅکله دمحمد (ص) پیروی پرې نږدم.

سعید بن عاص خپل زوی حضرت خالد په یوه تیاره کوټه کښې بندی کړ، خواړه او اوبه یې ورباندې بند کړل خوهغه به دبندی دروازې ترشا زمزمه کوله: «والله انه لصادق وانی به لمؤمن» قسم په خدای چې دمحمد (ص) دعوت رېښتیا دی اوماپه هغه باندې ایمان راوړېدی دمشرك پلار زړه پدې تعذیبونو باندې یخ نشو هغه یې له کوټې نه راوایستی په غاړه کښې یې پړی ور واچوه دری ورځې یې دمکې په ګرمو ډاګونو کښې واچاوه نه یې پدې موده کښې یوه ګوله ډوډی ومیندله نه یوغړپ اوبه اونه یخ سیوری ددی ټولو سختو مصیبتونو سره سره چې کله سعید پوښتنه وکړه: دا تعذیبونه خوښوی که دمحمد (ﷺ) پیروی؟

خالد جواب ورکړ: لن ادع الاسلام لشیئ وساحي به واموت علیه. زه به هیڅله دهیڅ شی لپاره اسلام پرې نږدم. زه متعهد یم چې ژوند به می داسلام لپاره او مړینه به می داسلام په لاره کښې وی. سعید ورته وویل: زه به روزی درباندې بنده کړم ترڅو چې له لوږې نه مړ شې؟

خالد جواب ورکړ «والله خیر الرازقین» الله ډیر ښه روزی رسان دی، خالد که دناز او نعمت څخه په ډك کور کښې هرڅومره له لوږې او محرومیتونو سره مخامخ شو خوڅه پروایې ونکړه خکه چې له هغه سره دایمان خزانه وه دهغه زړه مطمئن ؤ هغه خپله روښانه آینده لیده لوږې محرومیت اوتعذیب دهغه په ایمان کښې تزلزل رانه وستلی شو.

رسول الله (ص) چې کله خپلو خوږو ملګرو ته دویم ځلې اجازه وکړه چې

حبشې ته هجرت وکړی حضرت خالد دمهاجرينو په دی قافله کښې شامل شو اوتقريبا ديارلس کاله يې په حبشه کښې دمهاجرت او پرديسی ژوند تير کړ او بيا هغه وخت مدينې ته ستون شو چې اسلامی لښکر دخيبر له فتحی نه وزګار شوی ؤ له هغه وروسته په ټولو غزاګانو کښې له رسول الله (ص) سره ملګری ؤ.

حضرت خالد بن سعيد بن عاص اموی له دی امله چې دسابقون الاولون څخه ؤ او داسلام پخاطر يې ډيری سختی منلی وی او کړاوونه يې زغملی وو دټولو صحابه ؤ دخاص احترام مورد ؤ حضرت خالد او دهغه دوه نور مسلمان ورونه حضرت عمرو بن سعيد اوابان بن سعيد درسول الله (ص) دخاص شفقت مورد وو له همدی امله سرور کائنات (ص) حضرت خالد (رض) ديمن حضرت ابان (رض) دبحرين حضرت عمرو (رض) دتيماء دوالی په حيث ټاکلی وو.

حافظ ابن عبدالبر په الاستيعاب کښې ليکلی دی چې درسول الله (ص) درحلت دخبر له اوريدو نه وروسته درو واړو خپل ماموريتونه پريښودل او مدينې ته راستانه شول ابوبکر صديق (رض) دری واړه ورونه راوغوښتل او ورته يې وويل تاسی دسرور کائنات (ص) له خوا مقرر شوی ياست خپلو وظيفوته ادامه ورکړی هغوی په جواب کښې وويل: موږ له رسول الله (ص) نه وروسته نوره وظيفه نشو اجرا کولای.

دچوکی اومقام سره که دحضرت خالد مينه نه وه خو دجهاد مينه يې تل په زړه کښې ځپانده وه دابوبکر صديق (رض) په دور کښې چې کله دشام لوری ته دمجاهدينو لښکر ليږل کيده نوحضرت خالد بن سعيد په هغه عسکری ټولی کښې شامل ؤ چې دهغه قوماندان حضرت شرحبيل بن حسنه ؤ درخصتيدو په وخت کښې يې امير المؤمنين ته وويل: ای خليفة الرسول لاس راکړه کيدای شی بيا زما اوستا ديدن ونشی اوله الله ﷻ نه غواړم چې په جنت کښې موږ اوتاسی ته درسول الله (ص) دملاقات سعادت راپه برخه کړی پدی غزا کښې دحضرت خالد زوی سعيد بن خالد شهيد شو او پخپله ژوندی راستون شو مګر دويم ځلی چې د ابوعبيده بن جراح (رض) ترقيادت لاندی دجهاد لپاره

شام ته ولاړې په هغه سخته جگړه کښې چې دمسلمانانو اوروميانو ترمينځ ونښتله حضرت خالد په پوره ميړانه وجنگيدی اوپه پای کښې په (مرج الصفر) نومي ځای کښې دخدای ددښمنانو په لاس شهيد کړای شو اودجنت اوديدار مستحق شو. (رضی الله عنه)

## حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه

حضرت زيد (رض) ديمن دقضاعه قبيلي دمشر حارثه بن شراحيل زوی او دمور نوم يې ؤ سعدی بنت ثعلبه چې دطی قبيلي بنومعن شاخ ته منسوبه وه.

داته کلنی په عمر کښې له خپلی مور سره ديوی قافلی په ملگرتيا کښې په سفر روان ؤ چې ډاکی اچوونکو دمالونو دغلا کولو په ترڅ کښې حضرت زيد هم وتښتوه هغه وخت دوحشت او بيرحمی دا حال ؤ چې انسانان په بازارونو کښې دمالونو په څير خرڅيدل لار وهونکو زيد دعکاظ بازار ته دخرڅلاؤ لپاره راؤست اوهلته دام المؤمنين خديجة الکبری (رض) وراره حکيم بن حزام په څلور سوه درهمه واخيستی اوخپلی ترور ته يې هديه کړې کله چه له خديجی (رض) سره درسول اکرم (ص) واده وشو نوهغې زيد چې پدی وخت کښې پنځه لس کلن ؤ سرور کائنات (ص) ته وبخښی اودغه خوش نصيب غلام دخپلو غوره اخلاقو او نيك سيرت لامله درسول کريم (ص) دزيات شفقت او مهربانی مورد وگرځيدی او دزيد هم دالله له پاك حبيب سره دومره مينه وه چې دهغه له څنگ نه يوساعت جدا کيدل ورباندی ډير سخت تماميدل.

مور اوپلار دخپل ورك شوی زوی په بيلتانه کښې شپه ورځ اوښکی تويولی اوکلی په کلی دهغه په لټولو کښې لا لهانده وو يووخت دحج په موسم کښې دقضاعه قبيلي څوکسان مکی ته راغلل له زيد سره مخامخ شول هغه يې وپيژانده اودبيرته ستنيدو په وخت کښې يې دهغه مور او پلار ته زيری ورکړ حارثه اودهغه ورور کعب په زيد پسې مکی معظمی ته راغلل درسول کريم (ص) په حضور مشرف شول اوله اوښکو نه په ډکو سترگو يې دقيمت په بدل کښې له هغه نه دزيد غوښتنه وکړه سرور کائنات (ص) وفرمايل: که زيد پخپله خوښه درسره ځې بی پيسو به يې درکړم اوکه دلته پاتی کيږی له تاسی سره تلو

ته یی نه مجبوروم زید یی راوغوښت پوښتنه یی ترینه وکړه: زیده داخلګ پیژنی؟ جواب یی ورکړ: هو! دایو زما پلار اودا بل می تره دی پیغمبر (ص) وفرمایل: دوی په تا پسی راغلی دی ستا خوښه چی له دوی سره ځی اوکه له ما سره پاتی کیږی؟

زید عرض وکړ: زما باداره زه پرتا باندی ددنیا هیڅ یو انسان ته ترجیح نشم ورکولی هیله کوم چی ماله ځانه جدا نکړی دزید پلار ددی خبری په اوریدو هك پك پاتی شو اوپه تنده لهجه یی زوی ته وویل: افسوس دی چی ته دغلامی ژوند ته په ازادۍ باندی ترجیح ورکوی زید جواب ورکړ: زما بادار دومره پرما مهربان دی چی هیڅ یوپلار پخپل زوی باندی دومره مهربان نه وی زه دی غلامی ته زر واری په ازادۍ باندی ترجیح ورکوم پدی جواب سره رسول اکرم (ص) دومره خوشحاله شو چی زید یی په همدی وخت کښی ازاد کړ او دکعبی ترڅنګ یی دقریشو په عامه غونډه کښی اعلان وکړ چی: ای خلګو! شاهدان اوسی چی زیدله نن نه وروسته زما زوی دی زه دده اودی به زما وارث وی حارثه اوکعب هم ددی صحنی په لیدو ډیر خوښ شول اوپه ډاډه زړه خپل وطن ته رخصت شول.

کله چی نبی کریم (ص) په رسالت مامور شو زید بی له ځنډه ایمان راؤړ او دلومړنیو څلورو تنو مؤمنانو څخه یوتن دی یعنی خدیجة الکبری (رض) ابوبکر صدیق (رض) علی مرتضی (رض) زید بن حارثه (رض) له هجرت نه مخکښی دطائف په سخت سفر کښی حضرت زید دسرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ هغو ظالمانو چی په رسول کریم (ص) باندی دتیږو باران جوړکی نو زید به له پیغمبر (ص) نه ګردچاپیره تاویدی ترڅو چی دتیږو دګوزارونو لامله د هغه سر وچاودی او وینو بی له سر نه فواری کړی.

له هجرت نه وروسته حضرت زید له بدر نه واخله ترمؤته پوری په ټولو غزاګانو کښی برخه اخیستی ده بلکی په نهو چریکی حملوکښی هم دقوماندان په صفت برخوال ؤ په اتم هجری کال دجمادی الاولی په میاشت کښی چی کله دغازیانو دری زره کسیز لښکر دمؤته جګړی ته روانیدی نو رسول کریم (ص)

حضرت زید ددی لښکر امیر وټاکه حضرت جعفر بن ابی طالب عرض وکړ: یا رسول الله (ص) ما دا توقع نه لرله چی زید به پر ما باندی امیر وټاکی؟ سرور کائنات (ص) وفرمایل: داخبره مکوه ته نه پوهیږی چی دخدای په نزد څوك غوره دی؟ حضرت زید دمؤته په جنګ کښی په پوره شجاعت وجنګیده اوپه پای کښی یی دشهادت لوړ مقام په نصیب شو.

په مدینه منوره کښی رسول کریم (ص) دصحابه ؤ په مینځ کښی ناست ؤ الله تعالی دجنګ نقشه مخ ته ورته وړاندی کړی وه وییی فرمایل: (زید شهید شو بیرغ جعفر واخیست هغه شهید شو بیرغ عبدالله بن رواحه پورته کړ هغه هم شهید شو اوس بیرغ دخد ای له تورونه یوی توری واخیست اوهغه فاتح شو پدی وخت کښی دسرور عالم (ص) له مبارکو سترګو نه اوښکی بهیدلی او دا الفاظ یی په ژبه راغلل (اخوانی ومونسائی ومحدثائی) دوی زما ورونه زما خواخوږی او زما دمرکی ملګری وه.

دهغه له شهادت نه په خبریدلو دهغه ماشومی لور رقیه ژړل پیغمبر (ص) له هغی سره یوځای دومره وژړل چی له ډیری ژړا نه یی ږغ په ستونی کښی وچ شو حضرت سعد بن عباده په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه: یا رسول الله (ص) دا څه کوی؟ ویی فرمایل: دا دمحبت هغه جذبه ده چی دخپل محبوب لپاره دهرچا په زړه کښی پر ته وی. زید هغه یوازنی محبوب الرسول صحابی دی چی نوم یی دالله په کتاب کښی ذکر شویدئ ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه (رض) فرمائی چی: هیڅکله داسی نده پیښه شوی چی رسول الله (ص) حضرت زید کومی غزا ته لیږلی وی اوهغه یی دمجاهدینو قائد نه وی ټاکلی.

کله چی حضرت عمر فاروق (رض) دخپل خلافت په دور کښی دصحابه ؤ معاشونه وټاکل نوخپل زوی عبدالله ته یی دوه نیم زره اواسامه بن زید ته یی دری زره معاش تعین کړ عبدالله بن عمر (رض) عرض وکړ: ماتل له اسامه سره په جهادونو کښی اوږه په اوږه برخه اخیستی ده اوته هم داسامه له پلار زید نه بیرته نه یی پاتی شوی نو زما معاش دی ولی داسامه له معاش نه کم وټاکی؟ حضرت عمر (رض) وفرمایل: زویه! ستا خبره صحیح ده خو په رسول الله

(ص) باندی اسامه لتانه اوداسامه پلار ستا له پلار نه زیات گران ؤ. دمؤته له جگړی نه وروسته چی دانتقام اخیستلو لپاره پیغمبر (ص) کوم لښکر تیار کړ اگرکه په هغه کښی حضرت ابوبکر صدیق (رض) حضرت عمر فاروق (رض) حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) حضرت سعید بن زید (رض) حضرت ابو عبیده بن الجراح (رض) حضرت قتاده بن نعمان (رض) غوندی جلیل القدر صحابه شامل وه خو رسول الله (ص) دزید زوی اتلس کلن زلمی اسامه ددی لښکر امیر مقرر کړی ځینو کسانو دی خبری ته تعجب وکړ رسول الله (ص) سره له دی چی ناروغ ؤ له حجری نه راوؤتی پرمنبر باندی کښېنستی ویی فرمایل: ای خلگو! زه خبر شوی یم چی تاسی داسامه په مشرتابه باندی اعتراض کړیدی دازما لپاره څه نوی خبره نده تاسی له دی نه مخکښی داسامه دپلار زید په قیادت باندی هم اعتراضونه کول په الله قسم چی زید دهرډول مشرتابه لائق ؤ اوپرما باندی له حده زیات گران ؤ اوله هغه وروسته اسامه لتاسی نه ماته زیات محبوب دی.

دحضرت زید (رض) همیشنۍ غذا داوربشو ډوډی وه زړی پیوندی جامی به یی اغوستلی او خپلی پښی به یی پخپله پیوندولی یوچا ورنه پوښتنه وکړه: ا بو اسامه! ولی دومره زړی جامی اغوندی؟

جواب یی ورکړ: زمونږ عزت صرف په اسلام کښی دی له قیمتی جامونه څه نه جوړیږی. حضرت زید که څه هم تل دغازیانو دلښکر امیر اویو تکړه قوماندان ؤ خو دجنگ په میدان کښی یی له یو عادی مجاهد سره څه فرق نه لیدل کیده دهغه له کړو وړو نه دانه محسوسیدله چی هغه دلښکر مشر اونور یی ترلاس لاندی سپاهیان دی. عبدالله بن عامر وائی یوه ورځ حضرت زید دمجاهدینو لپاره داوبو مشك پر اوږو راخیستی ؤ ما ورته عرض وکړ: ای امیره! دامشك ماته راکړه ویی فرمایل: تاته دی خدای اجر درکړی داکار زه پخپله کوم ترڅو چی زما په زړه او دماغ کښی دامارت بوی پیدا نشی. رضي الله عنه

* * *

## حضرت زبیر بن العوام رضي الله عنه

دبعثت لومړنی زمانه وه یوه ورځ په مکه مکرمه کښې ډنډوره شوه چې مشرکانو محمد (ص) بندی کړی یایې شهید کړیدی ددې دهشت ناك خبر په اوریدلو دبنو اسد قبیلې یو شپاړس کلن زلمی په ډیره بیره پداسې حال کښې له کوره ووتی چې توره یې له تیکی ځخه ایستلې وه او درسول اکرم ( ص) کور ته ورسیدی ویې لیدل چې دالله حبیب (ص) روغ رمټ په عافیت کښې ناست دی نوله حده زیات خوشحاله شو سرور کائنات (ص) چې دغه زلمی ولیده دموسکا نه په ډکو شونډو یې وفرمایل: وروره! څه خبره ده چې پدې ټکنده غرمه کښې بربنډه توره په لاس راغلې؟

زلمی عرض وکړ: یارسول الله: مور اوپلار مې درنه ځار شه ما اوریدلي وو چې دښمنانو بندی کړی یا شهید کړی یې، ویې فرمایل: ښه نو که دا کار شوی وای تابه څه کړی وای؟ زلمی عرض وکړ: قسم په خدای چې زه به دمکې له خلګو سره ترهغه جنګیدلی وم ترڅو چې وژل شوی وای.

دهغه ددې جواب په اوریدلو درسول اکرم (ص) په مبارکه څیره کښې دخوښې نښې ولیدل شوی دزلمی په سرښندنې یې شاباس ووایه دخیر دعایی ورته وکړه یوازې هغه ته نه بلکې دهغه توری ته یې هم دعا وکړه چې دا دحق دملاتړ لپاره له تیکې نه راوتلې لومړنی توره وه دحق دشمعې دغه پتنګ دبنو اسد قبیلې زلمی حضرت زبیر بن العوام ؤ (رض). نبی کریم (ص) حضرت زبیر (رض) دحواری رسول په لقب سرلوړی کړ اوپخپله مبارکه ژبه یې هغه ته دجنت زیری ورکړ چې پدې ترتیب سره هغه دعشره مبشره یوتن ؤ. حضرت سیدنا زبیر (رض) ددواړو جهانو دسردار (ص) دترور صفیه بنت عبد المطلب زوی د ام المؤمنین خدیجة الکبری (رض) وراره دحضرت اسماء (رض) میړه او دام المؤمنین عائشې (رض) اخښې ؤ پردغو نسبتونو سربیره په قصی بن کلاب کښې دهغه دنسب لړۍ هم درسول کریم (ص) سره یوځای کیدله. حضرت زبیر (رض) په ماشوم توب کښې دپلار له سیوری نه محروم شوی او دخپلې مور حضرت صفیه (رض) اوتره نوفل بن خویلد ترسر پرستې لاندې ؤ، دبلوغ منګ

ته نه ؤ رسيدلی چی په اسلام مشرف شو او دلومړنيو مؤمنانو په صف کښی يی لوړه درجه وګټله کله يی چی دحق دعوت قبول کړ دتره شفقت په دښمنی اونفرت بدل شو دومره ظلم اوستم به يی ورباندی کاؤ چی کله به يی داور دسکروټو داغونه ورکړل اوکله به يی په خوټيدلو اوبو کښی لمبوه اوورته ويل به يی چی خپل پلرنی دين ته راواوړه مګر دغه دحقی لاری ريښتونی عاشق به جواب ورکاؤ چی: نه زه به هيڅ کله بيا کافر نشم. ظلمونه او کړاوونه چی کله له زغم اوحوصلی نه پورته شول نو حضرت زبير (رض) درسول (ص) په اجازه حبشی ته هجرت وکړ هلته له څه وخت تيرولو نه وروسته بيا مکی ته راغی او په تجارت يی لاس پوری کړ رسول اکرم (ص) چی کله پخپله مدينی منوری ته په هجرت روان ؤ حضرت زبير (رض) دتجارتی قافلی سره مکی ته راستنيده نو په لاره کښی له سرور کائنات (ﷺ) اوحضرت ابوبکر صديق (رض) سره مخامخ شو اوهغوی ته يی سپين ټوکران دهديی په ډول ورکړل.

څه موده وروسته دخپلی مور صفيه (رض) اوخپلی ميرمنی حضرت اسماء (رض) په ملګرتيا پخپله هم مدينی ته مهاجر سو. داسلامی جهادونو لړۍ چی شروع شوه نوحضرت زبير (رض) په هره جګړه کښی په پوره ميړانه اواستقامت برخه اخيستله تردی پوری چی رسول اکرم (ص) به دهغه دزړور توب او سر ښندنی ستاينه کوله.

حضرت علی (کرم الله وجهه) به هغه ته اشجع العرب ويل يعنی په عربو کښی ډير باتوره. دحق اوباطل دلومړنی معرکی بدرپه جګړه کښی دحضرت زبير (رض) توری ددښمن ليکی تارمار کړی پدغه ورځ هغه ژيړه پګړۍ په سرتړلی وه کله چی درسول اکرم (ص) سترګی ورباندی ولګيدلی ويی فرمايل: نن دمسلمانانو دمرستی لپاره له اسمانه پرښتی راکوزی شويدی او هغوی هم ژيړ رنګ پګړۍ تړلی دی.

له حضرت اسماء بنت ابوبکر (رض) نه روايت دی چی دجګړی په ترخ کښی دمشرکانو يو جنګيالی ديوی غونډی دپاسه ودريدی اوچيغه يی کړه څوك شته چی زما مقابلی ته را وړاندی شی؟

پدی وخت کښې درسول اکرم (ص) نظر پرحضرت زبیر (رض) باندی ولګیدی چی نږدی دډیری غوسی په حال کښې ناست ؤ پیغمبر (ص) وفرمایل: ای ابن صفیه! (رض) پاڅیږه او ددغه مشرك مقابلې ته وړاندی شه.

مشرك هم خورا پهلوان سړی ؤ دواړو یو دبل دراپرځولو هڅه کوله پیغمبر (ص) وفرمایل: له دغو دواړونه چی هریو مخکښې له غونډۍ نه لاندی وغورځیدی هغه به ووژل شي بیایې دحضرت زبیر (رض) په حق کښې دعاوکړه څوشیبې وروسته دواړه پداسی شان لاندی وغورځیدل چی مشرك لاندی اوحضرت زبیر (رض) پری دپاسه ؤ حضرت زبیر (رض) دسترګی په رپ کښې پخپلی توری سره دمشرك سرغوڅ کړ او دجهنم کندی ته یی ولیږه له هغه وروسته دمشرکانو نامتو پهلوان عبیده بن سعید بن عاص چی سرتر پایه په جنګی زغره کښې پټ ؤ دحضرت زبیر (رض) مقابلې ته راووت خو دتوری څوکه یی دهغه په سترګه کښې ښخه کړه اوهغه هم هلاك شو دحضرت زبیر دغه توره هم په تاریخ کښې دیو مبارك یادګار په توګه ساتل کیدله.

داحد په غزا کښې حضرت زبیر (رض) له هغو څوارلسو صحابهٔ کرامو څخه یوتن ؤ چی له پیل نه تر پایه یې درسول اکرم (ص) دحمایې لپاره ځانونه سپر کړی وه پدی جګړه کښې دمشرکانو علمبردار طلحه بن ابی طلحه مسلمانانو ته دجنګ دعوت ورکړ حضرت زبیر (رض) په منډه وروړاندی شو له ځمکی نه یی ټوپ کړ دهغه تر شا پر اوښ باندی سپور شو بیایی هغه لاندی راوغورځوی او پخپلی توری سره یی ذبح کړی، پیغمبر (ص) پدی وخت کښې دحضرت زبیر ستاینه وکړه ویې فرمایل: دهر پیغمبر لپاره یوحواری یعنی ملاتړ وی زما ملاتړ زبیر دی که زبیر دهغه مقابلې ته نه وای وتلی زه به پخپله وروتلی، داحزاب په سخته جګړه کښې هم چی کله نوفل بن عبدالله بن مغیره مخزومی دمقابلې لپاره میدان ته ودانګل نو حضرت زبیر (رض) وروړاندی شو او هغه یی پخپلی توری سره دوه ټوټی کړ.

یوځل چی دبنوقریظه دحالاتو درپوټ راوړلو لپاره حضرت زبیر ته وظیفه ورکړه شوه اوهغه دغه خطرناکه وظیفه سرته ورسوله بیرته راغی نورسول الله

(ص) هغه ته په شاباسی اوتحسین کښی وفرمایل: فِدَاكَ اَبِیْ وَاُمِّیْ. یعنی زما مور اوپلار دی درنه ځارشی، حضرت زبیر (رض) دبنو قریظه په خوا کښی هم برخه واخیستله په بیعت رضوان کښی هم برخوال ؤ دخیبر په جنګ کښی یی هم ډیره میړانه وښودله هلته مرحب پهلوان دحضرت علی (رض) په لاس او د هغه ورور یاسر چی په پهلوانی کښی ترهغه کم نه ؤ دحضرت زبیر (رض) په لاس ووژل شو. دمکی دفتح په کال کښی دلس زره کسیز اسلامی لښکر په مینځ کښی دا امتیاز حضرت زبیر ته ورپه برخه شو چی هغه ته نبوی مبارك بیرغ درسول الله (ص) لخوا ورکړ شو له هغه وروسته دحنین طائف اوتبوك په جنګونو کښی برخوال اوبیا په حجة الوداع کښی درسول الله (ص) سره ملګری ؤ دسرور کائنات (ص) له رحلت نه وروسته هم حضرت زبیر دشام اومصر په جنګونو اونورو معرکو کښی پوره میړانه ښودلی ده په پای کښی دحضرت علی (رض) دخلافت په دور کښی دعمرو بن جرموز لخوا دماسپښین په لمانځه کښی دسجدی په حال کښی شهید کړای شو ابن جرموز دحضرت زبیر (رض) زغره توره اوپریکړی سر دانعام په تمه دحضرت علی (رض) په مخ کښی کیښودل خو حضرت علی (رض) توری ته وکتل او ویی ویل: دغی توری ډیر ځله درسول الله (ص) له مخی نه دښمنان تارمار کړیدی ای دابن صفیه قاتله! تاته دی دجهنم زیری وی. (رضی الله عنه)

## حضرت زید بن ثابت ﵁

حضرت زید بن ثابت بن ضحاك دمدینی دانصارو دخزرج قبیلی دبنو نجار له مشهوری پلرګنی څخه اوله نبوی هجرت نه یوکال مخکښی دعمرپه (۱۱) کلنی کښی دحضرت مصعب بن عمیر (رض) په دعوت په اسلام مشرف شوی ؤ دهغه پلار ثابت بن ضحاك له نبوی هجرت نه پنځه کاله دمخه دبعاث په مشهوره جګړه کښی وژل شوی ؤ اوهغه دشپږو کالو یتیم پاتی شوی ؤ.

دسپیڅلی فطرت خاوند زید (رض) له اسلام راوړلونه وروسته دزړه په مینه دقرآن مجید په زده کړه شروع وکړه کله چی سرور عالم (ص) له مکی معظمی نه مدینی منوری ته هجرت وکړ او دایمان دخوږی اوزړه راښکونکی

ورمی په لګیدو دمدینی دخلګو دشرك وهلیو زړونو په وچو کروندو باندی ښیرازه اوسمسور پسرلی راغی نویوه ورځ ځوتنو انصاری صحابه ؤ یو دولس کلن هلك دپیغمبر (ص) حضورته راؤست عرض یی وکړ: (یا رسول الله! داهلك دبنو نجارله کورنی څخه اوپه ډیرشوق سره دقرآن په زده کړه بوخت دی تراوسه پوری یی اوه لس سورتونه حفظ کړیدی).

رسول اکرم (ص) ددی خبری په اوریدلو ډیر زیات خوشحاله شو اوحضرت زید (رض) ته یی امر وکړ چی قرآن ولولی هغه ورته یولس حفظ کړی سورتونه ولوستل پیغمبر (ص) پداسی حال کښی چی په مبارکه څیره کښی یی دخوښی نښی ځلیدی دهغه پرسر باندی یی دشفقت لاس راتیر کړئ او دخیر او برکت دعا یی ورته وکړه.

له نبوی هجرت نه وروسته دحضرت زید بن ثابت (رض) زیاتره وخت به دسرور کائنات (ص) په صحبت کښی تیریدی په بیړه بیړه یی قرآن حفظ کوی اوسره لدی چی عمر یی کم ؤ خو دعلمی مقام په لرلو سره درسالت ددربار له مقربینو څخه وشمیرل شو.

حضرت زید بن ثابت (رض) ډدیر ښه ذکاوت او قوی حافظی خاوند ؤ ، سیرت پوهان وائی چی هغه نه یوازی دعربی ژبی لیکوال ؤ بلکی دپیغمبر (ص) په هدایت یی عبرانی او سریانی ژبی هم زده کړی اوحتی دتورات او انجیل مطالعه یی هم وکړه.

علامه مسعودی (رح) پخپل کتاب (التنبیه والاشراف) کښی لیکلی دی: (حضرت زید بن ثابت (رض) په مدینه کښی له اوسیدونکو ژب پوهانو څخه حبشی قبطی، رومی اوفارسی ژبی هم زده کړی وی).

دقرآن کریم په حفظ اودمختلفو ژبو په زده کړه سربیره حضرت زید (رض) په علم الحساب کښی هم لوی لاس درلود اودحساب ډیری سختی مسئلی به یی سمدلاسه حل کولی.

پیغمبر (ص) حضرت زید دوحی دلیکونکی اوخپل منشی په صفت ټاکلی ؤ دهیوادونو دباچاهانو اومشرانو لخوا به چی کوم خطونه راتلل حضرت زیدبه

دهغو جوابونه ليکل اګر که دوحی دليکلو اوخط نويسی لپاره دحضرت زيد (رض) په څنګ کښی نور صحابه کرام هم تعين شوی وو خوپدی مورد کښی دده نوم ځکه زيات څرګند اومشهوردی چی ده داوظيفه دپيغمبر (ص) تررحلته پوری سرته رسوله په مسند احمد بن حنبل (رح) کښی راغلی دی چی حضرت زيد (رض) به له قلم مشوانۍ هډوکو او دنيزو له تختو سره دپيغمبر (ص) څنګ ته ورتلی کله به چی پر پيغمبر (ﷺ) باندی وحی نازليدله نوڅه چی به يی دهغه له مبارکی ژبی نه اوريدل هغه به يی يوازی ليکل نه بلکی حفظ کول به يی هم له همدی امله درسول اکرم (ص) په ژوند کښی دقرآن بشپړ حافظ شو او ورسره داچی دقرآن کريم ټولی اجزاوی په هرڅه باندی چی ليکل شوی وی هغه ټول شيان يی هم ساتلی وو.

دهجرت ددويم کال درمضان په مياشت کښی چی کله دبدر تاريخی غزا مينځ ته راغله پدی وخت کښی حضرت زيد ديارلس کلنی ؤ دڅو نوروکم عمره هلکانو په ملګرتيا په ايمانی ولوله دپيغمبر (ص) حضور ته ورغی اوپه جهاد کښی دبرخی اخيستلو پيشنهاد يی وکړ مګر څنګه چی رسول اکرم (ﷺ) دپنځلس کلنی له عمرنه کمو هلکانو ته په جنګ کښی دشريکيدو حق نه ورکاؤ له دی امله دده پيشنهاد ونه منل شو.

داحدپه غزا کښی چی دهجرت ددريم کال دشوال دمياشتی واقعه ده دحضرت زيد په ګډون کولو کښی اختلاف دی خوټول سيرت ليکونکی پدی متفق دی چی حضرت زيد بن ثابت (رض) داحزاب په غزا کښی چی دپنځم هجری کال واقعه ده برخوال ؤ اوپدی وخت کښی هغه شپاړس کلن ؤ.

ابن سعد (رض) وائی چی هغه دخندق په کيندلو کښی په ډيره مينه مصروف ؤ چی دپيغمبر (ص) نظر ورباندی ولګيدی ويی فرمايل: دا څومره ښه هلك دی، داحزاب له غزانه وروسته حضرت زيد (رض) ته په ټولو غزاګانوکښی درسول اکرم (ص) سره دملګرتيا سعادت ورپه برخه ؤ دتبوك په غزا کښی دبنو نجار قبيلی بيرغ دحضرت عماره بن حزم انصاری (رض) په لاس کښی ؤ پيغمبر (ص) له هغه نه بيرغ واخيستی او حضرت زيد ته يی ورکړی، حضرت عماره

عرض وکړ: (یا رسول الله! مور اوپلار می درنه ځارشه له ماځخه کوم قصور شویدی؟ رسول الله (ص) وفرمایل: دقصور څه خبره نشته خوزه ددی لپاره زید ته بیرغ ورکوم چی له تا نه یی قرآن زیات لوستی دی.

دسرور کائنات (ص) له رحلت نه وروسته په سقبقه بنو ساعده کښی دخلیفه ټاکلو په غونډه کښی حضرت زید حضرت ابوبکر صدیق (رض) ته درایی ورکولو په وخت کښی وویل: لکه څنګه چی موږ له رسول الله (ص) سره نصرت کړیدی اوس به همغه شان دحضرت ابوبکر صدیق انصار یو. دصدیق اکبر (رض) دخلافت په دور کښی دمسیلمه کذاب پرخلاف خونړی جګړه مینځ ته راغله اوپه هغی کښی داووه سوه کسانو په خواوشا کښی دقرآن کریم حافظان شهیدان شول ددی صحنی په لیدلو له عمر فاروق (رض) سره اندیښنه پیداشوه چی که په جنګونو کښی دقرآن حافظان په همدی ډول شهیدان شی هسی نه چیرته دقرآن حکیم کومه برخه ضایع شی.

ابوبکر صدیق (رض) ته یی پیشنهاد وکړ چی قرآن کریم باید راجمع او تدوین کړای شی دعمر فاروق (رض) له ډیر اصرار نه وروسته ابوبکر صدیق (رض) ددی وظیفی لپاره حضرت زید (رض) راوغوښت او دقرآن په راجمع کولو یی ورته امر وکړ، حضرت زید لومړی ددی وظیفی له سرته رسولو نه ډډه کوله خو دانشراح صدر نه وروسته یی دغی وظیفی ته غاړه کیښودله، صدیق اکبر (رض ) دهغه ترمشری لاندی دصحابه ؤ (رض) پنځه اویا کسیز کمیسیون وټاکی اوپه ډیر غور او دقت سره یی دقران کریم نسخه تدوین کړه.

لومړی دامصحف له حضرت ابوبکر صدیق (رض) بیا له عمر فاروق (رض) اوبیا وروسته له ام المؤمنین حضرت حفصه (رض) سره وه دحضرت عثمان (رض) دخلافت په دور کښی چی کله په مختلفو سیمو کښی دخلګو ترمینځ مختلف قرائتونه رامینځ ته شول اودقرآن دقرائت په باب دفتنی راولاړیدو خطر پیدا شو نوامیر المؤمنین عثمان (رض) له حضرت حفصه (رض) نه دغه مصحف راوغوښت اودصحیح بخاری دروایت له مخی دڅلورو صحابه ؤ په اهتمام پنځه کاپی تیاری کړای شوی چی پدی څلور کسیز هیئت کښی هم

دحضرت زید (رض) بارز مقام ؤ.

نن چې زموږ په لاس کښې دقرآن کریم کومه نسخه ده دا هماغه مصحف دی اوتر قیامته به پدغه حال مصئون او محفوظ پاتی وی.

حضرت زید بن ثابت (رض) لکه څنګه چې درسول اکرم (ص) په ژوندانه کښې داسلامی احکامو مفتی ؤ اوپیغمبر (ص) به دهغه په حق کښې ویل: (افرض امتی زید بن ثابت) یعنی زما په امت کښې تر ټولو زیات دفرائضو علم زید بن ثابت ته ورکړل شویدی، همدغه راز دراشدینو خلفاؤ په دور کښې هم حضرت زید (رض) داسلام لوی مفتی ؤ دحضرت عمر(ض) په دور کښې دهغه مقام دومره محترم ؤ چې ویل به یې: (دمدینې دخلګو بی له زید نه چاره نشته، دوی زید ته محتاج دی ځکه کوم شی چې له زید سره دی هغه له بل چا سره نشته).

له همدی امله عمر فاروق (رض) هیڅکله حضرت زید (رض) له مدینې نه دباندې دکومې وظیفې لپاره نه لیږه زیاترو اسلامی فقهاؤ دحضرت زید رض) په اجتهاد اوفیصلو باندې عمل کړیدی همداسې چې په فقهه کښې ماهر ؤ په علم قرائت کښې هم دممتاز مقام خاوندؤ نن چې په اسلامی نړۍ کښې دقرآن کریم قراءات دی دا دحضرت زید (رض) قراءات دی.

دقرآن دنسخې مدون، دپیغمبر (ص) اوراشدینو خلفاؤ دوخت اسلامی مفتی اوددی امت متبحر عالم بالاخره دعمر په (**۵۲**) کلنی په (**۴۵**) یا (**۴۲**) هجری کښې له دې فانی دنیانه رخصت سو او مروان بن الحکم دمدینې والی دهغه دجنازې لمونځ ادا کړ کله چې هغه دفن کړای شو رئیس المفسرین عبدالله بن عباس (رض) په ډیر افسوس وویل: (نن دعلم په ډیره لویه برخه باندې خاورې واړول شوې) حضرت ابوهریره (رض) چې دهغه له وفات نه خبر شو په نمناکو سترګو یې په ژبه دا الفاظ جاری شول (نن حبر الامة له مینځه پورته کړای شو). (رضی الله عنه)

## حضرت زید بن خطاب رضي الله عنه

حضرت زید بن خطاب (رض) دقریشو دبنو عدی کورنی ته منسوب او د

حضرت عمر فاروق (رض) مشر وروړۀ دبعثت په لومړيو دريو کلونو کښې هغه وخت په اسلام مشرف شوی ؤ چې په هغه وخت کښې دسرور کائنات حضرت محمد رسول الله (ﷺ) ملګرتيا داور سکروټه په لاس کښې نيول ؤ. حضرت زيد بن خطاب (رض) په مودو مودو دسخت زړيو او وحشي مشرکانو دتعذيب او تهديد موردؤ، خو دايمان په مينه دومره مست ؤ چې دکافرانو اذيتونو او وهلو ټکولو دهغه په عقيده کښې يوه ذره تغيير رانه وستلی سو.

کله چې رسول (ص) مؤمنانو ته اجازه وکړه چې له مکې نه مدينې منورې ته هجرت وکړي حضرت زيد بن خطاب (رض) هم دمهاجرينو په دويمه قافله کښې مدينې منورې ته ولاړی او هلته په قباء کښې دحضرت رفاعه بن عبد المنذر ترڅنګ استوګن شو درسول اکرم (ص) په هجرت سره دحضرت زيد (رض) سترګې يخې شوې اودومره خوشاله شو لکه چې دټولې دنيا نعمتونه ده ته ورپه برخه شوي وي دهجرت په دويم کال چې کله دحق اوباطل لومړنی معرکه په بدر نومې ځای کښې مينځ ته راغله حضرت زيد په هغو درې سوه ديارلس سربښندونکو کښې شامل ؤ چې داسلام په تاريخ کښې دهغوی دقهرماني کارنامې په زرينو کرښو ثبت شويدي او دبدري صحابهٔ ؤ په نوم ديو خاص امتياز خاوندان او دالله (ج) لخوا دګناهونو دبخښنې کيدو زيرې ورکړل شويدي.

په دريم هجري کال کښې چې کله داحد تاريخي غزا مينځ ته راغله يوې خواته دحقپالونکو اوه سوه کسيز ټولګی اوبلې خواته دخدای ددښمنانو درې زره کسيز لښکر و، چې دهغه وخت په هر راز جنګي وسلو اومهماتو سمبال وو نوپدې جګړه کښې هم حضرت زيد بن خطاب (رض) برخوال ؤ اودخپل خالق دربار ته يې دقرباني داسې نذرانه وړاندې کړه چې دعربو نامتو بهادران ورته ګوته په خوله پاتې وو پدې خونړې جګړه کښې حضرت زيد نه يوازې جنګي زغره نه وه اغوستې بلکې کميس ئې هم ايستلی ؤ اوبربنډ بدن ددښمنانو صفونو ته مخ په وړاندې روان ؤ دهغه کشر وروړحضرت عمر فاروق (رض) چې کله هغه پدغسې حالت کښې وليدی نوپه وار خطائې سره په منډه ورغی او

ورته ئی وویل په خدای قسم چی تابه پرېنږدم چی پدغسی وضع کښی ددښمن مقابلی ته وړاندی شی بیایی خپله زغره وایستله اوهغه ته یی ور واغوستله هغه دحضرت عمر (رض) پیشنهاد ومانه زغره یی واغوستله خولږ شیبه وروسته یی بیا هغه زغره وغوره ځوله اوبربنډ بدن ددښمن خواته وړاندی شو حضرت عمر (رض) بیاپه منډه ورغی او پوښتنه یی ورڅخه وکړه چی: (زغره دی ولی وغورځوله؟) حضرت زید ﷺ په لوړ اواز جواب ورکړ: (عمره زما له مخی ایسته شه که ستا په زړه کښی دشهادت هیله شته نوزه هم له شهادت سره له حده زیاته مینه لرم زغره به هغه ځوك اغوندی چی له ژوند سره یی مینه وی خوما خپل ژوند دحق په لاره کښی پلورلی دی) حضرت عمر (رض) لاجوابه راستون شو اوهغه په بربنډ بدن دحق داحقاق لپاره په پوره میړانه وجنګیده خوڅنګه چی دا وخت شهادت ورته مقدر نه ؤ ژوندی پاتی شو.

له احد نه وروسته دخندق په غزا کښی دمکی دفتح په سفر کښی دحنین اوطایف په جنګونو کښی اودغه راز په بیعت رضوان اوحجة الوداع کښی هم درسول اکرم (رض) سره ملګری ؤ اوپه هرمیدان کښی یی په عملی ډول ثابته کړه چی دخدای په لاره کښی او دخدای ددین داعلاء لپاره یو مؤمن باید څنګه ایثار او قربانی ته چمتو اوسی.

له رحلت نه وروسته چی کله دابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دور کښی دارتداد سره فتنه مینځ ته راغله زیات شمیر قبیلی پدی باطنی مهلك مرض اخته شوی وی او ددغی فتنی داور وژلو لپاره ډیر زیات اهتمام ته ضرورت ؤ حضرت ابوبکر صدیق (ﷺ) دتوری په زور دمرتدینو دمقابلی لپاره تیاری ونیوی پدی لړ کښی دحق دعلمبردارانو اومرتدانو ترمینځ متعددی خونړۍ جګړی پیښی شوی چی په هغو کښی دمسیلمۀ کذاب پرضد دیمامی جګړه په تاریخ کښی تر ټولو زیاته مشهوره ده.

حضرت زید بن خطاب (رض) پدی ټولو جنګونو کښی شریك ؤ اوحتی په ځینو روایتونو کښی راغلی دی چی حضرت زید (رض) دهغه لس زره کسیز لښکر علمبردار ؤ چی دمسیلمه کذاب دځلوېښت زره پوځ په مقابل کښی

جنګیده دجنګ په دوران کښې دمسیلمه کذاب دلښکر له صفونو څخه دنهار الرجال په نوم یو جنګیالی مرتد راولاړ شو اوناری یې کړې: (څوك دی چې زما مقابلې ته راوړاندې شي؟)

حضرت زید (رض) دډیر جوش اوغوسې په حالت کښې ورغی اوله اوږدې مقابلې نه وروسته یې (نهار) دخاورو ځلې کړ اومسلمانان یې دهغه له شر څخه خلاص کړل له هغه وروسته عامه جګړه ونښتله او دمسیلمه لښکر چې دمسلمانانو دلښکر څلور برابره ؤ په ډیر شدت سره حملې شروع کړې تر داسې حده چې مسلمانان یې عقب نشینې ته مجبور کړل پدې وخت کښې حضرت زید (رض) په لوړ اواز وویل: (اې مسلمانانو! ولې عقب نشینې کوئ په خدای قسم دی زه به نن ترهغه وخته ونه غږیږم ترڅو چې یا دښمنانو ته شکست ورنکړم اویا دخپل خدای په وړاندې حاضر نشم اوخپل معذرت وړاندې نکړم اې خلګو! مصیبتونه وزغمئ توری اوسپر واخلئ اوپر دښمنانو باندې یرغل وکړې مخ په وړاندې ددښمن خواته ولاړ شئ اې مسلمانانو تاسې دخدای لښکر یاست اوستاسې دښمنان دشیطان ډله ده عزت دالله لپاره دالله درسول لپاره اودالله دلښکر لپاره دی زما پیروی وکړې زه چې څه کوم تاسې هم همغسې وکړې ورپسې یې پداسې حال کښې چې ویې ویل: (الهی! زه دخپلو ملګرو دعقب نشینئ په هکله ستا دربارته عذر وړاندې کوم) توره په لاس په مرتدانو باندې یې په پوره میړانه حمله وکړه دهغوی صفونه یې تار په تار کړل او ویې ځغلول خوپه پای کښې مرتدانو حضرت زید بن خطاب (رض) محاصره کړ، دتورو او برچو باران یې پر جوړکړ اوپدې ترتیب دحق دشمعې دغه پتنګ دشهادت جام نوش کړ اوخپل ژوند یې له اسلام نه قربان کړې.

پدې خونړې جګړه کښې یوشمیر نور صحابه کرام رضي الله عنهم هم شهیدان شول خو بالاخره حضرت خالد بن ولید (رض) د لښکر نوی تعبیه وکړه اودوحشي بن حرب او عبدالله بن زید انصاری رضي الله عنهما په لاس دارتداد دفتنې اور بلوونکی او دنبوت دروغجن مدعی مسیلمه کذاب دجهنم کندې ته ولیږل شو.

عمر فاروق (رض) دخپل مشر اوخواخوږې ورور حضرت زید (رض) په

بیلتانه له حده زیات غمګین ؤ دهغه د شهادت دخبر په اوریدو یی له خولی نه دا الفاظ ووتل: زید ددوو نیکیو په میندلو کښی له مانه وړاندی شو یو داسلام په قبلولو کښی اوبل دشهادت دجام په څیښلو کښی، کله به یی چی دزید یادونه په زړه اوریدل ویل به یی: دسباوون وږمه چی چلیږی ماته له هغی نه دزید خوشبوئی راځی اوپه زړه دهغه یاد تازه کیږی.

حاکم پخپل مستدرك کښی لیکلی دی چی په حضرت عمر فاروق (رض) باندی به چی هرکله کوم مصیبت راتلی نو ویل به یی: (دزید دجدائی له مصیبت نه به بل غټ څه وی ما هغه وزغمی اوصبر می وکړی).

حضرت عمر (رض) یوځل دعربو له نامتو شاعر متمم بن نویره څخه یوه مرثیه واوریدله چی هغه دخپل ورور مالك بن نویره په هکله ویله نو متمم ته یی وویل: (که ما مرثیه ویلای شوای نو مابه هم دخپل ورور زید په جدائی کښی ویلی وای)، متمم عرض وکړ: امیر المؤمنینه! که زما ورور ستا دوړور په شان دجهاد په میدان کښی شهید شوی وای نو مابه هیڅکله په هغه پسی اوښکی نه وای توی کړی حضرت عمر (رض) وفرمایل: (تاچی پدی خبره ماته کوم تسلیت راکړ له دی نه مخکښی هیچا داسی تسلیت نه ؤ راکړی. (رضی الله عنه)

## حضرت زید بن ارقم ﵁

حضرت زیدبن ارقم دمدینی دانصارو دخزرج دمشهوری قبیلی دبنوحارث له پلرګنی څخه اوپه ماشومتوب کښی یی زړه دایمان په نور روښانه شوی ؤ، دی له پلار وړوکی یتیم پاتی شوی اومشهور صحابی داسلامی لښکر یوتکړه قوماندان حضرت عبدالله بن رواحه چی هغه هم دخزرج دبنو حارث دکورنی څخه ؤ دده پالنه پرغاړه اخیستی وه اودهغه په تعلیم اولار ښوونه په اسلام مشرف شوی ؤ کله چی دسرور کائنات (ص) په هجرت سره دمدینی په ټولولارو کوڅو کښی دخوښیو ببسابقی اوبیساری جشنونه وو حضرت زیدبن ارقم ﵁ هم دهغو ماشومانو په ډله کښی شامل ؤ چی استقبال ته ولاړ وو اوناری یی وهلی: جاء رسول الله، جاء نبی الله، دالله رسول راغی، دالله نبی راغی.

دبدر اواحد په غزاګانو کښې چې دهجرت ددویم اودریم کال پیښې دی حضرت زید غوښتل چې دخدای دلاری دمجاهدینو په صف کښې شامل شی مګر دعمر دکموالی لامله چې پدی وخت کښې دلسو یوولسو کلونو ؤ رسول الله (ص) هغه ته په غزا کښې دګډون کولو اجازه ورنکړه لومړنی غزا چې حضرت زیدبن ارقم (رض) پکښې برخه واخیستله داحزاب غزا وه پدی غزا کښې هغه دنوی ځوانی په منګ کښې اودګرمی وینی خاوند ؤ دخندق په کیندلو اونورو خدمتونو کښې تر نورو زیات فعال ؤ دبنو مصطلق په جګړه کښې چې دصحیح روایت له مخی دخندق له جګړی نه وروسته مینځ ته راغله حضرت زید په هغی کښې هم په پوره میړانه برخه واخیستله اوپه هغی کښې داسی یوه واقعه وشوه چې الله (ج) دوحی په ژبه دحضرت زید ریښتینوالی تائید کړ اوترڅو چې په دنیا کښې دقرآن لوستونکی پاتی وی دسوره منافقون داتم ایت په لوستلو به یی دهغه صداقت سترګوته دریږی داحزاب له غزا نه لږه موده وروسته سرور کائنات (ص) ته خبر ورسیده چې دمصطلق قبیلی رئیس حارث بن ابی ضرار دمسلمانانو پرضد دجنګ لپاره یوه قوی ډله چمتو کړیده. اوغواړی پرمدینه باندی یرغل وکړی نو پیغمبر (ص) هم دهغوی دمقابلی لپاره مجاهدین تیارسی کړل اودشپږم هجری کال دبرات په لومړیو ورځو کښې دخپلو سرښندونکو خوږو اومؤمنو ملګرو په شمول له مدینی نه ووتل او د مریسیع نومی کاریز ترڅنګ یی واړول چې دهغه په شاوخوا کښې دمصطلق قبیلی خلك استوګن وو.

رسول کریم (علیه افضل التحیة والتسلیم) دحضرت عمر فاروق (رض) په وسیله داسلام دعوت هغوته وړاندی کړ، له دی توصیی سره چې له شر اوفساد څخه لاس په سرشی خوهغوی نبوی دعوت اوپیغام رد کړ اودجنګ لاره یی خوښه کړه مجاهدینو دخپل قائدله قوماندی سره سم پرهغوی باندی حمله وکړه اوهغوی دمقاومت پرځای دتیښتی لاره په مخ کښې ونیوله دبنو مصطلق له شکست نه وروسته داسلام لښکر دځو ورځو لپاره دمریسیع سره په جوخت کلی کښې پاتی شو.

پدی دوران کښې یوه ورځ له بده مرغه دیومهاجر حضرت جهجاه بن مسعود غفاری (رض) اویو انصاری حضرت سنان بن وبراء الجهنی (رض) تر مینځ داوبو پرسر باندی څه شخړه پیښه شوه چی په نتیجه کښې حضرت سنان دیامعشر الانصار په ناری وهلو انصارو ته دننگی بلنه ورکړه اوحضرت جهجاه مهاجرینو ته دیامعشر المهاجرین په ویلو سره بلنه ورکړه اوددی خطر احساس کیده چی دانصارو اومهاجرینو ترمینځ جگړه ونښلی پدی وخت کښې دمنافقانو رئیس عبدالله بن ابی بن سلول هم موجود ؤ اوهغه به تل دغسی یوه موقع لټوله چی دمهاجرینو اوانصارو ترمینځ تعلقات اوروابط خراب شی نو یی انصار ولمسول اودسنان دننگ لپاره یی راوپارول په همدی وخت کښې دا اوازه درسول الله (ص) غوږته ورسیدله له خپلی خیمی څخه دباندی راووتی اوویی فرمایل: (ما بال دعوی الجاهلیة، مالکم والدعوة الجاهلیة؟ دعوها فانها منتنة)،

یعنی دا دجاهلیت بلنه دڅه لپاره؟ چیری تاسی او چیری دجاهلیت ننگه؟ دغه بلنه پریږدی چی ډیره ناوړه او بدبویه ده. دسرور عالم (ص) له تعلیم اولار ښوونی سره سم حضرت جهجاه غفاری اوحضرت سنان انصاری رضي الله عنهما سمدلاسه ددوو خوږو ورونو په څیر دمینی لاسونه سره ورکړل دشیطان وسوسه او د منافقانو لمسون یی شاته واچوه خبره داسی تیره شوه لکه چی هیڅ نه وی پیښې شوی خو پرعبد الله بن ابی اودهغه پر نورو منافقو ملگرو باندی داخبره ډیره گرانه تمامه شوه پخپلو کښې ئی دشیطانت اوفساد مجلس جوړ کړی او رئیس المنافقین دخپل زړه خبری پدی الفاظو کښې څرگندی کړ چی: (داهر څه تاسی پخپل لاس کړیدی که تاسی له مهاجرینو سره مرسته ونکړی هغوی به خودپخپله په تنگ شی اوله مدینی څخه به ووزی په خدای قسم چی کله موږ مدینی ته ورسیږو نو دعزت خاوندان به ذلیل خلک اورمرو وباسی) تصادفا پدی غونډه کښې زلمی صحابی حضرت زید بن ارقم هم ناست ؤ هغه څوك چی دحق دشمعی فدائی پتنگ او دخدای جل جلاله درسول سرښندونکی ملگری ؤ، دعبدالله بن ابی دخبرو په اوریدو سره یی وینه په جوش راغله دخپلی کورنی

مشر عبدالله بن رواحه (رض) ته په منډه ورغی اوماجرا یی ورته واوروله پدی خبره دهغه ایمانی غیرت وپاریده درسول اکرم (ص) حضور ته ورغی دابی ابن سلول خبره یی دهغه غوږته ورسوله رسول الله (ص) حضرت زید بن ارقم (رض) خپل حضورته وغوښت دپوښتنی په جواب کښی هغه ټولی هغه خبری تکرار کړی چي دابن ابی په مجلس کښی یی اوریدلی وی پیغمبر (ص) وفرمایل: ښایی ته به له ابن ابی څخه خپه یی دهغه دخبرو په اوریدو کښی به څه غلط فهمی درڅخه شوی وی؟

حضرت زید بن ارقم (رض) دقسم په خوړلو سره وویل: (یا رسول الله! ما چی څه ویلی دی هو به هو به می دابن ابی له خولی څخه اوریدلی دی). رسول الله (ص) ابن ابی راوغوښت دماجرا پوښتنه یی وکړه هغه منکر شو او دقسم په خوړلوسره یی وویل: ماهیڅ ندی ویلی داهلك دروغ وایی دابن ابی په قسمونو باندی دانصارو باور راغی او برعکس حضرت زید یی ملامت کړ چی ولی په دغسی شکایتونو سره دپیغمبر (ص) دخپگان موجبات برابروی.

حضرت زید بن ارقم (رض) دډیری خواشینی په حال کښی خپلی خیمی ته ولاړی او داندیښنی په حالت کښی خوب ورباندی راغی هغه لا له خوبه نه وو راپاڅیدلی چی الله (ج) دوحی په ژبه دهغه تصدیق وکړ او دمکار او منافق دښمن له دسیسی څخه یی پرده پورته کړه چی غوښتل یی دانصارو او مهاجرینو په مینځ کښی دښمنی ایجاد کړی پر پیغمبر (ص) باندی سورهٔ منافقون نازل شو چی دمنافقانو درئیس له وینا څخه رسول الله (ص) پدی شان سره خبر کړای شو: ( يقولون لئن رجعنا الي المدينة ليخرجن الاعز منها الاذل، ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين ولكن المناققين لا يعلمون ) .

ترجمة: منافقان وایی کله چی موږ مدینی ته ورسیږو نوڅوك چی دعزت خاوند دی هغه به له مدینی څخه هغه څوك وباسی چی هغه ذلیل دی پداسی حال کښی چی عزت خو دالله اودالله درسول او دمؤمنانو لپاره دی مگر دغه منافقان عزت اوذلت نه پیژنی. دسورهٔ منافقون له نازلیدو نه وروسته رسول الله (ص) دحضرت زید (رض) غوږ ونیوی اوپه موسکا شونډو یی ورته

وفرمايل: (دهلك غوږونو ريښتيا اوريدلی ؤ الله (ج) پخپله دهغه تصديق وکړ).
بيا حضرت عمر (رض) او ورپسی دابن ابی زوی چی دحق دشمعی يو سرښندونكی پتنگ ؤ او دهغه نوم هم عبدالله ؤ عرض وكړ چی يارسول الله! كه اجازه وی چی موږ دابن ابی سر غوڅ كړو خو رحمة للعلمين هغوی دواړه له دغه اقدام څخه منع كړل.
حضرت زيد بن ارقم (رض) دخندق او بنو مصلطق نه سربيره په پنځه لسو نورو غزاگانو كښی هم برخوال ؤ لكه چی دصحيح بخاری په يو روايت كښی راغلی دی چی حضرت زيد وائی: (رسول الله (ص) (۱۹) غزاگانی كړيدی اوزه په پنځلسو كښی ورسره ملگری وم) دبيعت رضوان په هغو څوارلسو تنو صحابه ؤ كښی هم شامل ؤ چی الله (ج) هغوی ته دخپلی رضا زيری وركړ.
حضرت زيد بن ارقم (رض) ددی ترځنگ چی دخدای دلاری يو غښتلی او قهرمان مجاهد ؤ ددين يو پياوړی عالم هم ؤ درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته به يی خپل زياتره وخت ددين په زده كړه او ښوونه كښی تيروی، له حضرت زيد ( رض) څخه (۹۰) حديثونه روايت شويدی.
دعلامه ابن سعد دوينا له مخی حضرت زيد (رض) په پای كښی په كوفه كښی دايمی استوگنه غوره كړی وه اوپه هغه وخت كښی ژوندی ؤ چی دكربلا دردوونكی پيښه مينځ ته راغله په (الاخبار الطوال) كښی راغلی دی كله چی دعبيدالله بن زياد په وړاندی دسيدنا حسين (رض) مبارك سر كيښودل شو خپله چاړه يی را واخيستله اودهغه پرمباركو شونډو يی ولگوله تصادفا حضرت زيد هلته موجود ؤپه ډيره غمجنه لهجه يی وفرمايل:
مه، مه، له دغو شونډو څخه خپله چاړه ايسته كړه، په خدای قسم دی چی ما رسول الله (ص) ليدلی دی چی دغه شونډی به يی بوسه كولی. حضرت زيد ددی غمجنی پيښی په ليدلو په كوكارو، وژړل، ابن زياد دغوسی نه په ډكه لهجه ورته وويل: (ولی ژاړی؟)
خدای دی ستا سترگی له ژړا نه نه خلاصوی په خدای قسم چی له ماسره داگومان نه وای چی ته دسپين ږيرتوب له امله كم عقل شوی يی نواوس به می

سر در نه غوځ کړی وای) حضرت زید (رض) دصبر اوثبات پیکرؤ یوځل ناروغ شو رسول الله (ص) دهغه پوښتنی ته ورغی ویی فرمایل: (ابن ارقم که دغه تکلیف نه ایسته کیدلای تابه څه کول؟) عرض یی وکړ: (یا رسول الله صبر به می کوی اوپه اخرت کښی به داجر هیله من وم). پیغمبر (ص) وفرمایل: (که داسی دی کړی وای نو په اخرت کښی به همدا یو کار ستا دټولو ګناهونو دبخښل کیدو لپاره بخښنه کړی وه. په (۶۸) هجری کال کښی دحضرت زید بن ارقم (رض) دعمر مهلت پوره شو او داتیا کالو په عمر په کوفه کښی وفات شو. (رضی الله عنه)

## حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه

حضرت سعد بن معاذ دانصارو داوس قبیلی دبنو عبدالاشهل مشر له هجرت نه مخکښی په اسلام مشرف شوی ؤ هغه پخپله قبیله کښی ددومره اثر اورسوخ خاوند ؤ چی دهغه په اعلان سره په یکی یوه ورځ کښی دټولی قبیلی افراد مسلمان شول له نبوی هجرت نه وروسته درسول اکرم (ص) اومهاجرو صحابه کرامو (رض) په خدمت مصروف ؤ. ددویم هجری کال درمضان په میاشت کښی دبدر دغزا مهمه پیښه مینځ ته راغله سعد بن معاذ (رض) همغه شخصیت ؤ چی درسول اکرم (ص) په اشاره باندی په پوهیدو سره پاڅیده او دانصارو په نماینده ګی یی داسی عرض وکړ: (یا رسول الله! موږ په تا باندی ایمان راوړیدی اوستا درسالت تصدیق اوستا داطاعت تعهد موکړیدی څه چی غواړی هغسی وکړه په هغه لوی خدای قسم چی ته یی رسول رالیږلی یی که ته موږ ته په سمندر کښی دغورځیدلو امر وکړی موږ به ځانونه په سمندر کښی واچوو زموږ یوتن به هم بیرته پاتی نشی انشاء الله چی ته به موږ دجنګ په میدان کښی ثابت قدم ومومی الله (ج) به زموږ په کارنامو ستا سترګی یخی کړی رسول اکرم (ص) دهغه ددی وینا په اوریدلو ډیر زیات خوښ شو اوهغه ته یی دخیر دعا وکړه کله چی دلښکر دتعبیی وخت راغی رسول الله (ص) داوس قبیلی بیرغ حضرت سعد (رض) ته په لاس کښی ورکړ داحد په جګړه کښی هم چی دهجرت په (۳) کال کښی پیښه شوه حضرت سعد (رض) دیوغښتلی

قوماندان حیثیت درلود ترڅولو لوی سعادت خو دا ورپه برخه شو چې کله په مسلمانانو باندې زیات تکلیف راغی داویا تنو په خواوشا کښې شهیدان شول اوپخپله سرور کونین (ص) زخمي اوغاښ یې شهید شو نو یو زیات شمیر کسانو میدان پریښودی خوحضرت سعد (رض) دهغو فداکارانو له جملې څخه ؤ چې درسول اکرم (ص) نه چاپېر ولاړ وو او په پوره میړانه یې دفاع کوله.

په پنځم هجري کال کښې چې کله داحزاب غزا منځ ته راغله داسلام مختلفو دښمنانؤ دقریشو دملاتړ لپاره پدې ستره جګړه کښې برخه اخیستې وه اومسلمانان په مدینه کښې دمحاصرې په حال کښې وه (یوه ورځ حضرت سعد دجنګ زغره اغوستې توره په لاس دجنګ میدان ته روان ؤ دبنو حارثه په محله کښې تیریدی هلته ام المؤمنین حضرت عائشه (رض) اودهغه مورحضرت کبشه (رض) ناستې وې سعد (رض) له ځانه سره پدې مفهوم شعر وایه:

لږ ایسار شه زما سپرلۍ دجنګ میدان ته ورسوه کله چې دمرګ نیټه را ورسیږي مرګ څومره ښه ښکاریږي) دهغه مور ورته په لوړ اواز نارې کړې (زویه! په منډه ځه ډیر وځنډیدلی په کوم لاس کښې یې چې توره وه هغه له زغرې نه وتلې ؤ ام المؤمنین وفرمایل: دسعدمورې کاشکې دسعد زغره اوږده وای لاس یې له زغرې نه وتلی دی دام المؤمنین (رض) تشویش ریښتونی ثابت شو دجنګ میدان ته چه ورسیدی نویو مشرك حبان بن عبد مناف چې دابن العرقه په نامه مشهور ؤ دهغه پدې لوښ لاس ګوزار وکړ اوپدې ګوزار سره دحضرت سعد (رض) اکحل رګ غوڅ شواو په ډیر شدت سره وینو ورڅخه فوارې وکړې رسول اکرم (ص) چې دهغه له حال نه خبر شو ابن عرقه ته یې داسې ښیرا وکړه حرق الله وجهك فی النار الله دې ستا مخ په اور کښې وسوځوی له جنګ نه وروسته هم حضرت سعد (رض) له دې زخم نه په تکلیف و او په مسجد نبوی کښې پروت ددواړو جهانو سردار (ص) به یې وخت په وخت عیادت اوپوښتنه کوله حضرت سعد (رض) دهمدې ناروغۍ په دوران کښې یوه ورځ داسې دعا وکړه: یا الله که دقریشو دجنګونو لړۍ باقي وې ماته دژوند مهلت راکړه چې زه دهغه کافرانو په ضد وجنګیږم چې هغوی ستا برحق

رسول ځورولئ دروغجن یی ګڼلی اوله وطن نه یی ایستلی دی او که دجنګونو سلسله پای ته رسیدلی وی نو ماته له همدی زخم نه شهادت نصیب کړه خو بیا هم ترهغه وخته ماژوندی ولره چی دبنو قریظه په یهودو می زړه یخ شی.

دهغه ددعا وروستی برخه دخدای په دربار کښی قبوله شوه بنوقریظه دالله له رسول سره غداری کړی وه اوتعهد یی پدی الفاظو سره مات کړی ؤ چی: لاعقد بیننا وبین محمد ولا عهد. زموږ اودمحمد (ﷺ) ترمنځ عهد اوپیمان نشته له جګړی نه وروسته چی کله بنوقریظه دمحاکمی لپاره حاضر کړل شول پخپله هغوی وویل چی حضرت سعدبه زموږ په هکله فیصله کوی حضرت سعد دناروغی په حالت کښی راوستلای شو اوداسی فیصله یی صادره کړه: دبنوقریظه جنګیالی نارینه دی ټول ووژل شی ښځی اوماشومان دی دوینزو او غلامانو په صفت وساتل شی او ددوی جائدادونه دی په مسلمانانو باندی وویشل شی بیا وروسته پدی فیصلی باندی عمل وکړای شو اوالله (ج) دحضرت سعد (رض) زړه یخ کړ دحضرت سعد بن معاذ (رض) ناروغی سخته شوه اوپداسی حال کښی له خپل خدای سره وصل شو چی دهغه سر رسول اکرم (ص) پرورانه باندی ایښی ؤ رسول کریم (ص) چی له مبارکو سترګونه یی اوښکی رابهیدلی دالله (ج) په دربار کښی داسی دعا وکړه: زما ربه سعد ستا په لار کښی ډیر کړاوونه وزغمل ستا درسول تصدیق یی وکړ اوداسلام حقوق یی ادا کړل الهی! دده له روح سره هغسی معامله وکړه لکه چی دخپلو دوستانو له ارواحو سره یی کوی دهغه په وفات سره ټوله مدینه په ماتم کده بدله شوه حضرت ابوبکر صدیق (رض) چی دهغه دمبارك جسد ترڅنګ ودریده داچیغه یی له خولی نه ووتله: (هی! زما ملا ماته شوه) رسول الله (ص) ورته وفرمایل؟ ابو بکره! داسی مه وایه حضرت عمر (رض) به دژړا په حال کښی په مکرر ډول همدا ویل چی: (انا لله وانا الیه راجعون) دحضرت سعد (رض) مور په ژړا کښی دهغه ستاینی اوصفتونه کول رسول الله (ص) وفرمایل: ټولی ویرګری ښځی دروغ وائی خودسعد مور چی څه وائی ریښتیا وائی دالله ﷻ رسول ﷺ او په زرګونو سپیڅلی مؤمنان دهغه په جنازی پسی روان وو کومو

کسانو چې جنازه په اوږو باندی اخیستی وه له هغونه یوتن وویل: جنازه ډیره سپکه ده پیغمبر وفرمایل: هو! جنازه پرښتو اخیستی ده.

ابو سعید خدری (رض) په جنت البقیع کښې ورته قبر کیندی ویی وویل: (قسم په خدای دی چې ماته له دی قبرنه دمشکو خوشبوئی راځی) له مقبری نه دبیرته راستنیدو په لاره کښې دالله رسول (ص) پداسی حال کښې چې له سترګونه یې اوښکې روانی وی وفرمایل: (ددی متوفی په مرګ باندی دخدای عرش ولړزیده دهغه دروح لپاره داسمانونو دروازی پرانستل شوی اودهغه په جنازه کښې اویازره پرښتو برخه واخیستله) الله! الله! ثومره لوړدی دمسلمان شان دهغه مسلمان چې په ریښتنی توګه دالله اورسول اطاعت کوی داسلام د اعتلاء لپاره جهاد کوی اوبالاخره په همدی لاره کښې شهید کیږی. (رضی الله عنه)

❊ ❊ ❊

## حضرت سعید بن عامر رضي الله عنه

حضرت سعید بن عامر (رض) دحق ددعوت پیل کیدوپه وخت کښی اوه کلن ماشوم ؤ دتمیز منګ ته نه ؤ رسیدلی ځکه خو داسلامی دعوت په مکی دورکښی متوجه نشو خوکله چی ځوان شو اودحق اوباطل ترمینځ دتمیز شعور پکښی پیداشو پدی وخت کښی رسول اکرم (ص) مدینی منوری ته هجرت کړی ؤ سره له دی هم الله (ج) حضرت سعید (رض) ته داسعادت ورپه برخه کړ چی دخیبر له غزانه مخکښی مدینی منوری ته ولاړی اوپه اسلام مشرف شو. څنګه چی هغه وخت داسلامی جهادونو لړی روانه وه نودخیبر دمکی دفتح حنین اوتبوك په ټولو جنګونو کښی یې برخه واخیستله داسی مجاهدانه هلی ځلی یی وکړی چی دعربو دباتورانو په کتارکښی یی ځای ونیوه دسرورکائنات (ص) له رحلت نه وروسته حضرت سعید (رض) له ډیره غمه څه موده ګوښه ناسته غوره کړه خو دالله ددین په لار کښی دجهاد مینی ګوشه نشینی ته پری نښود اوکله چی دصدیق اکبر (رض) دخلافت په دور کښی اسلامی لښکرپه شام باندی یرغل وکړ نوحضرت سعید (رض) هم دمجاهدینو په ډله کښی شامل ؤ دیرموك په جګړه کښی چی درومیانو لښکر ډیر زیات او دمسلمانانو شمیرکم ؤ داسلامی پوځ قوماندان حضرت ابو عبیده بن الجراح (رض) له دار الخلافت نه دمرستی غوښتنه وکړه حضرت عمر فاروق (رض) چی پدی وخت کښی دمسلمانانو دخلافت اوامارت مسئولیت ورپه غاړه ؤ حضرت سعید (رض) له زرو تنو سپرو عسکرو سره په سملاسی توګه یرموك ته ولیږه اودهغه په رسیدلو سره دمجاهدینو حوصلی لوړی شوی پدغه فیصله کن تاریخی جنګ کښی پرحضرت سعید (رض) باندی ډیر تکلیف راغی اوځوواری دکفارو له خوا محاصره کړای شو مګر هیڅ ډول کړاؤ او سختی دهغه په کلك عزم او لوړه حوصله کښی څه سستی رانه وستله له یرموك نه وروسته یی دشام په ځینو نورو جنګونو کښی هم دیوغښتلی قوماندان په توګه برخه واخیستله او په پای کښی بیا مدینی منوری ته راستون شو اوګوښه کښیناستل او دخدای عبادت یی غوره کړ، پدی وختونو کښی دحمص والی حضرت عیاض (رض)

بن غنم وفات شو اودهغه دجانشینی لپاره دعمر فاروق (رض) سترگی په حضرت سعید بن عامر (رض) باندی خوږی شوی هغه یی راوغوښت دهغه له زړو جامو اوپه وچولی کښی دسجدی دځایونو څخه دهغه زهد څرگندیده په ډیره مینه اومحبت یی خپل څنگ ته کښینوه او ورته یی وویل: (وروره! پوهیږی چی دڅه لپاره می راغوښتی یی؟ جواب یی ورکړ امیرالمؤمنین پخپله ښه پوهیږی. فاروق اعظم (رض) وفرمایل: دحمص والی عیاض بن غنم وفات شویدی اودهغه ځای خالی دی ما له ډیر فکر کولونه وروسته ددغی وظیفی لپاره ته غوره کړی یی.

حضرت سعید (رض) ددغی خبری په اوریدو سره تکان وخوړ اوعرض یی وکړ: نه! نه! ای امیر المؤمنینه! زه ددی مسئولیت بار نشم پورته کولای ماپه فتنه کښی مه اچوه عمر فاروق (رض) په تنده لهجه ورته وویل: تاسی دخلافت دروند پیټی زماپه اوږو باندی کیښود اوس دیته نه حاضریږی چی ددغه درانده مسئولیت په ادا کولو کښی راسره مرسته وکړی په خدای قسم دی چی ته به اورمرو دحمص دامارت مسئولیت ته غاړه ږدی حضرت سعید (رض) له دی سوال جواب نه وروسته دغه وظیفه ومنله خو کله چی دحمص خواته روانیدی له سترگو نه یی اوښکی بهیدلی اوداسی ښکاریدله لکه چی یولوی غریبی په اوږو راپورته کړی وی.

حضرت سعید بن عامر (رض) دحمص دامارت وظیفه په ډیر ښه شان ترسره کوله نه دځان غم ورسره ؤ نه دخپلی کورنی دخپل ماموریت په مقابل کښی چی له بیت المال نه کوم معاش ورکول کیده ډیر لږ شی یی دخپل کور دخوراك اوڅښاك لپاره مصرفوی اونوری پیسی یی دخدای په بیوزلو بندگانو باندی ویشلی دهغه میرمن به چی کله ترینه پوښتنه کوله چی دمعاش باقی پیسی دی څه کړی نوجواب به یی ورکاؤ چی هغه می قرض ورکړیدی مطلب یی هغه قرض ؤ چی دخدای دبیوزلو بندگانو داړتیاؤ دلیری کولو په لاره کښی لگول کیږی اوپه قرآن کریم کښی ورته قرض حسنه ویل شویدی یو ځل څو کسانو هغه ته پیشنهاد وکړ ویی ویل:

موږ وینو چی ستا ژوند په اقتصادی لحاظ په ډیره تنګسه کښی تیریږی لږ څه سپما وکړه او دخپلی کورنی ژوند په نظر کښی ونیسه جواب یی ورکړ: دازما له وسی پورته خبره ده زما دفقر ژوند خوښیږی ځکه چی ماله خپل بادار محمد مصطفی (ص) نه اوریدلی دی چی فقیران مؤمنان به دقیامت په ورځ اویا کاله مخکښی له بډایانو څخه جنت ته داخلیږی.

یووخت امیر المؤمین عمر فاروق (رض) دحمص له مشرانو نه وغوښتل چی دهغه ځای دمسکینانو او بیوزلو خلګو لسټ تیار کړی ترڅو چی دهغوی دارتیا لیری کولو لپاره څه چاره ونیوله شی هغوی چی لسټ تیار کړ اودفاروق اعظم (رض) حضورته یی وړاندی کړ نو دلسټ په پیل کښی دسعید بن عامر نوم لیکل شوی ؤ پوښتنه یی وکړه: سعید بن عامر څوك دی؟

خلګو عرض وکړ: زموږ امیر. عمر فاروق (رض) وفرمایل: هغه ته خو معاش ورکول کیږی هغه په څه شی باندی مصرفوی؟

خلګو عرض وکړ: هغه په بیوزلو باندی ویشی ددی خبری په اوریدو سره دامیر المؤمنین له سترګو نه اوښکی وبهیدلی اوسمدلاسه یی یوزر دیناره حضرت سعید ته له دی پیغام سره ولیږل چی: دادخپلو اړتیاؤ رفع کولو په لاره کښی مصرف کړه دغه پیسی چی کله حضرت سعید (رض) ته ورسیدلی بی اختیاره یی له خولی نه ووتل: انا لله وانا الیه راجعون. دهغه میرمن چی دغه اواز واوریده په منډه راغله او په وار خطائی سره یی پوښتنه وکړه: څه مصیبت پیښ شویدی ایا امیر المؤمنین وفات شویدی؟ جواب یی ورکړ: نه له دی نه لویه پیښه شویده هغی پوښتنه وکړه: ایا دقیامت کومه نښه ښکاره شویده؟ جواب، یی ورکړ: له دی نه هم لویه پیښه شویده هغی بیا پوښتنه وکړه: څه پیښه شویده ماته یی ووایه؟ جواب یی ورکړ دنیا له فتنو سره زموږ کورته راننوتلی ده هغی عرض وکړ: داداندیښنی خبره نده څه چاره یی وسنجوه حضرت سعید (رض) دینارونه په یوه کڅوړه کښی واچول ټوله شپه یی په عبادت تیره کړه سهار دهغه دکور له مخی نه دمجاهدینو لښکر تیریده هغه ټولی پیسی یی په مجاهدینو باندی وویشلی.

یو وخت دحمص خلګو له خپل والی نه امیر المؤمنین ته دڅلورو خبرو شکایت وکړ: یودا چی: خپل دفتر ته ناوخته راځی دویمه داچی دشپی دچا شکایت نه اوری دریمه داچی په میاشت کښی یوه ورځ له کوره نه راوزی او څلورمه داچی کله کله بی هوښی ورباندی راځی والی دمسلمانانو خلیفه ته دڅلورو واړو شکایتونو عذر پدی ترتیب وړاندی کړ.

سهار اوړه لمدوم هغه پخوم اوبیا دفترته ځم دشپی دچا غږ نشم اوریدلی ځکه چی ورځ می دمخلوق دخدمت اوشپه می دخالق دعبادت لپاره ټاکلی ده. په میاشت کښی یوه ورځ جامی وینزم همدا یوه جوړه جامی لرم دجامو دنیشت والی لامله بهر نسم وتلی اوداچی بی هوښی راباندی راځی زه دحضرت خبیب دشهید کیدلو په وخت کښی حاضروم کافرانو دهغه غوښی په امبورونو غوڅولی او بیابه یی ورته ویل: ایا نه یی خوشاله چی محمد (ص) ستا پرځای وی اوته پخپل کور کښی ارام کښینی؟ هغه جواب ورکاوه: نه په خدای قسم چی زه داهم نشم زغملی چی دهغه په پښه کښی اغزی ولاړ شی هغه په بی رحمانه ډول شهید کړای شو اوما ورسره مرسته ونکړه دهغه مظلومانه شهادت چی راپه زړه کم بی هوښه کیږم.

حضرت عمر (رض) دالله شکر ادا کړ او مطمئن شو. (رضی الله عنه)

❊ ❊ ❊

# حضرت سلمان فارسی رضي الله عنه

حضرت سلمان (رض) چی اصلی نوم یی ماپه بن بوذخشان بن مورسلان ؤ دایران داصفهان (فارس) اوسیدونکی او دخپلی شتمنی کورنی دناز اونعمت په غیږ کښی لوی شوی ؤ پلرنی مذهب یی اتش پرستی وه بوذخشان چی ورځنی شغل یی بزګری وه یوه ورځ یی حضرت سلمان ته وویل: زویه زه دځه مصروفیت لامله کروندی ته نشم ورتلای نن ته ورشه دکروندی څارنه وکړه سلمان (رض) کروندی ته دتګ په لاره کښی دعیسائیانو پر کلیسا باندی تیریده ویی لیدل چی هغوی په عبادت مصرف دی اوپه لوړ اواز مناجات وائی دهغوی دعبادت طریقی ورباندی اغیزه وکړه اوله خپل پلرنی مذهب اتش پرستی نه یی په زړه کښی کرکه پیدا شوه اودا هغه زمانه وه چی محمد (ص) لانه ؤ مبعوث شوی کله چی عیسائیان له عبادت نه وزګارشول نوسلمان (رض) دهغوی مشرته وویل: ستاسی مذهب می ډیر خوښ شو زه خپل مذهب پریږدم اوستاسی په دین کښی داخلیږم عیسائیان خوشاله شول هغه یی په عیسوی مذهب کښی داخل کړ. سلمان (رض) پوښتنه وکړه ستاسی دینی مرکز چیرته دی؟ جواب یی ورکړ: په شام کښی حضرت سلمان (رض) ترماښامه هلته په کلیسا کښی پاتی شو اوکله چی کورته راغی بوذخشان ورځخه دکښت او کروندی پوښتنه وکړه نوده ورته دکلیسا اومسیحیت قصه واوروله ویی ویل: دهغوی دعبادت طریقه می ډیره خوښه شوه بوذخشان سخت په غوسه شو او د

خپل نازولی زوی په پښو کښې یې زولنې واچولې په کور کښې یې بندی کړ هغه دبند ورځې شپې په پوره زغم تیرې کړې کله چې خوشې شو عیسائیانو ته یې پیغام ولیږه چې که شام ته کومه قافله کله خوځیږی ماته خبر راکړئ.

څه ورځې وروسته له شام نه یوه تجارتی قافله راغله دهغې دبیرته تګ په وخت کښې عیسائیانو سلمان (رض) ته خبر ورکړ او هغه دقافلې په ملګرتیا شام ته ولاړی او هلته دهغه ځای مذهبی مشرته ورغی عرض یې وکړ چې زه غواړم لتاسره دخدمتګار په توګه واوسیږم او ته ماته دمسیحیت تعلیم وکړې اسقف داخبره ومنله اوحضرت سلمان (رض) یې دځان سره دیره کړ مسیحی چې په ظاهره یودرویش اوزاهد ښکاریده په واقع کښې یوریاکار اومادی پرست انسان ؤ اوحضرت سلمان دهغه له عملونو څخه سخت متنفر ؤ څه موده وروسته هغه دمرګ په ناروغی اخته شو اومړ شو دهغه له مرګ نه وروسته دهغه جانشین یو تارك الدنیا زاهد او دښه فطرت خاوند ؤ حضرت سلمان (رض) دهغه په خدمت کښې خوشاله اومطمئن ؤ خو دهغه عمرهم لنډ ؤ دمرګ نه مخکښې یې حضرت سلمان (رض) ته وصیت وکړ چې زما له مرګه وروسته موصل ته ورشه هلته یومسیحی راهنما دی له هغه سره دیره شه دراهب له وصیت سره سم حضرت سلمان (رض) موصل ته ولاړی له هغه وروسته دیوبل راهب په لټه کښې نصیبین او په پای کښې یې عموریه ته سفر وکړ دعموریه اسقف چې کله مړ کیده حضرت سلمان (رض) ته یې په وصیت کښې وویل: ای حق پرست زلمیه! زما له مرګه وروسته زه داسی څوك نه وینم چې تا ورولیږم ټول خلګ مادی پرستان اومنحرف شویدی خو دخوښې ځای دی چې اوس داخر الزمان پیغمبر دبعثت وخت نژدی دی هغه په عربو کښې مبعوث کیږی او دابراهیم (عليه السلام) دین به ژوندی کوی هغه ځای ته به هجرت کوی چې هلته دخرماؤ ونې ډیری دی دهغه ددواړو اوږو ترمینځ به دنبوت مهر وی هغه به هدیه قبلوی اوصدقه به نه خوری که ته موفق شې نواورمرو هغه ته ځان ورسوه داسقف له مرګه وروسته حضرت سلمان (رض) دبنوکلب له هغه تجارتی کاروان سره ملګری شو چې دعموریه ترڅنګ تیریده اوعربو ته روان ؤ کاروانیانو له

دغه پاك طينه زلمی سره غداری وکړه دغلام نوم يی ورباندی کيښوده اوپه وادی القری کښی يی خرڅ کړ بيا وروسته ديثرب يو يهودی واخيست اوله ځانه سره يی بوتی پدی ترتيب حضرت سلمان (رض) دخرماؤ هغه ښکلی وطن ته ورسيده چی هغه داخر الزمان پيغمبر (ﷺ) دهجرت ټاټوبی ؤ دکوم روڼ سهار په انتظار کښی يی چی دجبری غلامی دوحشت اوږده شپه تيروله هغه راوخوت سرور کائنات (ص) مدينی ته تشريف راوړ، اوس سلمان (رض) دهغو نښو معلومول غواړی چی له راهب نه يی اوريدلی دی څه خواړه يی برابر کړل درسول اكرم (ص) حضورته ورغی عرض يی وکړ: دا صدقه ده لتاسی نه بل څوك راته مستحق نه ښکاری تاسی مسافر ياست دا واخلی رسول الله (ص) خواړه واخيستل په صحابه ؤ يی وويشل خوپه خپله يی ونه خوړل سلمان (رض) يوه نښه وميندله چی اخر الزمان پيغمبر صدقه نه خوری بله ورځ يی خواړه برابر کړل عرض يی وکړ: داهديه ده ستاسی حضورته يی وړاندی کوم پيغمبر (ص) هديه قبوله کړه صحابه ؤ ته يی هم ورکړل اوپخپله يی هم وخوړل اوس حضرت سلمان (رض) ددريمی نښی په لټه کښی دی يوه ورځ رسول اكرم (ص) له يوی جنازی سره جنة البقيع ته ځی اوحضرت سلمان (رض) ورپسی شاته روان دی پدی هيله دی چی ګوندی دنبوت مهر وګوری دالله حبيب پری وپوهيده څادريی له اوږونه کښته کړ دنبوت مهر ښکاره شو اوحضرت سلمان (رض) په بيړه وړاندی شو هغه يی ښکل کړ او په اسلام مشرف شو.

دحق دشمعی ددغه پتنګ زړه تل دا غوښتل چی يوه شيبه هم دخپل محبوب له ديدارنه محروم پاتی نشی خو ديهودی دغلامی طوق دده اوديار ددیدار په مينځ کښی حائل دی رسول الله (ص) دهغه مجبوريت ليدی نو يوه ورځ يی صحابه وته وفرمايل: دسلمان سره مرسته وکړی چی ديهودی له غلامی نه ازاد شی حضرت سلمان (رض) دسرور عالم (ص) اوصحابه كرامو (رض) په مرسته يهودی ته قيمت ورکړ اوازادی يی ترلاسه کړه داحزاب په جګړه کښی چی دپنځم هجری کال دذی قعدی په مياشت کښی مينځ ته راغله اومسلمانان دزرهاؤ لښکر په مقابل کښی واقع شول حضرت سلمان (رض)

دخپلی تجربی له مخی له مدینی نه دچارپیر خندق کیندلو پیشنهاد وکړ، دهمدی حربی په برکت مدینه دکفارو له حملی نه په امن پاتی شوه اوپه پای کښی دالله په فضل داسلام پیروان بریالی او دکفر لښکر ناکام په شا ولاړی، د همدی جنګ په دوران کښی دانصارو اومهاجرو ترمنیځ بحث راغی چی مهاجرینو سلمان ته مهاجر اوانصارو ورته انصاری ویل رسول اکرم (ص) وفرمایل: سلمان من اهل البیت، سلمان زما له اهل بیت څخه دی داحزاب له غزانه وروسته حضرت سلمان (رض) په ټولو اسلامی جهادونو کښی برخه وال ؤ له رسول الله (ص) اوجهاد فی سبیل الله سره دهغه دمینی په لیدلو یوه ورځ سرور کائنات (ص) هغه ته د (سلمان الخیر) لقب ورکړ.

درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته حضرت سلمان فارسی (رض) په ډیرو اسلامی جهادونو کښی برخه واخیستله دراشدینو خلفاؤ لخوا مهمی رسمی وظیفی هم وروسپارل شوی خو دهغه ژوند دفقر اوزهد ژوند ؤ، درسول اکرم (ص) دصحبت په برکت دعلم اوحکمت له قیمتی نعمت څخه برخوردار ؤ پخپله رسول الله (ص) یوه ورځ وفرمایل: سلمان په علم پوره معموردی پردیس غلامی ځپلی حقپرست سلمان ته دامقام ورپه برخه شو چی رسول الله (ص) وفرمایل: الله (ج) امر کړیدی چی له څلورو کسانو سره محبت ولرم اوالله (ج) هم له هغوی سره محبت لری صحابه ؤ ﷺ پوښتنه وکړه: هغوی څوك دی یا رسول الله؟ ویی فرمایل: علی، مقداد، سلمان، ابوذر. دوفات په ناروغی کښی حضرت سعدبن ابی وقاص (رض) دهغه پوښتنی ته ورغی حضرت سلمان وژړل سعد (رض) پوښتنه وکړه: ولی ژاړی؟ رسول الله (ص) درڅخه خوښ تللی دی او په جنت کښی به ورسره یوځای شی. جواب بی ورکړ: قسم په خدای دی چی نه له مرګه بیریږم او نه می ددنیا سره مینه شته خوژاړم پدی چی رسول الله (ص) له مانه تعهد اخیستی ؤ، چی دنیا به نه جمع کوی اوس زما په کور کښی دژوند وسایل جمع شویدی بیریږم درسول الله (ص) له دیدار نه محروم نشم.

هغه وسایل چی دهغه په کورکښی ؤ یو ګیلاس، یوه کوزه یوه کمبله اویو بل دغسی شی چی دټولو قیمت دوه ویشت درهمه ؤ. (رضی الله عنه)

## حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه

یوه شپه په مدینه منوره کښې چې حالات ډیر نازك او داسلام متعدد دښمنان هروخت دمسلمانانو لپاره په کمین کښې ناست وه دپیرې لپاره څوك موجود نه ؤ پیغمبر (ص) وفرمایل: کاشکې نن شپه کوم رجل صالح (نیك سړی پیره دار وای، پدې وخت کښې دتورې خرپ واوریدل شو رسول اکرم (ص) پوښتنه وکړه: څوك یې؟ ژر جواب ورکړ شو یارسول الله زه یم سعد، ویې فرمایل: دڅه لپاره راغلی یې؟ عرض یې وکړ: په زړه کښې می ستا په باب اندیښنه پیداشوه دپیرې کولو لپاره راغلی یم پیغمبر (ص) دهغه پدې خبره ډیرخوشاله شو دحضرت سعد لپاره یې دخیر دعاوکړه او بیایې استراحت وکړ.

داچې رسول کریم (ص) ورته درجل صالح لقب ورکړ حضرت سعدبن ابی وقاص دقریشو دقبیلې دبنوزهره له کورنې څخه اودپلار لخوا دهغه نسب په پنځم پښت کښې له رسول کریم (ص) سره یوځای کیده دحضرت نبی اکرم (ص) مور دابو وقاص دتره لور وه اوله همدې امله به پیغمبر (ص) حضرت سعد ته ماما ویل.

دغه جلیل القدر صحابي چې له عشره مبشره ؤ څخه یوتن اوپه اسلام کښې دخورا لوړ مقام خاوند ؤ په اوه لس کلنې کښې خپل ښې لاس دبیعت لپاره دسرور کائنات (ص) په لاس کښې کیښود په هغه وخت کښې په اسلام مشرف شو چې دمسلمانانو شمیرله پنځو شپږو تنو څخه زیات نه وو حتی په ځینو روایتونو کښې خولا داراغلی دی چې هغه په نارینه ؤکښې دریم مسلمان ؤ داسلام په راوړلو حضرت سعد دټولو اقاربو دسترګو اغزی شو په تیره بیا دهغه مور حمنه بنت سفیان بن امیه دومره له غوسې ډکه شوه چې داعتصاب په توګه یې څو ورځې دلوږې روژه ونیوله اوهمدایې ویل چې: سعده! له دغه نوی دین څخه بیرته خپل پلرنی دین ته راواوړه کنه نوزه به ځان له لوږې ووژنم حضرت سعد جواب ورکړ: (موری ته ماته ډیره ګرانه یې خوکه ستاپه بدن کښې سل ساګانې وی اویوه په بلې پسې ووزې هم له اسلام څخه به وانه وړم).

دده دخبرې دتائید لپاره دا ایت نازل شو چې: (ان جاهداك لتشرك بی ما

لیس لك به علم فلا تطعها). یعنی که مور اوپلار تاپدی مجبور کړی چې له ما سره شریك ونیسی چې ته پری خبرنه یی نوپدی باب دهغوی خبره مه منه.

یوه ورځ دنورو څوتنو صحابه ؤ په ملگرتیا حضرت سعد په پټه دلمانځه ادا کولو لپاره دغرونو یو ناؤ ته ولاړی هلته څوتنه مشرکان ورغلل حمله یی ورباندی وکړه حضرت سعد چې عیناً دزلمیتوب په دور کښې ؤ داوښ یو هډوکی یی راپورته کړ او دیو مشرك پرسر یې کلك گوزار وکړ دهغه له سرنه وینی وبهیدلی اوتیښتی ته مجبور شول. علامه ابن اثیر وائی چې سعد بن ابی وقاص لومړنی سړی دی چې دحق دملاتړ لپاره یی دخدای دیودښمن وینی توی کړی.

حضرت سعد (رض) په هرراز سختو شرایطو کښې ددواړو جهانو دسردار (ص) ملگرتیا کوله حتی په شعب ابی طالب کښې دبنو هاشم ددری کلنی محاصری په دوران کښې هم ورسره ملگری ؤ سره له دی چې دبنوهاشمو دمحاصری پدی دوران کښې ډیری لوږی تندی راغلی حضرت سعد (رض) وایی یوه شپه می دلوږی دفع کولو لپاره دځرمنی یوه وچه ټوټه په اوبو ووینځله بیامی اورته ونیوله په اور سوی هغه څرمن می وخوړله اوبه می ورپسی وڅښلی اوخپله لوږه می دفع کړه.

له هجرت نه وروسته حضرت سعدپه مسلسل ډول په غزاگانو کښې برخه اخیستله په صحیح بخاری کښې پخپله له حضرت سعدنه روایت شویدی وائی چې موږ به له رسول الله (ص) سره غزاگانی کولی اوزیاتره وخت به دخوراك لپاره دونو له پاڼو نه پرته نور څه راسره نه وه.

دهجرت په دویم کال درمضان المبارك په میاشت کښې چې کله دبدر مشهوره ستره جگړه مینځ ته راغله په هغی کښې دقریشو مشهور پهلوان سعید بن عاص دحضرت سعد په لاس ووژل شو.

داحد په جنگ کښې چې دهجرت د (۲) کال خبره ده کله چې په مؤقتی ډول مسلمانانو ته تکلیف ورسیده اوډیر سخت حالات وو حضرت سعد خپل ځان درسول اکرم (ص) په وړاندی دکفارو گوزارونو ته سپر کړی ؤ او رسول

اکرم (ص) به غشي ورکول حضرت سعد به پر دښمن گوزارونه کول دا دسعد (رض) دسعادت هغه بختوری شیبې وی چې رسول اکرم (ص) به ورته ویل ارم سعد فداك ابی وامی یعنی سعده! غشي وله مور اوپلارمې درنه ځارشه، الله! الله! څومره لوی مقام دی چې پیغمبر (ص) یوچاته وائي: مور اوپلار مې درنه ځار شه.

دحضرت سعد بن ابی وقاص هم غشي پرځای لگیده اوهم یې دعا قبلیدله دائځکه چې نبی کریم (ص) ورته دعا کړی وه چې: (اللهم سدد رمیته واجب دعوته) یعنی یاخدایه! دده وار محکم کړه او دده دعا قبوله کړه.

عامر بن سعد وائي: یوه ورځ یو سړی علی (رض) طلحه (رض) اوزبیر (رض) ته ښکنځلی کولی حضرت سعد منع کړ خو منع نشو بیایی ورته وویل: که نه منع کیږې نوښیرا درته کوم هغه سړی ورته وویل: ستا په ښیراؤ به څه وشي ته خو پیغمبر نه یې. حضرت سعد (رض) اودس وکړدوه رکعته لمونځ یې ادا کړ بیایی دعا وکړه چې: الهی! دغه سړی هغو خلگو ته ښکنځل وکړه چې هغوی ستا نیکان بندگان دی خدایه ته ورباندی خپل قهر نازل کړی چې دنورو لپاره عبرت شي. لاډیر وخت نه ؤ تیر شوی چې یومست اوښ په ځغاسته په داسی شان راغی چې هیچایی مخه نشوه نیولی دخلگو په مینځ کښې یې داسی کتل لکه چې څوك لټوی بیایی هماغه سړی را ایسارکړ ترداسی حده یې ترگوندو لاندی ومروړی چې سایی ووتله حضرت سعد (رض) دونی لاندی بیعت دمکی په فتح اودحجة الوداع په ټولو سفرونو کښې له رسول اکرم (ص) سره ملگری ؤ دپیغمبر (ص) له رحلت نه وروسته هم حضرت سعد (رض) دابو بکر صدیق (رض) اوعمر فاروق (رض) دخلافت په دورکښې داسلامی لښکر داعلی ستر قوماندان په توگه په جهادونو کښې برخوال ؤ نه یوازی برخوال بلکې دقادسیه مدائن اونورو سیمو فاتح ؤ دایران قوت یې مات کړ اودکسری تخت یې ونیوی. حضرت سعد (رض) پداسی حال کښې چې عمر یې له اتیا کلونو څخه تیر شوی ؤپه څلور پنځوسم هجری کال کښې ناروغ شو دهغه زوی وائي: هغه زما په غیږ کښې وروستی سلگی وهلی ما وژړل هغه راته وویل:

زویه ولی ژاړی؟ الله به هیڅکله ماپه عذاب اخته نکړی زه له جنتیانو څخه یم پدی شان حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) وفات شو اوپه جنة البقیع کښی دفن کړای شی. ( رضی الله عنه)

## حضرت سعید بن زید رضي الله عنه

حضرت سعید بن زید (رض) دقریشو قبیلی دبنوعدی له کورنۍ څخه ؤ او دنسب په اوم پښت کښی له رسول اکرم (ص) سره یوځای کیږی.

دهغه پلار زید له هغو کسانو څخه ؤ چی داسلام له راتګ نه مخکښی هم دمشرکانو له رسمونو اورواجونو څخه متنفر اودیو خدای دبندګی دطریقی په لټه کښی ؤ دابراهیمی دین دکړنلاری میندلو په هیله یی ترشام موصل او حزیری پوری سفرونه وکړل پدی ترڅ کښی یی له یو شمیر یهودی عالمانو سره ملاقاتونه وکړل خوچی ویی لیدل دهغو عقایدو هم له مشرکانو سره چندانی فرق نه درلود نو لاسونه یی په دعا پورته کړل ویی یل:

الهی که زه پوهیدلی چی ستا دعبادت طریقه کومه ده اوته په څه ډول عبادت خوښوی ما به همغسی عبادت کولی.

له مشهور تابعی حضرت سعید بن مسیب (رح) نه روایت دی چی یوځل حضرت عمر (رض) دزید له زوی سره دسرور کائنات (ص) حضور ته ورغی عرض یی وکړ: یارسول الله! دزید مفکوره خو تاته معلومه وه ایا موږ ته رواده چی هغه ته دمغفرت دعا وکړو؟

رسول اکرم (ص) وفرمایل: الله دی زید بن عمرو ته مغفرت وکړی اوپرهغه دی رحم وکړی هغه په ابراهیمی دین باندی وفات شو.

حضرت سعید (رض) ددغه مؤحد انسان زوی دحضرت عمر فاروق (رض) دتره لمسی اواخښی ؤ دلومړنیو مسلمانانو په ډله کښی اته ویشتم شخص ؤ چی درسول اکرم (ص) په لاس یی بیعت وکړ اودهغه میرمن حضرت فاطمه بنت خطاب (رض) دحضرت عمر (رض) خور دمؤمنانو په ردیف کښی له هغه نه یو نمبر مخکښی یعنی اوه ویشتمه مسلمانه وه.

دحضرت سعید بن زید اوفاطمی بنت خطاب دواړو دالله له پاك کلام سره

له حده وتلی مینه وه دقرآن دزده کړی لپاره به یی حضرت خباب بن الارت هر وخت خپل کورته راغوښته دادور دحق پرستانو لپاره دسختو مصیبتونو دورۀ تردی پوری چی پخپله دالله حبیب (ص) له خپلو محدودو یو شمیر مؤمنو ملګرو سره دحضرت ارقم بن ابی الارقم په کور کښی پناه اخیستی وه داهغه وخت ۇ چی دحضرت فاطمی (رض) وروړ عمر فاروق (رض) هم دشرك په تیارو کښی لا لهانده ۇ.

یوه ورځ رسول الله (ص) دعا وکړه چی: پروردګاره! دقریشو له دوو ستنو عمربن خطاب یاعمرو بن هشام (ابوجهل) څخه یوتن کوم چی ستا خوښ وی په اسلام مشرف کړه اوخپل دین ورباندی تقویه کړه (دادعا چی دچاپه حق کښی قبوله شوه هغه عمربن خطاب (رض) ۇ خو دایمان ثرك دحضرت سعید بن زید (رض) په کور کښی دهغه پرمخ وځلیده پداسی شان چی حضرت عمربن خطاب په ناوړه نیت ددار ارقم خواته روان ۇ او په لاره کښی دنعیم بن عبدالله النحام په نوم یوسړی ورسره مخامخ شو پوښتنه یی وکړه: عمره چیرته روان یی؟

حضرت عمر وویل: ورځم ترڅو هغه سړی له مینځه یوسم چی زموږ خدایانو ته بدوائی اوزموږ دین نه منی مطلب یی رسول الله (ص) ۇ حضرت نعیم چی په پټه مسلمان شوی ۇ خوخپل اسلام یی نه ۇ ښکاره کړی ورته وویل لومړی ورشه دخپلی خور فاطمی اوخپل اخښی سعید حال واخله. هغوی هم دمحمد (ص) پیروی غوره کړیده حضرت عمر په غوسه دسعید (رض) دکور خواته روان شو پداسی حال کښی یی دکور دروازه وروټکوله چی هغوی له حضرت خباب (رض) څخه قرآن زده کاوه هغوی دحضرت عمر له ویری حضرت خباب په یوه کوټه کښی پټ کړی حضرت عمر پوښتنه وکړه: څه مو لوستل؟

هغوی دواړو انکار وکړ حضرت عمر (رض) پر سعید باندی حمله وکړه او له حده زیات یی وواهه حضرت فاطمی چی له خپل مسلمان میړه څخه دفاع کوله هغه یی هم ووهله او په وینو یی ولړله په پای کښی یی هیله وکړه چی تاسی خپل کتاب ماته هم واوروی هغوی ورته دسوره طٰهٰ صحیفه راوړه حضرت عمر دهغی په لوستلو وویل: قسم په خدای چی دادبشر کلام ندی ددی

خبرې په اوريدلو حضرت خباب (رض) له کوټې نه راووتی ويې ويل: عمره مبارك شه دالله درسول دعا ستاپه حق کښې قبوله شويده پدې ترتيب حضرت عمر (رض) دار ارقم ته ولاړی او اسلام يې راؤړی.

مطلب داچې دحضرت سعيد اوفاطمې قربانۍ او دحضرت عمر دتعذيب اووهلو ټکولو په دوران کښې دهغوی داوينا چې: (قد اسلمنا وتابعنا محمدا افعل ما بدا لك) يعنې هو: موږ اسلام منلی او دمحمد (ص) پيروان يو څه چې کولای سی ويې کړه، دايوه وسيله وګرځيدله چې حضرت عمر (رض) په اسلام مشرف سو اوحقيقت دی چې دهغه په اسلام راوړلو سره الله تعالی اسلام ته دومره قوت ورکړ چې بيا دباطل لښکرو ونشو کړای چې دحق دپلويانو مقابله وکړی. دهجرت زمانه چې راغله حضرت سعيد (رضي الله عنه) په لومړنيو مهاجرينو کښې مدينې منورې ته هجرت وکړ کله چې داسلامې جهادونو لړۍ شروع شوه حضرت سعيد (رض) له بدرنه نيولی تراحد خندق خيبر فتح مکه حنين طايف او تبوك پورې دحق او باطل په هره معرکه کښې شريك درسول اکرم (ص) دملګرتيا سعادت ورپه برخه ؤ درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دايران او روم په جنګونو کښې هنم حضرت سعيد دتکړه اوسرښندونکی مجاهدپه صفت برخوال ؤحضرت سعيد بن زيد به په جهاد کښې درسول اکرم (ص) ترمخ اوپه لمانځه کښې به دهغه ترشا ولاړؤ دزهد اوتقوی په برکت دمستجاب الدعوات مقام ورپه برخه شوی ؤ يوځل داروی بنت اويس په نوم يوی ښځې ددروغو دعوه ورباندی وکړه حضرت سعيد ښيرا وکړه چې: الهی! دغه ښځه دروغجنه ده په سترګو يې ړنده کړه اوپه کوهی کښې يې مرګ مقرر کړه.

لږ وخت وروسته اورويه ړنده شوه اوبيا دخپل کور په کوهی کښې ولويده اومړه شوه له هغه وروسته دانښيرا دخلګو دژبې وِرد شوه دغوسې په حالت کښې به يې ويل: (اعماك الله کما اعمی الارويه) داسی دی خدای ړوندکړه لکه چې ارويه يې ړنده کړه حضرت سعيد بن زيد (رض) دعمر په تقريبا اتيا کلنی کښې وفات شو حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) غسل ورکړ اوحضرت عبد الله بن عمر (رض) ورباندی دجنازی لمونځ اداکړ اوپه مدينه منوره کښې دفن

شو. (رضی الله عنه)

## حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه

حضرت سعدبن عباده دانصارو دخزرج قبیلې دبنوساعده پلرګنی دیوی بارسوخه کورنی غړی اوپه سید الخزرج سره یی شهرت درلود هغه وخت په اسلام مشرف شو چی کله شپږ تنه خزرجیانو حضرت اسعدبن زراره حضرت عقبه بن عامر حضرت عوف بن حارث حضرت رافع بن مالك حضرت قطبه بن عامر اوحضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنهم دعقبی په ناؤ کښی درسول الله (ص) په لاس داسلام له بیعت نه وروسته په مدینه کښی دحق تبلیغ شروع کړی ؤ او د هغوی ددعوت په برکت په مدینه کښی یوشمیر کسان دایمان دخزانی مالکان شول بیا دبعثت په (۱۳) کال چی دمدینی دمسلمانانو پنځه اویاکسانو دعقبی په ناؤ کښی درسول کریم (ص) سره دسربښندتی بیعت وکړ پدی ډله کښی حضرت سعد بن عباده (رض) هم شامل ؤ دغه بیعت چی په تاریخ کښی ورته بیعت عقبه ثانیه وائی اګرکه په ډیر خفیه ډول ترسره سوی ؤ خو بیاهم دمشرکانو غوږته خبره ورسیدله دمدینی قافلی ته سهار په توره خړه ورغلل او ویی ویل: (ای دخزرج خلګو! موږ خبر سوی یو چی تاسی محمد (ص) ته په بیعت کولو اوپناه ورکولو سره زموږ جنګ ته ملاتړلی ده. دمدینی مشرکانو چی پدی بیعت باندی خبرنه ؤ قسمونه وخوړل چی داکار موږ ندی کړی خو دهغوی له انکار سره سره اصلی خبره لوڅه شوه دمکی مشرکان دقافلی په تعقیب ووتل قافله یی ونشوه نیولی مګر متاسفانه چی سعد بن عباده اومنذر بن عمرو له قافلی نه یوڅه فاصله شاته پاتی سوی وه منذربن عمرو هم ترینه وتښتیده خوحضرت سعدبن عباده دظالمانو پنجوته ورغی پداسی شان سره یی مکی بوتلی چی په غاړه کښی یی پړی ورته اچولی ؤ اوهم یی دهغه دسر ورېښتان نیولی وو اوپه وهلووهلو یی راکشوی پخپله دحضرت سعدبن عباده وینا ده چی:

کله چی زه په مکه کښی دقریشو تر تعذیبونو اووهلو ټکولو لاندی وم ومی لیدل یوسور سپین ښکلی سړی زما خواته راروان دی (داسړی سهیل بن

عمرؤ چی دمکی له فتح نه وروسته یی اسلام راؤړ) زما په زړه کښی را وګرځیدله چی که له چا څخه دشرافتمندانه برخورد هیله کیدای شی نو هغه به همدا سړی وی خوکله چی هغه ماته رانژدی سو داسی سخته څپیړه یی پرمخ راکړه چی لمبه می له سترګو پورته شوه نوما فکر وکړ چی داخلګ ټول سخت زړی ظالمان دی پدی ترخ کښی یوبل سړی راغی (ابو البختری بن هشام) راته یی وویل: (وروره! ترکومه وخته به همدغسی وهل ټکول خوری ایا په مکه کښی څوك نه پیژنی؟ ماورته وویل: (ولی نه حارث بن امیه اوجبیربن مطعم بن عدی پیژنم دوی دتجارتی کاروبار په لړ کښی یثرب ته ځی راځی اوماپه څو ځوځله ددوی دتجارتی کاروانونو حفاظت کړیدی هغه وویل: (ددغو دووتنو نومونه واخله ووایه چی له هغوی سره دغسی ارتباط لرم).

ماهمداسی وکړل یوسړی ښارته ولاړی دکعبی په حرم کښی یی هغه دواړه ومیندل اوزما له حاله یی خبر کړل هغوی ورڅخه زمادنوم پوښتنه وکړه کله چی ورته وویل شول چی ترظلم لاندی سړی سعدبن عباده نومیږی هغوی دغوسی اوخپګان په حال کښی وویل: اوه داڅومره بدکار شویدی داسړی خو دخزرج قبیلی رئیس دی په خدای قسم څه چی وائی ریښتیا وائی ده تل مونږته پناه را کړیده اودیثرب له خلګونه یی هیڅوك ندی پری ایښی چی پرمونږ ظلم وکړی بیا وروسته په منډه منډه راغلل اوزه یی دمشرکانو له منګولو څخه وژغورلم.

رسول الله (ص) چی کله مدینی منوری ته هجرت وکړ اوانصار یی استقبال ته په ډیره مینه اوولوله ولاړ وو پدی بختورو خلګو کښی حضرت سعد بن عباده هم شامل ؤ دبنو ساعده له محلی نه دنبوی مرکب دتیریدو په وخت کښی حضرت سعد بن عباده (رض) ور وړاندی شو عرض یی وکړ: یا رسول الله زماکور ستاسی دقدم ایښودلو انتظار باسی زمونږ فقیرخانی ته تشریف راوړی پیغمبر (ص) ورته دخیر اوبرکت دعا وکړه اوویی فرمایل:

زما اوښه پریږدی چیرته چی ورته امر شوی وی همالته به ودریږی) حضرت سعدبن عباده (رض) به رسول الله (ص) اودهغه مسافرو مهاجرو ملګرو ته هروخت په کافی اندازه خواړه لیږل اوداکار دهغه دکورنی له امتیازاتو څخه

ؤ دهغه پلار نیکه په جود اوسخا سره مشهورؤ دهغه دکورنی عادت ؤ چی هره ورځ به یی یوسړی ته وظیفه ورکوله اوهغه به دلاری پرسر اعلان کاؤ چی: هرڅوك چی غواړی غوښی غوړی اولذیذ طعامونه وخوری زموږ دیره ته دی راشي. درسول الله (ص) په وړاندی هم دحضرت سعد بن عباده (رض) خاص مقام اومنزلت ؤحافظ ابن حجر په الاصابه کښی لیکلی دی دهجرت دلمړی کال په پای کښی چی کله رسول الله (ص) دابواء غزا لپاره له مدینی څخه ووتی نوحضرت سعد بن عباده یی خپل جانشین وټاکه.

یوه ورځ رسول الله (ص ) په نبوی مسجد کښی ناست ؤ صحابه کرام ﷺ ورباندی راټول وو پدی ترڅ کښی یوسړی راغی اوویی ویل: سعدبن عباده ناروغ دی دهغه کورته یی تشریف یووړی هغه ډیر سخت ناروغ ؤ ترداسی حده چی دپیغمبر (ص) په ورتګ هم خبر نشو پیغمبر (ص) دهغه ددی حالت په لیدلو ډیر غمجن شو له مبارکو سترګونه یی اوښکی وبهیدلی چی دهغه دمبارکو اوښکو په لیدلو ټولو صحابه ؤ وژړل دهغه دروغتیا لپاره یی دعا وکړه اوپه لمدو سترګو دهغه له کوره رخصت شو.

یوځل رسول اکرم (ص) دحضرت سعد بن عباده (رض) دملاقات لپاره دهغه کورته ورغی اوله خپل عادت سره سم چی له اجازی پرته دچا کورته نه داخلیدی دکورپه دروازه کښی ودریدی اوویی فرمایل: (السلام علیکم ورحمة الله) حضرت سعد (رض) دسلام جواب په دومره ټیټ اواز ورکړ چی پیغمبر (ص) وانه وریدی پیغمبر (ص) بیا وویل: (السلام علیکم ورحمة الله) هغه بیاپه ټیټ اواز جواب ورکړ، چی رسول الله (ص) وانه وریده. له دری ځله سلام اچولو نه پس پیغمبر (ص) ګومان وکړ چی سعدبن عباده (رض) داجازی په ورکولو کښی څه عذر لری نوبیرته روان شو حضرت سعدبن عباده په منډه راووتی اوعرض یی وکړ:

یا رسول الله (ص) زما مور اوپلار درڅخه ځار شه ما ستا سلام اوریده او ددی لپاره می په ټیټ اواز جواب درکاؤ چی ستا دمکرر سلام اچولو څخه مستفید شو اوسعادت راپه برخه شي.

دحضرت سعد (رض) ددی خبری په اوریدو سره پیغمبر (ص) موسکی شو اوبیا دهغه کور ته داخل شوپه کور کښی له کښیناستلو نه پس پیغمبر (ص) دعا وکړه چی (اللهم اجعل صلوتك ورحمتك علی سعد) الهی په سعد باندی خپل رحمت اومهربانی نازله کړه.

داسلامی جهادونو لړی چی شروع شوه حضرت سعد بن عباده (رض) په هره غزا کښی نه یوازی عملاً شریك ؤبلکی دمجاهدینو داعاشی لپاره یی له مالی انفاق څخه کاراخیست ابن سعد (رح) دحضرت عروه (رض) داوینا رانقل کړیده چی:

ماحضرت سعدبن عباده (رض) لیدلی دی چی دخپل کورپه دروازی کښی ولاړؤ ناری یی وهلی چی که دچا غوړی اویا غوښه خوښیږی هغه دی دسعدبن عباده کورته راشی اصحاب صفه ؤنه کورونه درلودل اونه دژوند وسایل چی له همدی امله دالله (ج) میلمانه ګڼل کیدل مالی قدرت لرونکو صحابهٔ کرامو به یویو دوه دوه تنه له ځانه سره بیول او خواړه به یی ورکول خو حضرت سعد بن عباده (رض) به هر ماښام داتیا کسانو ډوډۍ ورلیږله.

دحضرت سعد (رض) مور حضرت عمزه بنت مسعود (رض) ته هم دصحابیت شرف په نصیب شوی ؤ او دهغی به یی له حده زیات احترام ساته کله چی هغه په پنځم هجری کال کښی وفات شوه دهغی روح ته دثواب استولو لپاره یی داوبو یولښتی جاری کړ چی نن هم په مدینه منوره کښی د: (سقایة السعد) په نوم موجوددی په اتم هجری کال کښی دحضرت ابوعبیده بن الجراح ترقیادت لاندی دری مجاهدین دسیف البحر غزاته ولاړل په سفرکښی خوراکی مواد خلاص شول دحضرت سعد زوی قیس بن سعدبن عباده پرله پسی په قرض اوښان اخیستل او دمجاهدینو لپاره یی ذبح کول په پای کښی ابوبکر صدیق (رض) اوحضرت عمر (رض) هغه له دی کارنه منع کړ دراستنیدو څخه وروسته چی هغه خپل پلارته قصه وکړه نوحضرت سعد (رض) دپیغمبر (ص) حضورته ورغی عرض یی وکړ: (دابن ابوقحافه اوابن خطاب لخوا جواب راکړه چی هغوی زما زوی بخیلی ته ولی هڅوی؟

درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته پرحضرت سعدبن عباده (رض) باندی دغمونو غرونه راوغورځیدل مدینه یی پریښودله اوپه شام کښی یی استوګنه غوره کړه چی هلته په (۱۵) هجری کښی دنامعلومو کسانو لخوا شهید کړای شو اوپخپل خواږه ملګری سید المرسلین (ص) پسی پداسی حال کښی ورغی چی هغه په ژوند کښی ورڅخه راضی ؤ اودده کور دهغه (ص) دتګ راتګ ځای ؤ او تل به یی دخیر او برکت دعا ورته کوله او همدا دیو ریښتونی مؤمن لپاره دسعادت معراج دی. (رضی الله عنه)

## حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه

حضرت سلمه بن اکوع په مرالظهران کښی داوسیدونکی قبیلی بنوقمعه دبنواسلم له پلرګنی څخه اودابو اباس په کنیت نوم سره یی شهرت درلود. له شپږم هجری کال نه مخکښی په اسلام مشرف شوی اومدینی منوری ته یی هجرت کړی ؤ دشپږم هجری کال دذی قعدی په میاشت کښی پیغمبر (ص) له خپلو یوزر اوڅلورسوو صحابه وسره دعمری اداکولو په نیت له مدینی منوری نه دمکی معظمی خواته روان شو دمسلمانانو په لاره کښی دقریشو دخنډ کیدو لامله پیغمبر (ص) لاره بدله کړه اوپه حدیبیه نومی ځای کښی تم شو څنګه چی دامیاشت له څلورو حرامو میاشتو څخه وه اومسلمانانو نه غوښتل چی جنګ واقع شی نویی دخبرواترو لپاره دسفیرانو لیږلو په لړ کښی دوروستی ځل لپاره حضرت عثمان بن عفان (رض) قریشو ته واستوه قریشو هغه په مکه کښی ایسار کړ اوپیغمبر (ص) ته خبوررسیده چی دښمنانوحضرت عثمان (رض) شهید کړیدی رسول الله (ص) ټول صحابه راغونډ کړل او دسر ښندتی او قربانی بیعت یی ورڅخه واخیست چی په تاریخ کښی دغه بیعت ته بیعت رضوان وائی داله دی کبله چی الله (ج) دوحی په ژبه دغو بیعت کوونکو ته دخپلی رضاء اعلان وکړ وبی فرمایل: (لقد رضی الله عن المؤمنین اذ یبایعونك تحت الشجرة) یعنی حقیقت دادی چی الله (ج) دهغو مؤمنانو څخه راضی شو چی کله یی ترونی لاندی له تاسره بیعت کاوه.

حضرت سلمه بن اکوع هم پدغو بیعت کوونکو کښی شامل ؤ بلکی هغه

دری ځله دپیغمبر (ص) په لاس کښې دبیعت لاس کیښود په صحیح مسلم کښې راغلی دی چې حضرت سلمه (رض) دخپلې قبیلې په شمول په حدیبیه کښې درسول اکرم (ص) په لاس دمرګ بیعت وکړ لږ شیبه وروسته چې دپیغمبر (ص) سترګې پرهغه ولګیدې ویې فرمایل: ای ابن اکوع: ته بیعت نکوې؟

عرض یې وکړ: یارسول الله: ماخو بیعت وکړ ویې فرمایل: (بیابیعت وکړه) حضرت سلمه سمدلاسه پاڅیده بیایې دپیغمبر (ص) په لاس بیعت وکړ رسول الله (ص) دخپل لطف اومهربانی له مخې هغه ته یوجنګی سپر ورکړ لږ وروسته چې دپیغمبر (ص) سترګې وربانډې ولګیدې ویې فرمایل: (سلمه! بیعت نکوې؟ عرض یې وکړ: یارسول الله! مور اوپلامې درنه ځار شه ماخو دوه ځله بیعت وکړ پیغمبر (ص) وفرمایل: خیردی دریم ځل بیعت وکړه حضرت سلمه پاڅیده اودریم ځل یې هم دبیعت شرف اوسعادت وګټې پدې وخت کښې چې پیغمبر (ص) وکتل له سلمه (رض) سره هغه سپر نشته چې ده ورکړی ؤ نویې پوښتنه وکړه: (سلمه! هغه سپر دې څه کړ؟ عرض یې کړ: یارسول الله زما له تره سره هیڅ وسله نه وه سپرمې هغه ته ورکړ پیغمبر (ص) موسکی شو ویې فرمایل: (سلمه! ستا مثال دهغه سړی په څیردی چې هغه دعا کړې وه چې: خدایه! ماته داسې دوست راکړه چې زما له خپله ځانه هم رابانډې ګران وی.

وروسته بیادحضرت عثمان (رض) دشهادت خبردروغ ثابت سو اوددواړو خواؤ په موافقه دحدیبیې تاریخی صلح مینځ ته راغله اورسول الله (ص) له خپلو څوارلس سوه تنه ملګرو سره بیرته دمدینې خواته روان سو دسفر په ترڅ کښې چې کله وربانډې لومړۍ شپه راغله نودیوه غره په لمن کښې دیره سول اوله دې امله چې دمعاهدې له لاسلیك کیدونه وروسته دکافرو دغدر اوخیانت یودوه پیښې مینځ ته راغلې وې اواعتماد وربانډې نسو کیدلای اودا ویره وه چې احتمال لری دناخبرۍ په حالت کښې حمله وکړي له همدې کبله پیغمبر (ص) غوښتل چې دشپې پیره وشي نوویې ویل: الله (ج) دې پر هغه چاخپل رحمت نازل کړي او مغفرت دې ورته وکړي چې نن شپه ددې غره سرته وخیژی پیره وکړي اودمشرکانو دځه اقدام په باب موږ ته پرخپل وخت خبر راکړي

حضرت سلمه (رض) سمدلاسه پاڅیدی عرض یی وکی: (یارسول الله! زه به دا خدمت سرته ورسوم. پیغمبر (ص) دهغه دسرښندنی ولوله وستایله ویی فرمایل: (هو همداته داکار وکړه حضرت سلمه (رض) خپله وسله واخیستله او په منډه دغره څوکی ته وختی ټوله شپه یی یوازی پیره وکړه کله به له لښکرنه ګردچاپیره تاویدی او کله به یی دغره له سره ددښمن حالات څارل ترڅو چی شپه په خیریت سره سبا سوه او دحضرت سلمه (رض) لمن درسول الله (ص) درحمت او مغفرت له مستجابی دعا څخه ډکه سوه.

دشپږم هجری کال په پای کښی یوه بله واقعه مینځ ته راغله چی په هغی کښی دحضرت سلمه بن اکوع (رض) بیساری میړانه دتاریخ په پاڼو کښی په زرینو کرښو ثبت سوه. واقعه داسی وه چی دبنوغطفان قبیلی سیمی ته نژدی په ذی قرد ځنګله کښی دپیغمبر (ص) او ښان څریدل دعیینه بن حصن فزاری په نوم داسلام یولوټمار دښمن دداړه مارانوله څلویښت کسیزی ډلی سره حمله وکړه داوښانو شپون دمشهور صحابی ابوذرغفاری زوی ذر رضي الله عنهما یی شهیدکړ اواوښان یی وتښتول.

پدی وخت کښی تصادفا حضرت سلمه (رض) اوحضرت رباح (رض) چی پرآسونو سپاره وو هلته ورغلل حضرت سلمه (رض) ددی صحنی په لیدلو له غوسی ډك سو حضرت رباح یی دخبر رسولو لپاره مدینی ته ولیږی اوپخپله په یوازی ځان له څلویښت کسیزی داړه ماری ډلی سره په جنګ سو دیوی غونډۍ دپاسه ولاړ ؤ او لاندی یی پرلوټمارانو باندی غشی اورول تردی پوری چی دښمنانو اوښان پریښودل اودتیښتی لاره یی په مخکښی ونیوله حضرت سلمه (رض) دهغوی په تعقیب مخ په وړاندی روان ؤ چی عیینه بن بدر فزاری له خپلو وسله والو سپرو سره دلوټمارانو دمرستی لپاره راغی اوحضرت سلمه (رض) ته ئی وویل چی: ته څوك یی؟ جواب یی ورکړ: ما وپیژنئ زه داکوع زوی سلمه یم په هغه خدای قسم چی دمحمد (ص) مبارك مخ ته یی عظمت وربخښلی دی له تاسی نه په هیڅ یوه کښی داقدرت نسته چی ما ونیولی شی اوپه تاسی کی یوهم داسی نسته چی که زه دهغه وژل وغواړم چی هغه ځان را

نه خلاص کړی ددوی په مینځ کښی لاهمدا خبری روانی وی چی له مدینی نه مجاهدین راورسیدل او په پای کښی رسول اکرم (ص) پخپله هم تشریف راؤړ چی له یوځه برخورد نه وروسته فتح داسلام دسپاهیانو اوشکست دشیطان دملګرو په برخه سو.

دمعرکی په پای کښی رسول الله (ص) وفرمایل: زموږ په سپرو کښی ابو قتاده ترټولو زیات تکړه دی اوپه پیاده ؤ کښی سلمه.

دذی قرد یاپه بل عبارت د (غابه) له غزا نه دری ورځی وروسته سرور کائنات (ص) له یوزر اوه سوه مجاهدینو سره چی حضرت سلمه بن اکوع هم پکښی برخوال ؤ له مدینی څخه دخیبر دیهودو دځپلو لپاره روان سو دخیبر جنګ داسلامی غزاګانو په لړ کښی خاص شهرت لری داجنګ ډیری ورځی جاری ؤ اوپدی دوران کښی ډیری نښتی له یهودو سره مینځ ته راغلی چی حضرت سلمه (رض) ددی نښتو دمیدان یوغښتلی اتل ؤ.

په صحیح بخاری کښی دخیبر دغزا په باب له حضرت سلمه (رض) نه روایت سوی یوحدیث کښی هغه وائی چی دخیبر په ورځ زما پنډۍ په توره زخمی سوه رسول الله (ص) ته می موضوع عرض کړه هغه دری ځله وربا ندی کف شف وکی زخم می داسی جوړ سو چی بیامی هیڅکله دهغه درد احساس نکړ دهجرت په اوم کال دبنو کلاب قبیلی خلګو بغاوت وکی رسول اکرم (ص) دهغوی دځپلو لپاره دحضرت ابوبکر صدیق (رض) ترقیادت لاندی یو ټولی ولیږله چی حضرت سلمه (رض) هم پکښی ؤ.

حضرت سلمه پدی سریه کښی په پوره میړانه وجنګیده او په یوازی ځان یی اوه کورنی دجهنم کندی ته ولیږلی اوکمو خلګو چی دتیښتی لاره په مخ کښی ونیوله دهغوی ښځی یی اسیرانی ونیولی په مسند احمدبن حنبل کښی راغلی دی چی دثقیف اوهوازن (یعنی دحنین) دغزا په وخت کښی پراوښ سپور یوسړی دمسلمانانو لښکرته راغی اوپه ډوډۍ کښی له مسلمانانو سره شریك سو پدی وخت کښی هغه دمسلمانانو دلښکر دحالاتو معلومولو لپاره په غلا غلا سترګی غړولی کله چی بیرته روان سو دهغه په جاسوسی باندی

دمسلمانانو اشتباه پیدا سوه حضرت سلمه (رض) دبریښناپه څیرپه چټکی سره په وروسته پسی یی ورغی هغه یی په لاره کښی لاندی کړدهغه داوښ ترڅیری یی ونیوی چوك یی کړ بیایی دتوری په یو ګوزار سره دهغه سر غوڅ کړ او مال او متاع یی ترینه واخیستی پیغمبر (ص) پوښتنه وکړه: (دا جاسوس چا وژلی دی؟ صحابه ؤ وویل: سلمه، ویی فرمایل: دهغه ټول مال اومتاع دسلمه ده.

حضرت سلمه بن اکوع اسلمی (رض) په شپاړسو غزاګانو اوسرایاؤ کښی برخه اخیستی وه چی لـه دغـی جملی نه دذی قـرد، خیبر، ذات الرقـاع، دمکی فـتح، طـائف او تبوك هغـه غزاګـانی دی چی درسول الله (ص) سره یی پکښی ملګرتیا کړیده.

هغه په جهادی خدمتونو سربیره علمی خدمتونه هم سرته رسولی دی اوله هغه څخه (۷۷) حدیثونه روایت سویدی دحضرت عثمان (رض) لـه شـهادت نـه وروسته له مدینی نه ربذه نومی ځنګل تـه ولاړی دخپل وفات نه ترلږ ورځی مخکښی وخت پوری همالتـه اوسیدی خوپـه پـای کښی چی کله مدینی تـه راستون سو نوڅو ورځی وروسته په مدینـه کښی وفات اولـه خپـل خدای (ج) سره وصل سو. (رضی الله عنه)

## حضرت سالم مولی ابی حذیفه رضي الله عنه

حضرت سالم بن معقل ایرانی الاصل ؤ دحضرت شبیته بنت یعار دغلامی په قید کښی یثرب ته تللی ؤ هغی چی ازاد کړ نو بیا دمکی دمشر عقبه بن ربیعه زوی حضرت ابی حذیفه په زوی والی ونیوی او دهغـه پـه کور کښی یې دنسبی زوی په څیر ژوند کاؤ.

دمکی پرجهل ځپلی چاپیریال باندی چی کله داسلام دلمر څرك ولګیـدی پدی وخت کښی حضرت سالم (رض) نوی دځوانی منګ تـه رسیدلی ؤ ډیرو بدبختو کسانو داسلام له رڼانه په تیاره کښی ژوند کولو تـه ترجیح ورکړه خو دکمو خلګو چی داقبال ستوری ځلیدلی ؤ هغوی پـه ډیره مینـه داسلام دعوت قبول کړ اوهغه لار یی په مخ کښی ونیوله چی په دنیا کښی دشرف اوسعادت منزل ته اوپه اخرت کښی دجنت منزل ته رسیدلی وه حضرت سالم بن معقل او

دهغه سرپرست ابی حذیفه بن عتبه دواړه دبعثت په لومړیو ختونو کښې دحق له کاروان سره ملګری سول اودکفر اوجهل له تربړمی نه داسلام رڼا ته راووتل او دسابقون الاولون دمبارکی ډلی غړیتوب ورپه برخه سو حضرت ابو عبدالله سالم مولی ابی حذیفه به هم په مکی او هم په مدنی ژوندانه کښې له نبوی شمعی څخه دپتنګ په څیر تاویدی همدا لامل ؤ چی په اسلام پوهنه کښې دتبحر درجی ته رسیدلی ؤ او دخپل علمی فضل او کمال او دقرآن دحفظ او حسن قرائت په برکت دټولو صحابه ؤ اوحتی دسرور کائنات (ص) خاصه پاملرنه وراوښتی وه.

یوه ورځ چی لا دستر احکام نه وه نازل سوی رسول اکرم (ص) په کور کښې تشریف درلود اوام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه (رض) دڅه ضرورت لپاره دباندی وتلی وه کله چی له څه ځنډ نه وروسته یی کورته تشریف راوړی نورسول الله (ص) پوښتنه وکړه: عائشی ولی دی ځنډ وکی؟ ام المؤمنین عرض وکړ: یارسول الله! مور پلارمی درنه ځارشه کورته راروانه وم چی په لار کښې می دیوقاری دتلاوت اواز ترغوږ سودومره جذاب اوزړه راکشونکی اوازؤ چی ځای پرځای ورته ودریدم اومحو سوم.

رسول الله (ص) بیاپوښتنه وکړه چی: قاری دی په څه حال کښې پریښودی؟ ام المؤمنین عرض وکی. یارسول الله زماترراتګه پوری هغه په تلاوت مصروف ؤ، پیغمبر (ص) ددی خبری په اوریدو سره سمدلاسه پاځیدی مبارك څادر یی پراوړو واچوی اودباندی ووتی ویی لیدل چی په ریشتیاسره خلګ ددغه قاری دقرائت اوریدوته پداسی مینه ولاړ دی چی تابه ویل دبی هوښی حالت ور باندی راغلی دی، ددی صحنی په لیدلو سره درحمة للعلمین په مبارکه څیره کښې له ډیره خوښی نه ځلا پیداسوه اوویی فرمایل: (الحمد لله الذی جعل فی امتی مثلك) ټوله ثنا اوستاینه دهغه الله لپاره ده چی زما په امت کښې یی ستا په څیر سړی پیدا کړیدی.

داعظیم المرتبه انسان چی سرور کائنات (ص) دهغه په موجودیت باندی دډیری خوښی لامله درب العلمین شکر ادا کړ حضرت ابو عبدالله سالم مولی

ابی حذیفه (رض) ؤ رسول الله (ص) به خپلو اصحابوته توصیه کوله چی قرآن له څلورو کسانو څخه زده کړی: له عبدالله بن مسعود، سالم مولی ابی حذیفه، ابی بن کعب اومعاذ بن جبل څخه.

دقرآن کریم پدی څلورو مشهورو قاریانو کښی حضرت سالم ته دا امتیاز په برخه ؤچی دی سره له دی چی مورنی ژبه یی عربی نه بلکی فارسی وه خوالله (ج) دقرآن پوهنی داسی خزانه وریه برخه کړی وه چی پخپله رسول الله ( ص) خلکو ته امروکی چی قرآن له سالم مولی ابی حذیفه څخه زده کړی. دریښتونی ایمان اوله الله (ج) اورسول (ص) او قرآن سره دمینی برکت ؤ چی دمکی دلوی اوسرکښ رئیس زوی حضرت ابوحذیفه به تل دیوداسی سړی په دوستی او موالات باندی فخر کوی اودخپل ورور ولیدبن عتبه لور فاطمه یی هغه ته په نکاح ورکړه چی دغلامی په قید کښی له خپل پلرنی وطن څخه رابیل سوی او دبیکسی اوبیوسی ژوند یی تیروی.

هغه که دحسب اونسب اودمال اودولت په لحاظ معتبر نه ؤ خوداعتبار او لوړتیا هغه خزانه ورسره وه چی الله (ج) فرمائی: ان اکرمکم عند الله اتقاکم. (دالله په نزد په تاسی کښی ډیر عزتمند هغه څوك دی چی په تاسی کښی زیات متقی وی). یا داچی رسول الله (ص) فرمائی: لافضل لعربی علی عجمی الا بالتقوی). (هیڅ یوعرب پرعجم باندی فضیلت نلری مګر په تقوی سره) مخکښی له دی چی سرور کائنات (ص) له مکی نه هجرت وکړی حضرت سالم مولی ابی حذیفه (رض) په قبا کښی دلومړیو مهاجرینو لپاره دلمانځه امامت کوی، اوپیغمبر (ص) چی له هجرت نه وروسته کله له قباء نه مدینی ته تشریف یووړی نوحضرت سالم (رض) دقباء په مسجد کښی دامامت وظیفه سرته رسوله په صحیح بخاری کښی راغلی دی چی ډیرځله لویانو صحابه کرامو لکه حضرت ابوبکر صدیق (رض) حضرت عمر فاروق (رض) حضرت عثمان ذو النورین (رض) حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) اونورو جلیل القدرو صحابه ؤ په حضرت سالم (رض) پسی دلمانځه اقتداء کړیده. دمهاجرینو اوانصارو ترمینځ دوروولی دتړون په سلسله کښی

رسول الله (ص) دحضرت سالم (رض) اوحضرت معاذبن ماعض انصاری (رض) ترمینځ دمواخات عقد کړی ؤ، حضرت معاذ (رض) به تل دایثار په توده ولوله هغه ته دپیسو اوژوندنیو ضروریاتو پیشکش کوی خوهغه چی دزهد اوتقوی اومعنوی پانګی مالك ؤ هیڅکله یی حضرت معاذ ته څه تکلیف ورنکړ، څه چی به یی دلاس په تناکو ګتل هغه به یی هم دخدای په لار کښی لګول او پخپله به یی د بیوزلی ژوند تیروی.

**پادشاهی می ترخرقی لاندی اطلس دي پټ ددرست جهان پادشاه ظاهرګدا یم**

حضرت سالم مولی ابی حذیفه (رض) نه یوازی دعلم او فضیلت داسمان ستوری ؤبلکی دجهاد دمیدان یواتل سپاهی هم ؤ په بدر، احد،احزاب او نورو سترو غزاګانو کښی له رسول الله (ص) سره ملګری ؤ اودحق اوباطل ترمینځ په هره معرکه کښی یی داسلام دسرلوړی او دشیطان دقوت ماتولو لپاره توره راپورته کړیده.

دمکی له فتحی نه وروسته رسول الله (ص) شاوخوا قبیلوته هیئتونه ولیږل اوهغوی ته یی داخبر هم ورکړ چی داهیئتونه ددعوت په خاطر درغلی دی نه دجګړی لپاره دیو هیئت مشر حضرت خالد بن ولید (رض) ؤ او حضرت سالم مولی ابی حذیفه (رض) ورسره ملګری ؤ حضرت خالد له زور نه کار واخیستی اوتوره یی استعمال کړه اوحضرت سالم (رض) دهغه پدی کارسره ډیر خپه سو او ورته یی وویل: خالده! ته دخطا مرتکب سوی اودا خبره یی په مکرر ډول ورته کوله حضرت خالد (رض) به کله چوپ سو اوکله به یی له خپل اقدام څخه دفاع کوله خوحضرت سالم (رض) پدی خاطر چی په مسئولیت کښی ورسره شریك ؤ له حق ویلو څخه ساکت نسوکله چی هیئت بیرته راستون سو اورسول الله (ص) له پیښی څخه خبر سو نو یی دخپګان په حالت کښی پوښتنه وکړه (آیا هیچا دخالد پراقدام باندی انتقاد ونکړ؟ صحابه ؤعرض وکی: (ولی نه، یارسول الله سالمورباندی انتقاد وکړ اوډیره زیاته مناقشه یی ورسره وکړه) ددی جواب په اوریدلو درسول الله (ص) غوسه سړه سوه.

درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته چی کله حضرت ابوبکرصدیق (رض)

ته دمسلمانانو دخلافت درونډمسئوليت ورپه غاړه سو نودعربو په ګوټ ګوټ کښې دارتداد فتنه راپورته سوه، امير المؤمنين ابوبکر صديق (رض) دمرتدانو پرضد جهاد شروع کړ اوداسې سختې جګړې مينځ ته راغلې چې دځينوتاريخ ليکونکو دوينا له مخې داسې سختې جګړې هيڅکله نه وې ليدل سوې په تيره بيا پدې لړکښې ديمامې جګړه چې دشيطان صفته انسان مسيلمه کذاب ترقوماندې لاندې څلويښت زره کسيز مجهز لښکر داسلامي لښکر پر خلاف دجنګ ميدان ته راوتلی ؤپدې خونړې جګړه کښې دمهاجرينو بيرغ دحضرت سالم مولی ابی حذيفه په لاس کښې ؤ دکافرانو په صفونو کښې وړاندې ننووتی اودخپلې توری حق يې په ميړانه ادا کوی داډير سخت حالت ؤ دمسلمانانو په صفونوکښې پراګندګی پيداسوه خوحضرت سالم شعار ورکوی چې که زه دمسلمانانو دعلمبردارۍ حق ادا نکړم، زه به دقرآن په حافظانو کښې ډير بدسړی يم ددې شعار ترڅنګ به يې ددې مبارك ايت زمزمه کوله چې (وکاين من نبی قاتل معه ربيون کثير، فما وهنوا لما اصابهم فی سبيل الله وما ضعفوا وما استکانوا والله يحب الصابرين).

ترجمة: يعنی ډير داسې پيغمبران تير سويدي چې دهغو په څنګ کښې ډير زيات خدای پالونکی جنګيدلی دی چې نه دخدای په لاره کښې مصيبتونو دهغوی په ارادې کښې سستی راوستلی سوه، نه يې بدنی کمزوری محسوسه کړه اونه يې ددښمن په وړاندې سرونه ټيټ کړل، الله دصابرانو مل دی.

په پای کښې مرتدانو لومړی دهغه لاسونه په توره غوڅ کړل اوبيايې نور بدن ټوټه ټوټه کړ خوهغه دځنکدن په سلګيو کښې پوښتنه وکړه: دابو حذيفه څه حال دی؟ جواب يې ورکړ: هغه شهيد سو حضرت حذيفه وفرمايل: موږ دواړه په يوه قبر کښې دفن کړئ اوبيا وروسته پداسې حال کښې له خدای سره وصل سو چې دخوښی موسکا يې پر شونډو خپره وه.

حضرت سالم مولی ابی حذيفه هغه ستر شخصيت ؤ چې حضرت عمر فاروق (رض) دژوند په وروستيو شيبو کښې وفرمايل که سالم ژوندی وای نو مابه دمسلمانانو قيادت له ځانه وروسته هغه ته سپارلی ؤ. (رضی الله عنه)

# حضرت سهيل بن عمرو رضي الله عنه

حضرت سهيل بن عمرو دقريشو دسترى قبيلى له بانفوذه مشرانو څخه يو تن ؤ دتقرير اوخطابت په ميدان كښې يى سارى نه درلود اوورسره دشعرى ذوق اوسليقى خاوند هم ؤ لكه څنګه چې دحق ددعوت پيل كيدو په لومړيو وختونو كښې ابولهب، ابو جهل، ابوسفيان، عقبه بن ابى معيط عتبه بن ربيعه اوشيبه بن ربيعه اواميه بن خلف اونورو دسرور كائنات (ص) پرضد ددښمنى محاذ ونيوى اوخپل ټول طاقت يى په كار اچوه چې څوك دحق بلنى ته لبيك ونه وايى اودحق له كاروان سره ملګرتيا ونكړى همدغه رازسهيل بن عمرو هم له حق سره ددښمنى محاذ ګرم ساتلى ؤ او پخپلو تقريرونو اوويناؤ اوله ولولى نه په ډكو اشعاروسره به يى خلګ داسلام دښمنى لورى ته هڅول خوددښمنانو ددى ټولو هلوځلو سره سره داسى ورځ نه وه چې دحق دشمعى دپتنګانو په شمير كښې زياتوالى رانشى اودمكى كورونوته ددى رڼا وړانګى داخلى نشى، كه پلار به په جهالت كښې پاتى ؤ، زوى به يى داسلام پيروى غوره كړى وه او كه زوى به كافر پاتى ؤ پلار به يى دحق دعوت منلى ؤ.

داسلام پرضد دسهيل بن عمرو له سرسختانه دښمنى سره سره دهغه دوه زامن ابوجندل (رض) اوعبد الله (رض) اودوى لوڼى سهيله اوام كلثوم دخپلو ميړونو ابوحذيفه اوابوسيره په شمول دحق ددعوت په لومړيو وختونو كښې په اسلام مشرف سوى اودمؤمنانو دهغى لومړنى ډلى په صف كښې يى ځاى درلود چې خپل هرڅه يى دخداى په لاره كښې داؤ كړى وه سهيل بن عمرو دخپلو زامنو په اسلام راوړلو له حده زيات خپه ؤ دواړه يى په ځنځيرونو كښې تړلى اوبنديان كړى وه عبدالله بن سهيل خو يووخت فرصت ترلاسه كړ، له بندنه يى ځان خوشى كړ اودحبشى په دويم هجرت كښې له مهاجرينو سره چې شمير يى دسلوتنوپه خواوشا كښې ؤملګرى سوحبشى ته ولاړى مګر ابوجندل (رض) ان دحديبيى ترزمانى پورى دسهيل بن عمرودظلم په ګرمه بټى كښې وريتيدى دبدر په غزا كښې چې دنبوى هجرت په دويم كال كښې مينځ ته راغله او يوى خواته درى سوه ديارلس تنه حقپرستان اوبلى خواته دخداى (ج) ددښمنانو زر

کسیز مجهز لښکر ؤ سهیل بن عمرو دمشرکانو دپوځ یوعسکر ؤ اوپه ډیره جذبه اوولوله دمسلمانانو پرضد جنګیدی دمالك الملك ذات په خاصه مرسته پدی جګړه کښی دحق پلویانو ته فتح اودحق دښمنانوته شکست په برخه سو اویاتنه یی دمجاهدینو په لاس ووژل سول اواویا تنه نوریی اسیران ونیول سول چی سهیل بن عمرو هم ددی اسیرانو له جملی څخه ؤ کله چی هغه دسرور کائنات (ص) حضورته وړاندی کړای سو نودهغه په لیدلو حضرت عمر فاروق (رض) عرض وکی: (یا رسول الله! که اجازه وی، زه به دسهیل دوه مخکینی غاښونه وباسم ترڅو چی بیا داسلام اومسلمانانو پرضد جذاب تقریرونه ونکړای شی، دده جذابی ژبی مسلمانانو ته سخت زیان رسولی دی) رحمة للعلمین (ص) وفرمایل: پریږده عمره! دبیانیی ورکولو کم استعداد چی الله (ج) سهیل ته ورکړیدی کیدای شی یوه ورځ تاسی ته ددی ګټه ورسیږی او ورباندی خوشحاله شی.

بیا وروسته پیغمبر (ص) دفدیی په بدل کښی هغه خوشی کړ دهجرت په (۶) کال رسول الله (ص) له یوزر اوڅلور سوه تنه صحابه ؤکرامو سره دعمری ادا کولو لپاره له مدینی نه دمکی مکرمی خواته روان سو، قریش چی خبرسول دمسلمانانو دمخنیوی لپاره یی ترتیبات ونیول، پیغمبر (ص) په حدیبیه نومی ځای کښی دیره سو قریشو ته یی پیغام ولیږی پی موږ دجنګ لپاره نه بلکی صرف دعمری اداکولو لپاره راغلی یو مګر قریشو داخبره ونه منله اوخپل استازی عروه بن مسعودثقفی یی دپیغمبر (ص) حضورته ولیږی چی مسلمانان باید بیرته مدینی ته ستانه شی، عروه بن مسعودله مذاکری نه وروسته قریشو ته دستنیدو په وخت کښی وویل ای قریشو! زه دکسری، قیصر اونجاشی دربارونو ته ورغلی یم خو قسم په خدای (ج) چی ماهیڅ کم باچا داسی ندی لیدلی چی دهغه رعیت دومره احترام ورته وکړی لکه څومره چی دمحمد (ص) ملګری هغه ته احترام کوی، نور نوستاسی خوښه.

په پای کښی قریشو سهیل بن عمرو دصلحی له پیشنهاد سره دپیغمبر (ص) حضورته ولیږی چی پیغمبر (ص) هم داخبره ومنله اودصلحی دموادو په

ليكلو يي امر وكي په هغو كښې يوه ماده داوه چې كه له مسلمانانو څخه څوك قريشو ته ورشي بيرته به نه وركول كيږي مګركه له قريشو نه څوك مسلمانانو ته ورشي بير ته به يې وركوي، دصلحې سند لانه ؤ بشپړ سوى چې دهمدي سهيل زوى داسلام په تور دكلونو كلونو بندي ابوجندل (رض) پداسي حال كښې حديبې ته راورسيدى چې له لاسونو اوپښو څخه يې وينې څڅيدلې او اوس يې هم په لاسونوكښې هتكړې اوپه پښو كښې زولنې پرتې وې، فريادېي وكې (اى زما مسلمانو ورونو! وګورى زما پلار داسلام راوړلو په جرم كښې زه پدغه بده ورځ كښې ساتلى يم، اياتاسى به ماته له دغه حالت نه نجات راكړى؟

مسلمانانو دهغه دحالت په ليدلو هياهوى جوړكړ چې ابوجندل (رض) بايد خوشې كړاى شي خو پيغمبر (ص) دصلحې دلوظنامې درعايت په اساس او د سهيل بن عمرو دټينګار په خاطر ابو جندل (رض) بيرته وركړ خودعا يې وكړه چې الله (ج) دې ابو جندل ته دخلاصون لاره برابره كړي همغه ؤ چې ابوجندل په لاره كښې ځان خوشې كړ اودمدينې پرځاى دساحل خواته ولاړى دهجرت په (۸) كال رسول الله (ص) له لس زره كسيز اسلامي لښكرسره فاتحانه مكې ته داخل سو، داسلام سرسختو دښمنانو داسلام دعظمت په وړاندى سر كښته كړ، سهيل بن عمرو خپل زوى ابوجندل (رض) راوغوښت ويې ويل: (زويه! ولاړ شه دمحمد (ص) په وړاندى زما شفاعت وكړه چې ماته به بخښنه وكړى) ابو جندل (رض) ومنل اومخامخ درسول الله (ص) حضورته ورغى اوعرض يې وكې: يارسول الله! زما پلار ته امان وركړه). پيغمبر (ص) دابو جندل (رض) دقربانيو په نظر كښې نيولو سره دهغه پيشنهاد ومنى اوويې فرمايل: سهيل دخداى ﷻ په امان كښې دى، هيڅ مسلمان به هغه ته ضرر نه رسوى.

سهيل بې حده زيات خوشاله سو اوبياڅه موده وروسته په اسلام مشرف سو اودامام بخارى اوحاكم دوينا له مخې دحنين په غزا كښې چې دمكې له فتحې نه وروسته پيښه سوه عملا برخه وال ؤ.

داسلام له راوړلو نه وروسته دحضرت سهيل بن عمرو (رض) په ژوند كښې بشپړ بدلون او انقلاب راغى شپه په قيام اوورځ به يې په صيام تيريدله

خپل مال به یی په خلاص لاس دخدای (ج) په لاره کښې اودخدای (ج) ددین دسرلوړی په خاطر لګوی علامه ابن اثیر (رح) په اسد الغابه کښې لیکلی دی چې دقریشو په مشرانو کښې وروستنی مؤمن حضرت سهیل بن عمرو ؤ خوتر ټولو زیات یی لمونځونه کول، روژی یی نیولی، خیراتونه یی ورکول اوغوره عملونه یی سرته رسول له ډیر ریاضت نه یی بدن وچ سوی ؤ اورنګ یی تك ژیړ ؤ دخپلو تیرو عملونو په یادولو به یی شپه ورځ ژړل په تیره بیاکله به یی چې قرآن اوریده بی اختیاره به یی له سترګونه داوښکو چینې بهیدلی هغه سهیل چې یووخت یی دمسلمانانو پرضد توره راپورته کړی وه بیا یی داسلام ددښمنانو پرضد دفولادو دغره په څیر دریځ نیولی ؤ چې دارتداد دفتنې په وخت کښې دهغه کارنامې دخاصې یادونې وړ دی درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته چې کله په عربو کښې دارتداد فتنه مینځ ته راغله نو داسلام لومړی خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) ددغې تباه کوونکې فتنې داور وژلو لپاره په کلکه جهاد شروع کړ اوخلګوته به یی ویل: (من کان یعبدمحمدا قد مات ومن کان یعبد الله فان الله حی لایموت)

ترجمة: یعنی که چا دمحمد (ص) عبادت کوی هغه خو وفات سو اوکه چا دالله (ج) عبادت کوی الله (ج) تل ترتله ژوندی دی نه مری.

حضرت سهیل بن عمرو (رض) کټ مټ دحضرت ابوبکر صدیق (رض) دریځ چې په مدینه کښې یی غوره کړی ؤ هلته په مکه کښې ونیوی یوه ورځ یی یوه لویه غونډه جوړه کړه خلګوته یی په خطاب کښې وویل: (زما ورونو! تاسی اوریدلی دی چې الله (ج) زموږ بادار اومولی محمد رسول الله (ص) خپل لوری ته غوښتی دی اوله دی فانی دنیانه یی رحلت کړیدی چې یوه ورځ نه یوه ورځ به همداسی کیدل خوزه ګورم چې په تاسی کښې دځینو کسانو څیرو تغیر کړیدی دا ولی؟ محمد (ص) خو ستاسی معبود نه ؤ ستاسی معبود هغه الله (ج) دی چې هغه حی اوقیوم دی. دمحمد (ص) دوفات څخه دامطلب ندی چې ګوندی اسلام ختم سو په خدای (ج) قسم دی چې اسلام به تل ترتله باقی وی ترڅو پوری چې په دی دنیا کښې دلمر اوسپوږمۍ رڼا موجوده وی همدغسی

به داسلام دنور وړانګې هم خپريږي. واورئ! هرڅوك چې له اسلام نه داوښتلو هڅه وكړي زمادي په خداى (ج) قسم وى چې زه به دهغه سرله تنې څخه جدا كړم ټولو جواب وركړ: (اى زموږ سرداره! موږ به تل په اسلام باندې ثابت قدم يو هيڅ يودښمن ته به پخپل صف كښې ځاى ورنكړو اودحق په لاره كښې به له هيڅ ډول قربانى څخه دريغ ونكړو.

پدې ترتيب درسول الله (ص) هغه پيشګوئي ريشتيا سوه چې (يوه ورځ به دسهيل بن عمرو دفصيح خطابت استعداد داسلام په درد وخوري او د مسلمانانو دخوښۍ باعث به وګرځي.

حضرت سهيل بن عمرو (رض) دشام په ټولو جګړو كښې دجهاد دميدان يو سرښندونكى سپاهى ؤ ترڅو چې دحافظ ابن عبدالبر دوينا له مخې ديرموك په جګړه كښې شهيد سو يا داچې دعلامه ابن سعد اوحافظ ابن حجر عسقلاتي دوينا له مخې په (۱۸) هجرى كال كښې دعمواس په وبا ناروغى سره پداسې حال كښې وفات سو چې دجهادپه ميدان كښې ولاړ ؤ اوويل يې: (ما له رسول الله (ص) څخه اوريدلي دي چې دالله (ج) په لاره كښې لږوخت دريدل دټول عمر له نيكو عملونو څخه غوره دي نوزه به دمرګ تروختـه جهاد تـه دوام وركم او بيرته به مكې ته ولاړ نشم). (رضى الله عنه)

## حضرت شرحبيل بن حسنه رضي الله عنه

حضرت شرحبيل بن حسنه دجمهور سيرت پوهانو دوينا له مخې كندى الاصل ؤ دهغه پلار عبدالله بن عمرو بن مطاع په هغه وخت كښې وفات سوى ؤ چې دى وړوكى ماشوم ؤ حسنه رضي الله عنها دمكې له يوسړي سفيان بن معمر سره نكاح وكړه اوحضرت شرحبيل يې له ځانه سره مكې ته راؤړي او همالته يې دائمى استوګنه غوره كړه داپيښه له نبوى بعثت نه تقريبا پنځه ويشت كاله دمخه وه څنګه چې خلګو دهغه پلارنه ؤليدلى نوځكه خو دمور په نوم (شرحبيل بن حسنه) باندې مشهور سو دتوحيد دلمر دراختو په لومړي زمانه كښې يې دسرور عالم (ص) په لاس دايمان اوسرښندنى بيعت وكى نه يوازې شرحبيل بلكې دهغه پلندر سفيان بن معمر مورحسنه اخيافى ورونو جابربن

سفیان اوجناده بن سفیان هم دپتنګانو په څیر دحق دشمعی طواف شروع کړ اوښکاره خبره ده چی هغه وخت یوازی هغوکسانو دحق له کاروان سره ملګرتیا کولای سوه چی الله (ج) دالله رسول اودالله کتاب ورته له خپله ځانه دخپلو اولادونو اوددنیا له ټولو مادی ښیګڼو څخه ډیر محبوب اوګران وه داداسی دور نه ؤ چی داسلام ترزرینی چپنی لاندی دعیشونو په کرسی کښی، خوندور خواړه وخوری او پرنرمو اوګرمو بسترو باندی دنازخوبونه وکړی بلکی داسلام اعلان داور بټی اودمصیبتونو څپانده سمندر ته وردانګل ؤ داهغه وخت ؤ چی لارسول الله (ص) ته د: فاصدع بما تؤمر، اسمانی فرمان نه ؤ رسیدلی یعنی دحق په ښکاره تبلیغ باندی مامور سوی نه ؤ کله چی دبعثت په څلورم کاڵ پیغمبر (ص) په دارارقم کښی دیره ونیوله او په څرګند تبلیغ یی لاس پوری کړ دمشرکانو دلاسه دحق پرمینانو باندی دوحشیانه ظلمونو لړی شروع سوه چی پدغو مظلومانو کښی شرحبیل بن حسنه هم شامل ؤ.

دغو وحشیانه ظلمونو نه یوازی دهغه په ایمان کښی تزلزل رانه وستلی سو بلکی دحق په لاره کښی دتعذیبونو څخه یی خونداخیست اودامتحان په بټی کښی په سوځیدو سره یی عقیده دفولادو په شان لا پسی سوچه کیدله دغو مصیبتونو ترهغه وخته دوام درلود چی پیغمبر (ص) حبشی ته دهجرت کولو اجازه وکړه چی بیا حضرت شرحبیل اودهغه مسلمانی کورنی مکه پریښودله اودخدای (ج) درضا لپاره یی دپردیسی لاره په مخ کښی ونیوله او پرله پسی دیارلس کلونه یی په پردیس وطن کښی تیر کړل دنبوی هجرت په شپږم کال دخیبردتاریخی غزاپه وخت کښی دحبشی مهاجرین مدینی ته مهاجر سول چی پدی ترتیب حضرت شرحبیل بن حسنه دهغو جلیل القدرو صحابه ؤپه کتار کښی ودریدی چی دذو هجرتین لقب ورپه برخه سویدی اوپه اسلام کښی خاص امتیاز ګڼل کیږی.

دعلامه ابن سعد (رح) دوینا له مخی حضرت شرحبیل په مدینه کښی دبنو زریق په کوڅه کښی استوګن سو اودنامتو صحابیه بی بی حضرت شفاء بنت عبدالله له لورسره یی واده وکی حضرت شرحبیل سربیره په دی چی دوحی

کاتب ؤ دجهاد دمیدان یوغښتلی سپاهی هم ؤ، له خیبرنه په وروسته غزاګانو کښې یې په پوره میړانه ګډون وکی په یوروایت کښې داهم راغلی دی چې درسالت په وروستی موده کښې سرور کائنات (ص) مصرته داسلامی ریاست دسفیر په وظیفه ولیږه او لا همالته ؤ چې دهجرت په (۱۱) کال دنبوی رحلت غمونکی خبر ورته ورسیده مدینی ته چې راستون سو حضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په کرسی ناست ؤ نوسمدلاسه یې له هغه سره بیعت وکی.

کله چې په صدیقی دور کښې دارتداد دفتنی داور لمبې پورته سوی او مسلمانانو په پوره میړانه ددغه اور وژلو پرضد جهاد ته ملا وتړله نو په اسلامی لښکر کښې دحضرت شرحبیل بن حسنه (رض) ممتاز مقام ؤ دمرتدانو دری واړه طبقی چې یوی بیخی داسلام لاره پری ایښې وه، بلی دنبوت دعوه کړی وه اودریمی دزکات له ورکولو نه منع راوړی وه وځپل سوی او خلګ په پوره معنا داسلامی ریاست فرمانبردار سول.

دهجرت په (۱۳) کال چې درومی امپراطوری پر خلاف جهاد شروع شو نو دمسلمانانو دخلیفه لخوا دلښکر لپاره څلور قوماندانان وټاکل سول چې دزیات شمیر روایاتو له مخی ابو عبیده بن جراح دحمص دقوماندان په صفت، یزید بن ابوسفیان دبلقاء او دمشق، عمرو بن العاص دفلسطین او حضرت شرحبیل بن حسنه رض داردن دقوماندان په صفت وټاکل سول چې په نوموړو سیمو کښې دڅلورو واړو اسلامی نامتوقوماندانانو فتوحات اوجنګی میړانی دتاریخ په پاڼو کښې په زرینو کرښو ثبت سویدی دغه قوماندانان که څه هم دبیلا بیلو سیمو لپاره دمجاهدینو دقوماندانانو په توګه مقرر سوی وه خو ددی ترڅنګ ورته دمسلمانانو دامیر لخوا دافرمان صادر سوی ؤ چې که په هر محاذ کښې جنګ شدت ومومی دبل محاذ مجاهدین به دخپل قوماندان تر قیادت لاندی دمرستی لپاره ورځی اوپه ګډه سره به ددښمن زور ماتوی لکه چې یوځل دحضرت ابوعبیده اوحضرت خالد دمکتوب په اساس حضرت شرحبیل بن حسنه (رض) له بصری څخه اجنادین ته له خپل لښکر سره ورغی دهغه له فتح نه وروسته یې په متحدډول پردمشق باندی یرغل وکی اوورپسی

داردن نوری سیمی لکه بیسان، محل، اذرعات، عمان، جرش یوه په بلی پسی دمجاهدینو په لاس فتح اوحضرت شرحبیل دهغه هیواد دامیر په توګه دچارو واکی په لاس کښی ونیولی علامه شبلی (رض) په الفاروق کښی دیرموك دجګړی دحالاتو دبیانولو په ترځ کښی لیکلی دی کله چی رومی جنرال ابن قناطیر یوه ورځ پرمیسره باندی قوی حمله وکړه اودهغه ځای اوسیدونکو قبیلو همت بایلی، دنورو حضرت قباث بن اشیم، سعید بن زید، یزید بن ابی سفیان او عمرو بن العاص په ملګرتیا حضرت شرحبیل بن حسنه (رض) ډیر سخت مقاومت وکی او پداسی حال کښی چی له څلورو خواوو محاصره ؤ دا مبارك ایت یی لوسته: (ان الله اشتری من المؤمنین انفسهم واموالهم بان لهم الجنة یقاتلون فی سبیل الله فیقتلون)

ترجمة: یعنی الله دجنت په بدل کښی دمؤمنانو سرونه اومالونه پیرلی دی، دوی دالله (ج) په لار کښی جنګیږی، وژنی اووژل کیږی، او ورسره یی نعری وهلی: څوك دی چی له الله (ج) سره بیع او شرا وکړی؟

دا اواز چی دهرچا کورته ورسیدی په ډیره بیړه دهغه شاوخوا ته راټول سول تردی پوری چی لښکر منظم سو اوپه پوره شدت سره یی پر دښمن حمله وکړه چی په نتیجه کښی ددښمن پوځ په شا وتنبیده.

لنډه داچی دورمی ستری امپراطوری پرخلاف اوږدو جنګونو کښی دنورو اسلامی سپه سالارانو دباتوری ترڅنګ دحضرت شرحبیل بن حسنه دمیړانی باب په تاریخ کښی ډیر روښانه ځلیږی ددوی دمیړانی په برکت رومیانو ماتی وخوړله له اویا زرونه زیات کسان یی دجنګ په میدان کښی ووژل سول او هرقل له انطاکیی نه قسطنطینیی ته په تیښته مجبور سو چی دتګ په وخت کښی یی ناری وهلی: (الوداع ای دشام ځمکی) دحضرت شرحبیل بن حسنه (رض) دژوند بابونه، په اسلام کښی سبقت، دحق په لاره کښی مصیبتونه زغمل، له جهاد سره زیاته مینه اودخدای (ج) په عبادت شپی ویښی تیرول تشیکلوی. پداسی سختو شرائطو کښی یی ایمان راؤړ چی هغه وخت دیو خدای نوم اخیستل دمشرکانو په وړاندی نه بخښل کیدونکی جرم ؤ دوه ځله

یی دخدای (ج) درضا لپاره هجرت وکی لومړی حبشی اوبیا مدینی ته په باقی عمرکښی یی فی سبیل الله جهاد ورځنی عمل ؤ دشپی عابد اودورځی مجاهد ؤ، ډیری زیاتی روژی به یی نیولی اوتل به دخدای (ج) په ذکر مشغول ؤ په پای کښی په (۱۸) هجری کښی د (۲۹) کلونو په عمر په شام کښی دخپری سوی وبا ناروغی په اثر وفات اودحق په لاره کښی دهغه جهاد، صبر او استقامت داسلامی امت دبچیانو لپاره دلاری مثال پاتی سو. (رضی الله عنه)

* * *

## حضرت صهیب رومی رضي الله عنه

رسول اکرم (ص) خپل یو خواږه ملګری ته چی په پیغمبر(ص) پسی مدینی ته دروانیدو په وخت کښی داسلام دښمنانو ایسار کړ، نه یی پرېښودی چی مدینی ته ولاړ شی اوهغه خپل ټول مالونه دهجرت په بدل کښی فدیه کړل او ځان یی خلاص کړ دملاقات په لومړیو شیبو کښی وفرمایل: (ابو یحیٰی تا ډیر ګټور تجارت وکی، تاډیر ګټور تجارت وکی) له دی وینا سره جوخت بیا دوحی دا الفاظ دسرور عالم (ص) په مبارکه ژبه جاری سول چی: (ومن الناس من یشری نفسه ابتغاء مرضات الله، والله رؤف بالعباد).

ترجمة: له خلګو نه ځینی کسان داسی دی چی خپل ځانونه دالله درضا لپاره پلوری اوالله (ج) پرخپلو بندګانو باندی زیات مهربان دی.

دادلوړ مقام خاوند چی دخدای (ج) په دربار کښی دهغه دقربانی قبلیدل په اسماتی وحی سره تائید اوسرور کائنات (ص) دهغه دی کارته ګټور تجارت ووایه څوك ؤ؟

داغوره بنده حضرت صهیب بن سنان رومی (رض) ؤ چی اصلی وطن یی عراق، بیا ډیره موده یی په روم کښی تیره کړی وه اوپه پای کښی دبنوکلب قبیلی سوداګرو له ظالمو رومیانو څخه په بیع واخیست اومکی ته یی راؤست دحاکم په مستدرك کښی راغلی دی چی ابن جدعان هغه په بیعه واخیست او ازاد یی کړ.

حضرت صهیب (رض) یوزیارکښ اوهنرمند سړی ؤ، کله چې مکې معظمې ته راغلی ؤ بیخي بیوزلی او فقیر ؤ خو په لږ موده کښې دکاروبار له لارې دډیر مال اودولت خاوند سو په همدې زمانه کښې دحق دبلنې اواز دهغه غوږته ورسیدی دار ارقم ته ولاړی او په اسلام مشرف سو رسول کریم (ص) به ویل: (صهیب دروم لومړنی میوه ده) حضرت صهیب بن سنان، حضرت بلال بن رباح، حضرت عماربن یاسر، حضرت عامر بن فهیره اوابو فکیهه دیوصف خلګ او په سابقون الاولون کښې شامل وو.

دحضرت صهیب (رض) دایمان راوړلو زمانه هغه سخته اوله مصیبتونو ډکه زمانه وه چې داسلام دښمنانو دحق دشمعې پرپتنګانو باندې ځمکه سره کړې وه، په تیره بیا داسې پردیسان چې دقومې حمایت نه محروم اوظالمانو دغلامې کړي په غاړه کښې وراچولي وی لکه حضرت صهیب (رض) هغوی ته خو اصلا دانسان په نظرنه کتل کیدل دمؤمنانو په ردیف کښې دلمبر په حساب حضرت صهیب (رض) یودیرشم سړی ؤ چې دکفر اوشرك له تیارو څخه دایمان نور اورڼاته راووت ځینو کسانو په پټه اسلام قبول کړی ؤ مګر دظالمانو دظلم له ویرې څخه یې خپل اسلام نه سو اعلانولی خوحضرت صهیب (رض) دیو ساعت لپاره هم خپله عقیده پټه ونه ساتله، دمشرکانو په وړاندې یې اسلام څرګند کړ او هغوی ورباندې دظلم بې پایه لړی شروع کړه. مدینې منورې ته دهجرت اجازه چې وسوه ځینې صحابه کرام ولاړل خو حضرت صهیب (رض) بیا هم په مکه مکرمه کښې پاتې سوکله چې پخپله رسول اکرم (ص) هم مهاجر سو نو بیا دحضرت صهیب ترقدمونو لاندې اور سو دنبوی هجرت لاڅو ورځې نه وې تیرې سوې چې دسفر لپاره یې ځان تیار کړ.

مشرکان چې کله دهغه دهجرت له تصمیم نه خبر سول هغه یې له څلورو خواؤ څخه محاصره کړ اوورته یې وویل: (موږ تانه پریږدو چې له دې ځایه ولاړ شې حضرت صهیب (رض) په لیندی کښې غشي کیښود ویې ویل: (ای دمکې خلګو! تاسې ته معلومه ده چې زما داغشي اولیندی به درباندې چلیږي او چې غشي ختم شي بیابه دتورې چلولو واروی ترهغه به درسره وجنګیږم ترڅو مې

چي ساپه بدن کښې وي، که خپله سلامتي غواړې زما لاره خوشې کړې اوخپلو کورونو ته ستانه شئ مشرکانو وویل: صهیبه! ته چې کله مکې ته راغلې وې څه دي نه درلودل خواوس له مال او شتمنې سره روان یې، داما‌ل زموږ دی، ته یې پرېږده اوبیا چې هرې خواته ځې ولاړ شه) حضرت صهیب (رض) ټول مال پرېښودی او تش لاس پخپل محبوب پسې روان سو.

مدینې ته پداسې حال کښې ورسیدی چې لا رسول الله (ص) په قباء کښې تشریف درلود او دخپلو خوږو ملګروپه مینځ کښې ناست ؤ خرماوې یې خوړلې، صهیب (رض) دسفر سختیو وهلی، جامې یې ګردجنې او یوه سترګه یې هم خوږېدله په مجلس کښې کښیناست اودخرماؤ په خوړلو یې شروع وکړه رسول الله (ص) وفرمایل: سبحان الله سترګه دې پړسیدلې ده اوپدې حال کښې خرماوې خورې؟ صهیب (رض) عرض وکې: (یارسول الله! زه خرماوې دبلې روغې سترګې لپاره خورم رسول الله (ص) دهغه پدې خبره دومره وخندل چې مبارك غاښونه یې وځلیدل.

پدې وخت کښې حضرت صهیب (رض) عرض وکې: یارسول الله! مور او پلارمې درنه ځار شه، تاسې راغلاست، زما پروا مو ونکړه، زه په مکه کښې یوازې پاتې سوم، مشرکانو ډېرظلم راباندې وکې په پای کښې مې خپل ټول مال ورکړ او ځان مې ورڅخه خلاص کړ همدا هغه وخت ؤ چې رسول الله (ص) ورته وفرمایل: (ابو یحیٰی! تا ګټور تجارت وکی، ابو یحیٰی! تا ګټور تجارت وکی. کله چې دجهاد لړې پیل سوه نوحضرت صهیب رومې (رض) له بدرنه نیولې ترتبوك پورې په ټولو غزاګانو کښې دپیغمبر (ص) دملګرتیا سعادت ترلاسه کړ په غشو ویشتلو او تورزنې کښې دومره پتې هم ؤ چې کله به دیو کافر سره په مقابله کې یوځای سو نو حضرت صهیب ( رض) به دتورې ځوکه دهغه په سترګه کښې ښخوله اورا پرځوی به یې.

دخدای (ج) په لاره کښې دهغه دقربانې دګرمې جذبې او داخلاص ثبوت دصحیح مسلم په هغه رانقل کړې حدیث سره کیدای شي چې یوځل رسول الله (ص) وفرمایل: (صهیب دومره غوره انسان دی چې که دخدای (ج) ویره ورسره

نه واى هم گناه به يى نه واى كړى) حضرت صهيب (رض) دټولو غوره اخلاقو لكه حقپالنه، دسختيو زغمل، صبر اواستقامت، زهد اوتقوى، حلم او تواضع، ميلمه پالنى اوغريب نوازى لرونكى ؤ خوځومره يى چى دخداى (ص) په لار كښى دجهاد سره مينه وه اوورته هوسيدى له بل عمل سر يى پدى تناسب مينه نه وه هغه به دسپين ږيرتوب په حالاتو كښى خپلو همنشينانو ته دجهاد كارنامى اورولى او تشويقول به يى.

يوځل حضرت عمر فاروق (رض) هغه ته وويل: صهيبه ته ماته ډيرگران يى خوستا درى خبرى مى نه خوښيږى: (يوه داچى ته دعربيت دعوه كوى او په ژبه كښى دى عجمى رنگ غالب دى بله داچى خپل مال بيدريغه مصرفوى او دريمه داچى خپل كنيت نوم دى ديوپيغمبر په نامه باندى ايښى دى پداسى حال كښى چى ته ديحيٰى په نوم زوى هم نلرى.

جواب يى وركړ: امير المؤمنين! زه په ريشتيا سره عرب يم خو په روم كښى مى وخت ډير تير كړيدى زما ژبه دهغوى له ژبى نه اغيزمنه سويده، مال له دى امله زيات مصرفوم چى پيغمبر (ص) فرمايلى دى: په تاسى كښى غوره سړى هغه دى چى خلكو ته ډوډى وركړى او دسلام جواب ووايى پاتى سوه دريمه خبره داكار ماندى كړى، دا نوم راباندى رسول الله (ص) ايښى دى. دحق دشمعى دغه پتنگ په دنيا كښى داسلام دغوښتنو سره سم ژوند تير كړ او په پاى كښى داويا كالو په عمر د (۳۸) هجرى كال دشوال په مياشت كښى وفات او په جنة البقيع كښى دفن كړاى سو. (رضى الله عنه)

## حضرت ضرار بن ازور اسدى رضي الله عنه

حضرت ضراربن مالك ازور دخيبر ترڅنگ ميشته عربى مشهورى قبيلى بنواسد ته منسوب او پخپله قبيله كښى عزتمند او شتمن سړى ؤ، په ټوله سيمه كښى دهغه دتورزنى اوميړانى نوم ؤ يووخت دهغه غوږ ته داسلام دمبارك دين دمينځ ته راتگ اوازه ورسيدله خودهغه اقبال په درانه خوب بيده ؤ داسلام دپيروى پځاى يى ترهغه وخته انتظار ته ترجيح وركړه چى وگورى ددغه دين اينده څه كيږى بيا كله يى چى واوريدل دحق دعلمبردارانو په لاس

دعربو مركز مكه معظمه فتح سويده نوزړه يې په عين اليقين سره شاهدي وركړه چې اسلام حق دين دى بې له دې چې كم مبلغ او معلم ورشي او د اسلام خواته دعوت وركړي اسلام يې ومانه اودهغه ترمشرى لاندې يوه ډله چې طليحه بن خويلد او وابصه بن معبد غوندي نامتوخلك پكښې شامل وو دنهم هجرى كال په لومړنيو وختونو كښې دبيعت پخاطر دسرور كونين (ص) حضور ته ورغلل او په لوړه لهجه يې عرض وكې: (يارسول الله! موږ دبنو اسد قبيلې خلك يو بې له دې چې ته موږ ته كم بلونكې راوليږې موږ پخپله اسلام قبول كړيدى اواوس دبيعت پخاطر له ډير ليرى ځاى نه ستا حضورته راغلي يو. الله (ج) دهغوى دغه لهجه چې پاسلونه اواحسان ورڅخه معلوميده خوښه نكړه او دوحى په ژبه يې خپل پيغمبر ته وفرمايل: (يمنون عليك ان اسلموا قل لا تمنوا على اسلامكم بل الله يمن عليكم ان هداكم للايمان).

ترجمة: اى پيغمبره! داخلك پرتا باندې احسان اچوى چې موږ اسلام راوړيدى، ورته ووايه پرما باندې دخپل اسلام راوړلو احسان مه اچوى بلكې الله پرتاسې احسان كړيدى چې تاسې ته يې دايمان هدايت درپه برخه كړيدى)

په دې وخت كښې حضرت ضرار وړاندى سو او پدې مفهوم يې شعر ووايه:

ماشراب خورى ترك كړه اودشرابو پيالې مې ماتې كړې اودهغه ذات خوا ته راوګرځيدم چې ډير لوړدى اودهغه دعظمت پاى نسته مخكښې زما قوت له مسلمانانو سره په جنګ كښې مصرفيده خواوس ماخپل مال اوخپلوان اى زما ربه دتل لپاره ستا په لاره كښې پلورلي دي.

رسول الله (ص) ددې شعر په اوريدلو مسكې سو اوويې فرمايل: (ستا تجارت تاوان ندې كړې). په ريشتيا سره چې حضرت ضرار (رض) خپل ټول مال دخداى (ج) په لاركښې ولګوى اوپخپله مسكين پاته سو اودبيوزلو مسلمانانو په صف كښې يې ځاى ونيوى.

څه وخت وروسته رسول اكرم (ص) هغه ته امروكې چې ولاړشي اودبنو صيد اوبنو هذيل قبيلوته داسلام تبليغ وكړي، ضراربن ازور ترهغه پورې دحق دتبليغ فريضه ادا كوله چې سرور عالم (ص) له دې فاني دنيانه رحلت وكړ او

بیا وروسته مدینې منورې ته راستون سو.

دحضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت ددور له شروع کیدو سره سم په ټولو عربو کښې دارتداد دفتنې اوربل سو او صدیق اکبر (رض) ددغې فتنې پرضد جهاد شروع کړ، چې پدې کښې. مشهوره تاریخي جګړه دمسیلمة الکذاب پرضد دیمامې جګړه وه، حضرت ضرار (رض) دسیف الله خالدبن ولید (رض) ترقیادت لاندې ددې جګړې دمیدان یواتل سپاهي ؤ چې دخدای (ج) ددښمنانو لخوا ډیر سخت ټپي سو مګر دژوند مهلت یې باقي ؤ الله (ج) دهغه زخم جوړکړ او هغه دخدای (ج) په لار کښې مسلحانه جهاد ته ادامه ورکړه.

کله چې دشام جګړه مینځ ته راغله، دمجاهدینو په صف کښې نه یوازې حضرت ضرار (رض) بلکې دهغه مجاهده خورخوله بنت ازور هم شامله وه. حضرت ضرار (رض) به کله دجنګ زغره واغوستله اوکله به بربنډ بدن پراس سپور انقلابي اشعار به یې ویل او دخدای (ج) پردښمنانو به یې پداسې زړه ورتوب اومیړانه حملې کولې چې درومیانو په مینځ کښې په (پیرې) سره مشهور سوی ؤ او چې له ده سره به مخامخ سول ویل به یې: هغه دی پیرې راغې، هغه دی پیرې راغې تښتې، زیاترو مغازي لیکونکو لیکلي دي چې حضرت ضرار دخپل زړه ورتوب لامله دعربو دیو زر توریالیو سره برابر ګڼل کیدی.

په (۱۳) هجري کال کښې چې کله اسلامي لښکر دمشق محاصرې کړې نو رومیانو دمحاصرې ماتولو لپاره دهرقل دمشهور جنرال وردان ترقیادت لاندې دولس زره عسکر ددمشق خواته ولیږل.

حضرت خالدبن ولید (رض) ددې لښکر دمخنیوی لپاره حضرت ضرار (رض) له پنځه سوه کسانو سره ولیږه چې دغه پنځه سوه کسیز ټولي ددولس زره کسیز مجهز لښکر په مقابل کښې په پوره میړانه وجنګیده مګر په پای کښې ددښمن عسکرو حضرت ضرار (رض) محاصره کړ اوژوندی یې ونیوی حضرت خالد چې خبرسو ډیر زیات خپه سو، سمدلاسه یې دمجاهدینو لښکر دجنګ میدان ته وخوځوه دلښکر په مخ کښې پرسره آس باندې سپور داسې یو

څوك روان ؤ چی نقاب يی پرمخ پروت ؤ دجګړی په وخت کښی نقاب والا مجاهد ترټولو وړاندی ددښمن په ليکو کښی پداسی شان روان ؤ چی وار په وار يی هم بی شميره زخمونه وخوړل خو يوقدم هم پشا ونه تمبيده، حضرت خالد وربandی ږغ وکی: (ای دخدای (ج) دلاری مجاهده! تا په ريښتيا سره سرښندنه اوميړانه وکړه دخدای (ج) درسول په حضور کښی به سرلوړی اوسی خو ستاله شان سره مخ پټول نه ښايی، مخ لوڅ کړه چی ودی پيژنو چی ته څوك يی؟ جواب يی وکی: (ای اميره زه دضرار بن ازور خور خوله بنت ازور يم، زه ډيره غمګينه يم چی وروړمی بندی دی، ماقسم کړيدی چی يابه خپل ورور له دښمنانو څخه ازاد کړم اويابه له ژوند نه لاس په سر شم.

حضرت خالد وفرمايل: دخدای (ج) رحمت دی وی دربandی په کم قوم کښی چی تاغوندی لوڼی موجودی وی دښمن وربandی نشی برلاس کيدای لوری! ته ډاډه اوسه، که ضرار ژوندی وی انشاء الله چی زه به يی ازاد کړم اوکه شهيد سوی وی، هغه دتل لپاره ژوندی دی او موږهم دهغه پرلاره تللو ته ملا تړلی ده.

له دی وينانه وروسته اسلامی لښکرچی حضرت خوله بنت ازورهم پکښی وه پر دښمنانو سخته حمله وکړه، خوله (رض) په دی وخت کښی پدی مفهوم شعر وايه: ای زما يکه نازولی وروره! ای زما دمور زويه! تا زما ژوند تريخ کړيدی، تاپرما خوب حرام کړيدی، چيری يی چی نه دی زه وينم اونه دی زما قوم اوقبيله وينی په جنګ کښی يوه ډله رومی عسکر بنديان ونيول سول، حضرت خالد له هغوی نه پوښتنه وکړه چی زموږ يوملګری چی په شاتوری اس باندی به بربنډ سپريدی او جنګيدی به تاسی نيولی دی، هغه مو څه کړ؟

جواب يی ورکړ: زموږ قوماندان هغه هرقل ته ولیږی ترڅو ورته وښيی چی موږ له پيريانو سره په جنګ بوخت يو حضرت خالد (رض) رافع بن عميره له سل تنه سپرو سره ولیږی چی ورشی او ضرار راخوشی کړی حضرت خوله هم ورسره ملګری سوه، په ډيره چټکی دحمص خواته روان سول، په لاره کښی يی وليدل چی سل تنه دښمن عسکر چاپيردی په مينځ کښی يی حضرت ضرار بن

ازور پراس دپاسه تړلی دی او هغه له ځانه سره پدی مفهوم اشعار وایی:

(ای قاصده! ورشه زما قوم اوزما خور خوله خبره کړه چی زه بندی یم، لاسونه اوپښی می تړل سویدی، شاوخواته می رومی کافر عسکر په زغرو کښی پټ روان دی، زه نه دبیرته تلو وس لرم اونه څوك راسره مرسته کولای شی. زما زړگیه له غمه وچوه، زما سترگو زما پرمخ داوښکو لښتی جاری کړی کاشکی زما قوم اوزما خور خوله راسره وای چی ماخپل تعهد پوره کړی وای.

خوله ددی اشعارو په اوریدلو بی اختیاره چیغه کړه: (دادی وروره زه راغلم) مجاهدینو دالله اکبر نعری پورته کړی پررومیانو باندی یی حمله وکړه اوهغوی یی تارومار کړل اوحضرت ضراریی ازاد کړ بیا وروسته یی دحضرت خالد (رض) حضورته بوتلی چی هغه له حده زیات خوښ سو.

ددمشق له نیولو نه وروسته داجنادین جگړه مینځ ته راغله جگړه داسی سخته سوه چی نژدی وه ځینی مسلمانان میدان پریږدی پدی وخت کښی حضرت عکرمه (رض) ناری کړی: څوك زما په لاس باندی دمرگ بیعت کوی؟ څلور سوه مجاهدین چی ضرار (رض) هم پکښی ؤ: وړاندی سول اودمرگ بیعت یی وکی، دوی چی له خدای (ج) سره کم تعهد وکی هغه یی ریښتونی کړ اوددی مبارك ایت مصداق سول چی: (من المؤمنین رجال صدقوا ماعاهدوا الله علیه فمنهم من قضی نحبه ومنهم من ینتظر وما بدلوا تبدیلاً).

ترجمة: له مؤمنانو څخه سته داسی کسان چی له الله (ج) سره خپل تعهد یی ترسره کی. ځینو خپل نذر پوره کی اوځینی نور دوخت دراتلو انتظار باسی او پخپل هوډ کښی یی هیڅ تبدیلی رانه وستله. پدی ترتیب حضرت ضراربن ازور اسدی (رض) دیو میړنی مجاهد په صفت ژوند وکی اودشهید په جامه کښی له دی فانی دنیانه رخصت سو. (رضی الله عنه)

## حضرت طلحة الخیر رضی الله عنه

یوه ورځ رسول اکرم (ص) دخپلو خوږو ملگروپه مینځ کښی ناست ؤچی یو اطرافی سړی راغی عرض یی وکی یارسول الله: دقرآن کریم دغه ایت دچاپه باب نازل سویدی چی: (من المؤ منین رجال صدقوا ما عاهدوا الله علیه فمنهم

من قضى نحبه ومنهم من ينتظر وما بدلوا تبديلا).

ترجمة: له مؤمنانو څخه ځینی داسی شخصیتونه دی چی له الله ﷻ سره خپل کړی تعهد یی پوره کړ اوځینی نور دنذر پوره کولو دوخت انتظار باسی اوپخپله تګلاره کښی یی هیڅ تبدیلی نده راوستی. رسول الله (ص) داعرابی پوښتنی ته هیڅ جواب ورنکړ، هغه خپله پوښتنه بیا تکرار کړه خوپیغمبر (ص) بیاهم جواب ورنکړ پدی وخت کښی یو ښکلی میانه قد سړی نبوی مجلس ته راغی رسول کریم علیه افضل التحیة والتسلیم سمدلاسه پوښتونکی ته مخ واړاوه اوویی فرمایل: ددغه ایت مصداق دغه سړی دی) دغه له الله (ج) سره پخپل تعهدکښی وفادار شخصیت حضرت طلحه بن عبید الله ؤ (رض).

سیدنا طلحه بن عبیدالله یو جلیل القدر صحابی اوله هغو لسو تنو څخه یو ؤ چی په دنیا کښی دجنت زیری ورکړ سوی ؤ درسول اکرم ( ص) له بعثت نه تقریبا پنځه لس کاله مخکښی دقریشو دبنو تیم په کورنی کښی زیږیدلی ؤ او لاپه ماشومتوب کښی یی تجارتی کاروبار کوی دحق دعوت ته دلومړنیو لبیك ویونکو په ډله کښی دی، هغه پخپله دخپل اسلام راوړلو قصه کوی وایی:

زه دبعثت په لومړنی زمانه کښی دتجارت لپاره شام ته تللی وم هلته می یو راهب ولیدی چی له خلګو نه یی پوښتنه کوله چی: ایا پدی ورځو کی له مکی نه څوك راغلی دی؟ ما جواب ورکړ: هو! زه له مکی نه راغلی یم راهب پوښتنه وکړه ایا احمد پیغمبر مبعوث سوی؟ ما وویل: احمد څوك دی؟ ویی ویل: احمد بن عبدالله بن عبد المطلب همدا دهغه دپیغمبر کیدو وخت دی همغه په دنیا کښی وروستی پیغمبردی، ته بیرته ولاړشه سمدستی له هغه سره بیعت وکړه.

زه له شام نه بیرته مکی ته راستون سوم له خلګو نه می پوښتنه وکړه: زما دغیاب په ورځو کښی خو څه نوی پیښه نده سوی؟ جواب یی راکړ: محمدبن عبدالله دنبوت دعوه کړیده اوابن ابی قحافه یعنی ابوبکر صدیق (رض) دهغه پیروی غوره کړیده، زه ددی خبری له اوریدونه وروسته ابوبکر صدیق (رض) ته ورغلم اوپوښتنه می ترینه وکړه: ایا تاپه ریشتیا دمحمد (ص) پیروی غوره

کړیده؟ جواب یی راکړ: هو! دحق په لوری دعوت ورکوی، ته هم دغه دعوت قبول کړه پدی وخت کښی ما ورته هغه خبره واوروله چی په شام کښی می له راهب نه اوریدلی وه هغه ډیر زیات خوشاله سو بیایی له ځانه سره درسول اکرم (ص) حضورته بوتلم او په اسلام مشرف سوم دسیرت لیکونکو اومحدثینو له بیلا بیلو روایتونو څخه ثابتیږی چی له اسلام راوړلو نه وروسته حضرت طلحه (رض) دمکی دکافرانو دسخت ظلم اوستم مورد وګرځیدی امام بخاری دمسعود بن خراش داوینا نقل کړیده چی موږ دصفا او مروه ترمینځ ګرځیدو راګرځیدو ومولیدل چی څه کسان یوزلمی راکشوی اویوه ښځه ورپسی په غوسه روانه ده او بدی ردی ورته وائی پوښتنه می وکړه: داڅه پیښه ده اودا ښځه څوك ده چی بدی ردی وائی؟

جواب یی راکړ: دازلمی طلحه بن عبیدالله دی له خپل پلرنی دین نه اوښتی دی اودا ښځه دهغه مور صعبه بنت حضرمی ده چی خپل زوی ته په غوسه ده حضرت طلحه (رض) که هرڅومره داسلام ددښمنانو لخوا تعذیب او وځورول سو خودهغه په تصمیم اواراده کښی دیو وریښته په اندازه بدلون رانغی بالاخره کافرانو دهغه له تعذیبولو نه لاس واخیست او هغه خپل تجارتی کاروبار ته ادامه ورکړه.

دهجرت دورچی راغی نوله خپلی مور صعبه بنت حضرمی سره چی وروسته په ایمان مشرفه سوی وه مدینی منوری ته یی هجرت وکی دبدر په جګړه کښی پدی خاطر شریك نسو چی رسول اکرم (ص) داطلاعاتو راټولولو لپاره دشام خواته لیږلی ؤ خو کله چی د هجرت په دریم کال داحد تاریخی غزا مینځ ته راغله حضرت طلحه (رض) په ډیره میړانه وجنګیدی دسرور کائنات (ص) په حفاظت اوحمایت کښی یی دقربانی داسی صحنه تمثیل کړه چی داحد دعظیمی معرکی قهرمان وشمیرل سو په هغه سخت ساعت کښی چی سرور عالم (ص) ددښمنانو په مینځ کښی محاصره، غاښ مبارك یی شهید او بدن یی زخمی ؤ حضرت طلحه (رض) دهغو فدائیانو له جملی څخه ؤ چی درسالت له روښانه شمعی نه دپتنګ په څیر تاویده له اویاؤ نه زیات زخمونه یی وخوړل

ټول بدن یی په وینو رنګ ؤ خوهیڅ یی خپل ځانته پام نه ؤ اوپدی مفهوم یی په لوړ اواز اشعار ویل: موږ غالبیدونکی اوقدرت لرونکی محافظین یو، موږ له خپل مبارك پیغمبر نه ددښمنانو په ضد دفاع کوو، په جنګونو کښی مشرکان داسی ورنه شړو لکه چی نجات میندونکی برلاسی سړی تړل سوی چاغ اوښ وهی.

یومشرك حضرت پیغمبر (ص) ته ورنژدی سو په هغه باندی یی توره پورته کړه حضرت طلحه (رض) په ډیره بیړه خپل لاس دکافر دتوری ګوزار ته سپر کړ چی دلاس ګوتی یی غوڅی سوی دصحیح البخاری په کتاب المغازی کښی دقس بن ابو حازم روایت دی وائی: (رایت ید طلحة شلاء وقی بها النبی (ص) یوم احد)

ترجمة: مادطلحه لاس ولیدی چی شل سوی ؤ هغه پدی لاس سره داحد په ورځ دنبی (ص) حفاظت کړی ؤ ټولو صحابه ؤ به دحضرت طلحه (رض) ددغی میړانی ستاینه کوله ترداسی حده چی حضرت ابوبکر صدیق (رض) به ویل: (داحد ورځ داحد ورځ نه وه، که ریشتیا می پوښتی دطلحه ورځ وه عمر فاروق (رض) چی به کله حضرت طلحه (رض) ته خطاب کوی نو ورته ویل به یی: ای طلحه ای داحد خاونده.

حضرت طلحه (رض) له احد نه وروسته په نورو ټولو غزاګانو کښی هم برخوال ؤ اودحق اوباطل په هره معرکه کښی یی دمړانی او فداکاری نه هیریدونکی کارنامی ترسره کړیدی په لسم هجری کال دحجة الوداع په سفر کښی هم دسرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ.

درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته که څه هم دحضرت طلحه (رض) په زړه باندی دخپل پیشوا او محبوب په جدائی کښی دغم لوخړی خپری وی خو په پرله پسی ډول یی ددریو واړو راشده خلفاؤ ابوبکرصدیق (رض) عمر فاروق (رض) اوحضرت عثمان (رض) دخلافت په دور کښی دقیادت دسوری دمهم غړی په صفت وظیفه اجرا کړه خو کله چی داسلام دڅلورم خلیفه حضرت علی کرم الله وجهه په دور کښی دجمل جګړه مینځ ته راغله حضرت طلحه (رض)

دمروان بن الحکم دغشی په ګوزار دشهادت جام وڅیښه حضرت طلحه (رض) ډېری زیاتی شتمنی خاوند ؤخو دجود اوسخاوت داسی پیکرؤ چی حضرت قبیصه (رض) بن جابر وائی: زه له حضرت طلحه (رض) سره ډیره موده اوسیدلی یم او ما له هغه نه زیات هیڅوك داسی ندی لیدلی چی خپل مال له غوښتنی پرته په دومره زیاته اندازه انفاق اوخیرات کړی رسول اکرم (ص) پخپله مبارکه ژبه هغه ته دری لقبونه ورکړی وو: طلحة الخیر، طلحة الفیاض اوطلحة الجود. دهغه زوی موسی وائی رسول کریم (ص) زما پلارته داحد په غزا کښی دطلحة الخیر دتبوك په غزا کښی دطلحة الفیاض اودحنین په غزا کښی دطلحة الجود لقب ورکړی ؤ.

کله چی شهید شو علی مرتضی (رض) دهغه دجسد ترڅنګ ودریدی، د هغه مخ مبارك یی له ګردونو څخه پاك کړ اوویی ویل: ابومحمده پرما باندی داډیره سخته تمامیږی چی داسمان ترستورو لاندی تاپه خاورو، دوړو کښی سپیرهووینم کاشکی زه له دغی پیښی نه شل ورځی دمخه مړ وای، پدی وینا سره دامیر المؤمنین اودهغه دملګرو له سترګو نه اوښکی راتوی سوی اوډیر یی وژړل (رضی الله عنه)

## حضرت طفیل بن عمرو رضي الله عنه

حضرت طفیل بن عمرو دعربو ددوس قبیلی چی دیمن په یوه غرنی سیمه کښی میشته وه په یوه شتمنه اوعزتمنه کورنی کښی زیږیدلی اوروزل سوی ؤ اوالله تعالی (ج) ورته دشعر اوادب لویه پانګه وربخښلی وه. دشعر اوادب په مسابقو کښی به تل لومړی درجه ورپه برخه کیدله او له همدی امله به یی کله نا کله دعکاظ په موسمی میلو کښی هم ګډون کوی او مکی ته به تل راتلی.

رسول الله (ص) چی کله د بعثت په څلورم کال د الهی فرمان: (فاصدع بما تؤمر واعرض عن المشرکین) (هغه څه چی درته امر کیږی په ښکاره څرګنده یی بیانوه اوله مشرکانو څخه بی پروا اوسه) په اساس دحق څرګند دعوت شروع کړ نومشرکانو نه یوازی پخپله دهغه دعوت ونه مانه بلکی دبیګانه ؤ خلګوپه مخ کښی به هم خنډ کیدل ترڅو چی دتوحید بلنی ته غوږ ونه نیسی، کم خلګ

به چې له اطرافو نه مکې ته راتلل دهغو مخې ته به ورتلل او ورته ويل به يې چې په موږ کښې يو سړی پيدا سويدی چې پلرنی دين يې پرې ايښې، نوی او نااشنا خبرې کوي، دخلګو په مينځ کښې تفرقه اچوي، په وينا کښې يې دسحر غوندې اثردی، پام کوي چې دهغه خبرو ته غوږ ونه نيسئ په همدې وختونو کښې يوه ورځ دمکې مشرکانو واوريدل چې طفيل بن عمرو مکې ته راروان دی هغه له دې مخکښې هم مکې ته تل راتلی خو داځل دهغه دراتګ خبر دوی په سخت تشويش کښې واچول ځکه چې دوی پيژندی چې هغه دخپلې قبيلې رئيس اوزړه راکښونکی شاعردی، که چيرې دمحمدی دعوت ږغ يې غوږته ورسيږي اوايمان راوړي نو بيابه دهغه شاعرې اوقومي رسوخ داسلام په خدمت کښې شي او دابه ددوی لپاره چې په هيڅ شان نه غواړي داسلام دعوت خپورشي ډيرسخت دردِسر وي نو دهغه استقبال ته ورغلل، ميلمستيا يې ورته تياره کړه دخوښې اوساعت تيرۍ وسايل يې ورته برابر کړل او بيايي ورته وويل چې: (پام کوه له محمد (ص) سره ونه ګورې، دهغه وينا دسحر غوندې اثرلري، دزوی او پلار، دوه ورونو اوښځې او ميړه ترمينځه بيلتون راولي، دهغه خبرې اوريدل به تاا وستا قبيله په غم اخته کړي).

حضرت طفيل بن عمرو دوسي وائي چې: (په خدای (ج) قسم دی چې مشرکانو دومره ټينګار وکې چې ماوپتېيله چې زه به نه له رسول الله (ص) سره ملاقات وکړم اونه به يې خبره واورم، کله به چې سهار کعبې ته ورتلم نو په غوږونو کښې به مې مالوچ (پنبه) ايښوده چې که په ناڅاپي ډول له هغه سره زما ليدنه وشي چې غوږ ته مې دهغه خبره ونه رسيږي خوله دی سره سره چې يوه ورځ کعبې ته ورغلم ومې ليده چې رسول الله (ص) په لمانځه ولاړدی زه دهغه ترڅنګ ودريدم اوخدای (ج) غوښتی وه چه دهغه له خولې نه څه واورم، ډير خوږ کلام مې واوريده اوله ځانه سره مې وويل: والله چې زه خو يواديب او شاعريم، دښو اوبدو تميز کولای شم، څه پيښه ده چې دده وينا نه اورم، زه بايد ارومرو دده کلام ته غوږ ونيسم که ښه ؤ وبه يې منم اوکه ښه نه ؤ پرې به يې ږدم انتظار مې وايستی ترڅو چې هغه کورته ولاړی، زه هم ورپسې روان

سوم اوکورته یی ورغلم، پوښتنه می وکړه: ای وروره ستا قوم ماته داسی او داسی خبری کړیدی اوزه یی ستاپه هکله دومره بیرولی یم چی په غوږونوکښی می مالوچ (پنبه) ایښی دی ترڅوچی ستاخبری وانه ورم خوبیامی هم واوریدلی ډیر ښه کلام می واوریدی ته اوس مهربانی وکړه ماته خپل دعوت واوروه رسول الله (ص) ماته دقرآن ایتونه ولوستل او داسلام بلنه یی راته واوروله، زماپه خدای (ج) قسم دی چی له دینه ښه کلام می په ټول عمر کښی نه ؤ اوریدلی اونه می دهغه له لاری نه بله ښه لاره لیدلی وه نو سمدلاسه می اسلام راؤړی اودشهادت کلمه می وویله اوبیامی عرض وکی: یارسول الله! زه پخپل قوم کښی نفوذ اورسوخ لرم، خلګ زما خبره منی ماته اجازه راکړه چی زه ولاړ شم، هغوی اسلام ته راوبولم اوماته دعا وکړه چی خدای (ج) ددعوت دوظیفی داسانی لپاره ماته کمه نښانه راکړی رسول الله (ص) هغه ته دعاوکړه چی (اللهم اجعل له اية). (ای خدایه! ده ته څه نښانه ورکړه).

حضرت طفیل بن عمرو دؤسی چی له اوږده سفرنه وروسته په کمه ورځ خپلی سیمی ته نژدی سو نو داداسی وخت ؤ چی لمر پریوتلی ؤ لاره ددوو غرونو ترمینځ تیره سوی وه اوډیره تروږمې وه، پدی وخت کښی طفیل یوه حیرانوونکی صحنه ولیدله هغه داسی چی مخ یی دسپوږمۍ په څیر رڼا وکړه او شاوخوا وادی ټوله روښانه سوه، حافظ ابن عبدالبر په الاستیعاب کښی لیکلی دی چی حضرت طفیل (رض) پدی رڼا کښی دخپلی قبیلی ټول کورونه لیدل دادرسول الله (ص) ددعا برکت ؤ او هماغه نښانه وه چی له خدای (ج) نه یی غوښتی وه او له همدی امله په تاریخ کښی دطفیل ذوالنور لقب ورپه برخه سو. حضرت طفیل بن عمرو (رض) چی کورته ورسیدی دهغه سپین ږیری پلار یی ملاقات ته راغی خو هغه ورته وویل زما او ستا ترمینځ نور هیڅ ارتباط نسته، پلار پوښتنه وکړه ولی څه سویدی؟

جواب یی ورکړ (ما دمحمد (ص) پیروی غوره کړیده اواسلام می راوړیدی) دهغه پلار هم دنیك فطرت خاوندؤ، سمدلاسه یی ایمان راؤړی او ویی ویل: کم چی ستا دین دی، همغه زما دین هم دی بیا وروسته یی خپلی

ښځې ته دحق دعوت وړاندې کړ هغه هم داسلام منلو ته تیاره سوه خوعذر یې وړاندې کړ چې ذوالشرى راته په غوسه نشي حضرت طفیل وویل: دابې روحه بت دی، له خپله ځانه بې خبره دی بل چاته به ګټه او تاوان څنګه ورسوي پدې ترتیب دهغه ښځه اوورپسي دکورني نور غړي هم په اسلام مشرف سول له کورني نه وروسته حضرت طفیل دحق دعوت دخپلې قبیلې خلکو ته وړاندې کړ خوله ډیر کوشش سره سره له حضرت ابو هریره (رض) نه پرته بل چا دهغه دعوت ونه مانه، په پای کښې حضرت طفیل دخپل قوم له ناوړه چلند او سرکښې نه په تنګ سو اودمکې خواته روان سو مکې ته چې ورسیدی په چټکې سره درسول الله (ص) حضورته ورغی اوعرض یې وکې یارسول الله! زما قوم دفحشاء اوسود په چاروکښې اخته دی ته دخدای (ج) نه وغواړه چې هلاك یې کړي رسول الله (ص) داسمان خواته لاسونه پورته کړل اوویې ویل: اللهم اهد دوسا وأت بهم مسلمين) ای خدایه! دوس ته هدایت وکړې او پداسې حال کښې یې راولې چې مسلمان وي بیایې حضرت طفیل ته مخ واړوه اوویې فرمایل: (ارجع الى قومك فادعهم وارفق بهم) ځه خپل قوم ته ورشه هغوی ته دعوت ورکړه اونرمي ورسره وکړه (درسول الله (ص) له امر سره سم بیرته خپلې قبیلې ته ولاړی او په دعوت مصروف سو، پدې زمانه کښې رسول الله (ص) مدینې ته هجرت وکړ، دبدر احد او خندق غزاګانې هم تیرې سوې وې اودخیبر دتاریخي غزا وخت ؤ چې حضرت طفیل (رض) درسول الله (ص) ددعا برکت پخپلو سترګو ولیدی، هغه داسې چې ددوس قبیلې اتیا کورني ورسره وې، درسول الله (ص) حضورته وړاندې سول اودهغه په لاس یې دایمان اوسرښندنې بیعت وکړ.

حضرت طفیل دمکې دفتحې په وخت کې ددولس زره کسیز اسلامي لښکر غړی ؤ او کله یې چې ولیدل چې رسول الله (ص) دکعبې په مینځ کښې ایښودل سوي درې سوه اوشپیته بتان یوپه بل پسې رانسکوروي اووایې: (وقل جاء الحق وزهق الباطل ان الباطل كان زهوقا) ، ترجمه: یعنې حق راغی اوباطل له مینځه ولاړی بې شکه چې باطل محوه کیدونکی دی، پدې وخت

کښې حضرت طفیل ته دعمرو بن حممه بت ورياد سو له رسول الله (ص) نه يې اجازه وغوښتله چې ولاړ شي او هغه له مینځه يوسي، رسول الله (ص) اجازه ورکړه حضرت طفيل پرهغه بت باندې چې ذا الكفين نوم يې ؤ اوربل کړ اودا شعر يې وايه:

يا ذا الكفين لست من عبادكا
ميـــلادنا اقدم من ميـــلادكا
انی حســوت النار فی فؤادكا

ترجمة: ای ذا الكفين! زه ستا له عبادت کوونکو څخه نه يم، زه لتا نه دمخه زیږیدلی یم، ماستا پرزړه باندی اوربل کړیدی) دطائف دغزا په وخت کښې چې کله هغه پیغمبر (ص) ته دذا الكفين دسوځولو قصه واوروله نور رسول الله (ص) ډير زيات خوشحاله سو.

حضرت طفيل به له هغه نه وروسته له رسول الله (ص) سره يوځای ژوند کوی په هغه پسې يې لمو نځ ادا کوی له هغه سره يې په جهاد کښې ملګرتیا کوله دهغه نه يې زده کړه کوله.

کله چې سرور کائنات (ص) له دی فانی دنيا نه داخرت په سفر روان سو او دابوبکر صديق (رض) دخلافت په دورکښې دارتداد فتنه راپورته سوه نو د مرتدانو پرضد جهاد شروع سو، پدې لړکښې چه کله دمسيلمة الكذاب پرضد ديمامي جګړه مينځ ته راغله نوحضرت طفيل دنورو جګړوپه څيرپه هغه کښې هم برخه وال ؤ. ددښمنانو پرخلاف په پوره میړانه وجنګيدی او په پای کښې يې دشهادت جام نوش کړی. (رضی الله عنه)

## حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه

عبدالله بن مسعود (رض) شپږم مسلمان دی هغه وخت يې له رسول اکرم (ص) سره بيعت وکی چې لاسرور كائنات (ص) دارارقم ته نه ؤداخل سوی دهغه دايمان راوړلو پيليزه داسی وه چې يوه ورځ رسول کريم (ص) اوحضرت ابوبکر

صدیق (رض) بیدیاته وتلی وو، لوږه اوتنده پر راغله، یوزلمی شپونکی یی ولیدی چی میږی پیایی ابوبکر (رض) پوښتنه وکړه: زلمیه شیدی درسره سته چی موږ ته یی راکړی؟ جواب یی ورکړ: میږی زماندی، زه دعقبه بن ابی معیط شپون یم، دهغه له اجازی پرته تاسی ته شیدی درکول په امانت کښی خیانت دی. سرور کائنات (ص) وفرمایل: ښه ده وروره! داسی یوه میږه راته راوله چی نه وی لنګه سوی، شپانه وویل: دغسی میږه به تاسی ته څه پکار درشی خوبیا هم زه به یی راولم رسول اکرم (ص) دمیږی په تیونو باندی لاس راکش کړئ بیایی دعا وکړه دمیږی غولانځه له شیدونه ډکه سوه هغه یی ولوشله دومره شیدی یی وکړی چی. دریو واړه په مړه خیټه وڅښلی بیا وروسته دپیغمبر (ص) په دعاسره دمیږی تیونه خپل اصلی حالت ته راغلل شپونکی پیغمبر (ص) ته عرض وکی چی دغه دعا ماته هم راوښیه! ویی فرمایل: (انك غلام معلم) ته تعلیم یافته زلمی یی، داهغی سبا ورځی ته اشاره وه اودهغه راتلونکی وخت پیشګوئی وه چی له دغه فقیر، اجیر اودنریو ډنګرو پښو خاوند زلمی څخه به فقیه الامت اودقرآن معلم جوړیږی زلمی شپونکی عبدالله بن مسعود (رض) چی دمدرکه له کورنی څخه او بنوهذیل قبیلی ته منسوب ؤ ددغی معجزی په لیدلو څو ورځی وروسته دبشریت دهادی حضورته ورغی او په اسلام مشرف سو له اسلام راوړلو نه وروسته حضرت عبدالله بن مسعود (رض) خپل ځان دسرور عالم (ص) خدمت ته وقف کړ اودهغه له مبارکی ژبی نه یی په مسلسل ډول دقرآن کریم سورتونه زده کول او حفظ کول یوه ورځ صحابه ؤ پخپلو مینځو کښی سره وویل:

تراوسه پوری قریشو په لوړ اواز قرآن ندی اوریدلی څنګه کیدای شی چی هغو ته په جهر سره قرآن واورول شی؟ عبدالله بن مسعود (رض) وویل: داکار به زه وکړم صحابه ؤ وویل: دا خطرناك کاردی او ستا قبیله کمزوری ده نشی کولای چی لتا نه دفاع وکړی، عبدالله (رض) دسرښندنی په ولوله وویل: زه په الله (ج) توکل کوم همغه به می وساتی بله ورځ دلمر خاته په وخت کښی چی دقریشو مشرکان دکعبی ترڅنګ راغونډ سوی وه عبدالله بن مسعود (رض)

دهغوی ترڅنګ ودریدی او په ډیره خوږه لهجه په لوړ اواز یی دسورة الرحمن تلاوت شروع کړی.

مشرکانو چی ددغه فقیر شپونکی له خولی نه دغه زړه راکښونکی نااشنا کلام واوریدی، په حیرانتیا سره یی یوبل ته وکتل، پدی ترخ کښی یوتن وویل: داهغه کلام لولی چی په محمد (ص) باندی نازل سویدی، ددی خبری په اوریدو قریشو په بی رحمانه اووحشیانه ډول دهغه په وهلو شروع وکړه خو عبدالله (رض) ترهغه پوری خپل تلاوت ته ادامه ورکړه ترڅوچی سورت ختم سو.

حضرت ابن مسعود (رض) چی کله زخمی زخمی خپلو ملګروته راستون سو نوهغوی ورته وویل: موږ همدا ګڼله چی ته مو منع کولی عبدالله (رض) وفرمایل: (ماکان اعداء الله اهون علی منهم الان ولئن شئتم لاغادینهم بمثلها غدا) دخدای (ج) دښمنان له نن زیات هیڅکله زما په نظر کښی نه وو سپك سوی، که ستاسی خوښه وی سباته به بیا ورته قرآن واوروم. صحابه کرامو وویل: (حسبك فقد اسمعتهم ما یکرهون) نه، همدومره بس دی، تا مشرکانو ته هغه کلام واوروی چی هغوی یی بد ګڼی. ددغه ضعیف فقیر زلمی څخه، یوه مجسمه معجزه جوړه سوه، بی ساری جرئت یی درلودی، دعلم اوفضیلت سمندرؤ. په ډیره زړه راکښونکی لهجه اولوړ اواز به یی هر هرچیری دقرآن حکیم تلاوت کوی او دمکی دوحشی جبارانو اومستکبرینو لخوابه تعذیبیدی دځوریدلو مومنانو په ډله کښی یی دوه ځلی حبشی ته او دریم ځل مدینی منوری ته هجرت وکړ هغه درسول اکرم (ص) دومره خاص اوهمیشنی ملګری ؤ چی هغه ته به صاحب العصا، صاحب الوسادة او صاحب المطهرة ویل کیدل، یعنی رسول اکرم (ص) ته به یی همساپه لاس کښی ورکوله، تکیه به یی اینښودله او مسواك به یی په لاس کښی ورکوی پداسی حالاتو کښی به دالله (ج) له رسول سره ګوښه ناست ؤ چی نورو صحابه ؤ ته به دداخلیدلو اجازه نه وه دعلم اوفضیلت خویی دامقام ؤچی پخپله وائی ما درسول کریم (ص) له مبارکی ژبی نه په مستقیم ډول دقرآن مجید اویا سورتونه حفظ کړیدی اود

قرآن دهر ایت په باب راته معلومات دی چی چیری نازل سویدی اودهغه شانِ نزول څه ؤ.

نبوی ارشاددی: (من احب ان یسمع القرآن غضا کما انزل فلیسمعه من ابن ام عبد) ترجمة: که څوك غواړی چی قرآن هغسی تروتازه واوری لکه چی نازل سویدی نو له ابن ام عبد یعنی عبدالله بن مسعود نه دی واوری. یوه ورځ رسول اکرم (ص) هغه خپل حضورته راوغوښتی ورته یی وفرمایل: (اقرأ علی یا عبدالله) ای عبدالله ماته قرآن ولوله ابن مسعود (رض) عرض وکی: (أقرأ علیك وعلیك انزل یارسول الله) ! تاته به څنګه قرآن لولم پداسی حال کښی چی په تا باندی نازل سویدی ای دالله رسوله؟ ویی فرمایل: (انی احب ان اسمعه من غیری) زه داخوښوم چی له بل نه یی واورم ابن مسعود (رض) دسورة نساء په لوستلو پیل وکی کله چی دغه مبارك ایت ته ورسیدی چی: (فکیف اذا جئنا من کل امة بشهید وجئنا بك علی هؤلاء شهیدا) یعنی څنګه به وی ددوی حالت په هغه ورځ کښی چی موږ له هرامت نه یو شاهد راولو اوای محمده تاپردغه امت باندی شاهد وګرځوو؟ ددی ایت په اوریدلو سره دسرور کائنات (ص) له مبارکو سترګو نه اوښکی توی سوی او په اشاره سره یی ابن مسعود (رض) له نور تلاوت نه منع کړ. ابوموسی اشعری (رض) به ویل: (لاتسألونا عن شئیا مادام هذا الحبر فیکم) یعنی ترڅو چی ابن مسعود غوندی متبحر عالم موجود وی له موږ نه دهیڅ یوی مسئلی پوښتنه مکوی.

عبدالله بن مسعود (رض) دقرآن دحفظ اوعلم ترڅنګ دزیات شمیر حدیثو عالم اوحافظ دی له هغه څخه (۸۳۸) حدیثونه روایت سویدی.

هغه به چی حدیث بیانوی نوله دی ویری نه چی هسی نه چیرته داسی لفظ یی له خولی نه ووزی چی رسول اکرم (ص) نه وی ویلی په اندامونو باندی به یی لړزه راتله اوله وچولی نه به یی خولی بهیدلی.

دعلمی لوړ مقام ترڅنګ ابن مسعود (رض) یوغښتلی مجاهد هم ؤ، په بدر، احد، خندق، خیبر، تبوك، حنین اونورو ټولو غزاګانو کښی یی عملی برخه اخیستی وه دحدیبیی اومکی دفتح په سفرونو کښی هم له سرور عالم

(ص) سره ملگری ؤ دبشریت دلارښود له رحلت نه وروسته که څه هم دهغه دزړه دنیاگی ویجاړه سوه خوعلمی خدمتونو او جهادی فعالیتونو ته یی ادامه ورکړه. زموږ دمذهب امام، ابو حنیفه رحمه الله دهغه له بالواسطه شاگردانو څخه دی.

دعمر په پای کښی یی له حضرت عثمان (رض) سره څه خپگان راغلی ؤ اوحضرت عثمان (رض) وربانددی معاش بند کړی ؤ، کله چی دمرگ په ناروغی اخته سو حضرت عثمان عیادت ته ورغی پوښتنه یی وکړه: ستا ناروغی څه ده؟ جواب یی ورکړ: خپل گناهونه حضرت عثمان (رض) پوښتنه وکړه څه شی ته ضرورت لری؟ جواب یی ورکړ: دخدای (ج) رحمت ته پوښتنه یی وکړه: طبیب درته راولیږم؟ ابن مسعود (رض) جواب ورکړ: نه زه طبیب ناروغ کړی یم حضرت عثمان (رض) پوښتنه وکړه: ستا معاش درته حواله کړم: جواب یی ورکی: معاش ته ضرورت نلرم ددغو خبرو اترو نه وروسته دواړو لویانو یودبل نه معافی وغوښتله اوسره پخلا سول.

حضرت ابن مسعود (رض) په (۳۲) هجری کال کښی په خپل خواږه ملگری پسی داخرت په سفر روان سو. (رضی الله عنه)

## حضرت عکرمه بن عمرو بن هشام رضي الله عنه

په اتم هجری کال درمضان المبارك په میاشت کښی دمکی له فتحی نه وروسته سرور کائنات (ص) خوورځی په مکه کښی پاتی سو په همدی موده کښی یوه ورځ یوتکړه غښتلی ځلمی درسول اکرم (ص) استوگنځی ته ورغی، رسول الله (ص) دهغه په لیدو خوشاله سو، دهغه مخی ته دومره په چټکی سره ورپاڅیدی چی له اوږو مبارکو څخه ئی څادر وغورځیدی هغه ئی په ډیره مینه په غیږ کښی ونیوی وئی فرمایل: (مرحبا بالراکب السهاجر مرحبا بالراکب المهاجر) ترجمة: ښه راغلی ای سپور پردیسه! هر کله راشی ای سپور مسافره! زلمی یوی څخی ته چی دهغه څنگ ته ولاړه وه اشاره وکړه وئی ویل: ای محمد (ص) دغی ته داسی ثابته سویده چی تا ماته امان راکړیدی؟ پیغمبر (ص) وفرمایل: هو! داریشتیا وائی، ته په امن ئی، ددی وینا په اوریدو سره په

زلمی باندی دډیری خوښی څپی خپری سوی، له خجالت نه یی سرکښته واچوه اوپه لړزیدلی اوازئی عرض وکړ: زه شاهدی وایم چی الله (ج) یودی شریك نلری، ته دالله (ج) بنده اورسول ئی، په خدای (ج) قسم چی ته تر ټولو خلګو نه زیات نیکوکار، ترټولو زیات صادق اوامین اوتر ټولو زیات دخپلی ویناعملی کوونکی او پوره کوونکی ئی تل دی دحق خواته خلګ دعوت کړیدی، یا رسول الله (ص) له دی نه مخکښی ماپرله پسی له اسلام سره دښمنی کړیده ستا تکذیب می کړیدی اوته می زورولی یی زه اوس هیله کم چی ستاپه خلاف چی ما ددښمنی کمی هلی ځلی کړیدی ستاپه ضدجنګونو کښی می برخه اخیستی ده، دحق په لاره کښی می خنډونه اچولی دی، تاته می مخامخ یاپه غیاب کی څه بدی ردی ویلی دی هغه ټولی راته معاف کړه او درب العزت له دربار نه راته مغفرت وغواړه.

رحمة للعلمين (ص) داسمان خوا ته په دعا لاسونه پورته کړل وئی ویل: الهی! دغه سړی چی زما سره هره دښمنی کړیده، ستا دنور دمړه کولو لپاره یی چی په هره جګړه کښی برخه اخیستی ده او زما دابرو رژولو لپاره ئی چی زما په وړاندی یا زماپه غیاب کښی هره خبره کړیده، د هغه ټولو ورته بخښنه وکړه. دپیغمبر (ص) دویناپه اوریدلو سره دهغه په مخ کښی له خوشالی نه ځلا پیداسوه عرض یی وکی: (یارسول الله (ص) هره خبره چی ډیره ښه وی ماته یی وښیه چی زه دتل لپاره عمل په وکړم رسول کریم علیه افضل التحیة والتسلیم وفرمایل: (دزړه په مینه دالله (ج) په وحدانیت اوزما په رسالت باندی شاهدی وایه اودالله (ج) په لار کښی جهاد کوه) زلمی په توده ولوله عرض وکی: یا رسول الله (ص) په خدای (ج) قسم دی تراوسه پوری چی ما دحق ددعوت دمخنیوی په لاره کښی څومره مال لګولی دی اوس به دهغه دوه چنده دالله (ج) په لار کښی مصرفوم تراوسه پوری چی څومره دحق په ضرر جنګیدلی یم اوس به دالله (ج) په لارکښی دهغه دوه چنده جهادکوم رسول الله (ص) دهغه دغه ایمانی جذبه وستایله او دهغه داستقامت اوثبات لپاره ئی یوځل بیا دعا وکړه دغه سړی چی پیغمبر (ص) دهغه راتګ استقبال کړ اودهغه دمغفرت لپاره ئی

دعا وکړه څوك ؤ؟

دا دابوجهل عمرو بن هشام مخزومی زوی حضرت عکرمه (رض) ؤحضرت عکرمه (رض) دا سلام د سرسخت دښمن ابو جهل زوی ؤ دخپل پلار په ملګرتیا کښې ئی دپیغمبر (ص) اسلام او مسلمانانو په خلاف له دښمنی ډکی کارنامی ترسره کړی وی اودابو جهل له مرګه وروسته دهجرت تراتم کال پوری بیا هم دجهل په تیارو کښی پاتی ؤ کله چی دهجرت په اتم کال درمضان په بختوره میاشت مکه فتحه سوه اوددوارو جهانو سردار محمد مصطفّی (ص) هلته څو ورځی هستوګنه اختیار کړه حضرت عکرمه (رض) دتسلیمیدو پرځای له ویری نه دتیښتی لاره په مخ کښی ونیوله اوغوښتل ئی دسمندر له لاری یمن ته ولاړ شی، دهغه ښځه ام حکیم (رض) چی په اسلام مشرفه سوی وه دپیغمبر (ص) حضورته ورغله عرض یی وکړ: هیله منه یم زما میړه عکرمه درحمة للعلمین دعفوی مورد وګرځی، هغه له کوره تښتیدلی دی، زه به یی راولم رسول کریم (ص) دهغی دغه پیشنهاد منظور کړ. عکرمه په کښتی کښی سپور سوی ؤ خو پرکښتی باندی مخالف طوفان راوالوتی او بیرته ئی هغه ساحل ته راوستله چی له هغه ځایه روانه سوی وه. پدی وخت کښی ام حکیم (رض) هم ساحل ته ورسیدله اودعفوی خبر ئی ورته واوروه، همغه ؤ چی عکرمه راستون سو اوپه اسلام مشرف سو. حضرت عکرمه (رض) لکه څنګه چی ئی له پیغمبر (ص) سره بیعت اوتعهدکړی ؤ له ایمان راوړلو وروسته دحنین،طائف اوتبوك په غزاګانو کښی په پوره میړانه برخه واخیستله، یوازی بدنی جهاد نه بلکی دمجاهدینو دتجهیز په لاره کښی به ئی په پوره اخلاص سره مالونه هم مصرفول درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته دحضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دور کښی چی کله دارتداد فتنه مینځ ته راغله نوحضرت عکرمه (رض) دفتنی داور مړکولو لپاره دمرتدینو په خلاف په خورا زړه ورتوب سره وجنګیدی دارتداد دفتنی له ختمیدو وروسته چی کله دشام اوایران دجنګونو لړۍ شروع سوه په هغو کښی هم حضرت عکرمه تل دیو غښتلی قوماندان په توګه برخوال ؤ. ددی جګړوپه سلسله کښی تر ټولو مهمه اوسخته جګړه دیرموك وه چی رومی

فرمانروا هرقل په لکونو مجهز فوج تيار کړی ؤ اوديخوا ته داسلامی لښکر شمير دڅلويښتوزرو په خواوشا کښی ؤ روميانو پداسی شدت سره حمله وکړه چی مسلمانان په تشويش کښی ولويدل پدی سخت وخت کښی حضرت عکرمه (رض) دخپل لښکرپه لومړی صف کښی ودريدی او ږغ ئی وکړ: څوك دی چی له ماسره دمرګ بيعت کوی؟

ددی ږغ په اوريدو سره څلور سوه کسان وړاندی سول اودهغه په لاس ئی دمرګ بيعت وکړ چی دهغه دوه زامن هم پکښی وه دغه سر ښندونکی ډله ټول يا شهيدان اويا سخت زخميان سول چی پدی زخميانو کښی پخپله عکرمه (رض) او دهغه دواړه زامن هم شامل وه. حضرت خالد بن وليد (رض) دځکندن په وروستيو سلګيو کښی دعکرمه (رض) سرپخپل ورانه باندی کيښودی او وئی ويل: په خدای (ج) قسم چی دابن حنتمه (يعنی عمر فاروق (رض) دا ګومان غلط ؤچی بنومخزوم شهادت ګټل نه غواړی ځينو مؤرخينو ليکلی دی چی حضرت عکرمه (رض) دځنکدن په وخت کښی اوبه وغوښتلی يوسړی ورته په منډه اوبه راوړلی مګر کله چی ئی اوبه خولی ته ورنږدی کړی په څنګ کښی ئی يو بل زخمی اوبه وغوښتلی عکرمه (رض) وويل: زما دغه وروربه ترما ډير تږی وی هغه ته ئی ورکړی دهغه څنګ ته بل تږی زخمی پروت ؤ هغه ته ئی وبخښلی او هغه بل ته اوبل ته ترڅو چی اوه کسان تږی وچی شونډی له دنيانه رخصت سول اوداسلام دمدرسی شاګردانو ته ئی دادرس ورکړ چی مسلمان بايد دځنکدن په وخت کښی هم دايثار روحيه ولری. (رضی الله عنه)

## حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه

حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) دقريشو دقبيلی دبنوزهره له کورنی څخه اوپه پنځم پښت کلاب بن مره کښی دهغه نسبی لړۍ له سرور کائنات (ص) سره يوځای کيږی، له عام الفيل نه لس، په بل روايت دولس کاله وروسته په يوه تاجره اوشتمنه کورنی کښی زيږيدلی ؤ.

خو کله چی په محمدی بعثت سره دمکی په تږمی مشرك چاپيريال کښی دتوحيد لمر راوخوت حضرت عبدالرحمن (رض) پداسی شرايطو کښی دسرور

کائنات پـه لاس کـښې دبیعت لاس کیښودچی ډیر لږکسان پـه اسلام مشرف سوی وه او لاپه دار ارقم کښې رسول کریم (ص) دیره نه وه جوړه کړی چی دا وخت دمؤمنانو لپاره دمصیبتونو اوکړاوونو خورا تریخ دورؤ مگر څنگه چی عبدالرحمن بن عوف (رض) ته الله (ج) او دالله رسول له خپله ځانه، له خپل مور پلار اودنیوی شتمنی هرڅه نه گران ؤ تعذیبونو اومحرومیتونو ته یی غاړه کیښوده او داسلام پرلاره روان سو.

عبدالرحمن بن عوف (رض) له عشره مبشره ؤڅخه یوتن ؤیعنی یو لـه هغـو لسو کسانو څخه ؤچی پیغمبر (ص) پخپله ژبه په همدی دنیا کښی دجنت زیری ورکړی ؤ دظالمو مشرانوله لامله چی کله پرمؤمنانو باندی ژوند له حده زیات تریخ سونو دبعثمت په پنځم کال کښی سرور کائنات (ص) ځینو صحابه ؤ ته دحبشی په لوری دهجرت اجازه وکړه چی عبدالرحمن بن عوف (رض) هم پکښی شامل ؤ.

کله چی دبعثت په (۱۳) کال مسلمانانوته دمدینی په لوری دهجرت اجازه وسوه نوحضرت عبدالرحمن (رض) هم له مکی نه مدینی منوری ته ولاړی هلتـه پـه اقتصادی لحاظ مهاجر مسلمانان لـه ډیری تنگسی سره مخامخ وه مگر عبدالرحمن بن عوف (رض) خپل پلرنی کسب یعنی تجارت ته ملاوتړله اودهغه په تجارتی کاروبار کښی الله تعالی دومره برکت اچولی ؤچی هغه پخپله وائی که مابه تیږه هم راپورته کوله داسی به می گڼله چی ترهغی لاندی بـه سپین یا سره زر په لاس راشی.

دهجرت په دویم کال درمضان په میاشت کښی چی کله داسلام لومړنی غزا یعنی دبدر په میدان کښی دحق او باطل معرکه مینځ ته راغله نو حضرت عبدالرحمن (رض) په ډیره گرمه ولوله پکښی برخه واخیستله، سائب بـن ابی رفاعه غوندی غټ کافران دهغه په لاس جهنم ته ولیږل سول.

پـه همدی جگړه کښی دعبدالرحمن بـن عـوف (رض) ترخنگ دوه هلکـان ودریدل اوپوښتنه یی ورنه وکړه: تره ابوجهل موږ ته راوښیه. ده ورنه پوښتنه وکړه: څه یی کوئ؟ هغوی جواب ورکړ: موږ قصد کړیدی چی یابه هغه ووژنو

اویا به موړ شهیدان کیږو. ابوجهل یې چې ورته وښودی هغوی دبازانو په څیر ورباندی غوټه وکړه اوهغه یې دجهنم کندی ته وغورځوه دغه دوه هلکان چې عبدالرحمن بن عوف (رض) دهغوی په مینځ کښې ولاړ ؤ دعفراء زامن معاذ اومعوذ وه.

داحد په تاریخی غزا کښې هم عبدالرحمن بن عوف (رض) برخوال ؤ، د جنګ په دوران کښې رسول اکرم (ص) له حضرت حارث بن صمه انصاری نه پوښتنه وکړه چې: عبدالرحمن بن عوف دی لیدلی دی؟

هغه عرض وکی چې دغره په خوا کښې مشرکانو محاصره کړی ؤ سرور کائنات (ص) وفرمایل: پرشتی دعبدالرحمن ساتنه کوی حضرت حارث چې کله دعبدالرحمن خواته ورغی ویې لیدل چې دحضرت عبدالرحمن بن عوف په مخ کښې اوه سرې پراته دی پوښتنه یې وکړه: ایا دا ټول تا وژلی دی؟

عبدالرحمن (رض) جواب ورکړ: دادری تنه ماوژلی دی خوددی څلوروقاتل راته ندی معلوم ددی خبری په اوریدو سره حضرت حارث وویل: درسول الله (ص) خبره بیخی صحیح وه.

داحزاب په جګړه کښې هم حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) پوره میړانه وښودله اوپه شپږم هجری کال کښې رسول الله (ص) دومة الجندل ته نژدی بنو کلب قبیلی ته اوه سوه کسیز لښکر ولیږی اودهغه قیادت یې حضرت عبد الرحمن (رض) ته وسپاری.

له روانیدو نه مخکښې پیغمبر (ص) پخپل مبارك لاس دهغه پرسر باندی تور رنګ پګړۍ وتړله اودخټ خواته یې یوڅپك شمله ورته پریښودله. بیایې ورته وفرمایل: دالله (ج) په لار کښې دجهاد لپاره ولاړ شه، دالله (ج) له حکمه دسرکښې کوونکو سره وجنګیږه، خوپام کوه چې خیانت ونکړی، ددښمن دوژل سویو کسانو جسدونه مثله نکړی یعنی شونډی، پوزه، غوږونه اونور اندامونه یې غوڅ نکړی اوماشومان به نه وژنی دا دخدای (ج) امردی اودهغه درسول سیرت دی.

عبدالرحمن بن عوف (ج) له دومة الجندل نه وروسته دمکی په فتح او د

تبوك پـه جگړه اونـورو غزاګـانو کـښې هـم درسـول الله (ص) سـره ملګـرى ؤ د مسلمانانو دلومړى حج په سفر کښې چې دهجرت په نهم کال د حضرت ابوبکر صديق (رض) ترقيادت لاندى درى سوه مسلمانان مکى معظمى تـه ولاړل پـدى قافله کښې هم حضرت عبدالرحمن بن عـوف شامل ؤ همدارنګه دحجة الوداع په سفر کښې دسرور کائنات دملګرتيا سعادت ورپه برخه سوى ؤ.

درسـول اکـرم (ص) لـه رحلت نـه وروسـته هـم عبـدالرحمن بـن عـوف (رض) اسلامى جهاد ته ادامه ورکړه اودعراق اوشام په جګړه کښې يې شرکت درلود.

حضرت عبدالرحمن (رض) نه يوازى دبدنى جهاد لـه سعادت نـه برخوردار ؤ بلکې دمجاهدينو دتجهيز په لاره کښې يې پنډونه او مال مصرفوى لکه چې يوځل يې پنځوس زره ديناره او زر اسونه دخداى (ج) پـه لاره کـښې وقـف کړل، همدارنګه يې له وفـات نـه مخکـښې بـدرى صـحابه ؤ تـه دفـى نفر لپـاره دڅلور سوه دينارو وصيت وکى چې پـدى وخت کـښې لـه هغـو څخـه تقريبا درى سـوه کسان ژوندى وه دازواجو مطهراتو لپاره يې يو بـاغ وقف کړ چې هغـه بيا پـه څلور لاکو درهمو وپلورل سو.

عمر فاروق (رض) له وفات نـه مخکـښې دخلګو پـه غوښتنه وصيت وکـى چې له مانه وروسـته لـه دغـو شپږ تنو څخه درايـو پـه اکثريت يـو خپـل خليفـه وټاکى حضرت على، حضرت عثمـان، حضرت طلحه، حضرت زبيـر، حضرت سعدبن ابى وقاص اوحضرت عبدالرحمن بن عـوف (رض) ځکـه چې لـه دوى نـه دالله رسول تروروستى وخت پـورى راضـى ؤ دحـضرت عثمـان (رض) تروختـه پورى حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) ددريو واړو خلفاؤ په دورکښې خپلـه هيڅ نوع همکارى ونه سپموله اودژوند په پاى کښې يې ګوښه ناسته غوره کړه ترڅوچې پـه (۳۱) هجرى کال کـښې د (۷۵) کلونـو پـه عمريـى داجـل داعـى تـه لبيك وويل حضرت اميرالمؤمنين عثمان (رض) ورباندى دجنازى لمونځ ادا کـړ او په جنة البقيع کښې دفن کړاى سو. (رضى الله عنه)

## حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه

حضرت عمار بن ياسر (رض) ديمن قحطان قبيلى ته منسوب اودبعثت پـه

لومړيو وختونو كښي په اسلام مشرف سوي ؤ نه يوازي عمار (رض) بلكې دهغه پلار ياسر بن عامر بن مالك او دهغه مور حضرت سميه بنت خياط هم په همغه زمانه كښي دايمان له قيمتي خزانې څخه برخوردار سوي وه دغې بيكسه بيوطنه كورنى په مكه كښي دغلامي ژوند تيروى دوى چي كله دحق دعوت ته لبيك ووايه دادحقپالونكو لپاره دمشركانو دظلم په تناره كښي دسوځيدو ورځې وى حتى هغه خلگ چي په مكه كښي دقومي نفوذ اورسوخ خاوندان وه داسلام پخاطر له سختو كړاوونو سره مخامخ وه نوښكاره خبره ده چي دياسر (رض) كورنى خوبه داورپه ژرنده اوړه كيدله كه څه هم حضرت ياسر (رض) او دهغه ميرمن سميه دزوړښت په وخت كښي اوډير كمزوري وه خو له دې سره سره يې داټول كړاوونه په ورين تندى وزغمل اوپه عقيده كښي يې يوه ذره تزلزل رانغى، په حضرت عمار اودهغه په ورور عبدالله باندى هم هره ورځ دكفارو دظلم له لاسه دمحشر ورځ وه، داوسپنى زغرى به يې په واغوستلى او دمكې په سوځوونكو شگو كښي به يې څملول او دهغو بربنډو اړخونو ته داور دسكروټو داغونه وركول دمشركانو ورځنى شغل ؤ. بلاذرى (رح) دحضرت ام هانئ روايت نقل كړيدى چي يوه ورځ پداسې حال كښي چي دغو څلورو واړو پرديسو بيكسو مظلومانو دشيطان دپيروانو له لاسه غير انساتي تعذيبونه زغمل چي رسول الله (ص) پرلاره تيريدى اوپخپلو سترگويې دغه زړه دردوونكې صحنه وليدله، زړه يې ډير زيات وځوريدى اوويې فرمايل: (اى دياسر كورنى! صبر وكړى، ستاسو لپاره دجنت وعده ده).

سپين ږيرى حضرت ياسر (رض) خو دظلمونو پدى لړ كښي خپل ژوند خداى (ج) ته نذرانه كړ همدارنگه حضرت سميه (ض) دابوجهل دبرچې په گوزار شهيده سوه چي زياترو سيرت ليكونكو ددوى مبارك نومونه دحق دلارى دشهيدانو دفهرست په لومړي سركښي نيولي دي.

وروسې چي كله عبدالله بن ياسر (رض) هم شهيد كړاى سو نو حضرت عمار (رض) دخپلې كورنى دغړو دبيلتانه په اوركښي ستى سو اودخپلې بيكسي فريادېي دالله رسول ته وكى ويې ويل: يارسول الله! نور خو ظلمونه

انتهائی حدته ورسیدل، زه څه وکړم؟ پیغبر (ص) هغه ته دصبر توصیه وکړه لاس په دعا سو ویي فرمایل: (یاالله! دیاسر کورنی ته له دوزخ نه نجات ورکړه.

ابن سعد (رح) وائی چی یوځل یوسړی دحضرت عمار شا بربنډه ولیدله چی ټوله خاپ خاپ وه پوښتنه یی وکړه: داڅه دی؟ هغه جواب ورکړ چی داد هغو تعذیبونو نښی دی چی دمکی په سروشګو کښی به ماته راکول کیدل.

یوځل مشرکانو حضرت عمار (رض) داور په سکروټو باندی څملولی ؤ چی پدی وخت کښی رسول الله (ص) راغی، دهغه پرسریی مبارك لاس راتیر کړئ ویی فرمایل: ای اوره! پرعمار باندی داسی یخ شه لکه چی پر ابراهیم (ع) باندی یخ سوی وی.

حضرت عمار (رض) په مکه کښی ټول وختونه پداسی تعذیبونو کښی تیر کړل چی دهغو په اوریدلو سره دانسان غوټی زیږه شی، کله چی درسول اکرم (ص) لخوا صحابه ؤ ته دمدینی په لوری دهجرت اجازه وسوه نو حضرت عمار (رض) دصحیح بخاری دروایت له مخی دحضرت ابوسلمه عبدالله بن عبدالاسد مخزومی، حضرت عامر بن ربیعه، حضرت لیلی بنت ابی حشمه، حضرت سعد بن ابی وقاص، حضرت بلال بن رباح په ملګرتیا مدینی منوری ته هجرت وکی دا هجرت دپیغمبر (ص) له هجرت نه دوه میاشتی دمخه ؤ.

کله چی پخپله سرور کائنات (ص) هم هجرت وکی اودلومړی ځل لپاره یی دقباء دمسجد په تعمیر او ودانولو لاس پوری کړ نو ددغه مبارك تاریخی مسجد زیاتره برخه کار دحضرت عمار (رض) په لاس سر ته ورسیدی په غمونو او مصیبتونو کښی لوی سوی. عمار (رض) دحق دشمعی یوممتاز پتنګ ؤ، د رسول الله (ص) له هغه سره ډیره زیاته مینه وه له بدر نه واخله تر تبوك پوری په ټولو غزاګانو کښی ددواړو جهانو له سردار (ص) سره ملګری ؤ.

ابن عساکر یو روایت رانقل کړیدی چی یوځل رسول الله (ص) دهغه په باب وفرمایل: څوك چی عمارته بدوایی الله (ج) هغه ته بدوائی، څوك چی عمارته غوسه کیږی، هغه دالله (ج) په قهراخته کیږی اوڅوك چی دعمار تحقیر کوی هغه دالله (ج) لخوا تحقیریږی.

دپیغمبر (ص) له رحلت نه وروسته دحضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دورکښې چې کله دارتداد فتنه راولاړه سوه حضرت عمار (رض) له مرتدانو سره دجګړې په هرمحاذکښې په پوره میړانه برخه واخیستله له حضرت عبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی چې دمسیلمه کذاب پرخلاف دیمامې په جنګ کښې دهغه یو غوږ غوڅ سو خو هغه هیڅ پروا ونکړه او جنګ ته یې ادامه ورکړه، پدی جګړه کښې پرمسلمانانو لږڅه سختي راغله او وارخطا غوندی ښکاریدل حضرت عمار (رض) پریوجګ ځای باندې ودریدی اوغږ یې وکړ: ای مسلمانانو ایا تاسې له جنت نه تښتې؟

زه عمار بن یاسریم راشئ زما خواته. دهغه ددې نعرې په اوریدلو د مسلمانانو حو صلې لوړې سوې، په یواتفاق سره یې پردښمن حمله وکړه اوالله تعالی فتح اوبری ورپه برخه کړ.

دیمامې جنګ په (۱۱) هجری کال کښې واقع سوی ؤ، دا وخت دحضرت عمار (رض) عمر د (**۲۵**) کلونو په خواوشا کې ؤخو دهغه همت له زلمیانو څخه هم زیات ؤ، امیرالمو منین عمرفاروق (رض) به دحضرت عمار (رض) ډیراحترام کوی یوځل دقریشو سرداران حضرت ابو سفیان بن حرب، حضرت حارث بن هشام اوحضرت سهیل بن عمرو له عمرفاروق (رض) سره دلیدنې لپاره ورغلل، تصادفاپه همدې وخت کښې په همدې غرض حضرت عمار (رض) حضرت بلال (رض) اوحضرت صهیب (رض) هم حاضر سول، امیر المؤمنین ته چې خبر ورکړ سو نو هغه دملاقات نوبت لومړی حضرت عمار (رض) حضرت بلال (رض) او حضرت صهیب (رض) ته ورکړ او ورپسې دقریشو سردارانو ته حضرت ابو سفیان (رض) شکایت وکی چې: غلامانو ته سمدستې دملاقات اجازه ورکول کیږې اوموږ چې دقوم مشران یو، ناست یو انتظار باسو.

امیر المؤمنین وفرمایل: ددې خبرې جواب تاسې له خپل وجدان نه وغواړې داسلام بلنه تاسې اودغو خلګو ته په یو وخت کښې ورسیدله خودغه خلګ لتاسې نه وړاندې سول. په (۲۰) هجری کال کښې عمر فاروق (رض) حضرت عمار (رض) دکوفې والی مقررکړ اودکوفې خلګو ته یې فرمان ولیږی

چې: زه تاسې ته عماربن ياسر دامير اوابن مسعود دوزير اومعلم په حيث درليږم. دادواړه درسول الله (ص) خواږه ملگرى اودبدر مجاهدين دى. ددوى پيروى وكړى اوامرونه يې ومنئ. حضرت عمار بن ياسر (رض) دغه دحقى لارى عاشق له دى امله چې په رسول الله (ص) باندى ډير گران ؤ ځكه خوراشدينو خلفاؤ هم دهغه بې حده احترام كوى. يوه ورځ پداسى حال كښې درسول كريم (ص) كورته ورغى چې على كرم الله وجهه هم ناست ؤ، دعمار (رض) په ليدلو دسرور كائنات (ص) په مباركه څيره كښې دخوښې نمونى وځليدى او په ډيره مينه يې وفرمايل: (مرحبا بالطيب المطيب) ستړى مشى اى پاك او سپيڅلى سوى انسانه! حضرت عمار (رض) كه له يوى خوا كلونه كلونه دحق په لاركښې كړاونه تيركړ، اوبيايې له هجرت نه وروسته ژو ند په جهادونو كښې مصرف كړ خو له بلى خواله نبوى صحبت نه په استفادى سره دقرآن او حديث پياوړى عالم هم ؤ دالله (ج) دكتاب او نبوى سنت په رڼا كښې يې ژوند وكى، نه ددنيا لپاره ژوند بلكې داخرت دنه ختميدونكى ورځى لپاره ژوند كله چې شهيدسو على كرم الله وجهه دهغه په وينو لړلى مبارك جسد ترڅنګ په لمدو سترگو ودريدى ويې ويل: كمه ورځ چې عمار ايمان راوړى الله (ج) ورباندى رحم وكى دشهادت په ورځ الله (ج) ور باندى رحم وكى اودقيامت په ورځ به الله (ج)ورباندى رحم وكړى. ماعمارپه هغه وخت كښې درسول الله (ص) ترڅنګ ليدلى ؤ چې صرف څلورو ياپنځو صحابه ؤخپل اسلام اعلان كړى ؤ. (رضى الله عنه)

## حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ

حضرت عبدالله بن رواحه (رض) دانصارو دخزرج قبيلى د بنو حارث له كورنى څخه اودخپلى قبيلى له بارسوخه شخصيتونو څخه ؤله نورو څخه يو خاص امتيازيى داؤ چې نامتو ليكوال اوشاعرؤ دبعثت په ديارلسم كال په بيعت عقبه كبيره كښې شريك او دبنو حارث قبيلى استازى ؤله بيعت عقبه اولى نه وروسته په اسلام مشرف سوى اودعقبى په دوهم بيعت كښې يې دالله (ج) له رسول سره دهرډول قربانى اوسرښندنى قصد كړى وو.

مدينى ته له نبوى هجرت نه وروسته چې كله دالله (ج) ددين داعتلاء لپاره

دجهادونو لړی پیل سوه نوحضرت عبدالله بن رواحه نه یوازی په توری سره دخدای (ج) ددښمنانو پرخلاف په هرمحاذ کښې ولاړؤ بلکی دهغه ژبې اوقلم هم دشیطان لښکری له وارخطائی سره مخامخ کړی وی.

حافظ ابن حجر عسقلانی پخپل کتاب (الاصابه) کښې لیکلی دی چی حضرت عبدالله بن رواحه (رض) به په هره غزاکښې ترټولو دمخه روان ؤ او د بیرته ستنیدو په وخت کښې به ترټولو شاته ؤله بدرنه ترمؤته پوری هیڅ داسی غزانه وه چی عبدالله بن رواحه (رض) پکښې شریك نه ؤ د (۷) هجری کال دذو القعدی په دویمه رسول اکرم (ص) دعمری دقضایی لپاره مکی ته روان سو، پدی سفر هم عبدالله بن رواحه (رض) دسرورعالم (ص) سره ملګری ؤ کله چی مکی ته داخل سول دپیغمبر (ص) داوښې ترڅیری یی نیولی ؤ اوپه ډیر جوش او ولولی سره یی پدی مفهوم شعر وایه :

ای کافرانو! دپیغمبر (ص) لاره خوشی کړی ځکه چی له ده سره دخیر ټولی زیرمی دی، موږ دقرآن په تاویل سره تاسی وهلی یاست اودقرآن په تنزیل سره مو پرتاسی ګوزار کړیدی، ای زما پروردګاره! زه درسول الله (ص) په ویناؤ باندی ایمان لرم.

دغه اشعارپه حضرت عمر فاروق (رض) باندی ښه ونه لګیدل حضرت عبدالله بن رواحه (رض) ته یی وویل: ته دالله (ج) په حرم کښې اودرسول الله (ص) په وړاندی دغه شعر وایې؟ مخکښې له دی چی عبدالله بن رواحه څه ووایی رسول کریم (ص) وفرمایل: پریږده عمره زمادی په هغه ذات قسم وی چی زما دروح واکمن دی، دعبدالله بن رواحه اشعار پر دښمنانو باندی دغشی اوتوری له ګوزارنه سخت لګیږی بیایی حضرت ابن رواحه ته وفرمایل چی دا وایه: (لا اله الا الله وحده ونصر عبده، واعز جنده، وهزم الاحزاب وحده) یعنی له الله نه پرته بل معبود نسته هغه یو دی دخپل بنده نصرت یی وکی، دهغه لښکر یی تقویه کړ اویوازی پخپله یی ددښمن لښکروته شکست ورکړ عبدالله (رض) دخپل قایدله امرسره سم ددغوالفاظو په ویلو شروع وکړه، ټولو صحابه ؤ ورسره په یواوازویل چی دمکی په فضا کښې یی انګازی کولی اوپرکافرانو

باندی هیبت پریوتلی ؤ.

رسول اکرم (ص) داتم هجری کال دجمادی الاولی په میاشت کښې دری زره کسیز لښکر درومیانو دمقابلی لپاره دحضرت زیدبن حارثه (رض) ترقیادت لاندی ولیږی، دلښکر درخصتیدو په وخت کښې وفرمایل که زید شهیدسو نو قیادت به جعفر کوی اوکه هغه شهید سو نو بیابه دلښکر قیادت دعبدالله بن رواحه په غاړه وی پدی وخت کښې یو یهودی هم موجود ؤ دپیغمبر (ص) دخبرو په اوریدو سره یی وویل: دادری تنه به ارومرو وژل کیږی ځکه چی دپخوانیو پیغمبرانو ددغسی ویناؤ نتیجه به همدغسی راوتله دری واړو صحابه ؤ دهغه په جواب کی وویل: پیغمبر(ص) ریښتونی دی، که موږ ته په تقدیر کښې شهادت لیکل سوی وی نوموږ به ځومره خوش نصیبه یو.

پیغمبر (ص) یوسپین بیرغ حضرت زیدته ورکړ اوله لښکرسره یی دمدینی څخه دباندی تشریف یوؤړ دعبدالله بن رواحه (رض) درخصتیدو په وخت کښې پدی خبره پوره باورؤ چی بیابه یی پدی دنیا کښې له دغوخلګو سره ملاقات ونشی کله چی خلګو دخدای پامانی په وخت کښې په عافیت سره دبیرته راستنیدو دعا ورته وکړه خو حضرت عبدالله بن رواحه (رض) داشعر ووایه دشعر مضمون: زه له الله ج نه دخپلو ګناهونو مغفرت غواړم او دتوری داسی سخت ګوزارچی جذبه سره کړی اوفواره وهونکی وینی وبهوی یا دبرچی داسی وارچی کولمی او ځیګر راوباسی ترڅو زماپر مزار باندی تیریدونکی خلګ ووایی چی الله (ج) دغه مجاهد ته هدایت وکی اوخپل هدف ته ورسیدی له پیغمبر (ص) سره یی خدای پامانی کوله دعبدالله بن رواحه (رض) زړه راډك سو اوبی اختیاره یی پدی مضمون شعر ووایه: دوروستی ځل لپاره پرهغه چا سلام چی دخرماؤ ترونو لاندی می رخصت کړ، په مشایعت کوونکو کښې ترټولو غوره اوله بل هرچانه ښه دوست دی. شرحبیل بن عمرو غساتی ته چی داسلامی لښکر خبر ورسیدی خپل لښکریی هم تیارسی کړ اوله هرقل نه یی هم مرسته وغوښتله چی یولك پوځیان یی ورته ولیږل چی پدی ترتیب د مسلمانانو شمیر ددښمن دپوځونو دشمیر په مقابل کښې هیڅ دیادونی وړنه ؤ

ځینو صحابه ؤ مشوره وړاندی کړه چی رسول اکرم (ص) ته دی رپورټ ولیږل شی چی موږ څه وکړو؟ ددی خبری په اوریدلو حضرت عبدالله بن رواحه (رض) وفرمایل: (ای خلګو! تاسی له کمی خبری نه بیریږی ستاسی هدف خودحق په لاره کښی خپل سرونه قربانول دی مسلمان هیڅکله دمادی قوت اودپوځ دشمیر په زیاتوالی نه جنګیږی، بلکی یوازی دهغه دین پخاطر جنګیږی چی ده ته یی عزت وربخښلی دی، مخ په وړاندی ولاړ شی، له دوو هدفونو څخه یو ترلاسه کړی یافتح یاشهادت) دغی دجذبی وینا دټولو غازیانو احساس را ولړزوی دشهادت په مینه یی میدان ته ودانګل درومیانوله طاغوتی هیبت ناك طاقت سره ترهغه وجنګیدل چی درسول اکرم (ص) دپیشګوئی سره سم حضرت زید اوحضرت جعفر رضی الله عنهما یوپه بل پسی شهیدان اودقیادت بیرغ حضرت عبدالله بن رواحه (رض) پورته کړ حضرت عبدالله (رض) دری ورځی خواړه نه وه څکلی، له لوږی نه بیتابه ؤ چا ورته غوښه په مخ کښی کیښودله خو لومړنی ګوله یی په خوله کښی وه چی دحضرت جعفر (رض) دشهادت خبر ورته ورسیدی دخولی ګوله یی تیره کړه اوخپل نفس ته په خطاب یی وویل: ای نفسه جعفرله دنیانه رخصت سو، خوته لاپه فانی دنیا کښی مشغول یی، پاڅیده توره یی واخیستله اودجګړی صف ته دداخیلدو په وخت کښی یی پدی مضمون شعر ووایه: ای نفسه که ونه وژل شی بیابه هم مری، دمرګ حمام ګرم کړای سویدی، څه چی غواړی درکول کیږی که ددغو شهیدانو غوندی کار دی وکی نوهدایت دی وموندی ورپسی یی دګرمی معرکی په وخت کښی پداسی حال کښی چی زخمی سوی هم ؤ بیاپدی مضمون شعر ووایه:

ای نفسه! زه قسم خورم چی په میدان کښی به جنګیږی که خوښ یی که ناخوښه. حضرت عبدالله بن رواحه (رض) سره له دی چی زخمی سوی ؤ په ډیره میړانه یی توره اونیزه چلوله چی په پای کښی ددښمن یوعسکر په سینه کښی په برچی باندی وواهه، له سینی څخه یی وینو فواره وکړه، هغه یی په لاس کښی راواخیستلی او په خپل مخ یی ومښلی بیایی مسلمانانو ته وویل: دخپل ورور غوښه له دښمن نه وساتی، په همدی حالت کښی یی پاك روح

علیین ته پرواز وکی.

**بناکردند خوش رسمی بخاک وخون غلطیدن خدا رحمت کند این عاشقان پاک طینت را**

عبدالله بن رواحه (رض) چی کله دمؤته خواته روانیدی ځینی سیرت لیکونکی وائی چی هغه وژړل خلګو دژړا دعلت پوښتنه ورنه وکړه ویی ویل: زما دژړا سبب نه له دنیا سره مینه ده اونه له تاسی نه جدا کیدل بلکی داخرت غم می ژړوی بیایی دامبارك ایت ولوست چی: (وان منکم الا واردها کان علی ربك حتما مقضیا) لتاسی نه به هریو ارومرو په جهنم باندی تیریدونکی وی دا ستا درب حتمی فیصله ده پدی ترتیب دحق دشمعی دغه پتنګ اوداسلامی لښکر قهرمان قاید داسلام دسرلوړی په لاره کښی له اوږدو جهادونو څخه وروسته دشهادت جام نوش کړ. (رضی الله عنه)

## حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه

له رسول اکرم (ص) سره دحضرت عبدالله بن عباس (رض) دقرابت او خپلولی دوه پیوندونه وه. یو داچی درسول الله (ص) دتره زوی یعنی دحضرت عباس بن عبدالمطلب زوی ؤ اوبل داچی دحضرت عبدالله مورام الفضل لبابه (رض) اوام المؤمنین حضرت میمونه سکنی خویندی وی حضرت عبدالله بن عباس (رض) له نبوی هجرت نه دری کاله مخکښی هغه وخت په مکه کښی پیداسو چی بنوهاشم دقریشو دلاسه په شعب ابی طالب کښی محاصره وه.

عباس (رض) بن عبدالمطلب چی کله مدینی‌منوری ته دمکی دفتح په کال هجرت کوی په دی وخت کښی دحضرت عبدالله (رض) عمر دیولس کالو په خواوشا کښی ؤ درسول اکرم (ص) کورته به له دی امله ازادانه ورتلی چی هلته یی دمور خور (خاله) موجوده وه اوبله داچی ددواړو جهانو دسردار ( ص) ډیره زیاته مینه ورسره وه دډیر ذکاوت، پوهی اوښی حافظی خاوندؤ. درسول الله (ص) ویناوی به یی په غور سره اوریدلی او دهغه کړه وړه یی تعقیبول.

یوه شپه رسول الله (ص) دلمانځه لپاره ودریدی ترشایی حضرت عبدالله بن عباس (رض) هم ودریدی پیغمبر (ص) له لاسه ونیوی، له ځانه سره برابر یی ودروی، خوځنګه چی پیغمبر (ص) لمونځ شروع کړ هغه بیرته شاته ورڅخه ولاړ

اوپخپل ځای کښې ودريدی لـه سلام اړولو نه وروسته رسول الله (ص) ترينه پوښتنه وکړه: ما خوته خپل څنګ ته ودرولی بيا ولی شاته سوی؟
په ډير ادب سره يې عرض وکې: يارسول الله! څوك کولای شي چې دالله (ج) له رسول سره برابر ودريږي لمونځ ادا کړي ايا زه او پيغمبر برابر ودريږو او لمونځ وکړو؟ دازما لـه طاقت نـه پورتـه خبره ده). رسول الله (ص) دهغـه ددی جواب پـه اوريدلو سره ډير زيات خوشاله سو اودخدای (ج) دربارته لاس پـه دعاسو چې: (پروردګاره! دغه هلك تـه ډير زيات علم ورکړه اولـه دی نـه زيات فهم اوفراست ورپه برخه کړه).
درسول الله (ص) ددعا اودخدای (ج) دورکړي پوهي اوذکاوت برکت ؤ چې حضرت عبدالله بن عباس (رض) دالحبر، البحر، ترجمان القران اوامام المفسرين په نومونو شهرت وموندی حافظ ابن حجرعسقلانی (رح) په الاصابه کښې ليکلی دی چې يوه ورځ عبدالله (رض) لـه نبوی مجلس نه راغی اوخپل پلارتـه يې وويل: مانن لـه رسول الله (ص) سره يوسړی وليدی خوومی نـه پيژندی کاشکی دهغه په باب راتـه معلومات وای عباس (رض) چې دعبدالله خبره رسول الله (ص) تـه واوروله نو پيغمبر (ص) عبدالله (رض) راوغوښت پـه غيږ کښې يې ونيوی او پر سريې ورتـه دميني لاس راتير کړي دعايی وکړه: (پروردګاره پده باندی خپل برکتونه نازل کړه اودی دعلم درښا خپرولو وسيله وګرځوه).
ابن عباس (رض) ديارلس کلن ؤ چې رسول اکرم (ص) لـه دنيانـه رحلت وکی، څنګه چې دده زياتره وخت ددواړو جهانو دسردار (ص) پـه کورکښې او دهغه په صحبت کښې تيرسوی ؤ نبوی سيرت يې په ذهن کښې نقش ؤدصحابه ؤ لويانو به دهغه احترام ساتی اوديو لوی شخصيت پـه نظريې ورتـه کتل پـه تيره بيا عمرفاروق (رض) دهغه روزنی اوپالنی ته زياته پاملرنه کوله په صحيح بخاری کښې پخپله له ابن عباس (رض) څخه روايت رانقل سويدی ويلی يې دی چې: حضرت عمر (رض) به زه دبدر له صحابه ؤسره کښينولم.
يوځل ځينو مشرانو صحابه ؤپه تعجب سره حضرت عمر (رض) تـه وويل:

امیر المؤمنین! ته دغه هلك له موږ سره په مجلس کښې کښېنوې پداسې حال کښې چې زموږ زامن دده همزولي دي؟

فاروق اعظم (رض) وفرمایل: هو داهغه شخصیت دی چې تاسې ته هم دده لیاقت ښکاره دی همدارنګه په صحیح بخاري کښې راغلي دي چې کله ناکله به دعمر فاروق (رض) په مجلس کښې داسې مسئلې پیښېدلې چې ابن عباس (رض) به غوښتل دهغو جواب ورکړي مګر دلویانو صحابهٔ په وړاندې رغیدل به ورته عار برېښېدل امیر المؤمنین به دهغه دحوصلې لوړولو لپاره ورته ویل: (ابن عباس! علم دعمر په کموالي اوزیاتوالي پورې اړه نلري، ته خپل ځان وړوکی مه ګڼه کمه خبره چې ویل غواړې یادې په زړه کښې څه در ګرځي هغه په زغرده بیانوه).

دعمرفاروق (رض) اوعثمان ذي النورین (رض) دخلافت په دورکښې زلمی ابن عباس (رض) په ځینو جهادي سفرونو کښې هم ګډون وکی اودعلم درڅنګ په جهاد کښې دشریکیدو سعادت هم ورپه برخه سو، دحضرت علي کرم الله وجهه دخلافت په دور کښې ابن عباس (رض) دبصرې والي مقرر کړل سو او وروسته بیا دایران حکمراني هم وروسپارل سوه او پداسې حال کښې چې حالات ډیر نازك وه خو بیاهم ابن عباس (رض) خپل مسئولیت په ښه توګه ترسره کړ، په کرمان فارس او دایران په نورو ولایتونو کښې یې باغي قوتونه وټکول او په بشپړه توکه یې امنیت ټینګ کړ.

امام المفسرین حضرت ابن عباس (رض) دعلم اوفضیلت داسې سمندر ؤ چې صحابه کرامو، تابعینو، تبع تابعینو او ټولو سلف علماؤ به دهغه دپوهې، ذکاوت اوذهانت بې حده ستاینه کوله.

حضرت علي کرم الله وجهه به ویل: ابن عباس چې دقرآن تفسیر کوي نو داسې معلومېږي لکه چې دشفافو پردو ترشا غیبي شیان ویني دعبدالله بن مسعود (رض) ویناده چې ابن عباس (رض) دقرآن بهترین ترجمان دی، حضرت عبدالله بن عمر (رض) به ویل: څه چې پرمحمد (ص) باندې نازل سویدي په محمدي امت کښې ترټولو زیات عبدالله بن عباس (رض) وربادي ښه پوهیږي.

دحضرت ابی بن کعب انصاری (رض) زوی محمد (رض) روایت کوی چی یوه ورځ عبدالله بن عباس (رض) زما له پلارسره ناست ؤ کله چی پاڅیدی روان سو نو زماپلار وفرمایل: یوه ورځ به داسړی ددی امت متبحر عالم وی. حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) ویلی دی: ماله ابن عباس نه زیات بل څوك دښه فهم، ښه درایت، زیات علم اوزیات حلم خاوند ندی لیدلی.

ابن عباس (رض) یوازی دقرآن اوحدیث ښه مفسر اوښه معبرنه بلکی په فقه، تاریخ، عربی لغت اوادب کښی یی هم لوی لاس درلود داسلامی نړیوال دولت له ګوټ ګوټ نه به خلګ ډلی ډلی ورته راتلل اوله هغه څخه به یی په بیلا بیلو علومو کښی معلومات ترلاسه کول.

له حضرت ابن عباس (رض) څخه (۲۶۶۰) حدیثونه روایت سویدی او د هغه تفسیر په تفاسیرو کښی خورا مهم مقام لری، په تفسیر، حدیث اواسلامی علومو کښی یی په زرګونو شاګردان روزلی دی چی په هریوه باندی یی اسلامی امت فخر کوی اوددی امت دلاری مشالونه دی.

دعمر وروستی وختونه یی په طایف کښی تیر کړل او په (۶۸) هجری کال کښی چی له (۶۸۷) میلادی سره سمون خوری وفات سو، محمد بن حنفیه (رح) یی دجنازی لمونځ ادا کړ اوامام المفسرین یی پداسی حال کښی خاوروته وسپاری چی په خپله خطبه کښی یی وفرمایل: (قسم په خدای دی نن ددی امت ډیر لوی عالم له دنیا نه رخصت سو. (رضی الله عنه)

## حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما

فقیه الامة حضرت عبدالله بن عمر (رض) دبعثت په دویم کال کښی زیږیدلی اوکله چی دهغه پلار حضرت عمر فاروق (رض) دبعثت په شپږم کال په اسلام مشرف سو پدی وخت کښی دعبدالله بن عمر (رض) عمر تقریبا دپنځو کالو ؤ طبیعی ده کله چی هغه ځان پیژندلی نوله اسلام نه پرته یی بل مذهب اومسلك ندی لیدلی اوله ابتداء څخه داسلام په پاکه لمن کښی رالوی سویدی. عمر فاروق (رض) چی دبعثت په دیارلسم کال مدینی ته هجرت کوی عبدالله (رض) هم ورسره ؤ او پدی وخت کښی یوولس کلن ؤ دبدر اواحد په غزاګانو کښی

حضرت عبدالله بن عمر (رض) لـه دی املـه برخـه نـده اخیستی چی عمر یی لـه پنځه لس کلنی څخه کم ؤ، اوکم عمره هلکانوتـه پـه جنگونـو کښی دشریکیدو اجازه نه ورکول کیده خوکمه لومړنی غزا چی پـه هغـی کښی عبدالله بـن عمـر (رض) برخـه واخیستله هغـه داحزاب غـزاوه، پـه شـپږم هجـری کـال دحدیبیی دصلحی په وخت کښی په هغه بیعت کښی موجودؤ چی الله تعـالی (ج) پـه هغـه کښی شریکیدنکو ته په څرگندو الفاظو کښی دخپلی رضا زیری ورکړ: (لقد رضـی الله عـن المـؤمنین اذ یبایعونـك تحـت الـشجرة) ای پیغمبره الله لـه هغـو مؤمنانو څخه راضی سو چی کله یی ترونی لاندی له تا سره بیعت کوی.

حضرت ابن عمر دخیبر، فتح، حنین، طـایف اوتبوك پـه غزاگـانو اودحجة الوداع په سفر کښی ددواړو جهانو دسردار (ص) سره ملگری ؤ.

په یولسم هجری کال کښی چی رسول اکرم (ص) رحلت وکـی دعبدالله بـن عمر (رض) دزړه خونه دغـم پـه سیند لاهو سوه اودومره خپـه ؤ چی لـه هغـه نـه وروسته یی بیاپه ټول عمر کښی نه کم کور جوړ کړ اونه کم بـاغ هروخت بـه یـی چی سرور عـالم (ص) پـه یادیدی بی اختیـاره بـه یـی لـه سترگو څخـه داوښكو باران اوریدی ابن عمر (رض) دخپل پلار فاروق اعظم (رض) دخلافت پـه زریـن دور کښی دایران، شام اومصر په فتوحاتوکښی په پوره میړانه برخه واخیستله دکمی رتبی له غوښتنی څخه پرته دیوعادی مجاهد په صفت له فـاروقی دورنـه وروسته هم ابن عمر (رض) په جهادونو کښی شریك سویدی ابن عمر (رض) کـه له یوی خوا دخدای (ج) دلاری یو غښتلی مجاهـد ؤ لـه بلـی خـوا دقـرآن اوسنت متبحر عـالم هم ؤ چی دصحابه ؤ ترمینځ یی ځانگړی علمـی مقـام درلـود او پـه تاریخ کښی دفقیه الامت لقب ورکړ سویدی دقرآن مجیدپه ایتونو کښی به یی عمیق فکر کوی په مؤطا امام مالك کښی راغلی دی چی یوازی دسورة بقره پـه مفاهیمو کښی یی څوارلس کاله فکـر کـوی. سره لـدی چی دحدیث پـه روایت کښی یی له ډیر زیات احتیاط څخه کار اخیست بیاهم له ابن عمـر (رض) څخه یو زر شپږسوه اودیرش (۱۶۳۰) حدیثونه روایت سویدی نه یـوازی هغـه نبـوی ملغلری دهغـه دلاری مـشال وی چی پـه مـستقیم ډول یـی دسرور عـالم (ص) لـه

خولی څخه اوریدلی وی بلکی دنورو په واسطه چی کم حدیثونه ورته رسیدل په هغو باندی یی هم په کلکه عمل کوی دهغه داستاذانوپه ډله کښی دحضرت ابوبکر صدیق (رض) عمر فاروق (رض) عثمان ذو النورین (رض) علی مرتضی (رض) ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه (رض) ام المؤ منین حضرت حفصه (رض) عبدالله بن مسعود (رض) بلال حبشی (رض) صهیب رومی (رض) زیدبن ثابت (رض) رافع بن خدیج (رض) غوندی جلیل القدر صحابه شامل دی اودهغه په شاګردانو کښی دسالم (رح) عبیدالله (رح) محمد (رح) نافع (رح) حفص (رح) عروه بن زبیر (رح) موسی بن طلحه (رح) ابو سلمه بن عبدالرحمن (رح) سعیدبن مسیب (رح) قاسم (رح) ابوبرده (رح) بن ابوموسی اشعری (رض) سعید بن یسار (رح) عکرمه (رض) مجاهد (رح) سعیدبن جبیر (رح) طاؤس (رح)، عطار ( رح) ابوالزبیر (رح) اوابی ملیکه (رح) غوندی لویومحدثینو اواسلامی فقهاؤ نومونه درج دی، ابن عمر (رض) دومره زیات ورته محبوب ؤ چی ابن سعد (رح) وایی: یووخت خلګو دادعاوکړه چی خدایه! ترڅوچی موږ ژوندی یو، ابن عمر ژوندی ولره چی موږ دهغه دعلم او فیض له چینی څخه سیراب اوسو نن له ده نه زیات له نبوی دورڅخه باخبره بل څوك نسته. له سرور کائنات (ص) سره یی دومره زیاته مینه وه چی دهغه دپاك نوم په یادیدلو به یی بی اختیاره ژړل اوبیسده کیدی به اوځینو خلګوبه پدغه رازوختونو کښی حتی لیونی ورته وایه، دنبوی سنتو دومره پابند ؤ چی قدم په قدم یی تعقیبول، چیری چی پیغمبر (ص) لمونځ اداکړی ؤ هلته به یی لمونځ کوی چیرته یی چی استراحت کړی ؤ هلته به یی استراحت کوی، ترکمی ونی لاندی یی چی دمه کړی وه ابن عمر (رض) به هغی ونی ته اوبه ورکولی چی وچه نشی اودسنت په پیروی به یی ترهغی لاندی استراحت کوی داخرت په یادبه یی پراندامونو لړزه راتله له یوی خوا دخدای دلاری مجاهدله بلی خوا قائم اللیل اودائم الصوم ؤ په ځینو وختونو کښی یی هره شپه یوځل دقرآن مجید ختم کوی دهرلمانځه لپاره به یی نوی نوی اودس کوی پخپل ژوند کښی یی شپیته حجونه او یوزر عمری وکړی ددنیا له رنګینیو اوشتمنی سره یی هیڅ مینه نه وه حضرت جابر بن عبدالله

انصاری (رض) به ویل: په موږکښې له ابن عمر (رض) څخه پرته بل داسی څوك نه وو چی ددنیا رنګینیو ځانته نه وی مایل کړی دهغه په دسترخوان به چی فقیر اومسکین نه ؤ ناست ډوډی یی نه خوړله له نیکانه خلکو سره یی ډیره مینه کوله یوځل دمدینی منوری په یوه اطرافی سیمه کښی دهغه مخ ته دسترخوان اوار سو، هاخوا ته یو شپون تیریدی، سلام یی واچوی، ابن عمر (رض) هغه ډوډۍ ته دعوت کړ، هغه معذرت وغوښت ویی ویل روژه می ده، ابن عمر (رض) وویل: په دومره ګرمی کښی روژه نیسی اوبیا رمه هم پیایی؟

بیایی وفرمایل: شپونکیه! دا پسونه پرموږ خرخ کړه، نغدی پیسی به هم درکړو اودروژه مات لپاره غوښه هم شپونکی عرض وکی: داپسونه زماندی زه غلام یم ابن عمر (رض) دهغه دتقوی دمعلومولو لپاره وویل: ستا بادار به څه وکی؟ شپون داسمان خواته ګوتی پورته ونیولی ویی ویل: این الله، این الله، (الله چیرته دی الله چیرته دی) بیاروان سومطلب یی داؤ که بادارمی نسته الله (ج) خوسته ابن عمر (رض) هغه پسونه اوشپون دواړه دهغه له باداره په بیعه واخیستل شپون یی ازاد کړ اوپسونه یی هم وروبخښل.

دهغه له حکیمانه اقوالو څخه یوڅه رانقل کوو هغه به ویل: ترټولو اسانه نیکی ورین تندی اوخوږی خبری دی علم ولټوی، که له دښمن سره وی هم دنورو دعیبونو دلټولو نه دمخه پرخپلو عیبونو نظرواچوی لکه څنګه چی خوږ شربت څیښئ همدغسی غصه وخوری دعلماؤ په ټولی کښی انسان هغه وخت حسابیدای شی چی له ځانه پرپورته باندی حسد ونکړی اوله ځانه کښته حقیر ونګڼی اوخپل علم خرخ نکړی دچاچی اخلاق خراب وی دهغه ایمان هم خراب دی که غواړی ګناه وکړی هغه ځای ته ولاړ شه چیرته چی الله (ج) موجودنه وی!

دا وه دابن عمر (رض) داخلاقو اونیکیو له ګلستان څخه څوګلونه چی دتحفی په ډول وړاندی سوه. (رضی الله عنه)

## حضرت عبد الله بن زبیر رضي الله عنه

دمکی دمشرکانو دظلم اوستم لامله دپیغمبر (ص) په شمول زیات شمیر مسلمانانو مدینی ته هجرت وکی، څه موده تیره سوه خو تصادفا په مهاجرو

کورنیو کښې دچا اولاد پیدا نسو نوداسلام دښمنانو یهودو دا پروپاګنډونه خپاره کړل چې موږ پرمسلمانانو باندې کوډې کړېدي او دهغوی دنسل لړی مو قطع کړېده دیهودو پدې خبرو باندې که څه هم دمسلمانانو باورنه کیدې خو بیاهم دهغوی په ناوړه تبلیغاتو باندې ځوریدل په همدې دوران کښې یوه کورنۍ نوې مهاجره سوه اوپه هغې کښې یوهلك وزیږیدی، مسلمانان چې خبر سول هغه یې راواخیستې دمدینې په کوڅو کښې یې پداسې حال کښې وګرځوی چې دتکبیر نعرې یې پورته کولې په پای کښې یې درسول اکرم (ص) حضور ته راوړی، سرور عالم (ص) هغه په غیږ کښې راپورته کړی بیایې یوه دانه خرما راوغوښتله، هغه یې پخپله مبارکه خوله کښې وژوله اودهغه ماشوم په خوله کښې یې ورکړه دخیر او برکت دعایې ورته وکړه بیایې ماشوم دمورپه غیږ کښې واچوه او پدې ترتیب دیهودو مخونه تور سول اودپروپاګنډو طوفان غلی سو.

دابختور ماشوم چې لومړنی خواړه یې دسرور کائنات (ص) دمبارکې خولې ناړې وې اودهغه په زیږیدو سره دیهودو پروپاګنډونه خنثی سول او د مسلمانانو دخوښې موجب وګرځید دحضرت زبیر بن العوام اوحضرت اسماء بنت ابی بکر صدیق (رض) دسترګوتور حضرت عبدالله بن زبیر (رض) ؤ عبدالله بن زبیر (رض) له رسول اکرم (ص) سره دقرابت اوخپلولې څوپیوندونه لرل، یو داچې دهغه مور حضرت اسماء (رض) دحضرت عائشې (رض) خوروه بل داچې دهغه پلار زبیر بن العوام حواری رسول دحضرت صفیه بنت عبدالمطلب زوی اودرسول اکرم (ص) دترور زوی ؤ، دریم داچې په قصي بن کلاب کښې دهغه نسبي لړی، له رسول اکرم (ص) سره نښتله، څلورم داچې حضرت زبیر بن العوام (رض) دحضرت خدیجة الکبری (رض) وراره ؤ.

دغه کمسن صحابي که څه هم دروایتونو په اختلاف نهه یالس کاله عمر تیر کړی ؤ چې رسول الله (ص) له دنیا نه رحلت وکې مګر دقرابت دمتعددو پیوندونو لرلو لامله به زیاتره وختونه درسول الله (ص) په کور کښې اوسیدی اوځنګه چې دقوي حافظې اوښه ذهانت خاوند ؤ نبوي اقوال او افعال یې په

ذهن کښې کښېنستل ددواړو جهانو دسردار (ص) له رحلت نه وروسته عبدالله بن زبیر (رض) دراشدینو خلفاؤ په دور کښې په اسلامی غزاګانو کښې په پوره میړانه اوشهامت سره برخه اخیستله اوداسلامی لښکر دسپه سالار لقب یې وګټې عبدالله بن زبیر (رض) ته که څه هم ډیر فرصت په لاس نه ؤ ورغلی چې درسول اکرم (ص) څخه په مستقیم ډول زیاته علمی استفاده وکړی خو بیاهم څنګه چې دپلار حضرت زبیر بن العوام (رض) دمور حضرت اسماء (رض) نیکه حضرت ابوبکر صدیق (رض) اوخاله حضرت عائشه صدیقه (رض) په غیږ کښې روزل سوی ؤ له دی امله په بیلا بیلو دینی علومو کښې یومتبحر عالم ورڅخه جوړ سوی ؤ دقرآن مجید قاری اوعالم ؤ حضرت عبدالله بن عباس (رض) به دهغه دحسن قرائت ستاینه کوله، په صحیح بخاری کښې له هغه څخه دځینو ایتونو تفسیر نقل سویدی په (۳۰) هجری کال کښې چې کله امیر المؤمنین حضرت عثمان ذوالنورین (رض) ځینو صحابه ؤ کرامو ته دقرآن حکیم دتدوین اوراغونډولو وظیفه وسپارله په هغو کښې یوتن حضرت عبدالله بن زبیر (رض) ؤ له هغه څخه دری دیرش حدیثونه روایت سویدی.

دعلم، فضیلت اوکمال ترڅنګ ډیر لوی زاهد اوعابد هم ؤزیاتره وختونه به یې ټوله شپه په قیام اوورځ په صیام تیروله، په داسی خشوع اوخضوع سره به یې لمونځ کوی چې که ولاړبه ؤ دبی روحه ستنی ګومان به ور باندی کیدی اوکه په سجده به پروت ؤ نودرخت (ټوکر) دیو غورځیدلی تان غوندی به ښکاریدی. حضرت عبدالله بن عباس (رض) به ویل: که غواړی درسول اکرم (ص) لمونځ ووینی نو دابن زبیر لمانځه ته وګوری.

ابن اثیر (رح) وائی ډیرځله به داسی پیښیدله چې نورو خلګو به سورة بقره ټوله لوستله خو دابن زبیر (رض) رکوع به نه ختمیدله.

عبدالله بن زبیر (رض) په ژوندکښې له بی شمیره ستونزو اوتکلیفونو سره مخامخ سو خوهیڅ یو کړاؤ دهغه په عزم اوحوصله کښې کمی رانه وستلی سو، دخلافت تقریبا دولس کلنه موده یې په مسلسلو کړاوونو اوغمونو کښې تیره کړه دحضرت امام حسن (رض) له شهادت نه وروسته چې کله دمکی خلګو

دخلافت لپاره له حضرت عبدالله بن زبیر (رض) سره بیعت وکړ، یزید له شام نه دمقابلې لپاره لښکر ولیږی، دلښکر مشر حصین بن نمیر دبوقبیس پرغره باندی موضع ونیوی اومکه یې محاصره کړه اودکعبې پردانی باندی چې تر څنګ یې حضرت ابن زبیر (رض) خیمه نصب کړې وه تیږی به یې اورولی مګر دغو سختو حالاتو ونسو کړای چې دحضرت ابن زبیر (رض) په عزم کښی تزلزل راولی له خیمی څخه به وتی اوپه کعبه کښی به په لمانځه مشغول ؤ.

دیزید له وفات نه وروسته چې کله عبدالملك بن مروان پرمکه معظمه باندی دحملې کولو لپاره حجاج ته وظیفه ورکړه، حجاج په (۷۲) هجری کال کښی دذیقعدی په میاشت کښی مکه محاصره کړه اوپر بیت الله باندی به یې تیږی اورولی ددغی محاصری په دوران کښی چې تقریبا اوه میاشتی یې دوام وکی خلګ دډیری لوږی لامله پرله پسی حجاج ثقفی ته تسلیم سول اوابن زبیر (رض) چې پدی وخت کښی یې عمر تقریبا اویا کلونوته رسیدلی ؤیوازی پاتی سو البته صرف څوکسان ورسره وه.

پدی حالت کښی یې دخپلی مور حضرت اسماء بنت ابی بکر الصدیق (رض) څخه چې دهغی عمر دسلوکلونو په خواوشاکښی ؤ پوښتنه وکړه: موری دمحاصری اوه میاشتی تیری سوی دی زه یوازی پاته یم حتی خپل نژدی کسان هم دلوږی له سختی نه راځخه ولاړل اوحجاج ته تسلیم سول ماته څه مشوره راکوی؟ حضرت اسماء (رض) وفرمایل: زویه! ته له ما څخه پخپل کار ښه پوهیږی، که ځان درته په حقه ښکاری، نودحق په لار کښی دشهادت تروختـه ثابت قدم اوسه. حضرت عبدالله بن زبیر (رض) وویل: زما پاخون دحق پخاطر دی، زه له مرګه نه بیریږم خودا بیره راسره ده چې دښمنان به له مرګه وروسته زما اندامونه ټوټی ټوټی کړی اوپه دار به می وځړوی؟ حضرت اسماء (رض) وویل: زویه! کله چې څوك ذبح کړای شی نو بیاکه دهغه پوستکی وایستل شی اویایی اندامونه ټوټی ټوټی کړای شی دهغه څه پروا ده؟ ته دالله (ج) په توکل سره ووزه، دمرګ له بیری نه دغلامی ذلت مه قبلوه په خدای (ج) قسم چې دعزت مرګ دذلت له حکمت نه ډیر غوره دی اودحق په لاره کښی په تورو سره

ټوټه ټوټه کيدل دګمراهانو له غلامی نه زر کرته ترجيح لری. حضرت عبدالله بن زبير (رض) عرض وکړ: موری! ماهمدا غوښتل، الحمدلله چی ستا حوصله ترما لوړه ده خدای دی وکړی چی زما له شهادت نه وروسته هم خپله حوصله ونه بايلی په خدای (ج) قسم دی، چی ما هيڅکله بدی نده خوښه کړی! پر هيڅ مسلمان باندی می ظلم ندی کړی کم تعهد می ندی مات کړی، په امانت کښی می خيانت ندی کړی اودخدای له رضانه پرته می بله هيله نشته په پای کښی حضرت اسماء بنت ابی بکر الصديق (رض) خپل زوی پرتندی ښکل کړ اودخير دعايی ورته وکړه رخصت يی کړ.

حضرت ابن زبير (رض) دشامی لښکر په مقابل کښی په ميړانه وجنګيدی اوپه پای کښی شهيد شو حجاج بن يوسف ثقفی دهغه مطهر جسد په دار وځړوی، دشهادت په دريمه ورځ حضرت اسماء (رض) هغه ځای ته ورغله چيری چی حضرت عبدالله (رض) په دارځړول سوی ؤ، حجاج هم هلته موجود ؤ، حضرت اسماء (رض) هغه ته په خطاب وويل: ايا ددی سپاره دکوزيدو وخت ندی رارسيدلی؟ ورپسی يی په پوره بی پروائی سره ورته وويل: تا دابن زبير دنيا خرابه کړه خوده ستا اخرت خراب کړ بيا وروسته حجاج دهغه پاك جسد دهغه مورته وسپاری اوپه حجون کښی خاورو ته وسپارل شو. (رضی الله عنه)

## حضرت عثمان بن مظعون رضي الله عنه

حضرت عثمان بن مظعون (رض) دقريشو دبنوجمح له قبيلی څخه ؤ، رسول الله (ص) چی کله دحق دعوت شروع کړ، دغه دنيك فطرت خاوند ورته پداسی حال کښی لبيك ووايه چی دګوتو په شمير کسان په اسلام مشرف سوی وه، دحضرت ابو عبيده بن الجراح، حضرت عبدالرحمن بن عوف،حضرت عبيده بن الحارث اوحضرت ابوسلمه بن الاسدپه ملګرتيا يی هغه وخت دکوثر دساقی له لاسه دتوحيد پياله نوش کړه چی يوازی ديارلس پتنګان دنبوی شمعی په خوا وشا کښی راټول سوی وه دا دزياتو مصيبتونو دور ؤ، مؤحدين دمشرکانو دلاسه سخت په تکليف وو، دکافرانو ظلم اوستم انتهائی حدته رسيدلی ؤ، هغه چا دحق له کاروان سره ملګرتيا کولای سوه چی الله اورسول ورته له خپله

ځانه ګران اومحبوب وو اواخرت ته يې په دنيا باندې ترجيح ورکوله دبعثت په پنځم کال کښې سرور کائنات (ص) مسلمانانو ته هدايت ورکړې چې له دې ځايه حبشې ته ولاړ شئ، دهغه ځاى واکمن يوخواخوږې سړې دې، تاسې ته به پناه درکړي اوترڅو پورې چې الله ج پدې شرايطو کښې څه تحول اوبدلون نه وې راوستې، تاسې به همالته اوسيږئ.

دهجرت له اجازې نه وروسته دلومړې ځل لپاره يوولس نارينه ؤ اوڅلورو ميرمنو حبشې ته دتلو تکل وکې چې پدې کوچنې ډله کښې حضرت عثمان بن مظعون (رض)، حضرت عثمان بن عفان (رض)، حضرت زبير بن العوام (رض)، حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض)، اوحضرت مصعب بن عمير (رض) غوندې شخصيتونه شامل وو اودابن هشام دوينا له مخې ددې حقپالونکې مهاجرې ډلې مشر حضرت عثمان بن مظعون (رض) ؤ، درې مياشتې وروسته په حبشه کښې دا اوازه خپره سوه چې دمکې ټولو مشرکانو اسلام منلې دې، يا په بل روايت دپيغمبر (ص) له دښمنې نه يې لاس اخيستې دې چې ددې خبرپه اوريدلو سره دغه مهاجر مسلمانان له حده زيات خوشاله سول او خپل وطن ته دراستنيدو لاره يې په مخ کښې ونيوله کله چې مکې معظمې ته نژدې سول ورته ښکاره سوه چې په حالاتو کښې هيڅ کم بدلون ندې راغلې او دپخوا په شان مسلمانان دکافرانو دظلم په ژرنده اوړه کيږې او دوې ددروغو په خبرونو وغوليدل. دوې متردد اوزړه نازړه وو چې له دوو لارونه کمه يوه غوره کړې بيرته حبشې ته ولاړ شې اوکه مکې معظمې ته داخل شې دکفارو تعذيبونو ته غاړه کښيږدې؟

له ډير غور اوفکر نه وروسته يې فيصله وکړه چې دهغه وخت له ټولنيزو اوسياسې عاداتو سره سم له ځينو نامسلمانو دوستانو څخه په پناه غوښتنې سره مکې ته داخل شې حضرت عثمان بن مظعون (رض) ته دخالد سيف الله پلار وليدبن مغيره پناه ورکړه او په اصطلاح دامن او سولې ژوند يې پيل کړ، خويو مسلمان څنګه کولاى شي چې دکافر ترسيورې لاندې له قلبې اطمينان سره شپې ورځې تيرې کړې اوڅنګه کولاى شي چې پدغسې ژوند باندې خپل

ضمیر اووجدان قانع کړی، له همدی امله ثوورځی وروسته حضرت عثمان بن مظعون (رض) له ځانه سره تصمیم ونیوی چی دخپل قائد (ص) اودهغه دنورو صدیقو ملګرو غوندی دکفارو دظلم په بټی کښی سوځیدل اودشیطانی قوت پرضد مبارزه کول دیوکافر ترځنګ دامن له ژوند تیرولو نه ډیر ښه دی، په همدی هوډ ولیدته ورغی ویی ویل: (ای اباعبد شمس زه نور ستاپه پناه کښی اوسیدل نه غواړم، زه به درسول الله (ص) اوصحابه ؤ غوندی وخت تیروم، زه دالله ج له پناه نه پرته دبل حمایت ته اړتیا نلرم) ولیدورته وویل: ته بایدپه حرم کښی اعلان وکړی ترڅو خلګ وپوهیږی چی زماپه حمایت اوپناه کښی نه یی حضرت عثمان بن مظعون (رض) چی کله داکار وکی نوله پخوانه زیات دخدای (ج) ددښمنانو دظلم مورد وګرځیدی. سیرت پوهان لیکی چی په همدی زمانه کښی دعربو نامتو شاعر لبیدبن ربیعه چی لاپه اسلام نه ؤ مشرف سوی مکی ته راغی، خلګو یی ډیر تود استقبال وکی، دشعر اوادب محفل یی ګرم کړ دشعر په یوه مصرع کښی یی وویل:

**الا کل شیئ ما خلا الله باطل**

یعنی خبر دار اوسی ، چی له الله (ج) نه پرته نور هرڅه باطل دی.

حضرت عثمان بن مظعون (رض) چی پدی مجلس کښی حاضرؤ ویی ویل: (همدغسی ده تا ریښتیا وویل) کله چی هغه بله مصرع وویله:

**وکل نعیم لا محالة زائل**

یعنی نعمت ارومرو زائلیدونکی دی نوعثمان (رض) ږغ وکی داغلطه خبره ده، دجنت نعمتونه ابدی دی نه زائلیږی لبید پدی خبره ډیرخپه سو اوقریشو ته یی وویل چی: زه ستاسی په محفل کښی توهین سوم، له مشرکانو څخه یوتن راپاڅیدی، حضرت عثمان بن مظعون (رض) یی پرمخ باندی پداسی سخته څپیړه وواهه چی سترګه یی شنه راووتله، پدی وخت کښی ولیدبن مغیره ورته ږغ وکی چی: که له ماسره دی تعهد نه وای مات کړی، هیڅا نسو کولای چی لاس درباندی پورته کړی. عثمان (ض) جواب ورکړ: زما دابله سترګه هم دخدای (ج) په لارکښی زخمی کیدوته هوسیږی کله چی پرمسلمانانو باندی ددښمنانو

ظلمونه انتهاء ته ورسيدل، رسول الله (ص) دوهم ځل بيا حبشى ته دهجرت کولو اجازه ورکړه اوداځل (۸۳) نارينه او (۲۰) ميرمنى هجرت ته تيار سول، پدى قافله کښې هم حضرت عثمان بن مظعون (رض) شامل ؤ.

دريم ځل يې په رسول اکرم (ص) پسې مدينى منورى ته هجرت وکى او دمهاجرينو اوانصارو دمواخات دعقدپه سلسله. کښې ددواړو جهانو سردار (ص) دهغه اودحضرت ابو الهيثم بن التيهان انصارى (رض) ترمينځ دوررولى تړون وکى.

ددويم هجرى کال درمضان په مياشت کښې چې کله د بدر تاريخى غزا مينځ ته راغله حضرت عثمان (رض) پدى جګړه کښې دغښتلى سپاهى په توګه برخه واخيستله خوکله چې له جګړى نه راستون سو نوناروغ سو، دناروغى دوره يې دحضرت ام العلاء انصاريه (رض) په کور کښې تيره کړه او همالته وفات سو، دهغه دوفات داوازى په خپريدو سره رسول الله (ص) دام العلاء کورته ورغى، درى ځلى ورکښته سو اودحضرت عثمان (رض) تندى يې ښکل کړ اودومره اوښکى يې له مبارکو سترګو نه بهيدلى چې دهغه مخ په لوند سو.

تردى وخته دمسلمانانو کمه مشخصه هديره نه وه، يوچا عرض وکى: يا رسول الله ابوالسائب (حضرت عثمان بن مظعون (رض) به چيرته دفن کړو؟ ويى فرمايل: په بقيع کښې ورته قبر وکيندئ. رسول الله (ص) دهغه له جنازى سره ولاړى پرهغه يې دجنازى لمونځ اداکړ ددفن په وخت کښې دهغه دقبر په څنډه ولاړؤ کله چې پردغه حقپالونکى باندى خاورى واړول سوى نوسرور عالم (ص) وفرمايل: له نن نه وروسته به بقيع دمسلمانانو هديره وى په مدينه کښې چې هرمسلمان وفات شى همدلته به دفن کيږى، دحضرت عثمان بن مظعون (رض) دسپيڅلى ژوند کتاب داخلاص، غوره اخلاقو، دخداى (ج) په لارکښې ثبات جرئت اوميړانى، زهد اوتقوى اودخپل رب له عبادت سره دزياتى مينى په بابونو سينګاردى.

دزهد اوعبادت درجه يې له هغى واقعى نه ښه څرګنديداى شى چې يوځل چې کله رسول الله (ص) ته خبر ورسيدى چې عثمان بن مظعون (رض) شپه په

عبادت اوورځ په روژه تیروی اوخپل اهل اوعیال ته یی شا کړیده نوهغه یی را وغوښتی ویی فرمایل: (عثمانه! ایاتا زما له سنت او طریقی نه مخ اړولی دی؟ عرض یی وکی: (یارسول الله! موراو پلار می درنه ځارشه، په خدای قسم که داسی وی ستا سنت خوزما دلاری مشال دی) پیغمبر (ص) وفرمایل: (واوره! زه هم ویده کیږم اوهم لمانځه ته ولاړیږم، هم روژه نیسم اوهم افطار کوم اوهم له ښځو سره نکاح کوم دالله (ج) نه وبیریږه، ستا میرمن پرتا حق لری، ستامیلمه پرتا حق لری اوستا خپل نفس هم پرتا حق لری، نو له دی کبله هم روژه نیسه او هم افطار کوه هم لمونځ کوه اوهم بیده کیږه) حضرت عثمان عرض وکی: په اینده کښی به همداسی کوم. (رضی الله عنه)

* * *

## حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه

حضرت عمرو بن العاص بن وائل دقریشو دبنو سهم له کورنی څخه ؤ اوله عام الفیل نه شپږکاله وروسته یعنی په (**۵۷۲**) میلادی کښی زیږیدلی دی. دهغه پلارعاص بن وائل سهمی داسلام اوپیغمبر له سرسختو دښمنانو څخه ؤ چی متاسفانه حضرت عمرو بن العاص هم دخپل پلارپه پیروی ډیره موده دایمان له دولت نه محروم پاتی سو، خوکله یی چی داقبال ستوری وځلیدی او دحق دشمعی په رڼایی دزړه تیاره ګوټونه روښانه سول نو بیایی داسلام په لاره کښی داسی ستر خدمتونه وکړل چی دهغه کارنامی به ترقیامته پوری داسلامی امت دژوند دلاری مشال وی.

ابن حجر (رض) په الاصابه کښی لیکلی دی چی داحزاب په غزا کښی دمشرکانو له ناکامی نه وروسته دحضرت عمرو بن العاص په فکرکښی انقلاب راغی او دتوحید په دعوت باندی یی غور شروع کړ دهغه خپله وینا ده چی: داحزاب له جنګ نه وروسته ماداسلام په هکله غور شروع کړ دمسلمانانو له دښمنی څخه می لاس واخیستی زما دکړنلاری دبدلیدو سره، قریشو یو استازی راولیږی له ماسره یی بحث شروع کړ، ما پوښتنه وکړه: موږ پرحقه یو

که د فارس اوروم خلګ؟ ويې ويل: موږ ماپوښتنه وکړه: موږ ډېرى شتمنى اومال خاوندان يوکه هغوى؟ استازى جواب راکړ: هغوى. ما وويل: کله چې داسې ده زموږ دامسلك چې حق راته ښکارى په کم وخت کښې به په کارراځى، په داسې حال کښې چې موږ له دې ژوندانه څخه وروسته په بل ژوندانه باندې هيڅ عقيده نلرو او پدى ژوندانه کښې خودهغوى په نسبت زموږ ژوند تنګ او تريخ دى له دى امله زه فکر کوم چې دمحمد (ص) داوينا ډېره سمه او په زړه پورى ده چې له مرګه وروسته بيا ژوندون سته چې هلته به هرچا ته دهغه له عملونو سره سمه بدله ورکوله کيږى.

په مسنداحمد بن حنبل کښې دهغه داسلام راوړلو واقعه دهمغه په خولى بيان سويده چې وايي داحزاب له جنګ نه وروسته موږ حبشى ته ولاړو او همالته مواستوګنه غوره کړه يوه ورځ حضرت عمرو بن اميه ضمرى (رض) درسول الله (ص) لخوا دڅه کار لپاره دحبشى باچا نجاشى ته راغى، موږ چې خبر سوو، باچاته ورغلو ومو ويل: ستا حضورته زموږ ددښمن استازى راغلى دى، دوى زموږ مشران په تکليف کړيدى، دى موږ ته په لاس راکړه چې ويې وژنو نجاشى زما ددى خبرى په اوريدلو ډېرپه غوسه سو ويې ويل: تاسى دوژلو لپاره دهغه چا استازى راڅخه غواړئ چې پرهغه باندى ناموس اکبر نازليږى، هماغه ناموس اکبر چې پرحضرت موسى عليه السلام باندى به نازليدى؟ ما وويل: ايا په رښتيا سره همداسى ده؟ باچا وويل: عمرو! ستا پرحال باندى ډير افسوس دى، زما ومنه دهغه پيروى غوره کړه، زماپه خداى (ج) قسم دى چې هغه په حقه دى بيا وروسته مدينى ته ولاړم، په لاره کښې خالد بن وليد راسره ملګرى سو چې هغه هم داسلام راوړلو اراده درلوده دواړه درسول الله (ص) حضورته ورغلو، لومړى خالد بن وليد داسلام بيعت وکړ بيازه وړاندى سوم، عرض مى وکى: يارسول الله! زه راغلى يم چې لتاسره بيعت وکړم خوپه يوشرط چې زما مخکنى ګناهونه وبخښل شى رسول الله (ص) وفرمايل: (بيعت وکړه په اسلام سره مخکنى ګناهونه بخښل کيږى له هغه وروسته حضرت عمرو بن العاص (رض) دخپل عمر زياته برخه دجنګ په ميدان کښې تيره کړه درسالت

په دور کښې یې په ټولو غزاګانو کښې برخه واخیسته اودنبی کریم (ص) له رحلت نه وروسته هم دهغه دژوند څرګند اړخ دخدای (ج) په لار کښې جهادکول ؤدحضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دور کښې دارتداد دفتنې په مخنیوی کښې یې ستره ونډه درلوده دفلسطین، اجنادین، دمشق، مصر، تونس، الجزائر اومراکش په جنګونوکی شریك او دمجاهدینو په لومړی صف کښې ولاړؤ اوددغو سیمو دزیاترو ښارونو دپاسه دهغه په لاس د (لااله الا الله محمد رسول الله) بیرغ ورپول سو.

په خاصه توګه په تاریخ کښې دا افتخار ورپه برخه سو چی دمصر دفاتح په توګه یادشی دعمر فاروق (رض) په دور کښې حضرت عمرو بن العاص (رض) ډیره موده دمصر امیرؤ او په پوره موفقیت سره یې خپله وظیفه سرته ورسوله یووخت په مدینه منوره یعنی داسلام په پایتخت کښې دارتزاقی موادو تنګسه راغله امیر المؤمنین عمر (رض) حضرت عمرو بن العاص ته خط ولیږی، په هغه کښې یې لیکلی وو: (دخدای دبنده عمر امیر المؤمنین لخوا، عمرو بن العاص ته، السلام علیکم عمرو! که ستا اوستا دملګرو خیټې مړیږی اوزه او زما ملګری له لوږی څخه مړه کیږو هم ستا پروا نسته. له موږ سره مرسته وکړه) حضرت عمرو بن العاص (رض) دامیر المؤمنین دخط په جواب کښې ولیکل: (ای امیر المؤ منین! السلام علیکم! ډیر ژربه له غلی نه بار د اوښانو یوه داسی قافله درورسیږی چی دهغی لومړی برخه به لتا سره وی او وروستی برخه به یی له ماسره وی اوامیدوار یم داسی لاره هم برابره شی چی دسمندر له لاری غله درولیږلی شم).

حضرت عمرو بن العاص (رض) همداسی وکړل اودغلی اوټوکرانو زیاته مرسته یی اسلامی دار الخلافت ته ولیږله عمرو بن العاص (رض) دراشدینو خلفاؤ اودسرور عالم (ص) دخوږو ملګرو له حدنه زیات احترام ساته خودحق وینایی دهیچاپه وړاندی نه سپموله.

دحضرت عثمان ذوالنورین (رض) په خلافت کښې چی کله دمفسدینو توطئی زیاتی سوی نوهغه دصحابه ؤ یوه شوری راوغوښتله چی په هغی کښې

حضرت عمرو بن العاص (رض) هم شريك ؤ كله چې نورو خلكو هريوه خپله رايه څرګنده کړه حضرت عثمان (رض) په خاص ډول له حضرت عمروبن العاص (رض) څخه پوښتنه وکړه چې ستا رايه څه ده؟

په جواب کښې يې وويل: (امير المؤمنين! دفتنو اوفساد اساسي سبب دا دی چې ته له ضرورت نه زياته نرمي کوی اوچيرته چې دشدت ضرورت وی هلته هم اغماض کوی، زما مشوره داده چې په سياست کښې دحضرت ابوبکر اوحضرت عمر (رضی الله عنهما) پيروی وکړه، دسختی په وخت کښې له سختی نه اودنرمی په وخت کښې له نرمی کار واخله. دامير معاويه (رض) تر وخته په ټولو دوروکښې حضرت عمرو بن العاص (رض) داسلامی سياست ډير ښه ممثل ؤ او په پای کښې چې عمر يې دنوی کلونو په خواوشا کښې ؤ په (۴۷) هجری کال کښې سخت ناروغ سو.

په صحيح مسلم کښې له حضرت عبدالرحمن بن شماسه نه روايت دی چې زه دهغه پوښتنې ته ورغلم، هغه ديوال ته مخ اړولی ؤ ژړل يې، دهغه زوی عبد الله بن عمرو (ض) وويل: پلاره! ولی ژاړې، ايا تاته رسول الله (ص) هغه او دغه بشارتونه ندی درکړی؟ ويې فرمايل: زما په نزد ترټولو قيمتی دولت د (لا اله الا الله محمد رسول الله) شاهدی ده پرما باندی په ژوند کښې دری مرحلی راغلی دی يوه هغه چې له رسول الله (ص) سره مې سخته دښمني وه که پدی حالت کښې مړسوی وای نو ارومرو به دوزخ ته تلم، دويمه هغه چې دبيعت لپاره درسول الله (ص) حضورته ورغلم اوعرض می وکی: ايمان راوړم خو په دی شرط چې ماته زما مخکنی ګناهونه وبخښل شی رسول الله (ص) راته وفرمايل: ايمان راوړه اوله هغه وروسته ددنيا له ټولو شيانو څخه زياته له رسول الله (ص) سره زما مينه او محبت ؤ، دهغه دعظمت دومره هيبت راباندی پروت ؤ چې له ډيری حيانه می دهغه مبارك مخ ته په غټو غټو سترګو نسول کتلای، که څوك له ما نه درسول الله (ص) دقواری پوښتنه وکړی، له دی امله يې نشم ښودلای چې هيڅکله مې په غټو سترګو ورته ندی کتلی، پدی حالت کښې که مړوای نو جنت ته دتلو هيله من وم، دريمه مرحله داسی راغله چې راز

راز عملونه مې سرته ورسول، اوس نه پوهېږم چې عاقبت به مې څه وي ځکه ژاړم زويه! کله چې مړ شم، ويرګرې ښځې به زما له جنازې سره نه ځي، اوربه راپسې نه راوړل کيږي، ددفن کيدو په وخت کښې خاورې راباندې په کراره کراره واړوئ له دفن کيدونه وروسته دومره وخت زما له قبر سره واوسيږئ لکه چې يوڅاروی ذبح شي اودهغه غوښه ويشل شي ترڅو چې زه په قبر کښې الفت واخلم اوپدې غور وکړم چې دخپل خالق داستازو څه جواب ورکړم. زوی ته دکفن دفن اوجنازې له وصيت نه وروسته خپل رب ته لاس په دعاسو ويې ويل: پروردګاره! تاحکم وکې ماغاړه غړولې ده، تا نهي کړيده له ماڅخه نافرمانې سويده، بده نده چې عذر وړاندې کړم، قوي نه يم چې برلاسې شم خو همدابه وايم چې: لا اله الا الله محمد رسول الله) کلمه طيبه يې تکراروله چې مبارك روح يې عليين ته والوتی. (رضي الله عنه)

## حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه

دهغه سترو شخصيتونو اودخدای دغوره بندګانو له جملې نه چې دخدای درسول (ص) په پيروۍ سره يې دشرك اوكفر په تررېمې چاپيريال كښې دتوحيد ډيوه بله كړه اودحقپالنې په خاطريې هرراز ستونزې او مشكلات په ورين تندې وزغمل، يو هم حضرت عباده بن صامت انصاري (رض) ؤحضرت عباده بن صامت دانصارو دخزرج قبيلې دبنو سالم ټبرته منسوب او دبعثت په يوولسم كال په اسلام مشرف سوی ؤ او په بيعت عقبه اولې كښې يې درسول الله (ص) په لاس بيعت وكي.

پخپله له حضرت عباده (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) له موږ څخه ددغو خبرو بيعت واخيست: (موږ به له الله (ج) سره هيڅوك اوهيڅ شی شريك نه نيسو، غلابه نه كوو دبې حيايي دچاروبه نه مرتكب كيږو، خپل اولادونه به نه وژنو، په چا باندې به تور تهمت نه وايو، په هيڅ امر معروف كښې به درسول الله (ص) نافرمانې نه كوو، دهغه حكم به اورو اومنو به يې كه داسانې په حالت كښې وي اوكه دسختې خوښ يو اوكه ناخوښ اوموږ چې هرچيرته اوپه هرحالت كښې اوسو حق به وايو اودهيڅ حاكم له محاكمې څخه

به نه بيريږو بيا پيغمبر (ص) وفرمايل: لتاسی نه هرچاچی په دغو خبرو باندی عمل وکی، دهغه لپاره جنت دی، اوکه څوك دبدی مرتکب سو او په همدی دنيا کښی دخپل جرم سزا ورکړه سوه هغه سزابه دهغه لپاره دګناه کفاره وی او په چاباندی چی ستار العيوب پرده واچوله ، دهغه سرنوشت په الله تعالی پوری تړلی دی که يی خوښه شی نو بخښنه به ورته وکړی.

همدارازکله چی دبعثت په (۱۳) کال دبيعت عقبه ثانيه ستره پيښه مينځ ته راغله، اودمدينی داوس اوخزرج قبيلو دنارينه ؤ اوښځو پنځه اويا کسيزی ډلی درسول کريم (ص) په لاس بيعت وکی اودالله (ج) حبيب (ص) ته يی پيشنهاد وکی چی که ته مدينی ته راشی، موږ به دسرونو اومالونو په بيه ستا حفاظت اونصرت وکړو، داسی حفاظت اونصرت لکه چی دخپلو ځانونو او د خپل اهل اوعيال کوو حضرت عباده بن صامت (رض) پدی اويا کسيزه ټولی کښی هم شامل ؤ له پيغمبر (ص) سره دغه بيعت اوپيمان څه عادی او ساده خبره نه وه بلکی دډير لوی خطر سره مخامخ کيدوته تن ايښول ؤ ځکه چی په هغه وخت کښی ټولو عربی قبيلو درسالت دشمعی مړه کولوته ملاتړلی وه پدی نازکه اوحساسه مرحله کښی دهغه ملاتړ په حقيقت کښی ټولو عربوته دجنګ اودښمنی څرګند اعلان ؤ ددی بيعت او معاهدی ارزښت پخپله درسول اکرم (ص) له وينا څخه معلوميږی چی دبيعت په پای کښی يی دغو اويا تنو مؤمنانو ته وفرمايل: ستاسی وينه زما وينه، ستاسی ګټه زماګټه ستاسی زيان زمازيان دی، تاسی زما اوزه ستاسی يم، تاسی چی له چاسره صلح وکړی زه به له هغوسره صلح کوم اوتاسی چی له چاسره جنګ وکړی زه به ورسره جنګيږم، زما ژوند اومړينه لتاسی سره يو ځای ده، (داسی به هيڅکله نه وی چی که زه پردښمنانو برلاسی شم، تاسی به پريږدم اوبيرته به خپل قوم ته راشم).

له بيعت نه وروسته رسول الله (ص) امروکی چی دخپلو چارو دسمبالښت پخاطر خپل نقيبان وټاکی، هغوی (۱۲) تنه نقيبان وټاکل، نهه تنه دخزرج له قبيلی څخه اودری تنه داوس له قبيلی څخه وو چی په خزرجی نقيبانو کښی يو تن حضرت عباده بن صامت (رض) ؤ.

له مکی نه مدینی ته په راستیندو سره حضرت عباده (رض) دتوحید په تبلیغ لاس پوری کړ، دخپلی بت پرستی قبیلی کورونو ته به ننووتی اودهغوی بتان به یی ماتول، دبنوقوافل یوسړی کعب بن عجره چی دحضرت عباده (رض) پخوانی دوست ؤ پخپل کور کښی یی یوغټ بت ساتی، یوه ورځ حضرت عباده (رض) دهغه کورته ننوتی اوهغه بت یی ټوټی ټوټی کړ، بیایی کعب ته وویل: دابت دخپل ځان حفاظت نشی کولای نوتاته به څه په درد وخوری؟ راشه دیوه خدای (ج) دبندګی خواته دهغه دعوت دکعب زړه ته لاره پیدا کړه اوڅه موده وروسته په اسلام مشرف سو. له رسول الله (ص) سره دحضرت عباده دومره زیاته مینه وه چی له بیعت عقبه کبیره څخه وروسته ترنبوی هجرت پوری پدی لنډه موده کښی دوه ځلی مکی ته ولاړی او ددواړو جهانو دسردار (ص) په دیدار مشرف سو.

کله چی رسول الله (ص) هجرت وکی مدینی ته یی تشریف راؤړی، حضرت عباده (رض) دومره خوشحاله ؤ لکه چی دټولی دنیا نعمتونه اودولتونه یی میندلی وی، هروخت به دالله دپاك رسول (ص) په حضور کښی حاضر ؤ اوله نبوی فیوضاتوڅخه به یی استفاده کوله همدا لامل ؤ چی هغه داسلام دلومړنی مدرسی چی دصفی داصحابو لپاره جوړه سوه معلم وټاکل سو.

حضرت عباده (رض) نه یوازی دعلم اوفضیلت په لحاظ ستر مقام درلود بلکی دحق په لاره کښی دسر اومال نذرانه کول هم دهغه دژوند سترهدف ؤهغه یوغوښتلی اوسرښندونکی مجاهد وو دمرګ بیره یی هیڅ په زړه کښی نه راګرځیدله، کله چی دجهادونو لړی پیل سوه له بدرنه ترتبوك پوری په ټولو غزاګانوکښی دسرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ اودجهاد په هرمحاذ کښی یی دخدای (ج) په لار کښی دایثار او سرښیدنی حق ادا کړ.

حضرت عباده (رض) په هغو څوارلس سوه تنوصحابه ؤ کښی هم شامل ؤ چی په حدیبیه کښی یی ترونی لاندی درسول الله (ص) په لاس بیعت وکی او دوحی په ژبه هغوی ته دالله (ج) رضا اعلان سوه همدارنګه دمکی دفتح په سفر کښی دلس زره کسیز اسلامی لښکر یو عسکرؤ.

په مسند احمدبن حنبل کښې راغلی دی چې یوځل حضرت سیدنا عباده (رض) ناروغ سو، رسول الله (ص) دځوتنو صحابه ؤ په شمول دهغه پوښتنې ته ورغی، له هغه نه یی پوښتنه وکړه: (عباده! پوهیږې چې شهید څوك دی؟ عباده (رض) خپلی میرمنی ته وویل: ماته تکیه شه چې کښینم، کله چې کښیناست عرض یی وکی: (یارسول الله شهید هغه دی چې مؤمن وی هجرت یی کړی وی اوپه فی سبیل الله جهاد کښې په کار راشي). دسرور کائنات (ص) له رحلت نه وروسته که څه هم عباده بن صامت (رض) خپل زیاتره وخت په تدریس، افتاء، وعظ اوتبلیغ اوځینو مهمو حکومتی ماموریتونو کښې تیروی خو ددی هرڅه سره سره دجهاد ولوله دهغه په زړه کښې څپانده وه، هرکله به چې فرصت په لاس ورتلی، دجهادپه میدان کښې به دیوغښتلی مجاهدپه صفت حاضر ؤ نه یوازی یوعادی مجاهد بلکې داسلامی لښکرله ډیرو نامتو سپه سالارانو څخه شمیرل کیدی ددی مدعا داثبات ښه دلیل هغه واقعه ده چې کله حضرت عمرو بن العاص (رض) دمصر په فتح کولو کښې له مشکلاتو سره مخامخ سو اوله دار الخلافت نه یی مرسته وغوښتله نوحضرت عمر فاروق (رض) څلور زره کسیز لښکر دڅلورو تنو قائدینو: حضرت زبیر بن العوام (رض) حضرت مقداد بن اسود (رض) حضرت مسلمه بن مخلد (رض) اوحضرت عباده بن صامت (رض) ترقوماندی لاندی ورولیږی، اوحضرت عمروبن العاص (رض) ته یی ولیکل چې ددغو قایدینو هریو دزرو تنوسره برابردی یعنی داڅلور زره کسیز لښکر په واقع کښې اته زره کسیز پوځ دی.

امام بیهقی اوابن عساکر یو روایت رانقل کړیدی چې دعباده بن صامت (رض) دوفات وخت نژدی سوخپل خپلوان اوګاونډیان یی راوغوښتل، ټولوته یی وویل: (ښائی داورځ زما دژوند وروستی ورځ وی اوراتلونکی شپه می داخرت دسفر لومړۍ شپه وی که زماپه لاس یازما په ژبه پرچا باندی څه تجاوز سوی وی نو یو یودی راشی اوله ماڅخه دی خپله بدله واخلی مخکښې له دی نه چې دقیامت په ورځ الله (ج) راڅخه ددوی انتقام واخلی) ټولو عرض وکی: ته زموږ دمهربان پلار په څیروی، تاموږ ته ادب راښودلی دی حضرت عباده

(رض) وويل: اياتاسی ماته معافی وکړه؟ ټولوجواب ورکړ: هو! له هغه وروسته یی دخپل کفن دفن په باب وصیت وکړ اودخپل عمرپه (۷۳) کلنی لـه دی فـانی دنیا نه داخرت په سفر روان سو. (رضی الله عنه)

## حضرت عبدالله بن جحش رضي الله عنه

عبدالله بن جحش (رض) دبنو اسد قبیلی تـه منسوب اولـه سرور کائنات (ص) سره یی دخپلولی دوه پیوندونه درلودل دهغه مور امیمه بنت عبدالمطلب دپیغمبر (ص) ترور وه اودهغـه خور حضرت زینب بنت جحش (رض) دامهـات المؤمنین څخه وه چی پدی ترتیب هم درسول اکرم (ص) ترورزئی اوهم اوښی ؤ.

حضرت عبدالله بن جحش دپنځه ویشتوکلونوپه منځ کښی ؤ چی دکائناتو سردار دحق دعوت پیل کړ څنګه چی دتوحید دبلنی ږغ دهغه غوږته ورسیدی، سمدلاسه یی ورته لبیك وویل اودرحمة للعـامین (ص) پـه لاس یـی دسرښندنی بیعت وکـی، دادبعثت هغـه ابتـدائی زمانـه وه چـی لاپیغمبر (ص) پـه دار ارقم کښی دیره نه وه نیولی دغه زمانه دمؤمنـانو لپـاره دترخـو اوسختو ازمیـښتونو زمانـه وه، دتعـذیبونو اوکړاوونـو زمانـه، دبنـد اوزولنـو زمانـه، داقتـصادی او اجتماعی مقاطعو اومحرومیتونو زمانه دایمان پـه دایـره کـښی یـوازی عبدالله نه بلکی دری خویندی حضرت زینب، حضرت ام حبیبـه اوحضرت حمنـه اودوه وروڼه حضرت ابواحمد عبد اوحضرت عبیدالله (رضـی الله عـنهم اجمعـین) هم داخل سول ددغی مطهری کورنی اسلام راوړل ؤ اودکفـارو لخـوا دمـصیبتونو بـاران ؤ چـی اوریـدل یـی شروع سـول خوهیڅ ډول کـړاؤ اوتعـذیب دهغـوی پـه عقیده اوایمان کښی څه تغیر رانه وستلی سو.

دظلـم اوسـتم ټـولی صـحنی اومرحلی یـی پـه پـوره صـبر اواسـتقامت سـره وزغملی اوترهغه وخته دظلم په ژرنده اوړه کیدل ترڅو چی پیغمبر (ص) حبشی ته دهجرت اجازه وکړه کموصحابهؤ کراموته چی دذوهجرتین لقب ورکړسویدی اوددوو هجرتونو ثوابونـه یـی میندلی دی حضرت عبد الله بـن جحش (ص) لـه همدغی جملی څخه دی مدینی ته دهجرت په وخت کښی دمکی زیـاتره کـورنی په دوو برخو وویشل سوی مؤمن وګړی مدینی ته ولاړل اوله ایمان څخه محروم

کسان په مکه کښې پاته سول خو دعبدالله کورنۍ ټوله مدینې ته وخوځېدله او ددودان بن اسدمحله له اوسیدونکو څخه بالکل خالي سوه اودکورونو دروازو ته یې کولپونه واچول سول.

کله چې رسول اکرم (ص) له هجرت نه شپږ میاشتې وروسته دمهاجرینو او انصارو ترمینځ داخوت او ورورولئ پیوندونه تړل دحضرت عبدالله بن جحش (رض) دورورولئ تړون سرور کائنات (ص) له حضرت عاصم بن ثابت (رض) سره وکې دهجرت په دویم کال درجب په میاشت کښې رسول الله (ص) حضرت عبدالله بن جحش (رض) دصحابه ؤ دیو دولس کسیز ټولګۍ امیر وټاکه او یو سر تړلی خط یې ورکړ ورته یې وفرمایل: له دوه ورځې مزل وهلونه وروسته به دا خط خلاص کړې اووبه یې لولې دروانیدو په وخت کښې رسول الله (ص) دهغه ملګروته وفرمایل: داسې نده چې عبدالله بن جحش (رض) له تاسې ټولو نه غوره دی خومادذی لپاره هغه ستاسې امیروټاکې چې دلوږې تندې دسختیو په زغملو کښې زیات صابردی.

له دوه ورځې سفرنه وروسته چې عبدالله بن جحش (رض) خط پرانیستی په هغه کښې لیکل سوی وه چې: (دمکې اوطائف ترمینځ نخله نومې ځای ته ولاړسه اوله هغه ځای نه دقریشودتګ راتګ څارنه وکړه که څوك پخپله خوښه درسره نه ځې، په زوره یې مه مجبوروه، که څوك درسره ځې ولاړ به شي، که نه ځې بیر ته به راشي).

حضرت عبدالله بن جحش (رض) دلیك دمتن په اورولو سره خپلو ملګرو ته وویل: (دالاره دسختیو لاره ده که څوك دخدای (ج) په لاره کښې دشهادت هیله من وي، هغه دې له ماسره ولاړ شي اوکه څوك بیرته ځې، زه یې مخه نه نیسم) ددې پوښتنې په جواب کښې دهغه ملګرو وویل: موږبه ارومرو له تاسره ځو اودرسول الله (ص) دامر اطاعت به کوؤ، که پدې لاره کښې زموږ سرونه ځې هم ولاړدې شي له هغه وروسته عبدالله بن جحش (رض) خپل ماموریت ترسره کړ او دهیڅ ډول خطر پروایې ونکړه.

دبدرپه غزا کښې چې دحق او باطل دلومړنې معرکې په نوم یادیږي، عبد

الله بن جحش (رض) دمؤمنانو په هغه ډله کښې موجود ؤ چې هغوی ته دالله (ج) لخوا خاص امتیاز اومقام ورپه برخه سویدی، په همدی جګړه کښې دخالد بن ولید (رض) ورور ولید بن ولید بن مغیره دعبدالله بن جحش په لاس اسیر ونیول سو، عبدالله بن جحش (رض) دلومړنیو ایمان راوړونکو له جملې نه ؤ، ددوه ځلی هجرت کوونکو مهاجرینو په ډله کښې شامل ؤ دغزاګانو لړۍ لانه وه شروع سوی چې دجهاد میدان ته یې ودانګل، اوهغه سریه په تاریخ کښې دسریه عبدالله بن جحش په نامه شهرت لری.

دنبوی شمعی دغه پتنګ نه یوازی په زړه کښې دشهادت دجام څښلوهیله من ؤ بلکې دلوی خدای (ج) له دربارنه یې دشهادت غوښتنه کوله، دهغه دا غوښتنه درب العزت په دربار کښې قبوله سوه پداسی شان چې دهجرت په دریم کال دشوال دمیاشتې په شپږمه ورځ حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) اوحضرت عبدالله بن جحش (رض) دوه په دوه ناست وو اودجګړې په هکله یې خبری اتری کولی سعدبن ابی وقاص (رض) دعا وکړه: الهی! کله چې زه دجنګ میدان ته ورشم، زما مقابلې ته دکافرانو یوسخت جنګیالی راوله چې ورسره وجنګیږم بیا ماته پرهغه باندی برلاسی راکړه ترڅو ستا په لاره کښې یې ووژنم.

حضرت عبدالله (رض) دهغه پردعا امین وویل وروسته یې ددعا لاسونه پورته کړل ویې ویل: پروردګاره زمامقابلې ته داسی یوسړی راوله چې توریالی او په جګړه کښې ډیر تیزوی اوزه ورسره ترهغه وجنګیږم چې ستاپه لاره کښې دهغه په لاس ووژل شم او بیا وروسته زما پوزه اوغوږ پریکړی، کله چې زه د قیامت په ورځ ستا حضورته درشم اوته راڅخه پوښتنه وکړې چې: پوزه او غوږونه دی ولی غوڅ سویدی نوزه به عرض وکړم چې الله! ستا لپاره اوستا د رسول لپاره اوزما دخبری په جواب کښې راته وفرمایی چې: هو! ته ریشتیا وائی.

سعد بن ابی وقاص (رض) دده په دعا امین وویل کله چې داحد جګړه ونښتله حضرت عبدالله بن جحش (رض) په ډیره میړانه وجنګیدی ترداسی حده

چې دهغه په لاس کښې توره ماته سوه رسول الله (ص) هغه ته دخرما دونی يوه دړه په لاس کښې ورکړه چې له هغې څخه يې دتورې کار اخيست پدې ترڅ کښې ابوالحکم بن اخنس ثقفي دتورې ګوزار ورباندې وکړ اوهغه خپل ژوند دخدای (ج) په لار کښې لوګې کړ اودشهادت جام يې نوش کې مشرکانو دهغه پوزه اوغوږ پريکړل اودهغه مبارك جسد يې مثله کړ اوپدې ترتيب الله (ج) دهغه دعا قبوله کړه.

علامه ابن اثير (رح) ليکلی دی چې حضرت سعدبن ابی وقاص (رض) دهغه جسدپه ليدلو وويل: (قسم په خدای (ج) دی چې زما له دعانه دعبدالله دعابهتره وه). حضرت عبدالله بن جحش (رض) رسول الله (ص) ته دومره ګران ؤ چې دهغه جسديې دخپل ګران اومحبوب تره سيد الشهداء حمزه (رض) له جسد سره يوځای په يوه قبر کښې دفن کړچې نن هم داحد په هديره کښې دهغه مزار معلوم دی اودنړۍ دګوټ ګوټ حاجيان زيارت ته ورځی. (رضی الله عنه)

## حضرت عمرو بن عبسه رضي الله عنه

حضرت عمرو بن عبسه (رض) چې دمور نوم يې رمله بنت وقيعه ؤ دمستدرك حاکم ديو روايت له مخې دجليل القدر مشهور صحابي حضرت ابوذر غفاري (رض) دمور زوی يعنی اخيافي وروړؤ خو ابوذر دبنوغفار قبيلې ته اوعمرو بن عبسه دبنوسليم قبيلې ته منسوب ؤ.

دجاهليت په دور کښې هم له هغو کسانو څخه ؤ چې الله (ج) يې واحد لا شريك ګڼی اوبتانو ته يې سرپه سجده نه کښته کوی حافظ ابن حجر عسقلانی په اصابه کښې پخپله له حضرت عمرو بن عبسه (رض) څخه روايت نقل کړيدی چې وايي: ماچې خپل ځان پيژندلی دی، له هغه وخت څخه مې دبتانو عبادت ندی کړی اوزما داعقيده وه چې بتان چاته نه ګټه رسولای شی اونه زيان، نورو خلګو به چې دبتانو عبادت کوی زماپه نظر کښې هغوی ګمراهان وه يوه ورځ مې له يوتن اهل کتاب سره ليدنه کتنه وسوه هغه راته وويل چې زموږ دکتاب دپيشګوئی له مخې په مکه کښې داسی يو شخص راپورته کيدونکی دی چې خلګ به دبتانوله عبادت څخه منع کوی اودواحد لاشريك معبود بندګی ته به

یی دعوت کوی اودهغه شریعت به له ټولو شریعتونو څخه بهتر وی.

ددی خبری له اوریدو نه وروسته به ما هر وخت انتظار ایستی چی کله به داخبر زما غوږته رسیږی یوه ورځ له مکی نه یوسړی راغی، راته ویی ویل چی: په مکه کښی یوسړی راپورته سویدی خلګ دبتانو له عبادت څخه منع کوی اودیوه خدای (ج) بندګی ته یی رابولی اوداسی معلومیږی چی هغه دیو غوره دین داعی دی.

ددی زیری له اوریدونه وروسته زه مکی ته روان سوم رسول الله (ص) دعکاز بازارته تللی ؤ چی هلته به هرکال دعربی نړی له (ګوټ ګوټ) نه خلګ دمیلی لپاره غونډیدل، زه هم په هغه ورپسی دعکاز بازار ته لاړم ومی لیدل چی رسول الله (ص) په یوه لویه غونډه کښی خلګو ته دحق تبلیغ کوی اوخلګ په هغه پوری مسخری کوی اوهغه دکفارو دناوړه سلوك په مقابل کښی له صبر اوزغم څخه کار اخلی زه دموقع په میندلو وروړاندی سوم، پوښتنه می وکړه: ته څوك یی؟ جواب یی راکړ: زه دالله پیغمبر یم. پوښتنه می وکړه: پیغمبر چاته وائی؟ جواب یی راکړ: دالله لخوا پیغام راوړونکی ته. پوښتنه می وکړه: ایا الله په ریشتیا سره ته رالیږلی یی؟ جواب یی راکړ: هو، الله ماته نبوت را کړیدی. پو ښتنه می وکړه: ستا بلنه څه ده؟ جواب یی راکړ: الله (ج) دی یو اولا شریك وګڼل شی، دبتانو عبادت دی نه کیږی، له خپلوانو سره دی محبت او ښه سلوك وشی. پوښتنه می وکړه: په تا باندی چا ایمان راوړیدی؟ جواب یی راکړ: هو، دغو دواړو په ماباندی ایمان راوړیدی (هلته ابوبکر صدیق (رض) او حضرت بلال (رض) موجود وه. پوښتنه می وکړه: اسلام څه شی دی؟ ویی فرمایل: له هر چا سره په ښو اخلاقو برخورد او مسکینانو ته خواړه ورکول. پوښتنه می وکړه: ایمان څه شی دی؟ ویی فرمایل: دخدای په لاره کښی صبر کول او راضی اوسیدل. پوښتنه می وکړه: داسلام لوړه درجه څه ده؟ ویی فرمایل: داچی نه چاته په ژبه ضرر ورسول شی او نه په لاس. پوښتنه می وکړه: دایمان لوړه درجه څه ده؟ ویی فرمایل: په ښه عمل سره په ایمان کښی لوړتیا پیدا کیږی. عرض می وکی: ای دالله رسوله زه هم په تا باندی ایمان راوړم،

اقرار کوم چې الله واحد لاشريك دی دبتانو بندګی نه منم اوله خپلوانو سره به غوره سلوك کوم ويې فرمايل: وروره! نن چې پر موږ باندی کم ظلمونه کيږی، ته هغه نشې زغملای، اوس ته بيرته خپل وطن ته ولاړ شه، کله چې خبر سوی چې موږ غالب سوی يو بياچې موږ هرچيرته وو همالته راشه. زه درسول الله (ص) دامر سره سم خپل وطن ته ولاړم.

دسيرت پوهانو دوينا له مخې حضرت عمرو بن عبسه دبعثت په څلورم کال هغه وخت دايمان دعظيم دولت خاوند سو چې رسول کريم عليه افضل التحية والتسليم د: دفاصدع بماتؤمر، له اسمانی فرمان سره سم په ښکاره ډول دحق تبليغ شروع کړی ؤ اودا هغه سخته زمانه وه چې درسول الله (ص) ملګرتيا يوازی هغو کسانو کولای سوه چې دهغوی په عقيده اوايمان کښې هيڅ ډول مصيبتونو اوتعذيبونو ديوی ذری په اندازه سستی نسوه راوستلی او نه دسر او مال تاوان دهغوی په عزم او اراده کښې څه تغير راوستلی سو. حضرت عمرو بن عبسه (رض) تر اتم هجری کال پوری پخپل وطن کښې اوسيدی، يوه ورځ دمدينی منوری څوکسان لاروی دهغه دکور ترڅنګ چې په بيديا کښې يوه جونګړه وه تيريدل، له هغو څخه يې پوښتنه وکړه: (څوك چې له مکې نه تاسی ته درغلی دی، دهغه څه حال دی؟ هغو جواب ورکړ: (کوم وخت چې هغه راتلی، دهغه قوم دهغه دوژلو اراده کړی وه خوالله (ج) هغه ته دقوم له شرنه نجات ورکړ اوپه خيريت سره مدينی ته راورسيدی، اوس چې موږ ديخوا ته راتلو دهغه دا حال ؤ چې خلګ ډله ډله دهغه خواته ورمات وو.

حضرت عمرو بن عبسه (رض) ددی خبری له اوريدو نه وروسته سمدلاسه مدينی ته روان سو له رسيدونه وروسته درسول الله (ص) حضورته ورغی، سلام يی واچوی، بيايی عرض وکی: ای دالله رسوله! ما پيژ نې؟ ويې فرمايل: هو، ته همغه سړی يی چې څوکاله مخکې دی په مکه کښې له ماسره کتلی وه او زما درسالت تصديق دی کړی ؤ حضرت عمرو بن عبسه (رض) عرض وکی:

بيشکه ای دالله رسوله زه همغه سړی يم. حافظ ابن حجر په الاصابه کښې ليکلی دی چې دپيژندګلوی څخه وروسته حضرت عمرو بن عبسه (رض) عرض

وکی: یارسول الله علمنی ماعلمك الله، یعنی ماته دهغه څه تعلیم وکړه چی الله (ج) تاته درښودلی دی. له رسول الله (ص) څخه یی دینی احکام زده کړل اودتل لپاره یی په مدینه کښی استوګنه غوره کړه څه موده وروسته چی دمکی دفتح سفر مینځ ته راغی نوحضرت عمرو بن عبسه (رض) هم په هغه لس زره کسیز اسلامی لښکر کښی ګډون درلود چی دهغه عظمت په تاریخ کښی په زرینو کرښو ثبت سویدی.

دطائف په جګړه کښی هم برخوال ؤ په مسنداحمد بن حنبل کښی پخپله له حضرت عمرو بن عبسه (رض) څخه روایت دی چی دطایف دمحاصری په دوران کښی رسول الله (ص) وفرمایل: هرڅوك چی دالله (ج) په لاره کښی یو غشی وولی، دهغه لپاره به په جنت کښی یوه دروازه پرانستله شی ماچی دا مبارکه وینا واوریدله، پرله پسی می شپاړس غشی وویشتل، حضرت عمروبن عبسه (رض) که څه هم درسول الله (ص) په صحبت کښی لږ موده تیره کړی وه خو بیاهم دحدیثو دروایت کوونکو صحابه ؤ کرامو په څلورم لمبر تولګی کښی یی ځای درلود اوله هغه څخه (۴۸) حدیثونه روایت سویدی.

حضرت عمروبن عبسه (رض) دخپل زهد اوتقوی اودرسول الله دمخلصانه پیروی په برکت دخدای (ج) په درګاه کښی منل سوی انسان ؤ دحضرت کعب (رض) غلام روایت کړیدی چی یوه ورځ حضرت عمرو بن عبسه (رض) درمی پیولو لپاره ځنګله ته ولاړی، ترغرمی پوری وځنډیدی چی ورپسی ورغلم ومی لیده چی هغه بیده دی او وریځی ورباندی سیوری جوړکړی دی ماچی کله هغه راویښ کړ نوراته یی وویل: څه چی دی ولیدل، ستادی په خدای (ج) قسم وی چی چاته به یی نه وایی ماهم دهغه دوفات تروختنه پوری داحال چاته ونه وایه.

حضرت عمرو بن عبسه (رض) خپل ټول عمر دالله (ج) دکتاب اودرسول (ص) دسنت له غوښتنو سره سم تیرکړ او په پای کښی دحضرت عثمان (رض) دخلافت په دورکښی له دی فانی دنیا نه رخصت سو. (رضی الله عنه)

## حضرت عبیده بن حارث رضي الله عنه

حضرت عبیده بن حارث دقریشو دبنو مطلب کورنی ته منسوب اودنسب

لړی یی په څلورم پښت یعنی عبدمناف کښی له رسول الله (ص) سره یوځای کیدله، دمور نوم یی ؤ: سخیله، په عمر کښی لس کاله دپیغمبر (ص) څخه مشر ؤ.

دبعثت په لومړنیو دریو کلونو کښی هغه وخت یی دحق دعوت ته لبیك وویل چی حضرت عثمان بن مظعون (رض) حضرت عبد الرحمن بن عوف (رض)، حضرت ابوعبیده بن الجراح (رض) حضرت ابوسلمه بن الاسد (رض) او حضرت ارقم ابن ابی الارقم (رضی الله عنهم اجمعین) په اسلام مشرف سوی وه او پیغمبر (ص) لاپه دار ارقم کښی دیره نه وه نیولی. دبعثت په اوم کال چی قریشو ولیدل داولو ظلمونو اومصیبتونو سره سره بیاهم ورځ په ورځ دمسلمانانو شمیر زیاتیږی یوشمیر حبشی ته مهاجر سول اونور دظلم په ژرنده په مکه کښی اوړه کیږی خو هیڅ تکلیف او کړاؤ دهغوی په عقیده کښی تزلزل رانه وستلی سو نویی په یوه لویه غونډه کښی فیصله وکړه چی ترڅو پوری چی بنوهاشم محمد (ص) دوی ته ونه سپاری اودهغه له حمایت نه لاس وانخلی دوی به دبنوهاشم له ټولی پلرګنی سره اقتصادی اواجتماعی مقاطعه کوی، نه به څوك ورباندی څه خرڅوی، نه به ورڅخه څه اخلی، نه به ورسره خبری کوی اونه به یی ازادانه ګرځیدو راګرځیدو ته پریږدی بلکی نه به یی پریږدی چی پخپلو کورونو کښی واوسیږی، دامعاهده ولیکل سوه اودکعبی په دروازه باندی وځړول سو.

بنوهاشم چی دمشرکانو له دغی فیصلی نه خبر سول، له ابولهب اودهغه ترلاس لاندی څوکسانو څخه پرته نورو ټولو دپیغمبر (ص) ملګرتیا اوحمایت ته ملا وتړله اوله خپلو ښځو اوماشومانو سره دغره یوی دری ته چی دشعب ابی طالب په نوم یادیدله کډه سول او ورسره دبنومطلب کورنی چی دعبیده بن حارث پرګنه ده هغوی هم پدی سختو اوترخو وختونو کښی له بنوهاشم سره ملګری وو.

حضرت عبیده (رض) دحق په ملګرتیا کښی ددری کلنی سختی محاصری ټول کړاوونه په ورین تندی وزغمل هلته به زیاتره وخت له داسی سختی لوږی

سره مخامخ کیدل چې دونو پاڼې به یې خوړلې همدارنګه دځرمنې ټوټې به یې لمدولې اوپه هغو سره به یې دلوږې مخنیوی کوی.

دامن اوامان په وختونو اواسانه شرائطو اوبې خطره حالاتو کې خو به هر څوك داسلام مدعی شی خو دخدای تعالی (ج) په وړاندی هغه مؤمن بندګان دزیات قدر وړ دی چې په مصیبتونو او کړاوونو کښې او دسر او مال دسخت خطر په وختونو کښې دحق له کاروان سره ملګرتیا وکړي، رحمت دی وی درسول الله (ص) پرخوږو ملګرو چې دحق په لاره کښې یې هرډول تکلیفونو ته اوږه ورکړه اودسر اومال قربانیو ته تیار سول.

کله چې سرور کائنات (ص) مدینې منورې ته دهجرت کولو اجازه وکړه حضرت عبیده بن حارث (رض) هم دخپلو وروڼو طفیل اوحصین او وراره مسطح بن اثاثه په شمول دخدای (ج) په لاره کښې اودخدای (ج) ددین دحفاظت اوساتنې لپاره خپل پلرنی محبوب وطن پریښودی اومدینې ته یې هجرت وکی پدی وخت کښې دهغه عمر شپیتو کلونوته رسیدلی ؤ له همدی امله د (شیخ المهاجرین) په لقب سره ونومولی سو اوکله چې رسول الله (ص) پخپله مدینې ته تشریف یوؤړ نوحضرت عبیده ته یې ددایمی استوګنې لپاره یوه ټوټه ځمکه ورکړه چې هغه پکښې دخپلې ټولې کورنې لپاره ودانی وکړه اوهلته یې سکونت غوره کړ.

له هجرت نه وروسته که څه هم مسلمانان تر یوحده دمشرکانو له اذیتونو څخه بې غمه سول خوبیاهم هر وخت ددښمنانو دیرغل او ناڅاپې حملې خطر موجود ؤ دهمدې خطر دمخنیوی لپاره به سرور کائنات (ص) وخت ناوخت واړه واړه وسله وال ګروپونه دمکې خواته یا دمدینې اطرافو ته لیږل چې په اسلام کښې سرایا اوپه اوسنی اصطلاح ورته ګوریلا ټولګی ویل کیږي، دبدر له غزا نه دمخه چې کم سرایا لیږل سویدی په هغوکښې یوه سریه درابغ ناؤ خواته دحضرت عبیده بن حارث (رض) ترقیادت لاندی لیږل سبیده چې په هغو کښې دمسلمانانو شپیته کسیزه ډله ددښمن له دوه سوه کسیز ټولی سره مخامخ سوه مګر کفارو دمقابلې پرځای دبیرته تیښتې لاره په مخ کښې ونیوله پدی سریه

کښې دحضرت سعد بن ابی وقاص غوندی نامتو سپه سالارهم دحضرت عبیده بن حارث ترقوماندی لاندی دیوعسکر په صفت برخوال ؤ او په صحیح بخاری کښې راغلی دی چې حضرت سعد ویلی دی: زه په عربو کښې لومړنی سړی یم چې دخدای (ج) په لاره کښې می دغشی ګوزار کړیدی یعنی دحضرت عبیده بن حارث (رض) سریه هغه لومړنی سریه ده چې دالله (ج) په لاره کښې غشی پکښې وویشتل سول.

دهجرت په دویم کال درمضان په میاشت کښې چې کله دبدر په میدان کښې دحق اوباطل لښکری سره مخامخ سوی نوپدی وخت کښې حضرت عبیده (رض) ته هم درحمة للعلمین ملګرتیا په نصیب وه، دقریشو دبنو عبد مناف مشهور جنګیالی عتبه، شیبه اوولید دجنګ میدان ته راوړاندی سول چې دهغو مقابلی ته حضرت عوف (رض) حضرت معاذ (رض) اوحضرت معوذ (رض) ورووتل چې دادري واړه له انصارو څخه وو عتبه دهغوی دنومونو او نسب پوښتنه وکړه، کله چې ورته معلومه سوه چې دوی دمدینی انصار دی نو په لوړ ږغ بی ناری کړی: محمد! (ﷺ) دا خلګ زموږ سیالان او رقیبان ندی زموږ مقابلی ته دی زموږ تربرونه را وړاندی شی. رسول الله (ص) دری واړه انصار مجاهدین شاته کړل اوامر یی وکی: حمزه، علی، او عبیده وړاندی سئ او دحق پخاطر وجنګیږئ. دنبوی فرمان سره سم دحقی لاری دری واړه سرښندونکی حضرت حمزه بن عبد المطلب، حضرت علی بن ابی طالب او حضرت عبیده بن حارث دخپلو حریفانو جنګ ته وړاندی سول.

علامه ابن سعد وایی چې حضرت حمزه له عتبه سره مخامخ سو اوږغ یی وکی (زه یم حمزه بن عبد المطلب، دالله اودهغه درسول زمری) عتبه ورته په جواب کښې وویل: (زه دخپلو حلیفانو زمری یم خودا ووایه چې نوردوه ملګری درسره څوك دی؟ حضرت حمزه وفرمایل: (یوعلی بی ابی طالب او بل عبید بن حارث) عتبه وویل: سمه ده، اوس نوتاسی زموږ دمقابلی وړ یاست.

کله چې جګړه پیل سوه عتبه دحضرت حمزه په لاس اوولید دحضرت علی کرم الله وجهه په لاس ووژل سول او دحضرت عبیده (رض) اوشیبه ترمینځ تر

ډيره حده وار ګوزار روان ؤ په پاى كښى شيبه پرحضرت عبيده (رض) باندى دتورى ډير سخت ګوزار وكى چى په هغه سره سخت زخمى سومګر حضرت حمزه (رض) ددى ګوزار انتقام واخيست اوشيبه يى دتورى په يووارسره دجهنم كندى ته پخپلو نورو دوو ملګرو پسى وليږى.

كله چى حضرت عبيده بن حارث (رض) درسول الله (ص) حضور ته راوړل سو اوپيغمبر (ص) دهغه زخمونه وليدل له حده زيات خپه سو اودمينى څرګندولو په منظوريى خپل مبارك سردهغه په ورانه باندى كيښود پدى وخت كښى حضرت عبيده (رض) عرض وكى يارسول الله ايا ماته به دشهادت مرګ په نصيب نشى؟ پيغمبر (ص) وفرمايل: ولى نه ته په ريشتيا سره شهيد يى او دښو خلګو پيشوا يى) دسرور كائنات (ص) ددى جواب په اوريدو سره دحضرت عبيده (رض) په څيره كښى دخوښى نښى نښانى وځليدى اوويى ويل: كه نن ابوطالب ژوندى واى اوزه يى پدغه حالت كښى ليدلى واى نوباور به يى راغلى ؤ چى زه څومره دهغه ددى شعر مصداق يم چى ويلى يى وو:

ونسلمه حتى نصرع حوله ❋ ونذهل عن ابناءنا والحلائل

يعنى موږبه ترهغه پورى درسول الله حفاظت كوو چى دهغه نه ګردچاپيره قر بانى سو اوله خپلى كورنى او ټبر څخه بى پروا سو.

دبدر له جګړى نه مدينى منورى ته دراستنيدو په لاره كښى دحضرت عبيده (رض) دعمرشيبى پوره سوى، په وادى صفراء كښى يى پاك روح عليين ته پرواز وكى او په همغه وادى كښى دفن كړل سو.

څه موده وروسته يووخت سرور كائنات (ص) له خپلو ملګرو سره په هغى لاره باندى تيريدى او دشپى تيرولو لپاره يى په وادى صفراء كښى واړول، دشپى وړمه لګيدله اودمشكو خوشبوئى يى خپروله، صحابه ؤ كرامو (رض) عرض وكى: يا رسول الله! زموږ پردماغ باندى دمشكو خوشبوئى لګيږى، دابه له كم لورى څخه راځى؟ پيغمبر (ص) وفرمايل: (دلته چى دابو معاويه قبر موجود وى، تاسى ولى تعجب كوى) ابو معاويه دحضرت عبيده بن حارث، دبدر دنامتو شهيد كنيت نوم ؤ، هغه چى په ډيرو ترخو حالاتو كښى يى په ډير

اخـلاص اوكلـك عـزم دحـق لـه كـاروان سـره ملګرتيـا وكـړه هغـه څـوك چـې دمهاجرينو پـه ټـولۍ كښې دسپين ږيرتـوب لـه املـه د (شيـخ المهـاجرين) لقب وركړل سو او هغـه څـوك چې درسول الله (ص) پـه ژبـه دخداى (ج) پـه لار كښې دشهادت دلوړې درجې ميندلو اودنيكانو دپيشوائي زيري وركړل سو. (رضى الله عنه)

## حضرت عمرو بن جموح رضي الله عنه

حـضرت عمـرو بـن جمـوح (رض) دمـدينې دانـصارو دخـزرج دسـترى او مشهورى قبيلې دبنوسلمه پرګنې رئيس ؤ په اسلام باندې لـه مشرف كيـدو نـه دمخه يې دلرګي يوبت جوړ كړى اودعبادت لپاره يې پخپل كور كښې ايښى ؤ چې دهغه دغه عمل دبعثت تـر ديارلسم كـال پـورى دوام درلـودى خو كله چې دنبوت په (۱۳) كال كښې دمدينې پنځه اويا كسانو دعقبې په ناؤكښې دسرور كائنات (ص) په مبارك لاس دايمان اوقربانى بيعت وكې اوله بيرتـه ستنيدو نـه وروسته يې دمدينې پـه شرك ځپليـو تيـارو كورونـو كښې دتوحيد ډيـوه پرلـه پسې بلوله، په همدې دوران كښې دعمرو بن جمـوح (رض) دا قبـال سـتورى هـم وځليدى اودشرك له تورى تيارى څخه دتوحيد رڼاته راووتى او دهغـه پـه ژونـد كښې ددې ستر بدلون اوتحول راتلو لپـاره دهغـه زلمـى زوى حضرت معـاذ بـن عمرو بن جموح (رض) چې په بيعت دعقبه ثانيـه كښې برخوال ؤ اغيزنـاك نقش درلودى.

معاذبن عمرو چې كله وليـدل، دبيعت كوونكو لـه راستنيدو نـه وروسـته ديثرب يعنى مدينې منورى زياتره كـورنى داسـلام پـه ډيـوه روښـانه دى خودده سپين ږيرى پلار عمرو بـن جمـوح لا همـاغسې دخپـل منـاف نـومى بـت پـه مينـه كښې غرق دى نو يې دتوحيد خواته دهغه دمخ را اړولـو لپـاره دالاره وسنجوله چې دشپې بـه يـې دهغـه بـت لـه كـوره وايـستى دنجاست اوچټلې پـه يـوه كنـده كښې به يې غورځوى عمرو به چې سهار وليدل چې بت يې په كور كښې نسته نو له غوسې نه به ډك سو اودهغه پـه لټـه پسې بـه سو كله بـه يې چې وميندى لـه

نجاست نه به یی پاك كړ، وبه یی مینځی، خوشبوئی به یی پرووهله اوبیا به یی په كور كښې كیښودی.

څنګه چې داوضع هره ورځ تكراریدله نویوه ورځ عمرو بن جموح په تنګ راغی، د (مناف) په غاړه كښې یی توره وځړوله اوور ته یی وویل: كه په تا كښې څه خیر وی نو له خپل ځان څخه دی دفاع وكړه.

كله چې شپه تیره سوه داخل یی خپل بت دنجاست په ډكه كنده كښې پداسی حال كښې ومیندی چې توره ورسره نسته اودیوه پړی په وسیله په یوه مردار سپی پوری تړل سویدی، نودپخوا نه زیات دغیظ اوغضب اوسخت خپګان په حالت كښې سو، پدی وخت كښې دمدینی هغه بختور كسان چې په اسلام مشرف سوی وه ورغلل، په مردار سپی پوری تړل سوی، بیوسی بت ته داشاری په ترڅ كښې یی عمروبن جموح ته توصیه وكړه چې دهغه پرځای دحی اوقیوم خدای (ج) بندګی اودهغه دپیغمبر (ص) پیروی وكړی اودهغه دین او شریعت په رڼا كښې ژوند وكړی چې انسان دانسان له بندګی نه ازادوی اودیوه مقتدر خدای (ج) بندګی ته یی رابولی، دهغه ذات بندګی ته چې هغه د لا زوال قدرت خاوند دی عمرو بن جموح دخپل باطل معبود دبیوسی په لیدلو اودحق په دعوت سره زیات اغیزمن سو او سمدلاسه په اسلام مشرف سو.

علامه ابن اسحاق (رح) ویلی دی چې هغه خپل بت ته په خطاب پدی مفهوم شعر ووایه: په خدای قسم كه ته معبود (اله) وای نوته او مردار سپی به په یوه رسی كښې تړل سوی پراته نه وای پرهغه ذلیل ځای دی لعنت وی چې ته پكښې پروت وی، كه ما له هغه ځایه ته نه وای راپورته كړی ته به همالته پروت وای الله (ج) زه ستا له پیروی نه وژغورلم مخكی له دی نه چې په تیاره كښې دخپل شرك په دام كښې راګیر شم ټوله ثنا ستاینه هغه لوی او لوړ خدای (ج) لره ده چې احسان كوونكی، روزی وركوونكی اود قیامت دورځی مالك دی) له اسلام راوړلو نه وروسته حضرت عمرو بن جموح (رض) خپل سر اومال دخدای (ج) په لاره كښې وقف كړل، رسول الله (ص) له بنوسلمه نه پو ښتنه وكړه: ستاسی رئیس څوك دی؟ هغوی عرض وكی: جد بن قیس چې په بخل

سره شهرت لری پیغمبر (ص) وفرمایل: له بخل نه بد تربل شی نسته، له نن نه وروسته ستاسی رئیس دسپینو څڼو خاوند عمرو بن جموح دی.

دحق اوباطل دلومړنی معرکی یعنی دبدر دغزا وخت چی راغی حضرت عمرو بن جموح سره له دی سره چی په یوه پښه ګوډ ؤ په ډیره ولوله یی وغوښتل چی جهاد ته ولاړ شی مګر دهغه ځلور زامن دهغه دتللو مانع سول خوځنګه چی هغه بیاهم ټینګار کوی نو زامنویی موضوع دسرور کائنات (ص) په حضور کښی عرض کړه پیغمبر (ص) وفرمایل: (اسلام هغه دجهاد له فریضی نه معاف کړیدی، داځکه چی هغه دګوډوالی لامله عاجزدی) کله چی رسول الله (ص) دهجرت په دریم کال دشوال دمیاشتی په شپږمه داحد دغزا لپاره صحابه چمتو کول حضرت عمرو بن جموح (رض) دسرور کائنات حضورته ورغی د زاریو په لهجه بی عرض وکی:

یا رسول الله زما زامن پخپله جهادته روان دی اوما نه پریږدی چی په جهاد کښی برخه واخلم او ستا ملګرتیا وکړم او راته وایی ستاپښه ګوډه ده خوزه په الله (ج) قسم خورم اوهیله من یم چی که دخدای (ج) دلاری په جهاد کښی ووژل شم په همدی ګوډه پښه به سکیږم او جنت ته به ځم.

رسول الله (ص) چی ولیدله هغه له معاف کیدوسره سره بیاهم ټینګار کوی چی جهادته ولاړ شی نویی اجازه ورکړه عمروبن جموح (رض) وسله راواخیسته اودرانیدو په وخت کښی بی په ډیر عجز اونیازسره خپل رب ته دعا وکړه چی: (اللهم ارزقنی الشهادة ولاتردنی الی اهلی خالیا) الهی ماته شهادت په نصیب کړه او بیرته می نا امیده خپل کور ته مه راوله.

داحد په غزا کښی حضرت عمروبن جموح (رض) اودهغه ځلورو زامنو په ډیر جرئت او میړانه د شیطان پر پیروانو دتورو ګوزارونه کول خو په عین حال کښی به حضرت عمرو داسمان خواته داسی سترګی اړولی چی تابه ویل دپرشتی انتظار باسی چی راسی دده روح قبض کړی او بیایی له ځانه سره جنت ته بوځی هغه دشهادت سوال کړی ؤ اوقسم یی خوړلی ؤ چی زه به په همدی ګوډه پښه جنت ته ځم او پدی یی عقیده وه چی خدای (ج) به دده سوال

قبول کړی وی اوپه قسم کښی به یی نه حانثوی.

دهغه دانتظار شیبی پوره سوی اوله خدای (ج) سره دوصل کیدو نیته را ورسیده، یوی ډلی مشرکانو محاصره کړ اوپه پای کښی یی شهید کړ، کله چی دمشرکانو پوځ په شا ولاړی اورسول اکرم (ص) داحد په میدان کښی دحقی لاری دشهیدانو مطهر جسدنه کتل سترګی یی دحضرت عمرو بن جموح (رض) پرجسد ولګیدی چی په وینو اوخاوروکښی لت پت پروت دی پدی وخت کښی یی وفرمایل: دخدای (ج) ځینی بندګان چی قسم وخوری، خدای (ج) دهغوی قسم پوره کوی عمرو (رض) هم له همدغسی بندګانو څخه دی زه وینم چی هغه په جنت کښی ګرځی راګرځی اودهغه ګوډه پښه روغه سویده.

پدی غزا کښی دحضرت عمرو بن جموح (رض) اخښی حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام (رض) هم شهید سوی ؤ دحضرت عمروبن جموح میرمن صحابیه بی بی حضرت هند (رض) چی کله دخپل میړه حضرت عمرو (رض) دخپل ورور حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام (رض) اودخپل زوی حضرت خلاد (رض) د شهادت خبر واوریدی نو پوښتنه یی وکړه: درسول الله (ص) څه حال دی؟

خلګو جواب ورکړ: هغه ژوندی دی دخوښی په څپو کښی دهغه حضورته ورغله عرض یی وکی: ته چی سلامت یی، نور ټول غمونه هیڅ دی حضرت هند (رض) له ځان سره داحد میدان ته یو اوښ بیولی ؤ پرهغه باندی یی دخپل میړه زوی او ورور جسدونه بار کړل او دمدینی په خوا روانه سوه په لاره کښی ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه (رض) اوځو تنه نوری بیبیانی په مخه ورغلی درسول الله (ص) په هکله دپوښتنی په جواب کښی حضرت هند (رض) وویل: رسول الله (ص) ژوندی دی اوپدی اوښ باندی زما دمیړه، زوی، ورور جسدونه دی چی په جهادکښی شهیدان سویدی، ددی خبروپه ترڅ کښی اوښ څملاست هرڅومره یی چی وواهه دمدینی په طرف روان نسو خوکله یی چی دهغه مخ داحد خواته واړوه په چټکی سره روان سو.

حضرت هند (رض) چی درسول الله (ص) حضورته ورغله اوقصه یی ورته وکړه نو پیغمبر (ص) پوښتنه وکړه: له کورنه دراوتلو په وخت کښی له دوی

ځخه كم يوه خو څه نه ؤ ويلي؟ هند (رض) عرض وكي (ولي نه، يارسول الله له كورنه دراوتلو په وخت كښي عمرو بن جموح دعا كړې وه چي: (الهي ماته شهادت په نصيب كړه او بيرته مي كورته نا اميده مه راوله).

بيا پيغمبر (ص) دري واړه دفن كړل خودعلامه ابن اثير (رح) دوينا له مخي رسول الله (ص) حضرت عمروبن جموح اوحضرت عبدالله بن عمرو بن حرام دواړه په يوه قبر كښي دفن كړل اوويي فرمايل: (عبدالله بن عمرو اوعمرو بن جموح په يوه قبر كښي دفن كړئ ځكه چي ددوی دواړو په دنيا كښي يو له بل سره ډيره مينه وه) شپږ څلويښت كاله وروسته داحد پرهديره باندي سخت سيلاب راغي قبرونه يي خراب كړل، مسلمانانو هڅه كوله چي خپل مړي بل ځای ته نقل كړي جابربن عبدالله غوښتل چي دخپل پلار عبدالله بن عمرو اودخپلي ترور دميړه عمرو بن جموح (رض) جسدونه نقل كړي ويي ليدل چي دواړه داسي روغ رمټ اوتازه پراته دي لكه چي په خوب بيده وي ځمكي ددوی له جسدونو څخه هيڅ شی نه وو خوړلي. (رضي الله عنه)

## حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه

حضرت عبدالله بن سلام دمديني ديهودو دبنوقينقاع له قبيلي څخه ؤ اصلي نوم يي حصين، دخپلي قبيلي رئيس ؤ اونه يوازي په مدينه كښي ترټولو زيات دتورات لوی عالم ؤ بلكي په انجيل باندي هم پوهيدی په تورات كښي يي داخر الزمان پيغمبر (ص) نښي نښاني لوستي وي اوپه زړه كښي يي داهيله دسمندر دڅپو په شان څپانده وه چي كاشكي دسرور كائنات (ص) په ليدويي سترگي يخي شي دكم ژوند بخښونكي او ښوونكي زيري داوريدو لپاره چي دعبدالله بن سلام (رض) غوږونه لك څك وو هغه يي دهغه شپږ كسيز هيئت له خولي نه واوريدی چي دبعثت په (۱۱) كال دحج په موسم كښي له مديني نه مكي ته تللي اودرسول الله (ص) په مبارك لاس يي دايمان اوسرښندني بيعت كړي ؤ حضرت عبدالله بن سلام چي كله دخزرج قبيلي له دغو شپږو تنو مؤمنانو څخه دسرور كائنات (ص) دنښانو اوعلائمو پوښتنه وكړه هغوی همغه نښاني بيان كړي چي ده په تورات كښي لوستي وي له همدي امله يي په زړه

کښې داسلام تخم زرغون سو، کله چې دنبوت په (۱۳) کال رسول الله (ص) مدینې ته هجرت وکی پدی وخت کښې عبد الله بن سلام پخپل باغ کښې ؤ اودهغه ترور خالده بنت حارث هم ورسره ناسته وه په ناڅاپې ډول یوڅوك باغ ته ورننووتی او هغه ته یی دمحمدرسول الله (ص) دتشریف راوړلو خبرواوروی ددی زیری په اوریدلو عبدالله بن سلام په زوره ناری کړې: (الله اکبر) خالده بنت حارث ورته وویل: حصینه ددی سړی په راتلو دی دومره خوښی ښکاره کړه چې که موسی بن عمران (ع) راغلی وای هم دومره به نه وی خوشاله سوی؟ جواب یی ورکړ: (په خدای (ج) قسم چې داهم دموسی (ع) ورورډی اودهمغه هدف په خاطر نړی ته استول سویدی دکم لپاره چې حضرت موسی (ع) راغلی ؤ ترور ورڅخه پوښتنه وکړه؟ وراره په ریښتیا سره داهمغه اخر الزمان پیغمبر دی چې په تورات اونورو اسمانی کتابونو کښې دهغه دراتګ خبر ورکړل سویدی؟

جواب یی ورکړ: هو! داهمغه پیغمبر دی هیڅ شك اوشبه پکښې نسته) خالده بنت حارث وویل: کله چې داسی ده نوموږ ډیرنیکمرغه یوچې اخرالزمان پیغمبر پخپله زموږ ښار اوسیمی ته تشریف راوړیدی.

علامه ابن هشام وائی چې له دغو خبرواترو نه وروسته حضرت عبدالله بن سلام اودهغه ترور خالده بنت حارث دواړه په منډه منډه ورغلل او په اسلام باندی دمشرف کیدو او درسول الله (ص) په لاس دبیعت کولو سعادت ورپه برخه سو کور ته له راستنیدو نه وروسته یی دخپلی کورنی ټولو غړوته دحق دعوت وړاندی کړ اوهغوی هم ټول په اسلام مشرف سول.

دحضرت عبدالله بن سلام (رض) څخه روایت دی وائی: ماپه همغه وخت کښې په رسول الله (ص) باندی غائبانه ایمان راوړی ؤچې دهغه دبعثت اوازه می غوږ ته رسیدلی وه خوما خپل ایمان له یهودو نه پټ ساتلی ؤ کله چې پیغمبر (ص) مدینی ته تشریف راؤړی زه دهغه حضورته ورغلم دهغه په لیدو اودهغه دمبارکی وینا په اوریدو می کلك باور راغی چې همدا اخر الزمان پیغمبر دی خو بیامی هم دزیات اطمینان په خاطر عرض وکی: یارسول الله زه لتانه ددریو داسی شیانو پوښتنه کوم چې هغه له مرسل پیغمبرنه پرته بل چاته

معلوم ندی:
(۱)- دقیامت په نښانو کښې لومړنی نښه کمه یوه ده؟
(۲)- دجنتیانو لومړنی خوراك به څه شی وی؟
(۳)- ماشوم کله دپلار په څیره اوکله دمورپه څیره وی ددی سبب څه شی دی؟
دلومړی پوښتنی په جواب کښې رسول الله (ص) وفرمایل: لومړنی نښه به یو داسی اور وی چې خلګ به له ختیز نه دلویدیځ خواته وځغلوی.
ددویمی پوښتنی په جواب کښې یی وفرمایل: دجنتیانو لومړنی خواړه به دماهی لړمون وی.
اودماشوم دڅیری په هکله یی وفرمایل: دادمور اوپلار دتناسلی مادی په غلبې پوری اړه لری. ددی دریو جوابونو په اوریدو سره دحضرت عبدالله له خولی نه دا الفاظ راووتل: (اشهد ان لا اله الا الله وانك رسول الله) (یعنی زه شاهدی وایم چې له الله (ج) نه پرته بل برحق معبود نسته اوبیشکه ته دالله رسول یی) دشهادت له کلمی ویلونه وروسته عبدالله بن سلام عرض وکی: یا رسول الله زه هم دیهودو دقوم مشریم اوزما پلارهم ددوی رئیس ؤ زماقوم ماته عالم بن عالم وائی اوله حده زیات احترام اودرناوی می کوی خو ماته معلومه ده چې زما قوم درواغجن اومفتری دی، ته دیهودو مشران راوغواړه زه به پټ شم، زما پوښتنه ورنه وکړه خوزما داسلام راوړلو په باب ورته څه مه وایه.
رسول الله (ص) دیهودو مشران راوغوښتل اوویی فرمایل: ای خلګو زه تاسی ته داسلام دعوت درکوم، تاسی باور وکی چې داسلام دین حق دی، زه دالله (ج) بنده اودهغه رسول یم تاسی زما دعوت قبول کړی. یهودی مشرانو وویل: (موږ اسلام نه منو، پرکمه لاره چې روان یو، هماغه زموږ لپاره بهتره او ښه ده پیغمبر (ص) پوښتنه وکړه: حصین بن سلام څنګه سړی دی؟
جواب یی ورکړ: (هغه اودهغه پلارله موږ ټولونه غوره خلګ دی هغوی زموږ مشران اوموږ یی خدمتګاران یوله هغوی نه زیات عالمان اومحترم خلګ په موږ کښې نسته) پیغمبر (ص) وفرمایل: (ښه نو که هغه مسلمان شی، تاسی به دهغه پیروی وکی؟

جواب یی ورکړ: داهیڅکله نشی کیدای چی هغه مسلمان شي.
پدی وخت کښی رسول الله (ص) عبدالله بن سلام ته ږغ وکی، هغه له پټ ځای نه پداسی حال کښی راووتی چی دشهادت کلمه یی په ژبه جاری وه او خپل قوم ته یی وویل: ای خلکو له خدای نه وویریږی تاسی ته ښه معلومه ده چی دا دالله (ج) رسول دی دده دین حق دی خو تاسی ددی دپاسه هم له ایمان راوړلو نه تښتی یهودو چی دهغه داخبری واوریدلی، له غوسی نه وپړسیدل او ویی وبل: (ته دروغجن یی ته زموږ په قوم کښی ډیر بد سړی یی اوستا پلارهم ډیر بد سړی ؤ). عبد الله بن سلام عرض وکی: یارسول الله: تا ولیدل زه ددوی دهمدی افتراء څخه اندیښمن وم پیغمبر (ص) وفرمایل: (نوربه ستا نوم دحصین پرځای عبدالله وی).
دحضرت عبدالله بن سلام ټول ژوند دقرآن اوحدیث عملی تفسیر ؤ دالله (ج) له عبادت اودرسول الله له متابعت سره یی دزړه له کومی مینه وه اودهمدی مینی لامله په رسول اکرم (ص) باندی ډیرگران ؤاودهغه په هکله به یی فرمایل: عبدالله بن سلام جنتی دی.
یوه ورځ دپیغمبر حضورته ورغی، عرض یی وکی: (یا رسول الله زما مور اوپلار دی درنه ځارشی ماتیره شپه عجیب اوغریب خوب لیدلی دی، هغه داسی چی زه په یوباغ کښی یم چی ډیر زیات لوی اوښیرازه وی دچمن په مینځ کښی داوسپنی یوه ستن وی چی بیخ یی په ځمکه کښی ښخ وی اوسریی پورته اسمان ته رسیدلی وی، بلی خواته یی یوه عروه یعنی کړی وی، ما ته چا وویل: پردغی ستنی باندی وخیژه، ما وویل: نشم ختلی پدی وخت کښی یو خدمتگار راغی، زما جامی یی راپسی راپورته کړی او زه دختلو په حال کښی سوم ترڅو چی پورته وختلم اوهغه کړی می ونیوله اوږغ راباندی وسو چی کلکه یی ونیسه، پدی وخت کښی له خوبه راویښ سوم رسول الله (ص) دهغه دخوب تعبیر وکی چی باغ اسلام دی ستن داسلام احکام دی اوکړی عروة الوثقی ده چی الله تعالی فرمایی: (فقد استمسك بالعروة الوثقی لا انفصام لها) نوته به دژوند ترپایه پوری پراسلام باندی ثابت قدم یی) ددی تعبیر په اوریدو

سره دهغه په ژبه دالله اکبر شعارونه جاري سول.

الله تعالی په سورۀ رعدکښې دوحی په ژبه دعبدالله بن سلام ستاینه کړیده چې فرمایي: (قل کفی بالله شهیدا بینی وبینکم ومن عنده علم الکتب) وو ایه ای پیغمبره زما اوستاسی ترمینځه الله (ج) دشاهد په توګه کافی دی اوبل هغه ثوك چې دکتاب عالم دی پخپله عبدالله بن سلام وویل چې دکتاب له عالم ثخه زه مراد یم). جلیل القدر صحابی عبدالله بن سلام سربیره پدی چې دتورات اوقرآن لوی عالم او دنبوی احادیثو له زیرمی ثخه برخوال ؤ، دجهاد د میدان سپاهی هم ؤ هغه دپرهیزګار اوجنتی بنده په صفت ژوند وکړ او په پای کښې په (۳۳) هجری کښې دامیر معاویه (رض) دخلافت په دور کښې وفات سو. (رضی الله عنه)

## حضرت عتبه بن غزوان رضي الله عنه

حضرت عتبه بن غزوان مازنی دبنو عیلان قبیلی دبنومازن له کورنی ثخه اوله بعثت نه کابو دیرش کاله مخکښې پیدا سوی ؤ کله چې دفاران دغره له ثوکو نه داسلام لمر راوختی اومحمد مصطفی (ص) دحق خواته بلنه پیل کړه نودغه دعوت دمکی دخلګو زړونه داسی ودرزول چې تابه ویل: ناثاپي بندر وربانډی راوغورځیدی، ځکه په کمو وهمونو تعصبونو اونارواچارو کښې چې هغوی دپیړیو په اوږدو کښې اخته وه اسلام دهغو جرړی غوثول غوښتل، هغوی ظالمان وو اسلام دعدل پیغام راوړی ؤ، هغوی دقبیلوی دښمنیو په اور کښې سوځیدل اوهمدا لاره ورته ښه ښکاریدله مګر اسلام دوروروولی خواته بلنه ورکوله، هغوی دکمزورو خلګو وینی ځبیښلی اواسلام دمستضعفانو د حمایت اونجات رغ پورته کوی هغوی خپلی لوڼی ژوندی ښخولی، اسلام ښځو ته په انسانی حقوقو اوکرامت قائل ؤ، هغوی عیاشی اوفحاشی کوله اسلام دعفت اوعصمت خواته رابلل، هغوی دبی حسه اوبی حرکته بتانو په وړاندی سجدی کولی، اسلام دواحد اومقتدر خدای (ج) بندګی ته راغوښتل هغوی دجهالت اوحیوانیت په ځنګل کښې لا قیدی خوښوله اسلام دعلم اوانسانی لوړو اخلاقوپه ماڼی کښې دهغوی لپاره سوکاله اوشرافتمندانه ژوند غوښتی.

لنډه داچې داسلام انسان جوړوونکی پیغام له سره ترپایه دهغوی دحیوانی هیلو پرخلاف ؤ له همدی کبله دحق ددعوت پرضد راپورته سول نه یوازی داچې حق ته یی غاړه نه ایښودله بلکی هرچابه چې دحق دعوت ته لبیك ویل اودحق له کاروان سره به یی ملگرتیا غوره کوله پرهغه باندی به یی داسی ظلمونه کول چې انسانیت به ورڅخه کرکه کوله او پرهغه باندی به یی داسړه ځمکه ددوزخ په شان گرموله مگر ددی ټولو ظلمونو سره سره دحق مینانو دحق پر پلوی باندی ټینگار کوی او دحق له شمعی نه دپتنگانو په څیر تاویدل، ځانونه یی وریتول خو دحق ملگرتیا یی نه پریښوده.

حضرت عتبه بن غزوان ته الله (ج) نیك فطرت په برخه کړی ؤ کله یی چې غوږ ته دحق ددعوت ږغ ورسیدی سمدلاسه یی قبول کړ اوزړه او دماغ یی شاهدی ورکړه چې همدا دخلاصون او نجات لاره ده، همدادژوند بهترین قانون دی په همدی کښی دانسانیت خیردی دخدای (ج) دښمنانو چې نه یی غوښتل دحق دعوت خپور شی او نه یی غوښتل چې دحقپالونکو ډله قوی او غټه شی دحق دشمعی دنورو پتنگانو په څیر حضرت عتبه بن غزان هم دخپلو وحشیانه ظلمونو مورد وگرځوی داهغه وخت ؤ چې ایله بیله دگوتو په شمیر کسان په اسلام مشرفه سوی وو او ټول دحق ددښمنانو په لاس دظلم په ژرنده اوړه کیدل اوکله نا کله به دلوږی له داسی سختو صحنو سره مخامخ کیدل چې دونو پاڼی به یی خوړلی اودلوږی تکلیف به یی پری دفع کوی جامی به یی وشلیدلی اوپه ډیر تکلیف سره به یی دبدن پټولو لپاره ټوټه پیدا کوله دحق پر مینانو باندی چې کله دظلمونو لړی له حده زیاته سوه، رسول اکرم (ص) په پای کښی اجازه وکړه چې حبشی ته هجرت وکړی نو دمهاجرینو په دویمه قافله کښی چې دوه اتیا نارینه اوشل ښځی پکښی شاملی وی حضرت عتبه بن غزوان (ض) هم پدی شمیر کښی یوتن ؤ دحبشی باچا نجاشی که څه هم یوخوا خوږی انسان ؤ دپردیسو مظلومانو هرډول ملاتړ به یی کوی خودحق دشمعی دغه پتنگان له شمعی نه دبیلتانه لامله سخت ناکراره او غمجن وو، پرحضرت عتبه بن غزوان (رض) باندی خوغم دومره غلبه وکړه چې څوکاله وروسته له

حبشې نه بيرته مکې ته راستون سو او دهجرت لـه بې ازاره اوامـن ژونـد څخه يې ديته ترجيح ورکړه چې که په مکه کښې هرڅه ورباندې راځې رادې شي خو چې له خپل محبوب اومولا څخه جدا نه وي.

علامه ابن اثير (رح) ليکلي دي چې له حبشې څخه دحضرت عتبه دبيرته راستنيدو تروخته پورې مدينې ته دهجرت لړې نه وه پيل سوې اومؤمنان لا هماغسې دکافرانو ترظلم لاندې وه څه موده وروسته چې رسول اکرم (ص) مدينې ته هجرت وکړ پر حضرت عتبه باندې په مکه کښې يوه شپه ديو کال په اندازه اوږده وه. شپه ورځ په دې فکر کښې غرق ؤ چې په څه شان سره دخپل بادار محمد رسول الله (ص) لمنې ته ځان ورسوې الله (ج) دهجرت دلومړې کال دشوال په مياشت کښې دهغه داسپيڅلې هيله ترسره کړه اوپدې ترتيب دذو هجرتين مقام ور په برخه سو.

دمهاجرينو اوانصارو مسلمانانو ترمينځ دمواخات دعقد په سلسله کښې رسول اکرم (ص) دحضرت عتبه بن غزوان او حضرت ابودجانه انصارې ترمينځ ورورولې برقراره کړه دمکې او مدنې ژوند ترمينځ ډير زيات توپير ؤ، په مکه کښې مؤمنان دظلم په ژرنده اوړه کيدل له ډول ډول تکليفونو اوکړاوونو سره مخامخ وو، نه يوازې سياسې اقتدار يې په لاس کښې نه ؤ بلکې په انفرادې ژوندانه کښې يې هم څه ازادې نه لرله، له اقتصادې ستونزو اومحروميتونو سره لاس په گريوان وو خو په مدينه کښې درسول الله (ص) په لاس داسلامې رياست بنسټ کيښودل سو، اسلامې قضاء نافذه سوه، اسلامې دعوت تر سياسې اقتدار لاندې چليدې، قرآنې حدود تطبيقيدل، که له يوې خوا محراب او منبرؤ لـه بلې خوا محکمـه او محتسب همٍ ؤ دا هغـه وخت ؤ چې مظلومو مسلمانانو په اسانې سره ساه واخيستله، جسماً اوروحاً په راحت سول، په تيره بياخه وخت چې ددعوت څپې دمسلحانه جهاد په وسيله په خپريدو سوې او مؤمنانو ته دالله (ج) لخوا حکم وسو چې دفتنې اور دقتال او جنگ په وسيله ووژنې دالړې چې پيل سوه حضرت عتبه بن غزوان په ټولو هغو غزاگانو کښې په پوره ميړانه او سربښندنه برخه واخيستله چې ددواړو جهانوسردار محمد

مصطفى (ﷺ) پكښې شريك ؤ. دبدر، احد، خندق، ذى قرد، فتح مكه، حنين طايف اوتبوك په غزاگانو او دحديبى اوحجة الوداع په مباركو سفرونوكښې حضرت عتبه بن غزوان درسول الله (ص) سره ملگرى ؤ.

درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته هم حضرت عتبه بن غزوان مازنى (رض) وخت په وخت په اسلامى جهادونو كښې برخه وال ؤ په تيره بياپه فاروقى دور كښې دهغه جهادى كارنامى دتاريخ په پاڼو كښې په زرينو كرښو ثبت سويدى دابله، دشت ميسان، بصره اودعراق دجنوبى سيمو نيول دهغه دفتوحاتو څرگندى بيلگى دى حضرت عتبه مينه لرله چى ديومجاهدپه صفت ژوند وكړى خوددى مينه وال نه ؤ چى دحكومت اقتدار يى په لاس كښې وى.

يوځل دحضرت عمر فاروق (رض) لخوا دبصرى دوالى په توگه وټاكل سو خوهغه شپږ مياشتى وروسته له خپلى وظيفى نه استعفاء وكړه.

ددنيا ژوند دحضرت عتبه (رض) په نظركښې بى ارزښته ؤ تل به يى اخرت په نظر كښې ؤ داخروى ژوند دسوكالى لپاره يى هم پخپله زيار ايستى او هم يى نوروته توصيه كوله، ددى مدعا داثبات لپاره دده هغه خطبه ښه دليل دى چى دبصرى په نوى جامع جومات كښې يى مؤمنانو ته پدى ډول اورولى وه : (اى خلگو! ددنيا ژوند ځوورځى دى، دنيا ډيره ژرموږ ته شا اړوونكى ده. ددنيوى ژوند ډيره برخه تيره سويده اولږ پاتى ده، مثال يى داسى دى لكه چى له لوښى نه اوبه واړول شى اوپه اخره كښې يو يو څاڅكى ترينه څڅيږى. تاسى له دى فانى نړى نه داسى يوځاى ته په تللو كى ياست چى هغه زوال اوفنا نلرى نوتاسى ولى دخپل ابدى استوگنځى لپاره تيارى نه نيسى؟

دهغه كور سامان دنيكى اوخير عمل دى اى خلگو! ماته زما بادار محمد (ص) ويلى دى چى دوږخ دومره پراخ اوژور دى چى كه دهغه له څنډى نه يوه تيږه وروغورځوله شى نو په اويا كلونو كښې به هم دهغه بيخ ته ونه رسيږى او په خداى (ج) قسم دى چى يوه ورځ به دادوزخ ارومرو ډك شى ايا تاسى پدى خبره تعجب كوى؟

په خداى (ج) قسم چى ماته پيغمبر (ص) داهم ويلى دى چى جنت به دومره

پراخ وی چی دهغه دیوی دروازی څخه تربلی پوری به دځلویښتو کلونو مزل وی خو یوه ورځ به داسی هم راشی چی دجنتیانو به ورباندی ګڼه ګوڼه وی.

ای خلګو یووخت داسی ؤ چی له مانه پرته صرف شپږ کسان له رسول الله (ص) سره ملګری وه اودومره بیوسی او بیوزلی وو چی دونوله پاڼوڅخه پرته دخوراك لپاره نورڅه نه پیداکیدل ترداسی حده چی زموږ زامی له کاره لویدلی وی اودلباس داحالت ؤ مایوه ورځ یوڅادر ومیندی، هغه می دوه ټوټی کړ، یوه ټوټه مالنګ کړ او بله سعد بن ابی وقاص (رض) نن پرموږ باندی دالله (ج) احسان دی چی موږ هریو دبیلا بیلو ښارونوامیران یو، زه له دی خبری نه الله (ج) ته پناه وروړم چی خپل ځان لوی وګڼم پداسی حال کښی چی زه دهغه په وړاندی ډیر حقیر مخلوق یم.

ای خلګو په غورسره واوری، چی نبوت ختم سویدی اوماته داسی معلومیږی چی په پای کښی به باچایان رامینځ ته شی، تاسی له موږنه وروسته امیران وګوری چی څه کوی. له بصری نه درخصتیدو په وخت کښی حضرت عتبه خلګو ته په یوه خطبه کښی وویل:

ای دبصری خلګو دګناهونوڅخه ځان ژغورل اونیك عمل دخدای په توفیق پوری اړه لری، زه درنه ځم، کله چی له مانه وروسته نور حاکمان دربانډی مقرر شی بیابه وپوهیږئ. حسن بصری (رح) وایی کله چی له حضرت عتبه (رض) نه دوروسته حکامو سره زموږ مخه سوه نوموږ ولیدل چی په ریښتیا هم حضرت عتبه (رض) ترهغه ټولو غوره ؤحضرت عتبه (رض) دمجاهدانه ژوندپه پای کښی داوبښ له شانه درالویدو په یوه پیښه کښی د (۵۷) کلونو په عمر وفات سو. (رضی الله عنه)

## حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام رضي الله عنه

حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام دانصارو دخزرج قبیلی دبنو سلمه له مشرانو څخه ؤ دشپږمی عیسوی پیړی په وروستیو وختونو کښی یی پدی فانی نړی کښی سترګی پرانستی وی اودبعثت په دیارلسم کال په اسلام مشرف سوی ؤ.

دنبوت په (۱۳) کال چی کله دحج په موسم کښی دمدینی دخلګو په قافله کښی څلور اویاتنه مؤمنان شامل وه حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام پداسی حال کښی ددی قافلی له غړو څخه ؤ چی لا تردی وخته داسلام سعادت بخښوونکی غیږه نه وه ورپه برخه سوی ابن جریر طبری (رح) دحضرت کعب بن مالك روایت رانقل کړیدی چی هغه وائی: موږ دسفر په ترڅ کښی عبدالله بن عمرو بن حرام (رض) ته وویل:

ابوجابر! ته زموږ دقوم یومشر یی، په موږ کښی درسوخ اوعزت خاوندیی خودا دډیری خواشینی ځای دی چی لا تراوسه پوری دکفر اوضلالت په تیارو کښی لالهانده یی، که ته پخپل باطل مسلك باندی همداسی باقی پاتی شی نو الله تعالی (ج) به تا دقیامت په ورځ په دوږخ کښی واچوی موږ دانه غواړو چی ستاپه څیر یوسړی له دغسی انجام سره مخامخ شی، څومره به ښه وی چی زموږ ملګرتیا وکړی اودحق دین قبول کړی رسول الله (ص) له موږسره دملاقات وعده کړیده، موږ ورځو چی دهغه په لاس بیعت وکړو حضرت کعب زیاتوی چی: موږ په ډیره ښه لهجه هغه ته دحق بلنه ورکړه اوهغه ورته لبیك وویل او سمدلاسه په اسلام مشرف سو.

دحضرت عبدالله بن عمرو بن حرام په شمول دمدینی پنځه اویا مؤمنانو چی دری اویا نارینه اودوې ښځی وی دمنی دورځو په وروستی شپه کښی دعقبی په ناؤ کښی له رسول الله (ص) سره ملاقات وکړ، پدی مجلس کښی حضرت عباس بن عبدالمطلب پاڅیدی ویی ویل: ای دخزرج خلګو! تاسی محمد (ص) ته بلنه ورکړیده چی مدینی ته درشی خو واوری چی محمد (ص) په موږ کښی دعزت اولوړ حیثیت خاوند دی، موږ ټول دده حفاظت اوحمایت کوو خواوس چی موږ پریږدی اوتاسی ته درځی، ایاپه تاسی کښی دومره قوت شته چی دټولو عربو دښمنی په غاړه واخلئ اودده څخه په سر اومال دفاع وکړی؟ اوماته داهم ووایاست چی له دښمن سره ستاسی دجګړی نوعیت څنګه دی؟ حضرت عباس بن عبد المطلب چی تردغه وخته په اسلام نه ؤ مشرف سوی خودرسول الله (ص) ملګرتیایی کوله اودهغه خواخوږی ؤ خپل وینایی

واوروله اوكښيناست په مقابل كښې حضرت عبدالله بن عمروبن حرام پاڅيدى اوويې ويل: اى عباسه! په خداى (ج) قسم دى چې موږ له جنګيدو او له مرګ ژوبلې سره پوره بلد خلګ يو، موږ لومړى په غشو سره جنګيږو غشي چې ختم شي بيا پردښمنانو باندې په نيزو سره ګوزارونه كوو او چې نيزې ماتې شي نو بيا تورې راپورته كوو اوتر هغه پورې له دښمن سره جنګيږو چې يا هغه له مينځه يوسو اويا موږله مينځه ولاړ سو.

دحضرت عبدالله بن عمرو بن حرام دوينا څخه وروسته حضرت عباس بن عبدالمطلب وويل: بيشكه چې تاسې جنګيالى خلګ ياست.

بيا انصارو رسول الله (ص) ته عرض وكړ: يارسول الله! تاسې خوهم څه وفرماياست، رسول اكرم (ص) انصاروته دقرآن كريم ايتونه ولوستل توصيه يې وكړه چې پراسلام باندې محكم اوسئ او بيايې وفرمايل: ( زه لتاسې نه دا بيعت اخلم چې تاسې به دخپلو ځانونو اودخپلو اولادونو اومالونو په څير زما حفاظت كوى او ددين دخپرولو په لاره كښې به زما پوره ملاتړ كوئ.

دانصارو له جملې نه حضرت براء بن معرور پاڅيدى ويې ريل: (يا رسول الله په خداى (ج) قسم چې موږ به ستا هراړخيز حفاظت اوملاتړ وكړو ورپسې حضرت ابوالهيثم بن التيهان وويل: يارسول الله! زموږ اوديهودو ترمينځ ژمنې به له دى بيعت نه وروسته ماتيږى داسې ونشي چې كله الله (ج) تاته غلبه دركړى او بيا موږ پريږدى او بيرته خپل قوم ته راشې.

رسول الله (ص) دموسكا په لهجه وفرمايل: نه داسې نده، زماوينا ستاسې وېناده زما ذمه وارى ستاسې ذمه وارى ده، زه ستاسې اوتاسې زما ياست، تاسې چې له چاسره جنګيږى‌زه به هم ورسره جنګ كوم اوله چاسره چې ستاسې صلح وى زمابه هم ورسره صلح وى له دى خبرو اترونه وروسته ټول يو په بل پسې وړاندې شول اودرسول الله (ص) په لاس يې دايمان اوسرښندنې بيعت وكړ چې حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام هم پدغو بيعت كوونكو كښې شامل ؤ. له بيعت نه وروسته رسول الله (ص) له انصارو نه دولس تنه مشران وټاكل نهه تنه دخزرج قبيلې اودرى تنه داوس له قبيلې څخه چې دخزرج په نهو تنو

نمایندګانو کښې یوتن حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام ؤمدینې ته له ستنیدو نه وروسته بیعت کوونکو صحابه ؤ کرامو ټولو داسلام خدمت ته ملا وتړله په تیره بیاحضرت عبدالله بن عمرو بن حرام اوحضرت سعد بن عباده چې یوځل رسول الله (ص) دهغوی دمخلصانه خدمتونو په ستاینه کښې دعا وکړه چې: الله (ج) دې ټولو انصاروته اجر ورکړي په تیره بیا عبدالله بن عمرو بن حرام او سعد بن عباده ته.

پیغمبر (ص) چې کله پخپله له مکې نه مدینې منورې ته هجرت وکړ نو حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام خپل وخت درسول الله (ص) ملګرتیا او خدمت ته وقف کړ اودومره خوشحاله ؤ چې تابه ویل دټولې دنیا پادشاهي او شتمنۍ ور په برخه شویده.

ددویم هجري کال درمضان په میاشت کښې چه کله دبدر په میدان کښې دحق اوباطل ترمینځ لومړنۍ معرکه پیښه سوه حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام (رض) دهغو درې سوه دیارلس تنو مجاهدینو څخه یوتن ؤ چې الله (ج) دوی ته دمغفرت اوجنت زیرې ورکړ په راتلونکي کال کښې دهجرت په دریم کال دشوال په میاشت کښې حضرت عبدالله سره له اوسوه تنه سرښندونکو مجاهدینو له مشرکانو له درې زره کسیز مجهز لښکرسره داحد دغره په لمن کښې مخامخ سول حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام داسلامي لښکر غړی ؤ عبدالله بن عمرو مخکښې له دې چې غازیان دجهادمیدان ته ورشي خپل غوره انجام اولوړ مقام یې لیدی. په صحیح بخاري کښې راغلي دي چې یوه ورځ مخکښې یې خپل زوی جلیل القدر صحابي جابر بن عبدالله راوغوښتی اوورته یې وویل: زویه زه باور لرم چې پدې غزا کښې به شهید کیږم، ښائي چې د مجاهدینو له جملې څخه به لومړنی شهید همدازه یم او قسم په خدای (ج) دی چې له رسول الله (ص) نه وروسته ته راباندې ډیر ګران یې تاته وصیت کوم چې زما قرضونه ادا کړه اودخپلو خویندو سرپرستي وکړه.

دجګړې میدان چې ګرم سو نوحضرت عبدالله بن عمروبن حرام په ډیره میړانه اوزړورتوب دخدای (ج) ددښمنانو په صفونو کښې ننوتی ښې اوکیڼ

خواته یی دتوری ګوزارونه کول چی یومشرك اسامه الاعور بن عبید وربانـدی ګوزار وکړ اوعبدالله هغه مقام ته ورسیدی چی جنګ تـه لـه راوتلو نـه دمخه ورسره په زړه کښی دهغه تلوسه اومینه وه یعنی دشهادت لوړمقام. سخت زړیو مشرکانو دهغه مبارك جسد مثله کړ یعنی شونډی پوزه اوغوږونه یی ورڅخه غوڅ کړل دجګړی په پای کښی چی رسول الله (ص) اوصحابه کرامو دخپلو شهیدانو مطهر جسدونه کتل پدی لړ کښی دشهید عبدالله بن عمرو زوی جابر بن عبدالله اودهغه خور هندبنت عمرو بن حرام دواړه دعبدالله بن عمرو بن حرام دجسد څنګ ته ودریدل او دهغه دمثله اندامونو په لیدلو یی په ژړا پیـل وکړ پدی وخت کښی رسول اکرم (ص) وفرمایل: (ابکوه او لاتبکوه فان الملئکة لتظله باجنحتها ) (یعنی تاسی وژاړی اوکه ونه ژاړی پرښتو پرعبدالله بانـدی خپل وزرونه سیوری کړیدی) بیا وروسته درسول الله (ص) په امر دحضرت عبد الله بن عمرو بن حرام اودهغه دخورهند دمیړه حضرت عمرو بن جموح جسدونه په یوه قبر کښی دفن کړای سول.

پـه جامع ترمذی کښی راغلی دی چی داحد لـه غـزا نـه وروسـته حضرت جابربن عبدالله ډیر زیات خپه ؤ پیغمبر (ص) دهغـه دخپګـان پـه لیـدلو پوښتنه وکړه چی: جابره ولی دومره اندیښمن یی؟

عرض یی وکړ یارسول الله! پلارمی شهید سو، ډیر اولادونه اوقرضونه یی راته پری ایښی دی رسول اکرم (ص) وفرمایل: الله (ج) له هیچا سره بی حجابه خبری ندی کړی خوستا لـه پلارسره یی بی حجابه خبری وکړی، ستا پلاریی خپل حضورته وغوښتی اوورته یی وفرمایل: زما بنده څه غواړی ووایه؟ هغه عرض وکړ: ای پروردګاره! مابیرته دنیاته ولیږه چی یوځل بیا ستاله دښمنانو سره وجنګیږم اوشهید شم الله (ج) وفرمایل: دازما فیصله ده، څوك چی له دنیا نه راشی هغه بیرته نه لیږل کیږی عبدالله عـرض وکړ: خدایه! زمـا لـه حـالاتو نـه زما اړوند کسان اووارثـان خبر کـړه دهغـه داهیله ومنل سوه اودا ایتونـه نـازل سول: (ولا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا بل احیاء عند ربهم یرزقون فرحین بما اتاهم الله من فضله ویستبشرون بالذین لم یلحقوا بهم من خلفهم الا خوف علیهم ولا هم

یحزنون) کوم کسان چی دالله په لاره کښې وژل سویدی هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی په حقیقت کښې ژوندی دی، دخپل پروردګار په وړاندی روزی مومی، الله دخپل لورینه له مخی هغوی ته څه ورکړیدی پر هغه باندی خوشاله سو او سوکاله دی او ډاډه دی چی کوم مؤمنان چی له هغو ورسته په نړۍ کښې پاتی دی او لا تراوسه پوری له هغوسره ندی یوځای سوی دهغو لپاره هم څه ویره او کړاؤ نشته.

دحق دشمعی پتنګ حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام دالله (ج) ددین او د الله (ج) درسول ریښتونی خدمتګار ؤ، دمجاهدپه حیث یی ژوند وکړ اودشهید په حیث له دی فانی دنیانه رخصت سو. (رضی الله عنه)

## حضرت عدی بن حاتم طائی رضي الله عنه

حضرت عدی بن حاتم طائی په یمن کښې دمیشته قبیلی طی ته منسوب ؤ دغه قبیله له اسلام څخه مخکښې عیسائی دین منلی ؤ او حاتم طائی ددغی قبیلی رئیس ؤ هغه حاتم طائی چی نه یوازی له اسلام نه په مخکښې دور کښې په ټولو عربو کښې دهغه دسخاوت، استغناء اومیلمه پالنی اوازه خپره وه بلکی نن هم کله چی دیوچا دسخاوت صفت کیږی نوله حاتم طائی سره یی تشبیه ورکوی.

حضرت عدی ددغی مشهوری کورنی په غیږکښې وزیږیدی اوکله یی چی خپل ښی اوچپ لاس وپیژندی نوویی لیدل چی دهغه کورنی دامارت په ناز، نعمت اوجاه وجلال په غیږ کښې ژوندکوی له محمدی بعثت نه مخکښې چی کله حاتم طائی مړسو نو دطی قبیلی خلګو دریاست پګړی عدی ته ور په سر کړه او داسلام دراتګ په وخت کښې همغه دطی قبیلی رئیس ؤ.

کله چی داسلام دمبارك دین دفتوحاتو دور راغی اوقومونه اوقبیلی یوه په بلی پسی داسلام په دائره کښې داخلیدلی نوحضرت عدی په هغه وخت کښې چی رسول اکرم (ص) په (۹) هجری کال کښې دسیدنا علی مرتضی کرم الله وجهه ترقیادت لاندی دمجاهدینوپنځوس کسیز ټولی دطی قبیلی لوری ته ولیږه له خپلی کورنی سره دشام خواته وتښتیدی خودهغه خورسفانه بنت حاتم

طائی اودقبیلی نورخلگ له لرِ مقاومت نه وروسته مجاهدینوته تسلیم سول چی دولجی له مالونو سره یوځای دغه جنگی اسیران هم مدینی ته یووړل سول.

کله چی دطی قبیلی جنگی اسیران دسرور کائنات (ص) حضورته وړاندی کړای سول نوسفانه بنت حاتم طائی عرض وکړ: ای دقریشو سرداره! پرما رحم وکړه، دپلار له سیوری څخه محرومه سوی یم اوورور دبیکسی په حالت کښی پریښودم رانه ولاړی زما پلار دقبیلی رئیس ؤ، وږو ته یی ډوډی ورکوله دیتیمانو پالنه یی کوله دمحتاجانو اړتیاوی یی پوره کولی، دګاونډیو حقوق یی ادا کول، بندیان بی له بنده خلاصول، دلاس لاندی خلگو لاس نیوی یی کوی دمظلومانو ملاتړ یی کوی اوظالمانو ته یی سزا ورکوله زه دهغه حاتم طائی لوریم چی دهغه له کوره هیڅکله کوم درویزګر تش لاس ندی تللی، که تاسی ماخوشی کړی، دابه دعربی مروت او عنعناتو سره سمه خبره وی) پیغمبر (ص) دسفانه بنت حاتم طائی دخبرو اوریدو څخه وروسته وفرمایل: ای ښځی! تا چی دخپل پلارکوم صفتونه بیان کړل داپه حقیقت کښی دمسلمانانوصفتونه دی، که ستا پلار ژوندی وای نوموږ به له هغه سره ښه چلند کړی وای.

بیایی خپلو صحابه ؤ ته وفرمایل: (دابنځه خوشی کړی دا دیونیك خویه پلار لورده کوم عزتمند انسان چی ذلیل شی، یاکوم شتمن بیوزلی شی، یاکوم عالم دجاهلانو په لاس کښی پریوزی نودهغه پرحال ورحمیږی.

څوورځی وروسته دیمن دقضاعه قبیلی یوهیئت مدینی ته راغی، رسول الله (ص) سفانه په ډیر درناوی سره دهغه هیئت په ملگرتیا کښی پداسی شان سره یمن ته ولیږله چی سپرلی، جامه اودلاری ځاروی یی ورته برابر کړی ؤ.

سفانه چی کله په شام کښی (جوشیه) نومی سیمی ته چی هلته عدی بن حاتم طائی استوګن ؤ ورسیدله حضرت عدی وائی چی ماته خپلی خورسفانه په لومړی ملاقات کښی وویل: (ای ظالمه! ای درحم اوخپلولی غوڅونکیه! ستا پرحال افسوس دی چی خپله کورنی دی راوستله اودحاتم لوردی پریښودله دهغی ددی وینا په اوریدلو زه پښیمانه سوم اوله هغی څخه می

بخښنه وغوښتله، بيا وروسته مي ورنه پوښتنه وکړه: دقريشو سردار څنګه دی؟ خور جواب راكړ: څومره ژرچي كيداى شي ورشه، ورسره وګوره، كه هغه پيغمبر وي نو دخير په لاره كښي وړاندي كيدل ستا په ګټه دي اوكه باچاوي بياهم له هغه سره په ژر ملاقات كولوكښي ستاعزت مضمردى دخپلي خور سفانه خبرى پرما اثر وكړ په چټكي سره مي دمدينى لاره په مخ كښي ونيوله هلته مخامخ نبوى جومات ته ورغلم له پيژندګلوى نه وروسته پيغمبر (ص) راته وفرمايل: (اى عدى! ته ترنن پورى له اسلام نه تښتيدلى، حال دا چي دا دين قدم په قدم دسلامتيا ضامن دى) اى عدى! تا تراوسه پورى پدى ګومان اسلام ندى منلى چي دا دبيوزلى دين دى اومسلمانان هيڅ نلرى خوته به ډير ژر وګورى چي همدغه بيوزلى مسلمانان به دكسرى دخزانو مالكان وى او د دومره مال او شتمنى خاوندان به وى چي خلګوته به پيسى اومالونه وركول كيږى مګر هغوى به يى نه اخلى اودكسرى سپينه ماڼى به هم دمسلمانانو په ولكه كښى وى.

رسول الله (ص) پخپلو مفصلو خبرو كښى داهم راته وفرمايل: اى عدى! قسم په خداى (ج) چي ډير ژربه داسى وخت راورسيږى چي يوه ښځه به له حيره نه يوازى راشى دكعبى طواف به وكړى اوڅوك به ورته پورته هم ونه ګورى.

دنبوى ارشاداتو له اوريدونه وروسته حضرت عدى په اسلام مشرف سو او دسرور كائنات (ص) په مبارك لاس يى دسرښندنى بيعت وكړ رسول الله (ص) دهغه په مسلمانيدو سره ډيرزيات خوشاله سو اوبيا وروسته يى هغه دطى قبيلى دامير په حيث وټاكى اورخصت يى كړ.

درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته حضرت عدى بن حاتم طائى (رض) دارتداد دفتنى داور په وژلو كښى دمسلمانانو دلومړى خليفه ابوبكر صديق (رض) په زړه پورى ملګرتيا وكړه اوهمدارنګه وروسته دعراق اوشام په جګړه كښى چي دحضرت عمر فاروق (رض) په دوركښى وسوى حضرت عدى بن حاتم طائى (رض) داسلام دنامتو قوماندانانو حضرت مثنى بن حارثه، حضرت سعد بن ابى وقاص اوحضرت خالدبن وليد په ملګرتيا كښى دجهاد دميدان

دیو اتل سپاهی په حیث برخه وال ؤ حضرت عدی (رض) وائی: ما درسول الله (ص) پیشگوئی پخپلو سترگو ولیدلی، زه په هغو مجاهدینو کښې شامل وم چې هغوی دکسری بن هرمز خزانې ونیولې اودمدائن سپینه ماڼې یې ترولکې لاندې راوستله او داسلام دهیبت اوامن هغه دور می هم ولیدی چې په کجاوه کښې ناسته یوه ښځه په تنهائی سره له حیره نه راغله دکعبې طواف یې وکړ او بیرته خپل وطن ته ستنه سوه.

حضرت عدی بن حاتم طائی به دفاصلې دزیاتوالی سره سره تل کوشش کوی چې ځان دفخر کائنات (ص) مجلس ته ورسوی اودرسالت داسمان دفیوضاتو په باران سره دخپل روح کرونده خړوبه کړی همدا لامل ؤچې له هغه ځخه (۲۲) حدیثونه روایت سویدی حضرت عدی (رض) زیات عابد او زاهد ؤ تل به په اوداسه گرځیدی اولمونځونه اوروژی نیول دهغه خاصه روحی غذاوه.

حضرت عدی نه یوازې دخپلې قبیلې په وگړو کښې داحترام وړ ؤ بلکې دنورو قبیلو خلگوهم دهغه ډیر زیات احترم  کوی له اسلام راوړلو نه وروسته به چې هروخت درسول اکرم (ص) حضورته راتلی، دپیغمبر (ص) په څیره کښې به دخاصې خوښې نښې اونښانې پیدا کیدلې اوخپل ځای به یې هغه ته پریښودی. سخاوت اومیلمه پالنه حضرت عدی بن حاتم طائی ته په میراث کښې پاتې وه هیځکله داسې نه پیښدله چې کوم سوال گردی دهغه له کوره تش لاس ولاړشی هغه دلږ خیرات په ورکولو دخجالت احساس کاوه فقیرانوته به یې دومره څه ورکول چې دهغوی ټولې ړومبې اړتیاوې به ورباندې ایسته کیدلې، که چابه دلږ څه شی غوښتنه ورځخه وکړه نه یې ورکول لکه چې یوځل یوسړی له هغه نه دسلودرهمو غوښتنه وکړه، هغه جواب ورکړ: (زه دحاتم طائی زوی یم اوته له ماځخه صرف سل درهمه غواړې؟ قسم په خدای (ج) دی چې دومره لږ پیسې به هیڅ کله درنکړم.

یوځل اشعث بن قیس له هغه ځخه دپخلې دیگونه وغوښتل حضرت عدی دیگونه له طعام نه ډك ورولیږل، اشعث استازی ورواستوه چې ما خوتش دیگونه غوښتی وو؟ حضرت عدی جواب ورکړ: یوچاته تش دیگونه لیږل زما

دعادت پرخلاف خبره ده. حضرت عدی بن حاتم طائی دحق دشمعی دریښتونی پتنګ په خیر په دنیا کښی ژوند وکړ قرآن اوسنت په ژوند کښی دهغه دلاری مثال ؤ چی دهمدی مثال په رڼا کښی یی دخپل عمر مزل په (۲۷) هجری کال کښی په کوفه کښی پای ته ورسوی اودعمر په یوسل اوشل کلنی کښی یی له دی فانی دنیا سره خدای پامانی وکړه. (رضی الله عنه)

## حضرت عمیربن سعد رضي الله عنه

حضرت عمیر بن سعدبن عبید دمدینی دانصارو داوس قبیلی دعمرو بن عوف له کورنی څخه ؤ.

کله چی رسول الله (ص) له مکی نه مدینی ته هجرت وکړ پدی وخت کښی حضرت عمیر صغیرؤ اولاد بلوغ اوځوانی منګ ته نه ؤ رسیدلی چی په اسلام مشرف سو، داسلام اورسول الله (ص) مینه دهغه په رګونو کښی دوینی په خیر ځغلیدله، درسول الله ص دیدار دهغه لپاره روحی غذاوه، له همدی امله درحمة للعلمین علیه افضل الصلواة واکمل التحیات هم له هغه سره زیاته مینه وه او شفقت یی وربانديیی درلودی حضرت عمیر (رض) له یوی خوا ښه عابد اوله بلی خوا غښتلی اوتکړه مجاهد ؤ په لمانځه کښی به هم په لومړی صف کښی دریدی اودجهاد په میدان کښی هم دهغه مقام دمجاهدینو په لومړی صف کښی ؤ، داله دی امله چی غوښتل یی په عبادت کښی دسابقینو ثواب اوپه جهاد کښی دشهادت لوړه درجه ورپه برخه شی.

تقوی اوله رب العزت (ج) څخه ویره دهغه خاص صفتونه وه، ګریوان به یی تل په اوښکو لوندؤ له اخرت څخه نه غافل کیدی او په هرحالت کښی خدای (ج) ته منقاد ؤ اودهمدی غوره صفتونو لرلوله کبله صحابه ؤهغه ته دزمانی دمثالی شخصیت لقب ورکړی ؤ اوالله (ج) دمؤمنانو په زړونو کښی دهغه مینه اودوستی اچولی وه، هرچابه غوښتل چی له هغه سره کښینی او دهغه مخ ته وګوری اوخپلی سترګی پری یخی کړی دهغه هم له ټولو صحابه ؤ سره بی حده مینه وه خوهیچا اوهیڅ شی ته یی پردین باندی ترجیح نه ورکوله.

کله چی دتبوك دغزا په وخت کښی دجلاس بن سویدبن صامت واقعه چی

دځينو سيرت ليکونکو دوينا له مخې دحضرت عميربن سعد پلندرۀ اودسکنی زوی په څيريي دده روزانه اوپالنه کړې وه ددی مدعاداثبات لپاره څرګند دليل دی واقعه داسی وه چی دهجرت په (۹) کال په عربو کښې وچکالي اودغلو او دانو قيمتی وه، پداسی حال کښې چی دخرماؤ فصل پوخ سوی اودمدينې خلګ دخپلو حاصلاتو راټولولو په تکل کښې وه رسول الله (ص) دتبوك دغزا لپاره دتياری نيولو امر وکړ اوورسره داچی هرڅوك دی دمجاهدينو دتجهيز لپاره مرسته وکړی.

مؤمنانو چی خپل سرونه اومالونه هرڅه يې دخدای (ج) پـه لاره کـښې پلورلي وه درسول الله (ص) دامر په اطاعت کښې هرډول ايثارته تيار او چمتو سول، ابوبکر صديق (رض) خپل ټول مال راؤړی پيغمبر (ص) ورڅخه پوښتنه وکړه: (ابوبکره! تادخپل اهل او عيال لپاره څه پريښودل؟ عرض يی وکړ: الله اودالله رسول حضرت عمر فاروق (رض) خپل نيمائی مال راؤړی حضرت عثمان غنی (رض) دری سوه بارکړی اوښان، سل اسونه اويوزر ديناره وړاندی کړل حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) دوه سوه اوقيه سپين زر اوهمدارنګه طلحه بن عبيدالله عاصم بن عدی اونورو صحابه ؤ په زياته اندازه نغد اوجنس راوړل، بيبيانو خپلی ګېڼې راوړی اودخدای (ج) دربارته يی نذرانه کړی يوی خواته دمؤمنانو دبيساری ايثار داحال ؤاوبلی خواته منافقانو هلی ځلی کولی چی دجهاد په مخ کښې خنډونه پيدا کړی ، مسلمانانوته به يی ويل: دخرماؤ حاصلات تيار دی، که تاسی ولاړ شی ټول به بربادشی بله داچی ډيره ګرمی ده، پدی وخت کښې جنګ ته تلل پخپل لاس دمرګ خولی ته ځان سپارل دی، روميان هم چی تاسی دهغوی دمقابلی لپاره ورځی، يولوی طاقت دی له هغو سره جنګيدل ډير ګران کاردی.

لـه بـده مرغـه جلاس بـن سويد چی دحضرت عميـربن سعد (رض) نژدی دوست اوخواخوږی ؤسره له دی چی مسلمان ؤ اوله دی نه مخکښې يی په يو شمير غزاګانو کښې برخه اخيستی وه دماديا تو په لومه کښې راګير شو او په يوه غونډه کښې يی له خولی نه دا الفاظ ووتل: (لئن کان الرجل صادقا لنحن

شر من الحمر) كه محمد (ص) پخپله دعوه كښې رېښتونى وى نوموږ به له خرو نه هم بدتر يو.

دهغه داخبره پرعميربن سعد (رض) باندې چې پدې غونډه كښې موجوډ ؤ ډيره بده ولګيده اوجواب يې وركړ: محمد (ص) يقينا رېښتونى دى اوتاسې په رېښتياسره له خرونه بدتر ياست) بيا وروسته دپيغمبر (ص) حضورته ورغى او دجلاس خبره يې ورته واوروله، رسول الله (ص) جلاس وروغوښتى او پوښتنه يې وكړه: (جلاس! تانن په فلانى مجلس كښې داخبره كړيده؟ جلاس دقسم په خوړلو له خپلې خبرى نه منكر شو اودحضرت عميربن سعد (رض) راپوريى دروغ وبللى خوالله (ج) دوحى په ژبه دعميربن سعد داسې تصديق وكړ: (يحلفون بالله ماقالوا ولقد قالوا كلمة الكفر وكفروا بعد اسلامهم وهموا بمالم ينالوا ومانقموا الا ان اغناهم الله ورسوله من فضله فان يتوبوا يك خيرا لهم).

ترجمة: دوى په خداى باندې قسمونه خورى وائى چې موږ داخبره نده كړې پداسى حال كښې چې دوى يقينا دادكفر خبره كړيده اوله اسلام نه وروسته دكفر مرتكب شول اودهغه څه دسرته رسولو قصديې وكړ چې ويې نشو كړاى ددوى داټوله غوسه پدې خبره ده چې الله (ج) اودهغه رسول پخپلې لورينى سره دوى شتمن كړيدى خوكه بياهم دوى توبه وباسې دابه ورته ښه وى.

دوحى په لوستلوسره دجلاس رنګ واړه وار ژړيدى اوكله چې رسول الله (ص) دفان يتوبوا لك خيرا لهم جملى ته ورسيدى نوچيغه يې كړه او دپيغمبر (ص) په قدمونو پريووتى اوويې ويل: يارسول الله! زه خطاكار يم ، زه توبه كوم، دخداى لپاره ماته عفوه وكړه رسول الله (ص) هغه ته بخښنه وكړه اوبيايې حضرت عمير له غوږنه ونيوى اوويې فرمايل: ستا پروردګار ستاتصديق وكړ.

عمر فاروق (رض) به چې حكام مقررول نوويل به يې: زه داسې والى غواړم چې له عامو خلكرسره يې په لباس خوراك اواستوګنځى كښې څه توپيرنه وى اوپه هغو كښې لمونځ اقامت كړى، دهغوى ترمينځ په حق سره ويش وكړى په هغوى كښې په عدل سره فيصله وكړى او دمحتاجاتو پرمخ خپله دروازه ونه ترى.

حضرت عمیر بن سعد په غه معیار پوره ؤ نو هغه یی د حمص دوالی په توګه وټاکی، حضرت عمیر یوکال په حمص کښې تیر کړ خو پدی موده کښې یی نه مدینی ته مالیات ولیږل اونه یی امیر المؤمنین ته کوم مکتوب واستوی حضرت عمر فاروق (رض) هغه مدینی ته راوغوښتی هغه پداسی حال کښې مدینی ته راغی چې دسر اوږیری وریښتان یی ګردجن وو پرښې اوږه یی یوه خورجینه وه چې یوه کاسه هم پکښې وه او پرچپه اوږه یی داوبو پتك ځړیدی اوپه لاس کښې یی همساوه دامیر المؤمنین په وړاندی ودریدی ویی ویل: السلام علیك یاامیر المؤمنین حضرت عمر (رض) د هغه دځوروونکی حالت په لیدلو دوعلیك ویلونه وروسته پوښتنه وکړه: عمیره څه حال دی؟ جواب یی ورکړ؟ دامی حال دی چې ته می وینی ایاته می نه وینی چې روغ رمټ یم، او دنیامی پراوږو را اخیستی ده راغلی یم؟ حضرت عمر (رض) پوښتنه وکړه دنیا درسره ده، زماتوښه پکښې ده اویوه کاسه چې په هغی کښې خوراك کوم په چپه اوږه کښې می داوبو پتك دی ځښاك اواودس پری کوم، په لاس کښې می همساده تکیه ورباندی کوم او جهاد وربانډی کوم که دښمن راباندی تعرض وکړی.

حضرت عمر (رض) پوښتنه وکړه: پیاده راغلی؟ جواب یی ورکړ: هو! پوښتنه یی وکړه څوك نه ؤچې تاته یی سپرلی برابره کړی وای؟ حضرت عمیر بن سعدجواب ورکړ: هغوی په خپله داکار ونکړ اوما ورڅخه غوښتنه ونکړه.

امیر المؤمنین پوښتنه وکړه: موږ چې کومه وظفه درسپارلی وه په هغی کښې دی څه وکړل؟ جواب یی ورکړ: هغی سیمی ته ورغلم چې تاورته لیږلی وم دهغه ځای صالحان خلګ می راټول کړل اودمالیاتو جمع کولو وظیفه می ورته وسپارله هغوی مالیات راجمع کړل اوما دهغوی داړتیاؤ ایسته کولو په لاره کښې ولګول، که څه زیات سوی وای نوهرومرو به می دار الخلافت ته رالیږلی وای. حضرت عمر (رض) ډیر خوشاله سو اوورته یی وویل څه خپلی وظیفی ته ولاړشه، حضرت عمربن سعد (رض) معذرت وغوښت او وروسته یی خپله کورنی له ځانه سره واخیستله اوله مدینی نه څو میله لیری په یوه کلی

كښېی استوګن سو.

فاروق اعظم (رض) څه موده وروسته خپل استازی له سلو دينارو سره ورولیږی او ورته يې وويل: ورشه وګوره که عمير په تکليف کښې ژوند کوی نوداسل ديناره ورکړه استازی چې ورغی ګوری چې حضرت عمير (رض) يو ديوال ته تکيه وهلی ده اومونجينه رسی اوبی اوډيری زړی جامی يې په تن دی استازی دری ورځی ورسره تيری کړی حضرت عمير (رض) همدومره څه پيدا کول چې دشپې به يې يوه ډوډی پخوله اوميلمه ته يې ايښودله او پخپله يې په لوږه کښې وخت تيروی استازی چې کله سل ديناره ورکړل هغه چيغه کړه او ويې ويل: قسم په خدای دی چې زه ديته ضرورت نلرم بيايې هغه پرمسکينانو باندی وويشل، استازی چې مدينی ته راستون سو اوامير المؤمنين ته يې قصه وکړه نوامير المؤمنين وژړل اوحضرت عمير يې راوغوښتی زياته اندازه غله او تڼوکران يې ورته په مخ کی کيښودل خوهغه عرض وکړ: امير المؤمنينه: غلی ته ضرورت نلرم ځکه زه چې راتلم دوې پيمانی وربشی په کور کښې موجودی وی خو تڼوکران به لږځه واخلم ځکه چې ډيره موده وسوه چې زما ميرمنی داغوستلو لپاره پوره جامه نده ميندلی له دغی واقعی نه لږ وخت وروسته حضرت عميربن سعد (رض) داخرت په سفر روان سو. (رضی الله عنه)

## حضرت عباد بن بشر رضي الله عنه

حضرت عبادبن بشر دمدينی دانصارو داوس قبيلی دعبد الاشهل له کورنی څخه اوله نبوی هجرت نه مخکښې هغه وخت دايمان دخزانی مالك سو چې د بعثت په (۱۲) کال حضرت مصعب بن عمير (رض) درسول الله (ص) لخوا دقرآن دتعليم اوداسلام دمبارك دين دتبليغ لپاره مدينی ته وليږل سو او دبنو اشهل دمشر نامتو انصاری صحابی حضرت سعدبن معاذ (رض) په شمول داوس قبيلی ډير کسان په اسلام مشرف سول.

د حق دشمعی د نورو پتنګانو په څيرحضرت عباد بن بشر انصاری (رض) هم په پوره بی صبری سره دهغه وخت انتظار ايستی چې دمدينی فضاپه نبوی هجرت سره روښانه اومنوره شی، کله چې دانتظار موده پوره سوه او ددواړو

جهانو سردار محمد مصطفی (ص) له مکی مکرمی سره خدای پامانی وکړه او دمدینی دخلګو دزړونوتړی کروندی دنبوی هجرت درحمت په باران سره خړوبه سوی نوحضرت عباد بن بشر (رض) دومره خوشاله ؤ چی تابه ویل دټولی دنیا نعمتونه ورپه برخه سویدی اوله همدی امله ؤ چی دخپل وخت زیاتره برخه به یی په نبوی مجلس کښی تیروله او په محمدی مدرسه کښی یی زده کړه کوله.

دالله (ج) اورسول مینه دحضرت عبادبن بشرپه رګونو کښی دوینی په څیر ځغلیدله، دهمدی مینی په تقاضا دخدای (ج) ددین اودخدای درسول (ص) دملاتړ په لاره کښی هغه خپل سر اومال هرڅه داؤ کړی وو دخدای (ج) له ذکر اودرسول الله (ص) له خدمت څخه یی دومره خوند اخیستی چی دغومره خوند اولذت یی ددنیا په یومادی نعمت کښی نه محسوسوی.

سرور کائنات (ص) دام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه (رض) په حجره کښی یوه شپه استراحت ؤ دشپی په وروستی برخه کښی چی کله دتهجد دلمانځه لپاره پاڅیدی نودالله (ج) دذکر اواز یی غوږ ته ورسیدی چی یوڅوك دنبوی مسجدپه ګوښه کښی ناست او په الهی ذکر بوخت دی. پیغمبر (ص) ډیر زیات خوښ سو اودعایی وکړه چی خدایه دغه ذاکر ته بخښنه وکړی) درسالت په ژبه دغه بخښنه حضرت عباد بن بشرته غوښتل سوی ده.

په مدنی دور کښی داسلامی غزاګانو دلړی له پیل کیدونه وروسته حضرت عبادبن بشر انصاری (رض) له بدرنه نیولی ترتبوك پوری دحق اوباطل په ټولو معرکو کښی دیو سرښندونکی مجاهد په توګه برخوال ؤ.

امام بخاری (رح)، ابن سعداو یوشمیر نورو سیرت پوهانو لیکلی دی چی دبدرله غزانه وروسته کعب بن اشرف چی یهودی عالم اوجذاب شاعرؤ داسلام اومسلمانانو پرضد ددښمنی دریځ ونیوی له یوی خوابه یی دمسلمانانواوحتی دسرور کائنات (ص) پرخلاف شعرونه ویل اوله بلی خوایی دشیطان پلویان دحق دپلویانو په مقابل کښی پاڅون ته راپارول چی دهمدی شوم هدف لپاره مکی ته ولاړی او په بدر کښی دوژل سویو کافرانو دغچ اخیستنی په لمبوکی سوځیدونکو زړونو باندی یی ددښمنی دتاؤ زیاتولو نور پترور هم وشیندل او

بیرته مدینې ته راستون سو.

سرور کائنات (ص) چې کله ددغه مفسد له فتنه اچوونکو حرکاتو څخه خبر سو نودصحابه ؤ کرامو یوې ډلې ته یې هدایت ورکړ چې ولاړشي اوددغې فتنې جرړې غوڅې کړي، حضرت محمدبن مسلمه انصاري حضرت عباد بن بشر اوځینې نور مجاهدین له ځانه سره بوتلل اومسلمانان یې دکعب بن اشرف له شرڅخه خلاص کړل چې دحافظ ابن عبدالبر (رح) دوینا له مخې حضرت عباد بن بشر دخوښې په څو شعرونو کښې دالله (ج) شکر پرځای کړ چې هغه ته یې توفیق ورکړ چې داسلام یوغټ دښمن دهغه په لاس له مینځه یوووړل سو.

په اسلامي غزاګانو کښې داحزاب یا خندق غزا چې دهجرت دپنځم کال واقعه ده پرمسلمانانو باندې خورا لوی ازمیښت ؤ له یوې خوا یوازې دمکې قریش نه بلکې په ټولو عربوکښې داسلام دښمنانو لاسونه سره یوکړه او د دولس زره کسیز لښکر په شکل کښې یې پرمدینه منوره باندې یرغل کړی ؤ. او له بلې خوا په مدینه کښې دننه دبنوقریظه یهودو داسلام له دښمنانو سره په لاس یوکولو غدر اوخیانت ته ملا تړلې وه، مدینه دکفارو دلښکرو لخوا تر محاصرې لاندې اوهروخت به له صحابه ؤکرامو سره دا اندیښنه وه چې خدای مکړه رسول الله (ص) ته ددښمنانو له لاسه څه تاوان پیښ نشي چې حضرت عبادبن بشربه دڅوتنو نورو صحابه ؤ کرامو په ملګرتیا هره شپه درسول الله (ص) داستوګنځي په چارچاپیر کښې ترسهاره پیره کوله.

حضرت عباد بن بشر انصاري دهغو مبارکو هستیوله جملې څخه یوتن ؤ چې په شپږم هجري کال کښې یې دحدیبې په سفر کښې تریوې ونې لاندې دسرور کائنات (ص) په مبارك لاس دسرښندنې اوقرباني بیعت وکړ اوالله (ج) هغوی ته خپله رضا اعلان کړه: (لقد رضی الله عن المؤ منین اذ یبایعوك تحت الشجرة) یعنې الله له مؤمنانو څخه راضي سو کله چې هغوی لتا سره ای پیغمبره! ترونې لاندې بیعت کوی.

په اووم هجري کال کښې دذات الرقاع غزاپه وخت کښې حضرت عبادبن بشر انصاري (رض) دحق دحراست اوحفاظت په لار کښې داخلاص اوایثار یوه

داسې بیلګه وړاندې کړه چې څوك ورسره سیالي نشي کولی.

پیښنه داسې ده چې دذات الرقاع له غزانه دراستنیدو په لاره کښې رسول الله (ص) په یورباط کښې واړول اودشپې دپیره داري وظیفه یې حضرت عباد بن بشر اوحضرت عمار بن یاسرته وسپارله ترڅو په نوبت سره پیره وکړي حضرت عباد بن بشر (رض) خپل ملګري ته وویل: دشپې په لومړۍ برخه کښې به زه پیره وکړم، ته بیده شه حضرت عباد (رض) چې دلمانځه سره یې بې حده مینه وه فکر یې وکړ چې چاپیریال خو مصؤن دی نوولی خپل وخت په لمانځه کښې تیر نکړم، په لمانځه ودریدی اودسورۀ فاتحې له لوستلو نه وروسته یې دسورۀِ کهف تلاوت شروع کړ چې پدې وخت کښې دښمن وراندې دغشي ګوزار وکړ، حضرت عباد غشی له خپل بدن څخه وایستی او لمانځه ته یې ادامه ورکړه پدې وخت کښې دویم غشي وراندې ولګیدی اوورپسې دریم، خوترڅو چې هغه سورت نه ؤختم کړې رکوع ته کښته نسو دسورت له پای ته رسولونه وروسته چې کله رکوع ته ولاړې او بیا په سجده پریوتی نوپدې وخت کښې له یوې خوادهغه له بدن نه وینې فوارې وکړې او له بلې خوادرد وراندې زورسو، سلام یې واړوی اوپه دردیدلی اوازیې خپل ملګري عماربن یاسر (رض) ته وویل: (قم للحراسة مکانی، فقد اصبت) پاڅیږه، زماپرځای پیره وکړه چې زه ددښمن په غشو لګیدلی یم، حضرت عمار چې پاڅیدی او دهغه حالت یې ولیدی ویې ویل: سبحان الله: ولې دې دلومړي غشي له لګیدونه وروسته ویښ نکړم؟ عباد بن بشر (رض) جواب ورکړ: ماپه لمانځه کښې دقرآن کریم ایتونه لوستل دامې ښه ونه ګڼله چې هغه قطع کړم او قسم په خدای (ج) دې چې که درسول الله (ص) لخوا راسپارل سوې وظیفه کښې قصورنه راتلای مابه مرګ ته ترجیح ورکړې وای پدې باندې چې دقرآن کریم تلاوت قطع کړم بلکې نور به مې هم دقرآن کریم لوستلو ته ادامه ورکړې وای.

په (۸) هجري کال کښې درمضان المبارك دمیاشتې په لسمه نیټه دسرور کائنات (ص) ترقیادت لاندې دقدسیانو لس زره کسیز لښکر مکې مکرمې ته له اتو کلونو پرله یسې جهادونو څخه وروسته په فاتحانه ډول داخل سو اوهغه

پاکه ځمکه دمسلمانانو ترتسلط اوولکی لاندی راغله چی یووخت دمشرکانو له لاسه دخدای (ج) پرمخلصو بندګانو اودحق پرعلمبردارانو باندی داور دبتې په څیرسره ګرځول سوی اوحضرت رسالت ماب اودهغه عاشقان له هغی نه هجرت کولوته مجبور سوی وه حضرت عباد بن بشر انصاری (رض) ددغه ستر مقدس لښکر یو سربښندونکی سپاهی ؤ.

دمکی له فتحی نه وروسته دحق دشمعی پتنګ حضرت عباد بن بشر (رض) دحنین اوطائف په غزاګانو کښی هم په پوره میړانه وجنګیدی اودتبوك په غزاکښی چی د (۹) هجری کال واقعه وه حضرت عباد بن بشرانصاری (رض) سربیره پردی چی دورځی له پلوه دجهاد په میدان کښی توره په لاس ولاړ ؤ رسول الله (ص) دشپی له پلوه دپیره دارانو دټولیو مشرتوب هم ورسپارلی ؤ، چی هغه به ټوله شپه له لښکر نه چارچارپیره ګرځیدی او دمجاهدینو حفاظت به یی کوی. اوپدی ترتیب دهغه چامقام ورپه برخه ؤچی رسول الله (ص) ددوزخ له اورنه دنجات زیری ورکړیدی اوفرمایلی یی دی: (عینان لا تمسهما النار عین بکت من خشیة الله وعین باتت تحرس فی سبیل الله) دوه سترګی داسی دی چی ددوږخ اور به ورته ونه رسیږی یوهغه چی دخدای (ج) له ویری نه اوښکی تویوی اوبل هغه چی دشپی دخدای (ج) په لاره کښی پیره کوی.

په (۱۱) هجری کال کښی چی کله رسول الله (ص) له دی فانی دنیا نه رحلت وکړ اوحضرت ابوبکر صدیق (رض) دمسلمانانو خلیفه وټاکل سو، پدی دور کښی دارتدادستره فتنه رامینځ ته سوه چی ابوبکر صدیق (رض) دمرتدانو پرضد جهاد پیل کړ، حضرت عباد بن بشر (رض) پدی جهاد کښی بیاهم دیو متعهد مؤمن اوسترمجاهدپه صفت برخوال ؤ دمسیلمة الکذاب دلښکر پرضد دیمامی جګړه ددی سترو جنګونو دلړی یوه سخته کړی وه ددی جګړی له پیل کیدو نه یو ورځ مخکښی حضرت عباد خوب ولیدی چی جلیل القدر صحابی حضرت ابوسعید الخدری (رض) ته یی وویل: مانن شپه ولیدل چی داسمان دروازه راته خلاصه سوه، کله چی زه پورته تیرسوم نوهغه بیرته وتړل سوه، او فکرکوم چی انشاء الله زه به شهید کیږم، حضرت ابوسعید الخدری (رض) ورته

وويل: هو! په خداى (ج) قسم دى چى تاډير ښه خوب ليدلى دى) دهغه خوب رېښتيا سو، هغه دمرتدانو پرضدپه پوره مېړانه وجنګيدى اوپه پاى كښى يې. دشهادت جام نوش كړ.

لومړنيو صحابه ؤ به دحضرت عبادبن بشر (رض) په باب ويل: داهغه سړى دى چى دالله (ج) نور ورسره دى ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه (رض) به فرمايل: په انصارو كښى درى كسان دى چى له هغو نه پورته مقام دبل چا نشته: سعدبن معاذ، اسيدبن حضير اوعباد بن بشر. حضرت عبادبن بشر انصارى (رض) دالله (ج) دنور په رڼاكښى دخداى (ج) دلارى ديوغښتلى مجاهد په صفت سپيڅلى ژوند وكړ اوپه پاى كښى دشهادت په ګلرنګه جامه كښى دخپل پروردګار لورته ورغى. (رضى الله عنه)

## حضرت قيس بن سعد بن عباده ﵁

حضرت قيس (رض) دمدينى دانصارو خزرج قبيلى دمشر حضرت سعدبن عباده انصارى (رض) زوى ؤ نه يوازى دهغه پلار بلكى دهغه مورحضرت فكيهه (رض) اودهغه دپلار مورحضرت عمره بنت مسعور (رض) هم په اسلام مشرف سوى وه اسلام ددغى كورنى يو شرف اوعظمت ؤ اوسخاوت يى بل خاصيت اوامتيازؤ حضرت قيس (رض) له نبوى هجرت نه مخكښى په داسى حال كښى ايمان راؤړ چى دهغه دنوى اوښكلى ځوانى دورؤ. په مسند احمدبن حنبل كښى راغلى دى چى كله چى سرور كائنات (ص) مدينى ته تشريف راؤړ، يوه ورځ حضرت سعد بن عباده (رض) خپل زوى قيس (رض) له ځانه سره بوتلى او عرض يى وكړ: يارسول الله زه داهلك ستاسى دخدمت لپاره وقف كوم، رسول الله (ص) د قيس (رض) په سيما كښى دخلوص، شجاعت اوسخاوت دنښانوپه ليدلوسره هغه قبول كړ چى دصحيح بخارى درانقل كړى يوحديث له مخى په نبوى دربار كښى دقيس (رض) حيثيت داسى ؤ لكه دكوم فرمانروا په دربار كښى چى دپوليس دكوم صاحب منصب مقام وى (كان قيس بن سعدمن النبى بمكان صاحب الشرطة من الامير).

حضرت قيس بن سعد (رض) دډيرى دنګى ځوانى اولوړقد خاوندؤ، ډيره

ښکلی ښېره يې وه خو داچې کوسه ؤ ږيره يې نه لرله نو دقوم خلګو به په خوش طبعي سره ورته ويل: له هره حيثه زموږ دمشرتابه وړيې خو کاشکې چې ږيره په پيسو پيرل کيدلای چې درته اخيستې مو وای.

هغه نه يوازې دظاهري حسن له نعمت څخه برخوردار ؤ بلکې دکره پوهې، تدبير اوپاخه ذکاوت خاوندهم ؤدهغه خپله وينا ده چې: (لولا انی سمعت رسول الله (ص) يقول: المکر والخديعة فی النار، لکنت من امکر هذه الامة).

يعنې که ماله رسول الله (ص) څخه دهغه داوينا نه وای اوريدلی چې دمکر اوخمې سزا اوردی نوزه به ددی امت له لويو مکارانو څخه وای معنا داچې په هرکار کښې به يې داسې تدبير په لاره اچولی چې هيچابه يې مخه نسوه نيولی په يوبل روايت کښې دهغه داوينا رانقل سويده چې: (لولا الاسلام لمکرت مکرا لا تطيقه العرب) يعنې که اسلام نه وای مابه داسې تدبيرونه جوړول چې دعربوله وسې پوره نه وای) جود اوسخا حضرت قيس بن سعد (رض) ته له پلار نيکه نه په ميراث پاتې وه ددغې کورنی حجره اوديره دستړو ددمې او اوږو دتمې ځای ؤ، سهار اوماښام به دکورنی يوسړی دلاري پرسر ولاړؤ اوپه وازګومې به يې اعلان کوی : څوك چې غواړی غوښې اوغوړی يعنې ښه طعامونه وخوری نوهغه دی ددليم ديری ته راشي، دليم دعباده پلار يعنې دقيس بن سعد ورنيکه ؤ.

دانه بدليدونکی انساني فطرت دی چې په کوم ځای کښې چې سخاوت موجود وی هلته شجاعت اورمرو موجود وی کوم لاس چې دمال په ورکولو سره نه ريږدی هغه دتوری په اخستلو سره هم نه ريږدی، چيرته چې سخاوت وی شجاعت نه وی، وپوهيږی چې هغه سخاوت ندی بلکې ريا اوغولونه ده همدارنګه چيری چې سخاوت نه وی او شجاعت ليدل کيږی نو وپوهيږی چې هغه لوبه ده نه حقيقت دادواړه خصلتونه لازم اوملزوم دی او په حضرت قيس بن سعد (رض) کښې دواړه په بشپړ ډول موجودوه له همدی امله يې دنبوی دورپه زياترو غزاګانو اوسراياؤ کښې په توده ولوله برخه واخيستله او دخپلې توری جوهر يې دجهاد په هر محاذ کښې وښودی.

داتم هجری کال درجب په میاشت کښې سرور کائنات (ص) دحضرت ابو عبیده بن الجراح (رض) ترقیادت لاندی دمهاجرینو اوانصارو دری سوه کسیز لښکرچی په هغه کښې حضرت ابوبکر صدیق (رض) حضرت عمر فاروق (رض) او حضرت قیس بن سعد (رض) هم شامل وو، دقریشو دکاروان دمخنیوی لپاره دبنوجهینه سیمی ته ولیږی چی داسلام په تاریخ کښې دسریه سیف البحر په نوم یادیږی او ددی نوم دلیل دادی چی دغه سیمه له مدینی څخه دینځه ورځی مزله په فاصله دسمندر په ساحل کښې واقع وه سیرت لیکونکو دغی سریی ته دجیش الخبط نوم هم ورکړیدی خبط دونو پاڼو ته وائی پدی سفر کښې چی کله دمجاهدینو دخوراك توښه اوځوری خلاص سو نوبیایی دلوږی دفع کولو لپاره دونوپاڼی خوړلی، په صحیح بخاری کښې راغلی دی کله چی حضرت قیس بن سعد (رض) داوضع ولیدله نودری څله یی دری اوښان په قرض واخیستل اوهغه یی ذبح کړل اودلښکر دپاره یی خواړه برابر کړل، علامه ابن اثیر وایی چی حضرت ابوبکر صدیق (رض) اوحضرت عمر فاروق (رض) دلښکر مشرته وویل چی هغه منع کړی کنه نو دخپل پلار جایداد به پدی مصارفو اوقرضونو کښې ولګوی چی حضرت ابوعبیده بن الجراح (رض) هغه منع کړ. حافظ ابن عبد البر په الاستیعاب کښې لیکلی دی چی دسیف البحرله سریی نه په راستنیدو سره صحابه ؤ دحضرت قیس بن سعد (رض) داوښانو ذبح کولو قصه رسول اکرم (ص) ته واوروله هغه وفرمایل: سخاوت ددی کورنی له خصوصیاتو څخه دی: (ان الجود شیمة اهل هذا البیت).

په صحیح بخاری کښې راغلی دی چی له دی سفرنه له راستنیدو څخه وروسته حضرت قیس (رض) خپل پلار حضرت سعد بن عباده (رض) ته دغازیانو دلوږی حالت بیان کړ پلاریی وفرمایل: اوښان به دی ورته ذبح کړی وو ویی فرمایل مادوه ځلی همداسی وکړل خو په پای کښې له دی کارنه منع کړای سوم. علامه ابن اثیر (رح) وایی: دجیش الخبط واقعه چاسعدبن عباده ته اورولی وه چی قیس دحضرت ابوبکر صدیق (رض) اوحضرت عمر فاروق (رض) په سفارش سره داوښانوله ذبح کولو نه منع کړای سو هغوی ویل چی که

قیس داسی مصارف کوی نو دخپل پلار جایداد به ټول ولګوی. ددی خبری په اوریدو سره سعدبن عباده په غوسه ولاړی او درسول اکرم (ص) ترشا ودریدی عرض یی وکړ: یارسول الله! دابن ابی قحافه اوابن خطاب له پلوه ته جواب راکړه چی هغوی ولی زما زوی بخیلی ته هڅوی؟

دسیف البحر سفر په ریښتیا سره هم ډیر سخت سفرؤ خوداهم حقیقت دی چی خدای (ج) دخپلی لاری مجاهدین بی اسری نه پریږدی.

له حضرت جابربن عبدالله انصاری (رض) څخه روایت دی چی له ډیرو پاڼو خوړلو څخه چی کله زموږمری زخمی سوی نویوه ورځ دسمندرڅپو یوسمندری حیوان یعنی عنبر ماهی زموږلوی ساحل ته راوغورځوی، موږ دری سووکسانو پنځه لس ورځی دهغه په غوښه باندی ګوزاره وکړه او لوړی وهلی سپیره مخونه مو بیرته تازه سول دادومره غټ حیوان ؤ چی دلښکر دقوماندان په امر سره دهغه دپښتی هډوکی ودرول سو نوحضرت قیس چی دهغه قدله ټولو نه لوړؤ پراوښ سپور ترهغه لاندی تیرسو خو هډوکی لا بیاهم دهغه له سرنه لوړ ؤ. مدینی چی راستانه سو اوپاتی غوښه مودلاری دتوښی په توګه له ځانه سره راوړه کله چی ټوله قصه مورسول اکرم (ص) ته واوروله نو ویی فرمایل الله تعالی هغه ستاسی دخوراك لپاره پیداکړ که دهغه غوښه موله ځانه سره راوړی وی نوماته یی هم راکړی چی ویی خورم موږله هغی غوښی څخه ورکړه او رسول الله (ص) وخوړله.

یوځل یوسپین ږیری سړی راغی حضرت قیس بن سعد ته یی وویل: زما په کور کښی دخوراك څه نشته. ویی فرمایل: ځه لاړ شه، اوس به ستاپه کور کښی دهرڅه پریمانی وی هغه چی رخصت سو خپلو خدمتګارانو ته یی امر وکړ ورشئ ددی سړی کورله غلی، غوړیو اودخوراك له نورو شیانو څخه ډك کړئ.

حافظ بن عبدالبر (رح) لیکلی دی چی پرکثیر بن صلت باندی دیرش زره روپی قرض ؤ اوقرضدار هغه دیته مجبور کړی ؤ چی باید خپل کور خرخ کړی نو دحضرت قیس حضورته ورغی اودخپلی قرضداری حالت اودکور خرڅولو

مجبوریت یی ورته بیان کړ حضرت قیس بن سعد (رض) کثیر بن صلت ته دیرش زره روپی ورکړی کله چی یی پیسی دمدینی والی مروان بن الحکم ته وړاندی کړی دهغه زړه ودردیدی اووی ویل: ځه لاړشه، روپی اوکور دواړه دی ستاوی کثیر بن صلت روپی بیرته حضرت قیس (رض) ته وروړی، خوهغه ورته وویل: (انا لانعود فی شئ اعطیناه) موږ چی کوم شی چاته ورکړو بیرته یی نه اخلو.

داتم هجری کال درمضان په میاشت کښی چی کله داسلام لس زره کسیز لښکرپه فاتحانه ډول مکی ته داخل سو، پدی سفر کښی هم حضرت قیس بن سعد بن عباده (رض) دحضرت سرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ.

درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته حضرت قیس (رض) که له یوی خوا خپل مجاهدانه ژوندته دوام ورکړله بلی خوایی دسیاسی اواجتماعی مدبر په توګه دمسلمانانو داجتماعی اوسیاسی ژوندانه دبهبود په هکله داسلامی ریاست دیوښه مشاورپه صفت فعاله ونډه لرله دحضرت علی کرم الله وجهه دخلافت په دور کښی چی کله دمصر دوالی په صفت مقرر سو نو خپله ورسپارل سوی وظیفه یی په ښه تدبیر سره پرمخ بیوله.

دحضرت قیس امتیازی خصلتونه لکه په اسلام کښی سبقت درسول الله سره له حده زیاته مینه، په خاص ډول دهغه جود اوسخاوت، په عبادت کښی تل مصروف اوسیدل اوپه چاروکښی تدبیر اوحکمت اوپه جهادکښی شجاعت دهغه دژوندپه کتاب کښی هغه ځرګند بابونه اودعالم اسلام لپاره هغه قیمتی درسونه دی چی دوروستیو نسلونو لپاره دلاری مثال ګڼل کیږی.

حضرت قیس په پای کښی په شپیتم هجری کال کښی په یوه اوږده ناروغی اخته اوپخپل مولا پسی داخرت په سفر روان سو. (رضی الله عنه)

## حضرت قتاده بن نعمان انصاری رضي الله عنه

حضرت قتاده بن نعمان دمدینی دانصارو داوس قبیلی دبنوظفر کورنی ځخه ؤ اودعلامه ابن اثیر (رح) دوینا له مخی په بیعت عقبه ثانیه کښی دایمان دخزانی مالك سو او پدی ترتیب دهغه نوم دانصارو دلومړنیو مؤمنانوپه ردیف کښی راځی دهغو مبارکو هستیو په ردیف کښی چی هغوی دانسانانو لارښود

محمد مصطفی (ص) ته دعوت ورکړ چې مدینې ته تشریف یوسی اودوی به پخپل سر اومال سره له هغه نه داسې دفاع کوی لکه چې له خپلو ځانونو او خپلو اولادونو څخه یې کوی.

دهجرت په دویم کال درمضان په میاشت کښې چې کله دحق او باطل لومړنی جګړه پیښه سوه اودزر کسیز مجهز شیطانی لښکر مقابلې ته صرف دری سوه دیارلس تنه تش لاسی مومنان ووتل، پدغو سرښندونکو مؤمنانو کښې حضرت قتاده بن نعمان (رض) هم شامل ؤ داهغه بختور خلګ وو چې الله (ج) اودالله رسول ورته په څرګندو الفاظو کښې دجنت زیری ورکړ اوپه ژوند کښې به هم ټولو مسلمانانو دبدری صحابه ؤ ډیر زیات احترام اودرناوی کوی.

حضرت قتاده بن نعمان انصاری (رض) داحدپه غزا کښې هم چې ددریم هجری کال دشوال دمیاشتې واقعه وه په پوره اخلاص اوتوده ولوله برخه واخیستله پدی جګړه کښې دیومشرك دسخت ګوزارلامله دهغه دسترګی ګاټی دباندې راووتی او پرانګی یې راوځړیدی مجاهدینو وغوښتل چې هغه غوڅ کړی خوحضرت قتاده وویل: له رسول الله (ص) سره مشوره وکړی که هغه اجازه وکړه بیایی غوڅ کړی پیغمبر (ص) چې کله دهغه دسترګی له تکلیف نه خبرسو ویې فرمایل: (نه، مه یې غوڅوی) بیایی پخپل مبارك لاس سره دقتاده دسترګی ګاټی پخپل ځای کښې کېښودی اودعایی وکړه چې: (اللهم اکسها جمالا) الهی دغې سترګی ته ښایست او جمال وبخښه دنبوی دعا په برکت دحضرت قتاده دغه سترګه له پخوانه هم زیاته ښکلې سوه، بینائی یې زیاته سوه اوبیا یې دهغه دژوند ترپایه پوری درد ونکړ.

دطبرانی دروایت له مخی پخپله دحضرت قتاده (رض) وینا داسې ده چې داحد په ورځ رسول الله (ص) ماته یوه لینده راکړه اوزه دپیغمبر (ص) مخ ته ولاړوم، دومره غشی می وویشتل چې لینده ماته سوه خوسره له دی هم دسرور کائنات (ص) دژغورنی پخاطر دهغه مخی ته دسپرپه څیر ولاړوم، کله به چې دمشرکانو کوم غشی راته مابه خپل مخ ورته مخامخ کوی په دی ترځ کښې یو غشی راغی زماپه سترګه کښې ولګیدی زمادسترګی ګاټی راووتی اوپرانګی

مي وځړيدی، پيغمبر (ص) چي زماحالت وليدی، مبارکی سترګی يی له اوښکو ډکی سوی اودعايی وکړه: خدايه قتاده پخپل مخ سره ستا دپيغمبر عزت او احترام وکړ، ته دده سترګه روغه کړی او بينايی يی لازياته کړی چي بيا زما سترګه روغه سوه اونظر مي له پخوانه هم لازيات تيزسو) دغه قربانی دحضرت قتاده دکورنی اوځوځات لپاره ترپايه پوری دوياړ اوافتخار سبب وه لکه چي يووخت دهغه لمسی عاصم بن عمر (رح) دحضرت عمربن عبدالعزيز حضورته ورغی، هغه پوښتنه وکړه ته څوك يی؟ عاصم پدی شعرسره جواب ورکړ:

انا ابن الذی سالت علی الخد عينه فردت بکف المصـــطفی احسن الـرد

فصــارت کما کانت لاول امــرها فيا حسن ما عين ويـا حسن ما ضـــوء

زه دهغه سړی زوی يم چي دهغه سترګه پراننګی راځړيدلی وه او بياپه ډير ښه شکل دمحمد مصطفی (ص) په مبارك لاس بيرته پرخپل ځای کيښودل سوه اودا سترګه همغسی جوړه سوه لکه څنګه چي مخکښی وه څومره ښه سترګه وه هغه اوڅومره ښه وو دهغی بيا بينا کيدل.

ددی جواب په اوريدلو سره حضرت عمر بن عبدالعزيز دهغه ډير زيات احترام اودرناوی وکړ، حضرت قتاده (رض) دبدر اواُحُد له غزاګانو وروسته داحزاب يا خندق په غزا کښی چي دهجرت دپنځم کال واقعه وه هم ديو سرښندونکی اواتل مجاهدپه صفت ګډون وکړ اوټولی هغه سختی يی په سړه سينه وزغملی چي دمحاصری په دوران کښی ورسره مخامخ سو همدارنګه دمکی دفتحی په لس زره کسيز لښکر کښی چي داتم هجری کال درمضان دمياشتی پيښه ده دبنو ظفرقبيلی علمبردار حضرت قتاده ؤ دمکی له فتحی نه يوه مياشت وروسته چي کله دحنين خونړی جګړه مينځ ته راغله اومسلمانان په سخته ازموينه کښی ولويدل، ددښمن دهجوم لامله دمکی خلګ په شا وتمبيدل اونور مسلمانان هم وارخطا اوتيت پرك سول پدی وخت کښی سرور کائنات (ص) اويوه ډله سرښندونکی مؤمنان دفولادو دغره په څيرکلك ودريدل اومقاومت ته يی ادامه ورکړه چي پدی ميړانی اوسرښندونکی ډله کښی حضرت قتاده (رض) هم شامل ؤ رسول اکرم (ص) پدی وخت کښی دازمزمه

کوله:

**انا النَّبیُّ لا کذب        انا ابن عبد المطلب**

زه پیغمبریم پدی کښی هیڅ دروغ نشته زه دعبدالمطلب زوی یم.

پیغمبر (ص) خپل تره عباس بن عبد المطلب ته امر وکړ چی مهاجرینو او انصاروته رږغ وکړه هغه په لوړ اواز رږغ وکړ: یامعشر الانصار، یا اصحاب الشجرة ای انصارو ای ترونی لاندی بیعت کوونکو! ددی اوازپه اوریدو سره سمدلاسه اسلامی لښکر بیا له سره منظم سو اوپرمشرکانو یی قوی حمله وکړه زیات شمیر مشرکان یی دجهنم کندی ته ولیږل، یوشمیر نوریی بندیان ونیول اوبی شمیره مالونه دمسلمانانو لاس ته دغنیمت په توګه ورغلل اوپدی ترتیب لکه څنګه چی الهی سنت دی په پای کښی فتح اوغلبه بیاهم دمسلمانانو په نصیب سوه.

سیرت لیکونکو دهغو صحابه ؤ کرامو دمیړانی او فداکاری ډیره زیاته ستاینه کړیده چی داحد، احزاب اوحنین دجګړو دسختیو په حالاتو کښی یی مقاومت کړیدی او په پوره ثبات اومتانت سره یی دخدای ددښمنانو مقابله کړیده اوحضرت قتاده (رض) پدی دریواړو غزاګانو کښی دهمغو صحابه ؤ له ډلی څخه ؤ چی په پوره اخلاص یی دالله (ج) دپاك حبیب (ص) ملګرتیا کړیده اوخپل سنګریی ندی پری ایښی.

دمحبوب رسول زیدبن حارثه دزوی زلمی صحابی حضرت اسامه (رض) تر قیادت لاندی کوم لښکر چی دهجرت دیوولسم کال دصفری په میاشت کښی د مؤته دشهیدانو دانتقام اخیستلو لپاره درسول الله (ص) لخوا ولیږل سو او په هغه کښی دحضرت ابوبکر صدیق (ض) حضرت عمرفاروق (رض) حضرت سعد بن ابی وقاص، حضرت ابوعبیده بن الجراح اوحضرت سعید بن زید (رض) غوندی نامتو اومشران صحابه شامل وو.

حضرت قتاده (رض) هم دحق له دغه کاروان سره ملګری ؤ لنډه داچی حضرت قتاده بن نعمان انصاری (رض) داسلامی جهادونو دمیدان یواتل سپاهی ؤ اودحق اوباطل په هره معرکه کښی یی دایمان تقاضا پوره کړیده

دجنګ په میدان کښې دحق ددښمنانو ډیری سختی حملی هم دهغه قدمونه ندی لړزولی داځکه چی هغه پدی ښه پوهیده چی دباطل پرضد جګړه کښې صبر اوثبات دکامیابی او برلاسی یوازنی وسله او ووسیله ده اوالله (ج) دصابرانو مل دی اودهغه وعده ده چی نصرت او بری ورپه برخه کوی.

حضرت قتاده بن نعمان (رض) که له یوی خوا دجهاد دمیدان اتل ؤ له بلی خوا دزهد اوتقوی عبادت اوریاضت پیکر هم ؤ، په بل عبارت دشپی زاهد او دورځی مجاهد ؤ یوه شپه چی پراسمان باندی توری درندی وریځی خپري وی کله چی رسول الله (ص) دماسختن لمانځه لپاره نبوی مسجد ته ولاړی خلګ لمانځه ته نه وو راغلی ځکه دتیاری لامله یی پخپلو کورونو کښی لمنځونه اداکړی وو خویوازی یوسړی دجومات په ګُنج کښی ناست ؤ کله چی دبریښنا پړك سو، رسول الله (ص) وفرمایل: قتاده ته یی؟ عرض ئی وکړ: هو! یارسول الله زه پوهیدم چی شپه تیاره ده کم خلګ به داسی وی چی مسجد ته راشی نو ماهمت وکړ او په ډیر تکلیف می ځان راورسوی) پیغمبر (ص) دهغه داخلاص اوښی بندګی پدی ولوله ډیر خوشاله سو اوویی فرمایل: له لمانځه نه چی فارغ سوی، زما سره ووینه بیا کورته ولاړشه کله چی هغه کورته ستنیدی نو پیغمبر (ص) هغه ته دخرما یوه څانګه ورکړه ویی فرمایل: داڅانګه به ستا شاوخوا ته لس لس ګزه ځای روښانوی. هغه لښته واخیستله او دهغی په رڼا کښی په اطمینان سره خپل کورته ولاړی. دسرور کائنات (ص) له رحلت نه وروسته حضرت قتاده یوولس کاله نورهم ژوندی ؤ اوپه پای کښی دحضرت فاروق اعظم (رض) دخلافت په دورکښی په (۲۳) هجری کال کښی د (۶۵) کالو په عمر وفات سو، امیر المؤمنین دهغه دجنازی لمونځ اداکړ اوبیا وروسته په خپله امیر المؤمنین عمر فاروق (رض) حضرت ابوسعید خدری (رض) چی د هغه اخیافی ورورؤ اوحضرت محمد بن مسلمه انصاری (رض) دهغه مطهر جسد دلحد غیږی ته وسپاری. (رضی الله عنه)

## حضرت کعب بن مالک انصاری ﵁

کعب بن مالك (رض) دانصارو دخزرج قبیلی بنو سلمه کورنی ته منسوب،

له نبوی هجرت نه تقريبا اوه ويشت کاله دمخه زيږيدلی اوداسلام له دريو تنو مشهورو شاعرانو څخه يوتن ؤ يعنی حضرت حسان بن ثابت، عبدالله بن رواحه اوکعب بن مالك رضي الله عنهم هغه وخت يی دمصعب بن عمير (رض) په دعوت اسلام قبول کړچی لارسول الله (ص) مدينی ته هجرت نه ؤ کړی. دعقبه ثانيه دبيعت کوونکو په (۷۵) کسيزه ډله کښی شامل ؤ بلکی له هغودولس تنه نقيبانو څخه يوتن ؤ چی انصارو درسول الله (ص) په امر وټاکل ، دبدر په غزا کښی يی دڅه عذر لامله برخه وانخيستلی سوه په صحيح بخاری کښی راغلی دی چی هغه به له بدرنه محروميت پدی وينا سره تلافی کوی چی: الله (ج) ماته په ليلة العقبه کښی دشريکيدو سعادت په برخه کړچی هغه پربدر باندی فضيلت لری.

رسول الله (ص) دهغه له شاعری سره ځانګړی مينه لرله، يوځل پخپله دهغه کورته ورغی په موسکا شونډو يی ورته وفرمايل:ابو عبدالله! له خپلو اشعارو څخه يوڅه راته واوروه هغه په ډيره مينه يوڅو شعرونه واورول، بيايی ورته وفرمايل: (نور ووايه) بيايی څوشعرونه واورول، دريم ځلی يی امر وکړ: (نور ووايه) کعب بن مالك بيانبوی سفارش پوره کړ، سرورعالم (ص) وفرمايل: (هذا اشد عليهم من وقع النبل) يعنی ددی شعرونو ګوزار په کافرانو باندی دغشی له ګوزارنه سخت لګيږی.

جليل القدر صحابی حضرت کعب بن مالك انصاری (رض) که له يوی خوا مقتدر الکلام شاعرؤ چی دهغه دانقلابی اشعارو په اوريدو سره به دخدای (ج) ددښمنانو په اندامونو باندی لړزه راتله له بلی خوا دجنګ دميدان يوتوريالی سپاهی هم ؤ داحد په جنګ کښی يی يوولس زخمونه خوړلی وه اوبيايی هم حوصله ډيره لوړه وه درسول اکرم (ص) دشهادت دغلط خبرله خبريدو څخه وروسته چی کله دحضرت کعب (رض) سترګی ورباندی ولګيدی، بی اختياره يی له خولی څخه چيغه ووتله: (دغه دی رسول الله) پيغمبر (ص) په اشارې سره ورته وفرمايل: (چوپ شه). دتبوك په غزاکښی حضرت کعب بن مالك (رض) په لوی امتحان کښی په کاميابيدوسره پداسی شان دالهی رحمت موردوګرځيدی چی ترڅو پوری دادنيا ودانه وی اومؤمنان دقرآن تلاوت کوی دسوره توبه د

(۱۱۸) ايت په لوستلو به دهغه دتوبې قبليدو سرگذشت ورياديږي.

حضرت كعب بن مالك (رض) خپله قصه پخپله بيان كړيده وائي پيغمبر (ص) اومجاهدين چې كله دتبوك غزاته روان سول زه دسستي اوتساهل لامله بيرته پاتي سوم، زماپه شان دوه نور صحابه: هلال بن اميه اوسراره بن ربيع هم پاتي سوي وه، په نن اوسبا كښې وو چې تبوك ته داسلام دلښكر درسيدو خبر راورسيدې اووخت راڅخه تير سو.

زه به پدې ډير ځوريدلم چې ليدل به مې په مدينه كښې يا هغه كسان پاتي دي چې شرعي عذر لري خداى (ج) معاف كړيدي اويا منافقان دي، اصلا دمسلمانانو ملگرى ندي كله چې پيغمبر (ص) له تبوك نه بيرته تشريف راوړ نو له خپل عادت سره سم لومړى مسجد ته ولاړى، دوه ركعته لمونځ يې ادا كړ، بياله خلگو سره دملاقات لپاره كښينستي پدې مجلس كښې منافقان پرله پسې راتلل اودخپلو عذرونو لپاره يې قسمونه خوړل، پيغمبر (ص) دهغوى عذرونه چې داتياوو كسانو په خواوشا كښې وو ومنل او دهغوى معامله يې خداى (ج) ته وسپارله، بيازما وار راغى وړاندې سوم، سلام مې واچوه، رسول الله (ص) زما خواته په موسكا وكتل ويې فرمايل: راځه ته څه شي منع كړې وې؟ عرض مې وكړ: (په خداى (ج) قسم، كه ددنيا له خلگو نه دچاپه وړاندي ولاړ واى، دڅه عذرپه جوړولو به مې قناعت وركړى واى، خوستاپه باب مې عقيده داده چې كه ددروغو په ويلو سره تاله ځانه راضي كړم، خداى (ج) به دې بيا راڅخه ناراضه كړي اوكه ريښتيا ووايم كه ته راڅخه ناراض هم اوسې، خداى (ج) به زما دبخښنې څه لاره برابره كړي، حقيقت دادى چې زه دويلو هيڅ عذر نلرم، محض دسستي لامله پاتي سوم، پيغمبر (ص) زما ريښتينولي تصديق كړ ويې فرمايل: ځه ولاړ شه انتظار وباسه ترڅوچې الله (ج) ستاپه باب څه فيصله وكړي) زمادوه نورو ملگرو مراره بن ربيع اوهلال بن اميه هم همدغه تگلاره ونيوله.

پيغمبر (ص) له موږ دريو واړو سره دخبرو نكولو لپاره مؤمنانو ته عام فرمان صادركړ، هغوى دواړه خوپه كورونوكښې كښيناستل مگرزه به وتلم، په

جماعت سره به مى لمونځ ادا کوى، په بازارونو کښې به ګرځيدم راګرځيدم هيچابه خبرى راسره نکولى، داسى ښکاريدله چې داوطن بيخى بدل سويدى، ټول خلګ بيګانه دى پدى کلى کښې زماځوك نشته جومات ته به چې دلمانځه لپاره تلم، سلام به مى اچوى اوډيره تلوسه به مى وه چې کاشکى پيغمبر (ص) راته وعليکم السلام وواييى، په لمانځه کښې به مى دپيغمبر (ص) خواته په غلا غلا سترګى وراړولى چې ايا هغه ماته ګورى اوکنه؟

زه به چې په لمانځه کښې وم راته کتل به يى خو چې سلام به مى واړوى هغه به رانه خپلى سترګى واړولى.

يوه ورځ دخپل تره زوى ابوقتاده ته ورغلم، دباغ پرديواله وروختلم، سلام مى واچوى، جواب يى رانکړ ماورته وويل: (ابو قتاده ستا دى په خداى (ج) قسم وى، چې زه له خدايه اودهغه له رسول سره مينه نلرم؟ هغه چوپ پاتى ؤ، دويم اودريم ځلى مى چې خپله پوښتنه تکرار کړه راته ويى ويل: (الله (ج) او رسول ښه پوهيږى سترګى مى له اوښکو ډکى سوى او مايوس له ديوال نه راکوز سوم په همدى حالت کښې ځلويښت ورځى راباندى تيرى سوى وى چې درسول الله (ص) لخوا دافرمان راغى چې: (خپله ميرمن دى له ځانه بيله کړه) ما پوښتنه وکړه: (طلاق ورکړم؟ استازى وويل: (نه فقط بيله يى کړه ميرمن مى هم دهغى دپلارګنى کره ولېږله اوزه يوازى پاتى سوم.

پدى ورځو کښې دمدينى په بازارکښې يوعيسائى په مخه راغى، دغسان باچا خط يى راکړ چې ليکلى يى وو: کعب بن مالك! خبر سوى يو چې ستا سردار لتاسره ناوړه سلوك کړيدى، راشه زما خواته وګوره چې څنګه عزت او احترام دى کيږى) دخط په لوستلو مى وويل: (انالله وانا اليه راجعون) له زړه نه مى دغم لوګى پورته شوه چې اوس يوکافرهم ماته طمعه کړيده چې ماله حق نه واړوى اوله خپل بادار نه مى جدا کړى.

دپنځوسمى ورځى دسهارله لمانځه نه وروسته دخپل کور پربام باندى ناست وم اوخپل ځان ته مى غوسه راتله چې په ناڅاپى ډول چا راته ږغ وکړ: (کعب بن مالکه مبارك دى شه) زه ددى زيرى په اوريدو سره پرسجده پريوتم

وروپسی خلک ډلی ډلی راتلل اومبارکی یی راتـه ویلـه چی ستا توبـه قبولـه سویده، زه پاڅیدم، مخامخ جومات تـه ولاړم ومـی لیدل چی درسول الله (ص) مبارکه څیره له خوښی نه ځلیږی، سلام مـی واچوی لـه وعلیك نـه وروسـتـه یـی وفرمایل مبارك دی شـه، دغـه ورځ ستا پـه ژونـد کښی ترټولـو بهتـره ورځ ده) پوښتنه می وکړه: (دا بخښنه دپیغمبر لخوا ده که دالله (ج) لخوا؟ وییی فرمایل: (دخدای (ج) لخوا) بیایی دا الهی کلام راتـه ولوستی: (وعلی الثلثة الذین خلفوا حتی اذا ضاقت علیهم الارض بما رحبت) الایه، څومره لـوی شان دی، څومره لوړه رتبه چی الله تعالی (ج) دوحی پـه ژبه پـه همدی دنیا کښی چاتـه دمعافی او بخښنی اعلان وکړی، حضرت کعب بن مالك انصاری (رض) تـه دخپل اخلاص اورښتنیولی لامله دغه مرتبه ورپه برخه سوه.

دسرور عالم (ص) لـه رحلت نـه وروستـه حضرت کعب بـن مالـك ( رض) نـه دیرش کاله ژوندی ؤ دقرآن اوحدیث په رڼا کښی یی ژوند وکړ. دینی غیرت، حب رسول، دخدای ویره، دحق لپاره اواز پورتـه کول، ریښتونولی، پـه ژبـه او توری دواړو سره دخدای (ج) پـه لارکښی جهاد کول دهغه دژوند څرګند یادونـه تشکیلوی، کـه څـه هـم پـه حدیثو کښی یی لـوی لاس درلـود خولـه هغـه څخـه دروایت سویو حدیثونو شمیر (۸۰) دی. داځکه چی دحدیث پـه روایت کښی یی دزیات احتیاط څخه کار اخیستی.

دحق دشمعی دغـه پتنګ د (۷۷) کلونـو پـه عمر دځینو سیرت لیکونکو دڅیړنی له مخی پـه (۵۰) هجری کال کښی دامیر معاویـه (رض) دحکومت پـه دور کښی له دی فانی دنیانه رخصت سو او پخپل خواږه ملګری پسی داخرت پـه سفر ولاړی. (رضی الله عنه)

## حضرت مصعب بن عمیر رضي الله عنه

مـصعب (رض) بـن عمیـربن هاشم دبنـو عبدالـدار لـه کـورنی څخـه، دډیـری ښکلی ځوانی خاوند اودیوی شتمنی کـورنی دنـاز اونعمت پـه غیږ کښی لـوی سوی ؤ ډیری اعلی وریښمینی جامی به یی اغوستلی او بینظیره خوشبویی بـه یی استعمالوله دیوی جوړی جامی قیمت بـه یی دوو سوو درهموتـه رسیدی،

دصورت ښایست ترڅنګ دسیرت اونیك فطرت له ښکلا نه هم برخوردار ۇ کله چې سرور کائنات (ص) دحق بلنه پیل کړه نومصعب (رض) سمدلاسه ورته لبیك وویل، داهغه زمانه وه چې حقپالونکی دحق ددښمنانو له لاسه دمصیبتونو په ژرنده اوړه کیدل حضرت مصعب (رض) دارارقم ته ورغی او درسول الله (ص) په لاس یې دسرښندنی اواطاعت بیعت وکړ زیاتره وخت به یې په نبوی مجلس کښې تیروی او دعلم اوعرفان له ژوند بخښونکی چینی څخه به یې دخپل زړه او دماغ کرونده خړوبوله.

دحضرت مصعب (رض) له اسلام راوړلونه په خبریدو سره دهغه خواخوږې مور خناس بنت مالك اودکورنی دنورو غړو بیساری محبت په سخت نفرت بدل سو، هغه یې له حده زیات وواهه او بیایې په بیرحمی سره په رسی وتړی اوپه یوه تیاره کوټه کښې یې بندی کړنه یوازی مصعب (رض) بلکې درسول اکرم (ص) نورو عاشقانوهم دډیرو تکلیفونو اوکړاوونو په څپو کښې وختونه تیرول تردی پوری چې دبشریت رهبر (ص) مظلومو مسلمانانوته اجازه وکړه چې حبشې ته هجرت وکړی تول شپاړس تنه: دولس نارینه اوڅلور ښځې له مکې نه ووتل چې پدغسی کوچنی قافله کښې یوتن حضرت مصعب بن عمیر ۇ هلته دڅه مودی تیریدو نه وروسته اوازه خپره سوه چې مشرکانو دمسلمانانو په ضد ددښمنی څخه لاس اخیستی دی نو حضرت مصعب (رض) دځو تنو په ملګرتیا مکې ته راستون سو خوکله چې راغلل وپوهیدل چې دغه اوازه دروغ وه، دقریشو له پخوانه وحشت نه یوازی کم سوی نه ۇ بلکې له پخوانه لازیات سوی ۇ څه موده وروسته رسول اکرم (ص) نورو مظلومانوته هم دهجرت اجازه ورکړه، داځل دمهاجرینو شمیر دسلو تنو په خواوشا کښې وو، اتیا نارینه او شل مسلمانی بیبیانی چې پدی قافله کښې هم حضرت مصعب (رض) شامل ۇ.

حضرت مصعب (رض) چې دهجرت دبیوسی او پردیسی په ژوند کښې څه شی ډیر ځوروی هغه دخپل بادار محمد رسول الله (ص) څخه لیری والی ۇ، دمدینی له هجرت څخه دری کاله مخکې بیرته مکې ته راستون سو اوس مصعب (رض) نه هغه ښکلی تنکی مخ درلود اونه هغه قیمتی وریښمینی

جامی، داسی پیوندی جامی یی په تن وی چی حتی دڅرمنی ټوټه هم پکښی وه مخ یی دسفر اوهجرت په سختیو کښی دخزان وهلی پاڼی غوندی ژیړ اوښتی اولاسونه اوپښی یی چاودلی وه، دسر وریښتان یی چی یو وخت به په عطرو لامده وو اوس په خاورو اودوړو پټ اوانجړ وو خو په معنی کښی داستقامت اوعزیمت په لوړه پوړی کښی ؤ، دزهد اوتقوی سمبول ؤ او دایمانی غیرت او عزت خزانه.

دحقی لاری دغه مسافر چی کله دبیوزلی اوفقر پدغسی حالت کښی نبوی مجلس ته ورغی او دپیغمبر (ص) سترګی وربانـدی ولګیـدی نو لـه مبارکو سترګونه یی اوښکی توی سوی صحابه ؤ ته یی وویـل: (داسړی پیژنی څوك دی؟ دا دمکی هغه ښکلی او نازولی زلمی دی چی یووخت دده په څیر دښو قیمتی جامو اغوستونکی اودناز اونعمت په غیږکښی بل پالل کیدونکی نه ؤ خونن یی دالله (ج) اودالله درسول په مینه کښی خپل عیش اوسوکالی قربان کړیده اوددنیوی خوندونو اوراحت دوسایلو پرځای یی په زړه کښی دنیکیو محبت ځای نیولی دی). حضرت مصعب (رض) درسول اکرم (ص) په مجلس کښی دتل کښیناستلو لامله یوستر دینی عالم اوفقیه سو کوم سورت چی به نازلیدی هغه به یی سمدلاسه حفظ کوی، همدا وجه وه کله چی دیثرب خلګو له رسول اکرم (ص) سره بیعت وکړ او بیایی دخپلو خلګو لپاره دقرآن دمعلم غوښتنه وکړه نوپیغمبر (ص) له هغوسره حضرت مصعب (رض) ولیږی ترڅوچی خلګ دالله (ج) خواته دعوت کړی دهغه په بلنه اوښوونه دمدینی منوری زیاتره خلګ په اسلام مشرف سول.

مدینی ته دسرور کائنات (ص) اومسلمانانو له هجرت کولونه وروسته هم حضرت مصعب (رض) ددعوت اوتبلیغ سپیڅلی وظیفی ته ادامه ورکړه له یوی خوا دا اوله بلی خوانه دجهاد دمیدان سرښندونکی سپاهی ؤ دهجرت په دویم کال درمضان په میاشت کښی چی کله دبدر ستره تاریخی غزا مینځ ته راغله، دحق اوباطل پدی لومړنی معرکه کښی دهغو دری سوه دیارلس فدائیانو په ډله کښی چی دکائناتو دخالق لخوا دتیرو اوراتلونکو ګناهونو دبخښل کیدو

زيري ورکړل سو يوتن حضرت مصعب (رض) ؤ، نه يوازې په غزا کښې برخوال ؤ بلکې دمهاجرينو لوی بيرغ رسول اکرم (ص) پدې معرکه کښې هغه ته په لاس کښې ورکړې ؤ داحدپه غزاکښې چې دهجرت ددريم کال دشوال دمياشتې واقعه ده هلته هم رسول کريم (ص) دمهاجرينو بيرغ حضرت مصعب (رض) ته وسپارى.

داحد په غزا کښې چې کله مسلمانان په ازموينه کښې واقع سول او له تکليفونو سره مخامخ سول، داويا تنو په خواوشا کښې شهيدان سول حتى پخپله ددواړو جهانو دسردار (ص) غاښ شهيد اومبارك مخ يې زخمي سو نو په مؤقتې ډول دمجاهدينو په صفونو کښې ماتې ګډه سوه مګر پدې سختو شيبو کښې هم حضرت مصعب (رض) دفولادو دغره پشان محکم ولاړ ؤ او په لوړ اواز يې وويل: زه به هيڅکله پرينږدم چې درسول الله (ص) بيرغ نسکور شي، په يولاس کښې يې توره او په بل کښې بيرغ ؤ او په پوره ميړانه يې پر کفارو باندې ګوزارونه کول پدې وخت کښې دمشرکانو مشهور پهلوان ابن قميه پرهغه باندې دتورې ګوزار وکړ او دهغه ښی لاس يې غوڅ کړ، هغه بيرغ په کيڼ لاس کښې ونيوی کله چې کيڼ لاس يې هم ترينه غوڅ کړ نوپه شوټو لاسونو سره يې بيرغ په سينې پورې جوخت ونيوی، په پای کښې ابن قميه دهغه له علم اوايمان نه ډکه مبارکه سينه دنيزې په څوکه سورې کړه او دشهادت جام يې نوش کړ.

دجنګ له ختميدو وروسته چې کله رسول کريم (ص) دجنګ په ميدان کښې دشهيدانو مبارك جسدونه کتل دمکې په دغه ښکلی او نازولی ځوان يې سترګې ولګيدې چې پړمخې پخپلو وينو کښې لت پت پروت دی، دهغه جسد سره نژدې ودريدی له مبارکو سترګو نه يې بې اختياره اوښکې توې سوې او مبارك ايت يې ولوستی چې: (من المؤمنين رجال صدقوا ماعاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر ومابدلوا تبديلا)

يعنې له مؤمنانو څخه ځينې شخصيتونه داسې دي چې له الله (ج) سره خپل کړې تعهديې پوره کړ، ځينو خپله نذرانه اداء کړه اوځينې نور دوخت

دراتلو انتظار باسی او پخپله تګلاره کښې یې هیڅ تبدیلي نده راوستی)،
بیایی مصعب (رض) ته په خطاب وفرمایل: ما په مکه کښې ستا په څیر
ښایسته دښه لباس اغوستونکی بل نه ؤ لیدلی خو نن وینم چې ستا وریښتان
په ګردونو پټ اوانجړ دی او یوازې یوڅادر دربانده پروت دی، زه شاهدی
وایم چې تاسې به دقیامت په ورځ دالله (ج) په حضور مشرف شی.
بیایي امر وکړ چې مصعب (رض) ته کفن ورکړی، خو دهغه دتکفین لپاره
همدا یوڅادر ؤ، دومره تنګ لنډ چې سرته به یې راکش کړی پښې به یې لوڅې
پاتې کیدلی اوکه پښو ته به یې راکش کړی سر به یې لوڅیدی، په پای کښې
یې پرسر باندې څادر او پرپښو باندې دسرګړی واښه واچول اودفن یې کړی.
(رضی الله تعالٰی عنه)

## حضرت مقداد بن عمرو رضي الله عنه

دحق اوباطل ترمینځ لومړنی ستره معرکه دبدر تاریخی غزاوه، رسول اکرم
(ص) هغی ته له روانیدونه مخکې موضوع دخپلو خوږو صحابه ؤ مجلس ته
دهغوی درایو معلومولو لپاره وړاندې کړه، حضرت مقداد بن عمرو (ض)
دمهاجرو مسلمانانو په نمایندګی پاڅیدی عرض یې وکړ: یا رسول الله! موږ
دموسی عليه السلام دقوم په څیرنه یوچې ووایو: (فاذهب انت وربك فقاتلا انا ههنا
قاعدون) ته اوستا رب دواړه ولاړشی، وجنګیږی موږ به دلته درته ناست یو)
بلکې موږ وایو کوم لوری ته چې ستارب درته حکم کوی همغې خواته لاړ شه،
په هغه خدای (ج) قسم چې زموږ دروح واکمن دی اوته یې برحق پیغمبررالیږلی
یې موږ به ستاښی خواته به جنګیږو ستا چپی خواته به جنګیږو، ستا ترمخ به
جنګیږو اوستا ترشابه جنګیږو، والله ترڅوچې زموږ یوه سترګه په رپیدو وی
ترهغه به درسره ملګری یو ددغی جذبی او ولولی نه ډکی ویناپه اوریدو سره
دسرور کائنات (ص) په مبارکه څیره کښې دخوښی نښې وځلیدی اوله حده
زیات خوشحاله سونه یوازې رحمة للعالمین (ص) خوشحاله ؤ بلکه دسرښندنی،
اخلاص اومینې ددغې بیلګې په وړاندې کولوسره دحق دشمعی دټولو
پتنګانو په رګونو کښې دقربانی جذبه راوپاریدله اووینه یې په جوش راغله او

بیاکله چې ددواړو جهانو سردار محمد مصطفی (ص) هغه ته دخیر دعا وکړه دهریوه په زړه کې راوګرځیدله چې کاشکې دغه الفاظ زماله خولې څخه وتلې وای اودفخر الرسل ددعا ستره خزانه ماګټلې وای دقربانې اونذرانې دغه ستر پیشکش حضرت مقدادبن عمرو (رض) دټولو صحابهٔ کرامو په نظر کښې محبوب وګرځوی حضرت عبدالله بن مسعود (رض) به ویل: دبدر په غزا کښې دمقداد ملګرتیا راپه برخه کیدل ماته دومره قدر اوارزښت لرې چې دټولې دنیا نعمتونه دهغې په مقابل کښې هیڅ دی حضرت عبدالله بن عمر (رض) چې دخپلې کم عمرې لامله یې دبدر په جګړه کښې ګډون ونسو کړای ویل به یې: کاشکې زه په بدرکښې دبرخې اخیستلو وړوای اودغه الفاظ زماپه ژبه ویل سوي وای حضرت مقداد (رض) مکې الاصل ندی، دهغه پلار دبهراؤ اوسیدونکی اوقضاعه قبیلې ته منسوب ؤ چې بیاله هغه ځایه دیمن ښار کیندې ته ولاړی، هلته یې واده وکړ اوحضرت مقدادپه کینده نومې سیمه کښې زیږیدلی دی په پای کښې له هغه ځایه مکې ته راغلل اواستوګنه یې غوره کړه په مکه کښې دمقداد استوګنه لږموده تیره سوې وه چې داسلام اوازه پورته سوه الله (ج) هغه ته دظاهرې ښایست ترڅنګ ښکلې اونیك فطرت هم په نصیب کړې ؤ کله چې دتوحید دبلنې ږغ دهغه غوږ ته ورسیدی، بې له شك اوتردد نه یې ورته لبیك ووایه، نبوي دربارته ورغې اوپه اسلام مشرف سو داهغه دورؤ چې اسلامي دعوت دډیرو سختیو په مینځ کښې خپله لاره وایستله، یوې وړې ډلې خدای پالونکو دلوي بت پرست قوم راز راز ظلمونه زغمل، په ظاهره محاله ښکاریدله چې اسلامي تحریك دې کامیاب او برلاسی شي، یوازې هغه چا دتوحید دعوت ته لبیك ویلې سو چې اخرت ته یې په دنیا باندې ترجیح ورکوله اوهره شیبه یې دمرګ منظر سترګو ته مخامخ ولاړؤ حضرت مقداد (رض) که څه هم پردیس او بې وطنه سړی ؤ خو دهغه عزم او اراده دومره محکمه اوپخه وه چې هیڅ ډول تکلیفونو اوکړاوونو نسوه متزلزله کولای کله چې حبشې ته دهجرت لړۍ پیل سوه، حضرت مقداد (رض) هم دمظلومومسلمانانوپه ډله کښې حبشې ته مهاجرسو هلته دڅه مودې له تیرولو

نه وروسته بيرته مکی ته راغی خوکله چی دمدينی دهجرت سلسله شروع سوه نوحضرت مقداد (رض) هم له مکی نه مدينی ته هجرت وکړ په مدينه کښی دهجرت لومړنی شپی ورځی پرحضرت مقداد (رض) باندی ډيری سختی تيريدلی هغه پخپله وايی چی: په مدينه کښی پرما اوزما په دوو ملګرو باندی ډيرسخت حالت راغی شپی به موپه لوږه تيرولی بالاخرة درسول اکرم (ص) حضورته ورغلو اوخپل تکليف موورته بيان کړ پيغمبر (ص) موږته دکلثوم بن هدم (رض) په کور کښی ځای راکړ، پيغمبر (ص) اوموږ به يوازی دميږو په شيدو باندی ګوزاره کوله.

د دويم هجری کال درمضان په مياشت کښی دبدر مشهوره غزا مينځ ته راغله، له دری سوه ديارلس مجاهدينو سره دسپرلی لپاره اويا اوښان اوصرف دوه اسونه وو چی په يوه باندی حضرت حارثه انصاری (رض) او په بل باندی حضرل مقداد (رض) سپور ؤ، حضرت حارثه (رض) خو لادجنګ له پيل کيدو نه دمخه ديو حوض نه داوبو ښنلو په حال کښی دحبان بن العرقه نومی مشرك دغشی په ګوزار شهيدسو مګرحضرت مقداد (رض) چی دجنګ دفنونو يوماهر سپاهی ؤ دکافرانودسل کسيززغره وال سپاره ټولی مقابلی‌ته يوازی ورورړاندی سو اوددښمن صفونه يی تارومار کړل څه چی يی پخپله جذبه په خطبه کښی په ژبه ويلی وه په عمل کښی يی په اثبات ورسول دبدر له جګړی نه وروسته حضرت مقداد (رض) په احد، احزاب، ذی قرد اونورو ټولو غزاګانو کښی په پوره ميړانه برخه اخيستی ده درسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته هم حضرت مقداد (رض) په اسلامی جهادونو کښی ګډون درلود. په فاروقی دور کښی چی کله عمروبن العاص (رض) پرمصر باندی يرغل وکړ، له مصريانو سره هم دجنګ افراد زيات وو اوهم جنګی تجهيزات اومسلمانان دشمير اووسلو په لحاض دهغوی په نسبت کمزوری وو حضرت عمرو بن العاص (رض) ددار الخلافت نه دمرستی غوښتنه وکړه، عمرفاروق (رض) داسلامی لښکر دمرستی لپاره څلورزره عسکر اوڅلور تکړه قوماندانان وروليږل اودائی ورته وليکل چی هريوقوماندان له زرو افرادو سره برابردی، پدغو څلورو قوماندانانو کښی

يوتن حضرت مقدادبن عمرو (رض) ؤ ددغی مرستی په رسيدوسره دمجاهدينو پوځ تقويه سو اوپه لږوخت کښی په مصرکښی داسلام بيرغ ورپيدی، اسلامی مؤرخينو ليکلی دی چی له دی جنګ نه مخکی حضرت مقداد (رض) دشام په جهاد کښی هم برخه اخيسی وه.

په جنګ يرموك کښی دګډون کوونکو مشهورو صحابه ؤ په جمله کښی هم دحضرت مقداد (رض) نوم په خصوصی ډول ياد کړل سويدی دحضرت مقداد بن عمرو (رض) دمقام په لوړتيا اوفضيلت باندی ټول صحابه قائل وه، دايمان دخلوص اوقربانی دولولی په برکت هغه پررسول الله (ص) باندی ګران ؤ يوځل رسول کريم (ص) وفرمايل: ماته الله ج امرکړيدی چی له ځلوروکسانوسره محبت ولرم اوالله هم له هغوی سره محبت لری پوښتنه وسوه چی هغوی څوك دی؟ ويی فرمايل: علی (رض) مقداد (رض) سلمان (رض) اوابو ذر (رض) دحق دشمعی دغه پتنګ، مجاهد شخصيت، دعلم اوفضيلت خاوند، جليل القدر صحابی په (۳۳) هجری کال دحضرت عثمان (رض) دخلافت په دورکښی داجل داعی ته پداسی حال کښی لبيك ووايه چی دهغه عمرله اويا کالو څخه اوښتی ؤ اميرالمؤمنين پخپله دهغه دجنازی لمونځ اداکړ اوله هغه وروسته په زرګونو مسلمانانو په لمدو سترګو هغه په جنت البقيع کښی خاوروته وسپاری. (رضی الله تعالٰی عنه)

## حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه

حضرت معاذ بن جبل (رض) دانصارو دخزرج قبيلی داوس بن سعدله کورنی څخه اودبيعت عقبه ثانيه په وخت کښی دپنځه اويا کسيز هيئت په جمله کښی په اسلام مشرف سوی ؤ اودا وخت دهغه دنوی ځوانی موسم ؤ. دحضرت معاذ (رض) صورت اوسيرت دواړه ښايسته وو، دډيری پوهی او ذکاوت خاوند ؤ، هغه څوك چی رسول اکرم (ص) ورته دامام العلماء لقب ورکړی ؤ مدينی منوری ته دپيغمبر (ص) له هجرت نه وروسته به هغه هروخت په نبوی مجلس کښی حاضرؤ اودقرآن اوسنت زده کړه به يی کوله رسول کريم (ص) هغه ته پخپله دبنوسلمه دمسجدامامت سپارلی ؤ. ديمن خلګو چی دخپل

استازی هیئت په خوله له پیغمبر (ص) نه دیوداسی ولی غوښتنه وکړه چی هم دهغوی داجتماعی چارو تنظیموونکی وی اوهم دقضایاؤ فیصله کوونکی، نو رسول اکرم (ص) ددغی وظیفی لپاره حضرت معاذ (رض) وټاکی، کله چی دخپل ماموریت خواته روانیدی نوسرور کائنات (ص) ورڅخه پوښتنه وکړه: معاذه ته به دڅه په اساس فیصلی صادروی؟ عرض یی وکړ: دالله په کتاب.

پوښتنه یی وکړه: که دالله په کتاب کښی څرګند نص ونه مومی بیابه څه کوی؟ عرض یی وکړ: درسول الله په سنت.

پوښتنه یی وکړه: که درسول الله (ص) په سنت کښی هم تصریح حکم ونه مومی نوبیابه څه کوی؟ عرض یی وکړ: بیابه پخپله رایه اجتهاد کوم اوهیڅ قصور به ونکړم. دحضرت معاذ (رض) دجوابونو په اوریدو سره پیغمبر (ص) خوشحاله سو، دهغه پرسینه یی لاس راتیرکړ ویی فرمایل: الحمدلله چی خدای دپیغمبر استازی ته دهغه څه توفیق ورکړ چی دالله رسول ورباندی خوښ دی، بیا رسول الله (ص) دیمن خلګو ته فرمان ولیکی چی زه تاسی ته ډیرښه سړی درلیږم تاسی دمعاذبن جبل اودده له ملګرو سره ښه رویه وکړی ، دزکات او جزیی مالونه ورته ټول کړی، دوی خوشحاله وساتی پام کوی چی درڅخه خفه نشی. له بلی خوایی حضرت معاذ (رض) ته نصیحت وکړچی: دهغه وطن له خلګوسره نرمه رویه وکړئ سخته رویه ورسره مکوی، خلګ خوشحاله وساتئ مه یی کرکجن کوی، په ملګرتیا سره کارکوی.

دنصیحت په پای کښی یی ورته وفرمایل: دمظلومانو له ښیراؤ نه وویریږی چی دهغو او دالله (ج) ترمینځ حایل اوپرده نشته.

درخصتیدو په وخت کښی سرور کائنات (ص) ورته وفرمایل: ښائی بیا زما اوستا ملاقات ونشی اوکله چی ته بیرته مدینی ته راشی نوزما قبربه ووینی، ددی خبری په اوریدو سره پرحضرت معاذ باندی غرونه، غرونه غم راغی او په زوره زوره یی ژړل رسول الله (ص) ورته وفرمایل مه ژاړه ژړا ښه کارندی، بیایی په مات زړه خدای پامانی وکړه اودیمن خواته روان سو دسرور کائنات (ص) وینا رشتیاوه حضرت معاذ (رض) لاپه یمن کښی ؤ چی ددوارو

جهانو سردار له دی فانی دنیا نه رحلت وکړ.
دحضرت معاذ (رض) دعلم او پوهی مقام له هغه مبارك حديث څخه څرګندیږی چی رسول الله (ص) فرمایلی دی (اعلم امتی بالحلال والحرام معاذ بن جبل) زما په ټول امت کښی چی څوك په حلالو اوحرامو باندی ښه عالم دی هغه معاذ بن جبل دی، دصحابه کرامو په مجلس کښی به چی کله دکوم حدیث په هکله بحث راغی اوپه هغه کښی به حضرت معاذ موجود ؤ نو ټولو به دهغه خواته سترګی اړولی او پوښتنه به یی ورڅخه کوله اوهغه به جواب ورکوی.
حضرت معاذ دعلم، ذکاوت اوحسن اطاعت لامله په رسول الله (ص) باندی ډیر ګران ؤ، یوه ورځ سرور کائنات (ص) د هغه لاس ونیوی اوویی فرمایل: زه لتا سره ډیره مینه لرم، حضرت معاذ پدی خبره دخوښی په څپو کښی ډوب سو عرض یی وکړ: یارسول الله (ص) مور او پلارمی درنه ځارشه، زما هم لتاسره له حده زیاته مینه ده، ددنیا له هرشی نه راته محبوب او ګران یی، پیغمبر (ص) وفرمایل: ښه نوله هرلمانځه نه وروسته دادعا وایه اوهیڅکله یی مه هیروه؟ (رب اعنی علی ذکرك وشکرك وحسن عبادتك) یاالله دخپل ذکر اوشکر اوښه عبادت کولو لپاره مرسته راسره وکړه.
حضرت معاذ (رض) وویل: یارسول الله! زه به پخپله هم تل وربانـدی عمل کوم او نوروته به هم وربانـدی دعمل کولو توصیه کوم.
یوه ورځ رسول الله (ص) پوښتنه وکړه: معاذه دسهار شیبی دربانـدی څنګه تیری سوی؟ حضرت معاذ عرض وکړ: یارسول الله! له ایمان سره رابانـدی تیری سوی، پیغمبر (ص) وفرمایل: داپه کوم دلیل وایی؟ عرض یی وکړ: هرسهار چی راشی دماښام دراتلو هیله می نه وی اوهرماښام چی راشی دسهار دراتلو هیله می نه وی، هرقدم چی واخلم دبل قدم اخیستلو هیله می نه وی په پای کښی یی وویل: داسی راته ښکاری چی ګویا ددوزخیانو انجام هم وینم او دجنتیانو انجام هم، رسول الله (ص) ورته وفرمایل: تادمعرفت مقام میندلی دی، پرهمدی ثابت قدمه اوسه، حضرت معاذ (رض) نه یوازی دعلم پوهی او دغوره اداری اوتنظیم په میدان کښی ترزیاترو خلګو مخکی ؤ بلکی دجهادپه

سنگر کښې هم له چانه بيرته پاتې نه ؤ، هغه امام الفقهاء ؤ پدې پوهيدی چې دخدای (ج) په نزد بهترين عمل فی سبيل الله جهاد دی په همدی اساس درسول الله (ص) په ژوند کښې له بدر نه واخله ترتبوك پوری په ټولو غزاگانو کښې عملا شريك ؤ.

درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دابوبکر صديق (رض) اوعمر فاروق (رض) په دورکښې هم دشام اوروم په جگړه کښې برخوال ؤ فاروق اعظم (رض) خودومره احترام ورته درلود چې په زياتره چاروکښې به يې مشوره ورڅخه اخيستله اوويل به يې چې: (لولا معاذ بن جبل لهلك عمر)، که معاذ بن جبل نه وای نوعمر به هلاك سوی ؤ.

حضرت معاذ (رض) د (۳۶) کالو په عمر دحضرت فاروق (رض) دخلافت په دور کښې وفات سو اودااردن دسيند پرغاړه په بيسان نومی مشهور ښارکی دفن کړای سو. (رضی الله عنه)

## حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه

حضرت مغيره بن شعبه (رض) دطايف دمشهوری قبيلې بنو ثقيف څخه ؤ، بنوثقيف ډير سرکښ او جنگيالي خلگ وه او په عين حال کښې دښه ژوند خاندان هم وه چې حاصل خيزه کروندی اوميوه دارباغونه يې لرل. دبعثت په لسم کال سرور کائنات (ص) دتوحيد ددعوت ورکولو لپاره طايف ته ولاړی، ددغې قبيلې مشرانو نه يوازی درحمت عالم (ص) قدر او احترام ونکړ بلکې داسی ناوړه برخورد يې ورسره وکړ چې انسانيت ترينه کرکه کوی اودهغه ترخه خاطره ټول عمر ورته ياده وه. ددغې قبيلې خلگ دهجرت تر نهم کال پوری داسلام له نعمت څخه محروم پاتې وو، البته دگوتو په شمير څوکسانو له دغه تاريخ نه مخکې ايمان راوړی ؤچې حضرت مغيره بن شعبه (رض) هم پدغو بختورو هستيو کښې شامل ؤ: حافظ ابن عبدالبر (رض) په الاستيعاب کښې ليکلې دی چې حضرت مغيره بن شعبه (رض) په پنځم هجری کښې ايمان راوړ اوپه همدی کال کښې مدينې منوری ته مهاجر سو داسلام په راوړلو سره دهغه دزړه خونه دقومی تعصب څخه خالي اودرسول الله (ص) په مينه اومحبت

مالامال اوپوره معمور سوه، دخپل وخت زیاتره برخه به یې ددوارو جهانو دسردار په خدمت کښې تیروله اوله نبوی فیوضاتو څخه به یې ګټه اخیستله اوله دی امله چې په لیك اولوست پوهیدی، په ځینو وختو کښې یې دوحی لیکلو درنده وظیفه هم سرته رسوله.

دهجرت په شپږم کال دذی قعدی په میاشت کښې سرور کائنات (ص) له څوارلس سوه صحابه کرامو سره دعمری ادا کولوپه نیت دمکې معظمې خواته روان سو اوداهغه سفرؤ چې دبیعت رضوان تاریخی پیښه پکښې مینځ ته راغله یعنې څوارلس سوه کسانو ترونې لاندی دالله (ج) درسول په لاس دقربانی او سربښندنی بیعت وکړ اوالله (ج) هغوی ټولوته دځرګندی وحی په ژبه دخپلې رضا زیری ورکړ اوویې فرمایل: (لقد رضی الله عن المؤمنین اذ یبایعونك تحت الشجرة) حقیقت دادی چې الله (ج) له مؤمنانو څخه راضی سو کله چې هغوی تر ونی لاندی له تاسره بیعت کاوه.

اوحضرت مغیره بن شعبه پدی مبارکو صحابه ؤکښې شامل ؤ دبیعت رضوان اودحدیبیې له صلحی نه وروسته دخیبر، دمکې دفتح، تبوك اونورو ټولو اسلامی غزاګانو کښې له رسول الله (ص) سره ملګری ؤ.

په نهم هجری کښې دطایف خلګوله خپلو بانفوذه اوبارسوخه کسانو څخه مرکب یوهیئت دخپل یومشر عبدیالیل ترقیادت لاندی مدینی ته ولیږی له پیغمبر (ص) سره له خبرو کولو وروسته هیئت اسلام ومنی اوطایف ته دهغوی له بیرته ستنیدونه څوورځی وروسته رسول الله (ص) حضرت مغیره بن شعبه اوحضرت ابوسفیان بن حرب اودبل یوروایت له مخی دخالد بن ولید په شمول طایف ته ولیږل چې دهغه ځای دخلګو مشهور بت " لات " او دهغه معبد دړی وړی کړی.

دپیړیو پیړیو مشرکانه باطلی عقیدی دهغوی په زړونو کښې دخپل معبود (لات) رعب اچولی ؤ اوفکریې کوی چې که څوك ،،لات،، ته په سپك نظر وګوری هغه ته به ارومرو څه ضرر اوزیان رسیږی مګرحضرت مغیره (رض) طایف ته په رسیدو سره دغه حرافی انګیرنه له مینځه یوړه لومړی یې دلات

بت ټوټې ټوټې کړ او بیایې دبتکدې ددیوالونو په نړولو لاس پورې کړ اوعملا یې خلګوته وښوله چې دادخلګوپه لاس جوړ سوي خدایان نه چاته ګټه رسولای شي اونه زیان، ګټه اوزیان هرڅه دواحد لاشریك الله (ج) په لاس کښې دې، له همغه نه ویره په کارده دهغه پدې اقدام سره دقبیلې دټولو خلګو ایمان محکم اوراسخ سو. دهجرت په لسم کال چې رسول الله (ص) حج ته تشریف یوړ، پدې سفرکښې هم حضرت مغیره بن شعبه (رض) دپیغمبر (ص) سره ملګرې ؤ اودبنو ثقیف قبیلې ټولو خلګوهم پدې حج کښې ګډون درلودی.

دهجرت په یولسم کال چې سرور کائنات (ص) له دې فاني دنیانه رحلت وکړ، پر صحابه ؤکرامو باندې له ډېره غمه رڼا ورځ توره شپه سوه، دجنازې د لمانځه له ادا کولو وروسته یې چې کله دهغه ﷺ مطهر جسد په لحد کښې ایښودې، پدې وخت کښې حضرت مغیره بن شعبه (رض) له ډېره غمه منګولې مروړلې چې ناڅاپه دهغه دګوتې ګوتمې درسول لله (ص) په مبارك قبرکښې ولویدله، حضرت علي کرم الله وجهه چې نژدې ولاړ ؤ حضرت مغیره (رض) ته یې وویل: کوزشه اوخپله ګوتمې راواخله، هغه قبرته کوزسو، درسول الله (ص) پرمبارکه پښه یې لاس ولګیدی خلګوته یې وویل: خاورې توې کړئ خلګوچې خاورې واړولې نوهغه په لمدو سترګو اوستړو سلګیو له قبرنه راپورته سو او بیابه یې ټول عمر پدې افتخار کوی اوویل به یې: زه وروستي سړی یم چې له رسول الله (ص) څخه جدا سوم درسول الله (ص) له وفات نه وروسته دابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دورکښې دمرتدانو پرضد جهادکښې دحضرت مغیره بن شعبه (رض) خوراستر نقش ؤ ترهغه پورې مدینې ته راستون نسو ترڅو چې دغه فتنه بیخي له مینځه نه وه تللې، همدارنګه، دعمر فاروق (رض) دخلافت په دورکښې دایران او شام په اوږدو جګړو کښې داسلامي لښکر دلاسه په بویب نومې ځای کښې دایراني لښکر دماتې خوړلو نه وروسته ایراني مشهور پهلوان رستم دمسلمانانو پرضد دجنګ لپاره یو لاك اواتیا زره کسیز پوځ او درې سوه جنګي هاتیان (فیلان) له ځانه سره واخیستل اوقادسیې ته ولاړې خو دجنګ نه مخکې یې دخبرو اترولاره په مخ کښې ونیوله، حضرت سعدبن ابی

وقاص (رض) حضرت مغیره بن شعبه (رض) دخپل نماینده په صفت ورولیږی.

رستم خپل دربار په قیمتی فرشونو سینګار کړ او دشاهانه تاج پرسر ایښودلو سره دسرو زرو پرتخت کښینستی اوبیائی حضرت مغیره (رض) ځان ته وغوښتی حضرت مغیره (رض) دجهاد په سپیرو ګردجنو جاموکښی له خپلی زنګ وهلی توری اولیندی سره په ډیره بیباکی وړاندی ورغی، رستم پوښتنه وکړه ته به پخپله زنګ وهلی توره او وړو وړو غشو سره زموږ پرضد څنګه وجنګیږی؟ پداسی حال کښی چی زموږ شان شوکت او عسکری قوت پخپلو سترګو وینی.

حضرت مغیره (رض) جواب ورکړ: زما توره زړه ده خودهغی په تیزوالی می پوره باوردی، پاتی سوه دغشو خبره، پدی وپوهیږه چی که داور بڅری هرڅومره وړوکی هم وی خوپه هرحال بیاهم اوردی اوداورخاصیت سوځول دی، رستم وویل: اوس هم لاوخت شته که تاسی بیر ته ولاړ شئ دابه ښه وی، موږ نه یوازی داچی په تاسی پسی نه درځو بلکی ستاسی دلښکر مشر او نورو تکړه قوماندانانو ته به قیمتی انعامونه هم درکړو حضرت مغیره (رض) دخپلی توری پرموټی باندی لاس کیښودی او په پوره جرئت سره یی ورته وویل: که ته حق دین نه منی نولږ ترلږه جزیه ومنه اوکه داهم نکوی نو توره به زموږ او ستاسی ترمینځ فیصله کوی له هغه وروسته بیرته خپل لښکرته ستون سو او په بله ورځ دمسلمانانو اوایرانیانو ترمینځ دقادسیی خونړی جګړه ونښتله چی په نتیجه کښی مسلمانان فاتح اوایرانی لښکرو عبرتناك شکست وخوړی.

حضرت مغیره (رض) امیر المؤمنین عمر فاروق (رض) ته ډیر ګران او محبوب ؤ له همدی امله یی لومړی په بصره او بیاپه کوفه کښی داسلامی دولت دوالی په صفت ټاکلی ؤ چی دهغه غوره کارنامی داسلامی اعمالو لپاره دلاری مثال ګڼل کیدای شی دکوفی دامارت په دوران کښی به هغه ویل : زه دکوفی دخلګو په وینو لاسونه نه سره کوم چی هغوی نیك بخت اوځان بدبخت کړم، زه به نیکوکارانو ته انعام ورکوم او بدکارانوته به عفوه کوم، که څوك ښه خبره کوی دهغه به ستاینه کوم اوکه څوك ناپوه وی هغه به پوهوم ترهغه پوری

چې دقضا غشي زما اوددوی ترمينځ جدائي راولي اودکوفي په خلګو باندی چې له مانه وروسته بل حاکم مقررشي نوبيابه زه ډير ډير ورياديږم، حافظ ابن حجر دقبيصه بن جابر داوينا رانقل کړيده چې: ماله مغيره سره ډيره موده تيره کړه، هغه دومره مدبر اوځيرك سړی ؤ چې که ديو ښار اته داسې دروازی وای چې بې حکمته له يوی دروازی نه تيريدل هم محال وای نو حضرت مغيره به له اتو واړو څخه تير سوی ؤ حضرت مغيره يوازی مجاهد او مدبر نه بلکې دعلم اوفضيلت داسمان يوځلنده ستوری هم ؤ، له هغه څخه (۱۳۳) حديثونه روايت سويدی. (رضی الله عنه)

## حضرت مثنی بن حرثه رضی الله عنه

حضرت مثنی بن حارثه (رض) دبنو شيبان ټبرته منسوب اوله عدناني نسل څخه ؤ اودغه عربي قبيله دفارسيانو په ګاونډ کښې ميشته وه دلومړی ځل لپاره له رسول اکرم (ص) سره دهغه ليدنه کتنه دبعثت په لسم کال دحج په موسم کښې وسوه، رسول الله (ص) پداسې حال کښې چې حضرت ابوبکر صديق (رض) هم ورسره ملګری ؤ له خپلی تګلاری سره سم منی ته تشريف يوړ ترڅو هلته دعربي نړۍ له ګوټ ګوټ څخه دمختلفو قبيلو راغليو حاجيانوته دتوحيد بلنه وړاندی کړی.

په يوه خيمه کښې څوتنه معزز اوبارسوخه خلګ ناست وو حضرت ابوبکر صديق (رض) له سلام اچولونه وروسته له هغوی نه پوښتنه وکړه: ای دخدای (ج) دکور ميلمنمو تاسې کومې قبيلې ته منسوب ياست؟

جواب يې ورکړ: موږ دشيبان بن ثعلبه څوځات يو اودفارس دخلګو په ګاونډ کښې اوسيږو، ابوبکر صديق (رض) جواب ورکوونکی سړی ته وويل: که مااشتباه نه وی کړی نوته مفروق بن عمرو يې؟

جواب يې. ورکړ: هو! زه مفروق يم اوراسره ملګری هاني بن قبيصه، مثنی بن حارثه اونعمان بن شريك دی.

ابو بکر صديق (رض) دخبرو اترو په ترڅ کښې خپل ځان هم هغوی ته معرفي کړ اوبيايې داشاری په ترڅ کښې وويل: تاسې به درسول الله (ص) په

باره کښی څه اوریدلی وی، همدغه دالله (ج) رسول دی.

مفروق درسول کریم (ص) خواته متوجه سو، عرض یی وکړ: ای قریشی وروره ستا بلنه اودعوت څه شی دی؟

پیغمبر (ص) وفرمایل: زه تاسی ته بلنه درکوم چی شاهدی ووایاست چی له الله (ج) نه پرته بل څوك دعبادت مستحق ندی اوزه دالله (ج) برحق رسول یم، غواړم چی تاسی زما ملاتړ اومرسته وکړۍ ترڅو چی زه وکولای شم چی دالله (ج) بندګانوته دخدای (ج) دین ورسوم قریشو دالله (ج) له حکمونو څخه څرګنده سرغړونه کړیده دهغه رسول ته یی ددروغجن نسبت کړیدی، له حق نه یی مخ اړولی دی اوپرباطل باندی ټینګ ولاړدی، الله (ج) ددوی له ټولو خبرونه منزه او دثنا ستاینی وړدی.

مفروق بیا پوښتنه وکړه: ستا دبلنی نور مطالب څه دی؟

رسول الله (ص) دقرآن څوایتونه ورته ولوستل چی په هغوکښی دا احکام وو چی: له الله (ج) سره شریك مه نیسئ له مور پلارسره احسان وکړی، خپل اولادونه دلوږی او بیوزلی له ویری نه مه وژنی. اودبی حیائی چاروته که ښکاره وی اوکه پټ مه نږدی کیږی، دچاوینه چی الله (ج) حرامه کړیده په ناحقه مه تویوئ، دیتیم مال ته لاس مه غځوی تله اوپیمانه په عدل او انصاف سره کوی اوکله چی خبری کوی په انصاف سره ږغیږی اګرکه دکوم خپلوان معامله وی هم اوله الله (ج) سره مو چی کوم تعهد اوژبنه کړی وی هغه ترسره کړی.

مفروق ددی الهی احکامو په اوریدلو سره وویل: ای قریشی وروره تاچی موږ ته څه ولوستل دادځمکی داوسیدونکو کلام ندی، په خدای (ج) قسم چی ستا دعوت دنیکیو پیغام دی چاچی تاته ددروغجن نسبت کړیدی هغوی پخپله دروغجن اوظالمان دی.

بیا وروسته مثنی بن حارثه عرض. وکړ: ای قریشی وروره تاچی څه واورول په خدای (ج) قسم چی له دی نه مخکی ما هیڅکله دغسی کلام ندی اوریدلی خوخبره داده چی موږ دفارسیانو ګاونډیان اودکسری ترقوماندی لاندی یو، چی موږستا ملاتړ وکړو اوهغه ستا ددښمنی په محاذ کښی ودریږی

نوبيابه موږ دهغه دظلم په ژرنده اوړه سو موږ دعربوپه خلاف ستاملاتړ كولاى سوخو دكسرى پرخلاف دريدل زموږ له وسى نه پورته خبره ده رسول الله (ص) دمثنى بن حارثه په جواب كښى وفرمايل: شيبانى وروره! په يو ځاى كښى ملاتړ كول اوپه بل ځاى كښى ملاتړ پريښودل داسلام له روح سره سمون نلرى، كه ته دحق منونكى يى نودالله (ج) ټول دين به منى، دانشى كيداى چى هم به داسلام اطاعت كوى او هم دكسرى، په رينتيا سره دالله (ج) ددين پيروان هغه كسان دى چى په هراړخيز ډول دهغه مرسته اوملاتړ وكړى له دى خبرو اترونه وروسته رسول الله (ص) اوابوبكر صديق (رض) له مجلس نه پاڅيدل اوروان سول دلسم نبوى كال نه ترنهم هجرى كال پورى دمثنى بن حارثه شيبانى داقبال ستورى دمحروميت په وريځو كښى پټ ؤ اودحق له كاروان سره دملگرتيا په لورى يى هغه ته لارښوونه ونكړاى سوه، پدى موده كښى ډيرستر تحولات اوعظيمى پيښى مينځ ته راغلى، رسول الله (ص) مدينى منورى ته هجرت وكړ، دبدر احد خندق اوخيبر غزاگانى تيرى سوى، دحديبيى په سولى سره دفتح مبين لپاره زمينه مساعده سوه، دنړى جابرو اوبى لارى امپراتورانو ته دحق دعوت اوپيغام وليږل سو، دمكى هغه ځمكه چى يووخت په رحمت عالم باندى سور اور گرځول سوى وه دحق دلښكرپه لاسونو فتح كړاى سوه او د اسلام بيرغ ورباندى ورپول سو، دحق سرسختو دښمنانو داسلام دعظمت په وړاندى دعجز اوتسليم سرونه كښته كړل جاهلى رسمونو خپل ځاى دحق نظام ته پريښودى اودقيصر او كسرى شيطانى طلسم دړى وړى سواو دعربى نړى له گوټ گوټ نه انسانان ډلى ډلى راتلل اوداسلام ترنورانى بيرغ لاندى ودريدل، په همدى دوركښى دبنوشيبان هيئت دحضرت مثنى بن حارثه ترمشرى لاندى مدينى منورى ته داطاعت په دائره كښى دداخليدو لپا ره روان سو اودا هغه وخت ؤ چى دمثنى بن حارثه داقبال ستورى وځليدى او درسول الله (ص) په مبارك لاس يى دايمان اوسرښندنى بيعت وكړ خوداسى رينتونى بيعت چى له هغه وروسته يى خپل هرڅه دحق په لار كښى وقف كړل درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دحضرت ابوبكر صديق (رض) دخلافت په دور كښى چى كله

دارتداد دفتنی اورونه بل سول، دمرتدانو پرضد جګړه کی حضرت مثنی بن حارثه لوی لاس درلودی، دعراق دتسخیر په جګړه کښی حضرت مثنی شیبانی داته زره کسیز اسلامی لښکر مشرؤ چی وروسته بیا حضرت خالد بن ولید (رض) دهغه دمرستی لپاره له لس زره عسکروسره ورغی اوحضرت خالد (رض) که څه هم داته لس زره کسیز لښکر مشری پرغاړه واخیستله خودحضرت مثنی (رض) له مشوری نه پرته یې یوقدم هم نه پورته کاوه.

دعراق له نیولونه وروسته حضرت خالد (رض) دامیر المؤمنین ابوبکر صدیق (رض) دفرمان په اساس دشام خواته مخه کړه اوحضرت مثنی بن حارثه (رض) یی دعراق دامیر په حیث پریښودی څه موده وروسته ایرانی لښکرو دمشهور حربی جنرال او نامتو پهلوان رستم بن فرخ زاد ترقیادت لاندی پر مسلمانانو باندی یرغل وکړ اوداسلامی لښکر اوایرانیانو ترمینځ اوږدی جګړی وسوی چی پدی ټولو جنګونوکښی دحضرت مثنی بن حارثه (رض) ستر نقش ؤ دیو ماهر جنرال په صفت یی جنګی تاکتیکونه برابرول، دلښکر تعبیه یی کوله او په عین حال کښی یی دیو نامور خطیب وظیفه هم اجرا کوله چی دهغه د تقریرونو په اثر به دهرمسلمان عسکر په زړه کښی دشهادت جذبه او ولوله راپاریدله او په پوره زړورتوب اومیړانه به یی دجهاد میدان ته وردانګل، یوځل دجنګ په میدان کښی دهغه ورور مسعود بن حارثه شیبانی ډیر خطرناك زخمی سو اودځنکدن په حالت کښی یی وویل: ای دبکر بن وائل زامنو خپل بیرغ لوړ اوځلانده وساتئ خدای (ج) به تاسی ته لوړتیا در په برخه کړی، پام کوی چی زماپه مرګ سره ستاسی قدمونه ونه ښوئیږی.

پدی وخت کښی حضرت مثنی بن حارثه (رض) راپاڅیدی اوویی ویل: ای مسلمانانو! شریف انسانان همدغسی مری پام کوی چی ستاسی بیرغ راټیټ نشی، داجګړه دتاریخ په پاڼو کښی دبویب په نوم ثبت سویده، پدی جګړه کښی چی ایرانی لښکرو ته دسر اومال ځومره تاوان ورسیدی په بله هیڅ یوه جګړه کښی ورته نه ؤ رسیدلی له فتحی نه وروسته چی حضرت مثنی دخپل ورور مسعود اوانس بن هلال دجنازی لمونځ اداکړ نودیوی خطبی په ترڅ کښی

يی وويل: په خدای (ج) قسم دی چی دغوخلگو دخپل شجاعت، استقامت او ميړانی بيرغونه ودرول اودخپلو وينو په نذرانه کولو سره يی دخپلو گناهونو کفاره اداکړه حضرت مثنی بن حارثه دبويب له جگړی نه مخکی دجسر په جگړه کښی ديوکافر دلاسه زخمی سوی ؤ دهرډول علاج سره سره دهغه زخم جوړنسو اوکله چی هغه وپوهيدی چی داجل نيټه يی نژدی سويده نويی بشير بن خصاصيه (رض) خپل جانشين وټاکی اووصيت يی ورته وکړ چی حضرت سعد بن ابی وقاص (رض) ته زما پيغام ورسوه چی: ترڅو چی امکان موجود وی دعربو په سرحد کښی واوسيږی اوله ايرانيانو سره وجنگيږی، که الله ج بری درپه برخه کړ په بی پروائی سره ايران ته داخل شی اوکه خدای (ج) مکړه ايرانيان مغلوب نسول نودخپل هيواد په حدودو کښی دننه به بيا دخپل لښکر دتنظيمولو اويرغل کولو تدبير ونيسی له دی وصيت نه وروسته داسلامی لښکر نامتو قوماندان ددی فانی دنيانه رخصت سو اود ذوقار په سيمه کښی خاوروته وسپارل سو. (رضی الله عنه)

## حضرت هشيم بن عتبه رضي الله عنه

حضرت هشيم بن عتبه دقريشو دعبدشمس له کورنی څخه او په څلورم پښت عبد مناف بن قصی کښی دهغه دنسب لړی له رسول اکرم (ص) سره يو ځای کيږی دهغه پلار عتبه بن ربيعه دقريشوله سردارانو څخه او پخپل قوم کښی يو بانفوذه اوبارسوخه سړی ؤ دهغه په پوهه باندی دخلگو اعتماد ؤ اوخپلی لانجی اوشخړی به يی دفيصلی لپاره هغه ته وړاندی کولی خوعقل او پوهی ونشو کړای چی دحق خواته يی رهبری کړی کله چی سرور کائنات (ص) دمکی خلگو ته دتوحيد بلنه وړاندی کړه هغه ددی پرځای چی دحق پيروی وکړی دابولهب، ابوجهل، اميه بن خلف، وليد بن مغيره، عقبه بن ابی معيط، اسودبن عبديغوث اونورو هغو اشرارو ملگری سو چی هغوی درحمة للعالمين (ص) اود هغه دخوږو ملگرو پرضد دښمنی ته کلکه ملاتړلی وه مگر دعتبه په غيږ کښی روزل سوی هشيم غوږ ته چی کله دتوحيد دبلنی ږغ ورسيدی بی له ځنډه يی ورته لبيك وويل هم پخپله اوهم دهغه ښځه سهله بنت سهيل بن عمرو

دحقپالونکو په هغې سپیڅلې ډله کښې شامل سول چې داسلام په تاریخ کښې دسابقون الاولون غوره لقب ورکړل سویدی.

عتبه بن ربیعه دخپل زوی هشیم اودخپلې مېرورسهله بنت سهیل په اسلام راوړلو ډېر زیات خپه سو اوکه څه هم چې پخپله یې څه ضرر ورته ونه رسوی خودمکې دمشرکانو دوحشیانه ظلمونو په مقابل کښې چې درسول الله (ص) پر ملګرو یې کول دهغوی حمایت یې هم ونکړ دبعثت ترپنځم کال پورې دخدای (ج) ددښمنانو دظلم په ژرنده اوړه کیدل چې په پای کښې دنبوت دپنځم کال د رجب په میاشت کښې حبشې ته دمهاجرېنو په لومړنۍ ډله کښې چې (۱۱) تنه نارینه اوڅلور بیبیانې پکښې شاملې وې حضرت هشیم اوحضرت سهله دواړو له خپل پلرنې وطن مکې سره خدای پامانې وکړه اوحبشې ته ولاړل.

په حبشه کې یې دوه درې میاشتې وتلې وې چې یوخبر خپور سو چې درسول اکرم (ص) اوقریشو ترمینځ صلح سویده اواوس مسلمانان دکافرانو له ظلم څخه په امن دی.

ددې خبرې په اوریدلو مهاجرین خوشحاله سول چې دخپل مولی محمد رسول الله (ص) په دیدار مشرف شي او نور به په مکه کښې دامن ژوند تیروی، خو کله چې مکې مکرمې ته نژدې سول وپوهیدل چې هغه خبر دروغ ؤ او له پخوانه زیات مسلمانان دکفارو دلاسه ځورول کیږي له مشورې نه وروسته دټولو مهاجرینو پدې باندې اتفاق راغی چې دهغه وخت له تعامل سره سم هر څوك دمکې له مشرانو څخه پناه وغواړي او پدې ترتیب مکې ته په امن داخل شي دعلامه بلاذری (رح) دوینا له مخې حضرت هشیم او دهغه میرمن حضرت سهله له امیه بن خلف څخه پناه وغوښتله اودسرور کائنات (ص) په دیدار مشرف سول څنګه چې حالات له پخوانه هم خراب اومسلمانانو داسلام په جرم دخدای (ج) ددښمنانو وحشیانه ظلمونه زغمل اوسره ځمکه داور په شان وربانډې سره وه نوله دې امله رسول الله (ص) مظلومو صحابه ؤ ته یوځل بیا هدایت وکړ چې حبشې ته هجرت وکړي په دویم ځل هجرت کښې هم حضرت هشیم بن عتبه اودهغه میرمن حضرت سهله بنت سهیل بن عمرو شامله وه.

مدینی ته له هجرت نه مخکی حضرت هشیم مکی ته راستون سو اوکله چی مدینی ته دهجرت اجازه وسوه ابو حذیفه هشیم (رض) دهغه میرمن سهله (رض) اودهغه ازادسوی غلام، سالم (رض) له مکی نه مدینی ته مهاجر سول او پدی ترتیب ددریو هجرتونو سعادت ورپه برخه سو ابوحذیفه هشیم بن عتبه نه یوازی ددری ځله هجرت کولو په وسیله دممتاز مقام خاوندؤ بلکی په بدری صحا به ؤ کښې هم شامل ؤ، دخدای (ج) دلاری دهغو دری سوه دیارلس تنو مجاهدینو څخه یوتن ؤ چی الله (ج) هغوی ته دمخکینیو او وروستنیو ټولو ګناهونو دبخښل کیدو اعلان وکړ دحق اوباطل په دغی لومړنی معرکه کښې چی ددویم هجری کال درمضان دمیاشتی واقعه وه دحضرت ابوحذیفه پلار عتبه بن ربیعه دباطل پوځ قیادت کوی، دعقیدی دجلاوالی له امله دابو حذیفه اودهغه دپلار عتبه ترمینځ دزوی والی او پلاروالی پیوند شلیدلی ؤ، زوی دحق په هغه صف کښې چی دشمیر اوجنګی تجهیزاتو په لحاظ ډیر کمزوری ؤ اوپلارپه هغه صف کښې چی دجنګی تجهیزاتو اوجنګیالیو دشمیر دزیاتوالی لامله ظاهربینو فکر کوی چی نن به داسلام او مسلمانانو سته وزی او بیابه څوك دحق ددعوت لپاره پاڅون ونکړی مګر دمادیت پرستانو دظاهر بینانه فیصلی اواټکل پرخلاف لږ شمیر تش لاسی مؤمنان دشیطان پرلوی مجهز لښکر باندی غالب او برلاسی سول، اویا سل تنه مشرکان یی دعتبه بن ربیعه په شمول چی دحضرت حمزه (رض) په لاس وژل سوی ؤ دجهنم کندی ته ولیږل اواویاتنه نوریی اسیران ونیول دجګړی له ختمیدونه وروسته دمشرکانو جسدونه په یوه ځاکی واچول سول اوله دفن کیدونه وروسته رسول اکرم (ص) دهغوی دهدیری ترڅنګ ودریدی اوپه لوړ اوازسره یی وفرمایل: (ای عتبه! ای شیبه! ای ابو جهل! ای فلان! ای فلان! ایا تاسی دالله (ج) وعده ولیدله؟

له موږ سره چی رب العزت کومه وعده کړی وه هغه خو ترسره سوه درسول الله (ص) ددی ویناپه اوریدو سره دصحابه کرامو غوږی زیږه سول اودعبرت ډیرلوی درس یی واخیستی، خوحضرت ابوحذیفه هشیم بن عتبه (رض) ډیر زیات خواشینی ولاړؤ رسول اکرم (ص) ورڅخه پوښتنه وکړه: ( دپلار په مرګ

دی خپه یی؟ عرض یی وکړ: (نه! یارسول الله، په خدای (ج) قسم دی چی دپلار په مرګ باندی نه یم خپه، خپه پدی یم چی زما پلار دکفرپه حالت کښی مړسو، هغه یوهوښیار او په چارو کښی ځیرك سړی ؤ، زما باورؤ چی دحق دعوت به ومنی خواوس چی وینم چی کافر له دنیانه ولاړی، زما ټولی هیلی له خاورو سره خاوری سوی نو ځکه خپه یم.

رسول الله (ص) دهغه دجواب په اوریدو ورته دخیر دعا وکړه اودایمانی جذبی له امله یی ورته افرین ووایه.

له بدرنه وروسته دنبوی دور په نورو سترو غزاګانو کښی هم حضرت ابو حذیفه هشیم بن عتبه په پوره میړانه برخه اخیستله اوتل به یی په زړه کښی دشهادت جذبه دسمندر دڅپو غوندی څپانده وه هغه پدی پوهیدی چی تر ټولو غوره ژوند هغه دی چی دخدای (ج) دلاری په جهاد کښی تیرشی اوتر ټولو غوره مرګ هغه دی چی مؤمن ته دخدای (ج) دلاری په جهاد کښی نصیب شی کوم اجرچی مؤمن ته په فی سبیل الله جهاد کښی په برخه کیږی په بل هیڅ نیك عمل سره ورته هغومره ثواب نشی په نصیب کیدای اودشهادت په مرګ سره دانسان ټول هغه ګناهونه بخښل کیږی چی دژوند په اوږدو کښی ورڅخه صادر سوی وی.

په (۱۱) هجری کال کښی چی کله سرور کائنات (ص) له خپل رفیق اعلی سره وصل سو اوحضرت ابوبکرصدیق (رض) دمسلمانانو دقیادت دروند پیټی پراوږو واخیستی نو په ټولو عربو کښی دارتداد دمهلکی فتنی لمبی پورته سوی. دمرتدانو یوی طبقی لکه مسیلمه کذاب او طلیحه اسدی په دروغو سره دنبوت دعوه وکړه له اسلام نه کفرته وګرځیدل، بلی طبقی په لمانځه او زکات کښی دکموالی راوستلو غوښتنه وکړه اودریمی طبقی بیخی دزکات ورکولونه انکار وکړ، دمدینی له انصارو اودمکی له قریشو اوبنو ثقیف نه پرته نوری لږ قبیلی داسی وی چی یایی ټول اویایی لږکسان مرتد سوی نه وی ددی تباه کوونکو فتنومخه که نه وای نیول سوی نودا دځوان اسلامی خلافت لپاره سخته نازکه مرحله وه خوحضرت ابوبکر صدیق (رض) له بی ساری متانت،

ثبات اوهمت څخه کار واخیستی نه یوازی دمرتدانو په وړاندی یی سربښکته نکړ اودهغوی یی هیڅ ډول رعایت ونکړ بلکی دوسایلو له محدودیت سره سره یی دهغوی دځپلو لپاره ملا وتړله اودجهاد اعلان یی وکړ دمجاهدینو یوولس زره لښکری یی تیاری کړی اودمرتدانو دراپرځولو لپاره یی مختلفو سیموته ولیږلی چی پدی لړکښی ترټولو سخته جګړه دمسیلمه کذاب پرخلاف دیمامی جګړه وه لکه چی علامه ابن جریر طبری وائی: دیمامی له جګړی نه بله هیڅ یوه جګړه سخته نه وه، مسیلمه ځلویښت زره کسیز مجهز لښکر تیار کړی ؤ، یوی خواته هم عرب اوبلی خواته هم عرب وو، له اوسپنی سره داوسپنی ټکر ؤ خو یوی خواته هغه کسان وو چی دالله (ج) اودالله درسول لپاره جنګیدل اوبلی خوا ته هغه کسان وو چی دشیطانی مفکوری پخاطر راوتلی وو، دحقپالونکو په صف کښی حضرت ابوحذیفه هشیم بن عتبه اودهغه زوی بللی سالم چی په مولی ابی حذیفه سره یی شهرت درلود هم شامل وو، ابوحذیفه او سالم دواړه په ډیره میړانه دخدای (ج) ددښمنانو پرضد وجنګیدل او په پای کښی دواړو هغه لوړمقام ومیندی چی یومسلمان په ټول ژوندکښی دهغه دمیندلو هیله من وی یعنی دخدای (ج) دلاری په جهاد کښی دشهادت لوړ مقام پدی وخت کښی دحضرت ابوحذیفه عمرد (**۵۴**) کلونو ؤ هرڅوك چی دحق دشمعی دپتنګ حضرت ابوحذیفه هشیم دژوند کتاب ترمطالعی لاندی ونیسی نو په اسلام کښی دړومبی والی، دحق په لاره کښی ددرندو مصیبتونو زغملو په دین کښی داخلاص اودخدای (ج) له رسول سره دژوری مینی بابونه به ډیر ځرګند په نظر ورشی اوهرمسلمان کولای شی چی دهغه په قدم باندی دقدم ایښودلو اودهغه دتګلاری په تعقیبولو سره دجنت اودیدار سره منزل ته ورسیږی. (رضی الله عنه)

## حضرت هشام بن عاص رضي الله عنه

حضرت هشام بن عاص بن وائل دحضرت عمرو بن عاص ورور ؤ، په عمر کښی له هغه نه کشر خوپه ایمان راوړلو کښی له هغه نه مشرؤ ځکه چی عمرو بن عاص په پنځم هجری کال کښی داحزاب له غزانه وروسته ایمان راؤړ مګر

حضرت هشام بن عاص دبعثت په لومړیو وختونو کښې دایمان دخزانې مالك سوی ؤ.

په څرګند ډول دحق دتبلیغ له پیل کیدونه وروسته نه یوازې داچې دقریشو لویانو دحق دعوت نه منی بلکې ددې دعوت دخپریدو په مخ کښې یې هرراز خنډونه ایجادول او دحق پر پیروانو باندې یې ژوند تریخ کړی ؤ اوحتی پخپله رسول الله (ص) ته یې په لاس اوژبې سره ضرر رسوی چې ابولهب، ابوجهل، عقبه بن ابی معیط، عتبه، ربیعه، امیه بن خلف اوعاص بن وائل سهمی ددښمنانو په لومړی صف کښې ولاړوو ددې خبرې یوڅرګند دلیل هغه پیښه ده چې یوه ورځ رسول کریم (ص) دحق دتبلیغ لپاره روان ؤ اودغه اشرار په یوځای کښې راټول سوی ناست وو.

عقبه بن ابی معیط ربیعه ته په خطاب وویل: ده ته وګوره وائی پرماباندې له اسمانه پرښتی رانازلیږی ربیعه دخنداپه څپوکښې وویل: ایاته یې وینې چې له ده سره پرښتی روانی وی عقبه بن ابی معیط وویل: په لات اوعزی باندې قسم که یوه پرښته ووینم زه به دده په کلمه ویلوکښې یوه شیبه هم ځنډ ونکړم، عتبه وویل: نه زه خوبه ترهغه پوری وربانده باور ونکړم ترڅو چې پخپله خدای (ج) راته ونه وائی چې ای عتبه دازما رسول دی، دده خبره ومنه، امیه بن خلف وویل: هغه خلک څومره ناپوه دی چې پده باندې ئی ایمان راوړیدی که په رشتیا سره پیغمبر (ص) وای نوفرشتی به ورباندې اووروسته ورسره روانی وای دسروزرو کور به یې ؤ، باغونه اوچینی به یې درلودی دسروزرو دخزانو مالك به ؤ هرچا هرڅه وویل چې پدې ترڅ کښې دعاص بن وائل سهمی وار راغی هغه وویل: پریږدی، دایو بې بنیاده سړی دی کله چې مړشی بیابه یې څوك نوم په خوله وانخلی، عاص بن وائل، دغه دحق سرسخت دښمن چې کله دخپل زوی هشام (رض) له ایمان راوړلو څخه خبرسو دغضب لمبې یې تاوجنې سوی اودهغه په وهلو ټکولو اوتعذیبولو یې لاس پوری کړ او پرهغه باندې دا کړاوونه اوظلمونه حبشې ته دهجرت تروختته پوری پرله پسې روان وو خودهغه په ایمان اوعقیده اوراسخ عزم کښې دیوویښته په اندازه تزلزل رانغی اونه

دحق لـه سمی لاری څخـه کوږ سو ځکـه چی هغـه پـدی پوهیـدی چی دحق لـه کاروان سره ملگرتیا په لاس کښی داور دسکروټو نیول دی اودتوحید دعوت خپرول اودباطل تغر ټولول د درندو قربانیو له زغملو پرته ناممکن کاردی کله چی پرمسلمانانو باندی دکفارو ظلمونه دزغم له حد څخه پورته سول نو رسول اکرم (ص) اجازه ورکړه چی حبشی ته هجرت وکړی اوحضرت هشام بن عاص (رض) هم دمهاجرینو په دویمه قافله کښی شامل ؤ.

پـه حبشه کښی داوسیدونکو مهاجرینو لـه جملی څخـه ځینـی کسان دحضرت جعفر طیار (رض) په ملگرتیا دهجرت تر اوم کال یعنی دخیبر دغزا تروخته پوری پاتی سول خو یوشمیر نور مدینی ته دمسلمانانو لـه هجرت نـه مخکی بیرته مکی معظمی ته ستانه سول چی حضرت هشام بن عاص (رض) هم له همدغی جملی څخه ؤ رسول الله (ص) چی کله مدینی تـه دهجرت کولو اجازه وکړه حضرت هشام بن عاص (رض) هم دسفر لپاره ځان چمتوکړ خوله روانیدو نه مخکی دکورنی خلگ ورباندی خبر سول، دهغه پـه لاسونو اوپښو کښی یی ځنځیرونه واچول او بندی یی کړ چی پنځه شپږ کاله یې په بنداو تعذیب کښی تیر کړل په همدغو کلونو کښی په دار هجرت مدینه کی درسول الله (ص) په لاس داسلامی ریاست بنسټ کیښودل سو داسلامی غزاگانو لړی روانه وه اودبدر، احد اواحزاب جنگو نه هم تیرسوی وو داحزاب لـه جگړی نـه وروسته حضرت هشام بن عاص (رض) په څه چل اوهنر سره ځان خوشی کړ او مدینی منوری ته ولاړی اوهلته مخامخ دسرور کائنات (ص) حضورته ورغی، کله چی پرهشام باندی درسول کریم (ص) سترگی ولگیدی نو له حده زیات خوشحاله سو اودحضرت هشام (رض) دخوشحالی خو دا حال ؤ چی که دټولی دنیا باچاهی ورکړه سوی وای دومره به نه ؤ خوشحاله سوی داځکه چی درسول الله (ص) سره ژوند کول داسی نعمت ؤ چی ددنیا هیڅ یونعمت ورسره سیالی نسوه کولی له اسلام راوړلو نه تردی وخته پوری دحضرت هشام (رض) ژوند د کفارو ترلاس لاندی، تعذیبونو اوجلاوطنی کښی تیرسو اومدینی ته له هجرت نه وروسته دهغه دژوند ستر مصروفیت دخدای (ج) ددین دسرلوړی اودشیطان

دنظام دنسكورولو پخاطر جهاد كول ؤ چې دحق ددعوت خپرولو لپاره ډيره غوره اومؤثره وسيله ده امام حاكم پخپل مستدرك كښې ليكلي دي چې له هجرت نه وروسته حضرت هشام (رض) په ټولو غزاگانو كښې دسرور كائنات (ص) سره ملگرى ؤ او په هرميدان كښې دباطل دپيروانو پرضد په پوره ميړانه وجنگيدى يوازې درسول الله (ص) په زمانه كښې نه بلكې دپيغمبر (ص) له رحلت نه وروسته دحضرت ابوبكر صديق (رض) دخلافت په زمانه كښې هم دجها دميدان يوغښتلي اواتل سرښندونكى ؤ دروم دقيصر دلښكرو پرضد جگړو كښې حضرت هشام (رض) داسلام داردو عسكرؤ پدې لړكښې ډيرهستره جگړه داجنادين جگړه وه چې يوى خواته درومي جنرالانو تذارق اوقبقلار ترقوماندانى لاندې دكفر لښكر اوبلې خواته دحق لښكرى وى ددښمن دپوځ په پرتله دمسلمانانو شمير ډيركم ؤ خو داسلامي اردو دبرى راز پدې كښې پروت ؤ چې مجاهدين له ټولو فتحه سويو سيمو څخه په يواتفاق سره په اجنادين كښې غونډسول او متحد صف يې تشكيل كړ.

ددیارلسم هجرى كال دجمادى الاولى دمياشتي په (۲۸) نيټه دروميانو او مسلمانانو ترمينځ سخته خونړۍ جگړه ونښتله چې حضرت هشام بن عاص (رض) په هغې كښې ديورښتونى سرښندونكى په توگه خپله فريضه ادا كړه، دجگړې په ترڅ كښې يې چې كله يووخت وليدل چې مسلمان كمزورى ښكاره كوى نوحضرت هشام (رض) خپله زغره واله خولې له سره ايسته كړه اومسلمانو عسكروته په خطاب يې وويل: اى مسلمانانو زه دعاص بن وائل زوى هشام يم، راشي په ماپسې راشي چې جنت درته ستركې په لاره دى، كه نه راځى نو وګڼى چې تاسى له جنت نه تښتئ.

اى مسلمانانو وروڼو! داخلك زموږ تورى ته نشي ټينگيداى زه چې كوم تاسى هم همغسى وكړى، له دى وينا وروسته يې توره پورته كړه او ددښمن په صفونو كښې په پوره زړه ورتيا وړاندى ننووتى اوثابته يې كړه چې هغه په رښتيا سره دجنت خواته روان ؤ، دخداى (ج) پرډيرو دښمنانو باندى يې مينده بورى كړى خوپه پاى كښې پخپله هم پداسى ځاى كښې شهيدسو چې تنگ

غاښې ؤ اوله هغې لارې نه یوازې یوتن په تکلیف سره تیریدای سو. پدی تنګه لاره کښې دهغه دجسدپه غورځیدو سره داسلامی لښکر دتیریدو مخه بنده سوه او هغه خواته کم شمیر مسلمانان ډدیر لوی لښکرسره لاس په ګریوان په جنګ اخته وو، پدی وخت کښې دحضرت هشام (رض) ورور حضرت عمرو بن العاص (رض) مسلمانانوته په خطاب وویل: ای مسلمانانو! الله (ج) زما وروړته دشهادت لوړمقام په برخه کړیدی اودهغه روح یې ځان ته غوښتی دی، دلته یوازی دهغه جسد پروت دی، دهغه دجسد لپاره مه ایساریږی دهغه پرجسد باندی له غاښې نه واوړی اوځانونه ددښمن مخې ته ورسوی.

حضرت عمرو بن عاص (رض) لومړی خپل اس وربانډی تیرکړ او ورپسی نور مجاهدین له غاښې نه واوښتل چې پدی توګه دحضرت هشام (رض) مبارك جسد داسونو ترقدمونو لاندی ټوټې ټوټې سو، جګړه چې پای ته ورسیدله عمروبن عاص (رض) دخپل شهید ورور دجسد ټوټې په یوه بوری کښې واچولی اوخاورو ته یې وسپاری.

ابن سعد پخپل طبقات کښې لیکلی دی چې حضرت عمر فاروق (رض) چې کله دحضرت هشام (رض) له شهادت نه خبرسو نوویې ویل: الله (ج) پرهشام باندی خپل رحمت نازل کړی، هغه داسلام ډیرلوی خدمتګار اوملاتړ ؤ، دحضرت هشام (رض) له شهادت نه څوکاله وروسته دصحابه ؤ په یوه غونډه کښې داسوال مطرح سو چې حضرت هشام (رض) به بهترؤ اوکه عمرو بن عاص؟ پدی وخت کښې حضرت عمروبن عاص (رض) هم موجود ؤ، هغه وویل: زه تاسی ته یوه پیښه بیانوم، تاسی دهغې په اوریدلو پخپله قضاوت وکړئ چې هغه بهترؤ اوکه زه؟

موږ دواړوپه جنګ کښې دبرخې اخیستلو لپاره تیاری ونیوی خوله جنګ نه یوه ورځ مخکی مودشهادت میندلو لپاره دعا وکړه کله چې دجنګ میدان ته ولاړو نو دهشام دعا قبوله سوه او زه له شهادت څخه محروم سوم اوس تاسی فکر وکړی چې الله (ج) چاته فضیلت ورپه برخه کړ؟

دشهید دپاکې وینې له هرڅاڅکې راټوکیږی داسلام دبڼ ګلونه

## حضرت یزید بن ابو سفیان رضي الله عنه

حضرت یزید بن ابوسفیان دقریشو بنوامیه کورنی ته منسوب او دام المؤمنین حضرت ام حبیبه (رض) اوامیر معاویه (رض) ورورؤ، ددوی له کورنی څخه ام المؤمنین حضرت ام حبیبه (رض) چی اصلی نوم یی رمله ؤ دمحمدی بعثت په لومړیو وختونو کښی دحق له کاروان سره ملګری سوه اودرسول الله (ص) په مبارك لاس یی دایمان بیعت کړی ؤ اوپخپله حضرت یزیدبن ابوسفیان که څه هم دمکی دفتحی تر زمانی پوری چی دهجرت داتم کال درمضان دمیاشتی واقعه وه دایمان له خزانی څخه محروم پاتی سو خو دجاهلیت په دوره کښی یی نه کله مسلمانانو ته څه ضرر ورسوی اونه یی درسول الله (ص) اومؤمنانو پرضد داسی کوم حرکت وکړ چی دشریفو انسانانوله شان سره نامناسبه وی.

دمکی دفتحی په وخت کښی له اسلام راوړلو نه وروسته چی حضرت یزید بن ابواسفیان په کومه غزا کښی ګډون وکړهغه په اتم هجری کال کښی دشوال په میاشت کښی دحنین غزاوه اوحافظ ابن حجر په، الاصابه، کښی لیکلی دی چی دحنین له جګړی نه وروسته رسول الله (ص) حضرت یزید (رض) دبنو فراس دامیر په حیث و ټاکی.

دقریشو دنامتو قوماندان ابوسفیان بن حرب په زامنو کښی حضرت یزید (رض) ترټولو زیات په جنګی چاروکی ماهر اوتوریالی ؤ خوله دی کبله چی درسول الله (ص) دژوند په وروستیو وختونو کښی یه اسلام مشرف سوی ؤ ، درسالت ددورپه غزاګانو کښی دبرخی اخیستلو کمه موقع په لاس ورغلی وه مګر داسلامی جهادونو لړی وروسته ثابته کړه چی هغه داسلامی لښکر دنامتو اومشهورو قوماندانانوله جملی څخه یوتن ؤ اوالله (ج) دهغه دتوری په برکت سره ډیری زیاتی سیمی دکفرله لوث څخه پاکی کړی اود (لا اله الاالله محمد رسول الله) مبارك بیرغ پکښی ورپیدی لومړی خلیفه ابوبکر صدیق (رض) چی کله دارتداد دفتنی داور وژلوڅخه وروسته دلومړی ځل لپاره دشام لوری ته داسلامی لښکرو دلیږلو اراده وکړه نوپه ټولو عربوکښی یی اعلان

وکړ چې مسلمانان باید دجهاد لپاره تیاری ونیسی، له دی اعلان نه وروسته چې کله دعربوله ګوټ ګوټ نه ډلی ډلی مجاهدین راټول سول او ستر اسلامی لښکر ورڅخه جوړ سونو صدیق اکبر (رض) حضرت ابوعبیده بن الجراح، حضرت یزید بن ابو سفیان، حضرت شرحبیل بن حسنه اوحضرت معاذ بن جبل (رض) راوغوښتل او په یوه خطبه کښی یی ورته وویل:

زه تاسی ته دشام دجهاد مسئولیت درسپارم، لښکر چې تیارشی، زه به یی په بیلا بیلو ټولیو باندی وویشم اوستاسی دهریوه ترقوماندی لاندی به یی بیلوبیلو سیموته ولیږم، که تاسی دجهاد په کوم میدان کښی سره یوځای شئ نو بیابه اعلی سر قوماندان ابوعبیده بن الجراح وی اوکه هغه موجود نه ؤ نو دټولو پوځونو قوماندان به یزید بن ابوسفیان وی، ځی ولاړشی شام ته دوتلو دپاره تیاری ونیسی.

داعلان نه وروسته په څو ورځوکښی دننه مدینی منوری ته ډیر زیات مجاهدین راورسیدل، حضرت ابوبکر صدیق (رض) عسکری چوڼی ته تشریف یوؤړی، حضرت یزیدبن ابوسفیان ته یی دقیادت بیرغ وسپاری اودلښکر دخوځولو امریی ورته وکړ.

حضرت یزید بن ابوسفیان چې کله پراس باندی سپورسو او وخوځیدی نو امیر المؤمنین ورسره پیاده روان سو، حضرت یزید (رض) عرض وکړ: ای امیر المؤمنینه! یاخوته هم سپورشه، یاماته اجازه راکړه چې زه هم پیاده روان شم، داځنګه کیدای شی چې زه سپور اوته پیاده راسره روان یی. ابوبکر صدیق (رض) جواب ورکړ: نه به زه سپورشم اونه به تاته دکوزیدو اجازه درکړم زه چې هرڅومره قدمونه درسره اخلم دادخدای (ج) په لار کښی شمیرم اوهیله من یم چې خدای (ج) به په هرقدم باندی ماته اجر راکړی، له ډیری فاصلی وهلونه وروسته یی دالوداع ویلو په وخت کښی ورته وصیت وکړ چې په هغه کښی دا لس خبری شاملی وی: ابوخالده!

ښځی مه وژنه، ماشومان مه وژنه، سپین ږیری اوسپین سری مه وژنه، شنی ونی مه غوڅوه، کلی مه ورانوه، له اړتیانه زیات پسونه اواوښان مه ذبحه

كوه، ونى مه سوځوه ځوك په اوبو كښې مه غرقوه، خيانت مكوه بې زړه توب او بې همتي مكوه.

په پاى كښې يې دحضرت يزيد بن ابوسفيان لاس په لاس كښې ونيوى او ويې فرمايل: ځه ولاړشه: يزيده په خداى (ج) دى سپارم، پرتادى دخداى رحمت اوسلامتيا وى ته زما لومړى قوماندان يې (چې له مدينى منورى څخه روانيږى).

شام ته دحضرت يزيدبن ابوسفيان له رسيدو وروسته داسلام لومړى خليفه ابوبكر صديق (رض) دحضرت ابوعبيده بن الجراح (رض) حضرت شرحبيل بن حسنه (رض) دحضرت معاذ بن جبل (رض) هريوه ترقيادت لاندى بيلا بيل پوځونه شام ته وليږل اوددى ترځنګ يې حضرت عمرو بن العاص (رض) ته هم پيغام وليږى چې هغه هم له خپل لښكرسره له عمان نه، شام ته ولاړشى، دپنځو واړو نامتو قوماندانانو ترقيادت لاندى اسلامى لښكر دشام په اجنادين سيمه كښې غونډ سو اوهاخواته دروم قيصر خپل پوځونه داسلامى لښكر دمقابلى لپاره تيارسى كړل، دمسلمانانو اوروميانو ترمينځ ډيره سخته جګړه ونښتله، له يوى خوا درى زره تنه مجاهدين شهيدان سول اوله بلى خوا دشيطان پيروان دشهيدانو څوچنده دجهنم كندى ته ولاړل چې په پاى كښې له پايتخت دمشق نه پرته نورى يوشمير سيمى دمجاهدينو په لاس فتحه سوى او له هغه وروسته يې پايتخت محاصره كړچې دغى محاصرى تقريباشپږ مياشتى دوام وكړ اوپه همدى دوران كښې حضرت ابوبكر صديق (رض) پخپل خواږه ملګرى محمد رسول الله (ص) پسى داخرت په سفر روان سو او حضرت فاروق اعظم (رض) دمسلمانانو خليفه وټاكل سوله شپږ مياشتى محاصرى نه وروسته ددمشق په فتح كښې دحضرت يزيدبن ابوسفيان ميړانه په تاريخ كښې په زرينو كرښوثبت سويده، له دغى فتحى نه وروسته داردن وارراغى خو دهغه ټولى سيمى يوه په بلى پسى په اسانى سره له دى امله فتحه كيدلى چې دروم كفرى لښكرو همت بايللى ؤ.

داردن اوساحلى سيمو له تسخيرولونه وروسته حضرت ابو عبيده بن

الجراح (رض) دحمص خواته روان سو اوحضرت يزيدبن ابوسفيان (رض) يې په دمشق كښې خپل قايم مقام وټاكې چې هغه ديوښه اداره چې اوفاتح قوماندان په صفت خپله فريضه سرته ورسوله.

درومي لښكر په پرله پسې ماتې خوړلو باندې دروم قيصر هرقل له حده زيات په غوسه شو او په انطاكيه كښې دډير لوى پوځ په غونډولو سره يې وغوښتل چې دشام ټولې سيمې له مسلمانانو څخه وژګارى كړى خوكله چې داسلامي لښكر نامتو قوماندان حضرت ابوعبيده بن الجراح ددښمنانو له تصميم څخه خبرسو سمدلاسه يې شورا راوغوښتله اوفيصله يې وكړه چې اسلامي پوځونه دې له ټولو سيمونه يو ځاى ته راغونډ شي او په يواتفاق سره دې ددښمن پرپوځ باندې حمله وكړي ددې فيصلې له مخې په يرموك كښې څلويښت زره اسلامي لښكر ددښمن ددوه لاكو نه زيات لښكر دمقابلې لپاره تيارسې سو اوپدې جګړه كښې حضرت يزيد بن ابوسفيان دښې اړخ قوماندان وټاكل سو، پدې وخت كښې تصادفا ديزيد پلار ابوسفيان هم موجود ؤ، خپل زوى ته يې ږغ وكړ:

زويه! دجنګ په ميدان كښې هريو عسكر په پوره ميړانه جنګيږي، ته دمسلمانانو قوماندان يې، دافرادوپه پرتله ستامسئوليت دروند دى، له خدايه (ج) وويريږه، په هرحال كښې په خداى (ج) باندې توكل وكړه تاته ښايي چې له خپلو ملګرونه زيات داخرت غوښتونكى په جنګ كښې ثابت قدم اودهر راز كړاوونو زغمونكى اوسې، كه نن ستاپه پوځ كښې كوم عسكر په ميدان كښې لتانه وړاندې شي داستا لپاره دشرم خبره ده.

حضرت يزيد (رض) چې دمخه هم په پوره زړورتيا سره جنګيدى دخپل پلار پدې خبروله پخوانه زيات په جوش راغى اودقربانى په داسې توده ولوله وجنګيدى چې دښمنان په شا تلوته مجبور سول او پدې ترتيب دشام دنيولو غوڅه جګړه سرته ورسيدله، هرقل وتښتيدى قسطنطنيې ته ولاړى اوبيايي هيڅكله دشام په خاوره كښې قدم كښينښودى له هغه وروسته اسلامي پوځ دبيت المقدس خواته مخه كړه اوهغه يې محاصره كړ، دښار خلګو حضرت ابو

عبیده بن الجراح (رض) ته پیغام ولیږی چی موږ حاضر یو بیت المقدس دروسپارو خو باید دمسلمانانو امیردلته راشی اوله موږ سره دصلحی لوزنامه لاسلیك کړی، حضرت ابو عبیده (رض) امیر المؤمنین عمرفاروق (رض) ته خط ولیکی او هغه په خورا فقیرانه لباس کښی بیت المقدس ته تشریف یوؤړ اوله وینو توئیدونه پرته بیت المقدس دمسلمانانو ترولکی لاندی راغی په (۱۸) هجری کال کښی په اسلامی لښکر کښی دعمواس ناروغی خپره سوه چی حضرت ابوعبیده بن الجراح (رض) هم په همدی ناروغی سره وفات سو، حضرت فاروق اعظم (رض) دهغه پرځای یزید بن ابوسفیان دشام دوالی په حیث و ټاکی اوامریی ورته وکړچی دقیساریه دنیولو لپاره لښکر وخوځوی. حضرت یزید (رض) له اویا زره لښکرسره وخوځیدی خودښار دمحاصری په دوران کښی سخت ناروغ سو چی خپل وروړ حضرت معاویه بن ابوسفیان (رض) یی خپل قایم مقام پریښودی او پخپله دمشق ته راستون سو چی په (۱۸) هجری کال کښی همالته په دمشق کښی وفات سو، په جهاد کښی دحضرت یزیدبن ابوسفیان (رض) میړانه ثبات او قربانی اودهر ډول مشکلاتو په وړاندی صبر به ترقیامته پوری دخدای (ج) دلاری دمجاهدینو د لاری مشال وی. (رضی الله عنه)

* * *

## دصحابه کرامو رضی الله عنهم لنډه پیژندنه

(**۱**). **حضرت ابوعبیده بن الجراح** (رضی الله تعالی عنه)

دحضرت ابوعبیده (رض) اصلی نوم عامر، دپلار اصلی نوم عبدالله، درسول کریم (ص) لخوا دامین الامت لقب ورکړسوی ؤ دقریشو بنوفهر قبیلی ته منسوب ؤ دنسب شجره یی داده:

عامر بن عبدالله بن جراح بن هلال بن اهیب بن ضبة بن حارث بن فهر. دهغه دمور نوم ؤ امیمه بنت غنم چی صحابیه بی بی وه.

دجمهور سيرت پوهانو دوينا له مخې له هجرت نه څلويښت كاله دمخه په مكه كښې زيږيدلى دى.

دبعثت په لومړيو وختونو كښې په اسلام مشرف سويدى دا سلامي اردو مشهور قوماندان ؤ دحضرت عمر فاروق (رض) دخلافت په دوركښې درمله اوبيت المقدس ترمينځ يوه سيمه كښې وفات سوحضرت معاذبن جبل (رض) يې دجنازې لمونځ اداكړ او حضرت عمروبن العاص اوحضرت ضحاك بن قيس خاوروته وسپارى.

(۲) **حضرت ابو ذر غفارى** (رضى الله تعالى عنه)

دحضرت ابوذر غفارى اصلى نوم جندب ؤ بنوغفار قبيلې ته منسوب ؤ دكنانه بن خزيمه له ځوځات څخه اوله مدينې منورې نه يوسل اوشل كيلومتره ليرې دبدر په خواوشا كښې اوسيدى.

دنسب شجره يې داده: ابوذر جندب بن جناده بن قيس بن عمروبن مليل بن صغير بن حزام بن غفار.

دمور نوم يې ؤ: رمله بنت ربيعه له حضرت خديجة الكبرى ابوبكرصديق، حضرت علي حضرت زيدبن حارثه نه وروسته پنځم سړى دى چې په اسلام مشرف سويدى.

په (۳۲) هـ ق كال كښې په ربذه نومې ځنګل كښې په داسې حال كښې وفات سو چې څنګ ته يې يوه لور او بله ميرمن ناستې وې خو وروسته بيا حضرت عبدالله بن مسعود (رض) له يوشمير ملګرو سرله كوم لورى راغى، دهغه دجنازې لمونځ يې اداكړ اوهغه يې خاوروته وسپارى. له هغه څخه (۲۸۱) حديثونه روايت سويدى.

(۳) **حضرت اسامه بن زيد** (رضى الله تعالى عنه)

حضرت اسامه بن زيد (رض) بن حارثه د بنوقضاعه قبيلې دبنوكلب له پرګنې څخه ؤ دهغه پلار زيدبن حارثه يوازنى صحابي دى چې په قرآن كښې يې نوم يادسويدى، دهغه مور بركت چې په ام ايمن سره يې شهرت درلود هغه بي بي وه چې سرور كائنات (ص) به هغې ته دمور خطاب كاوه.

حضرت اسامه (رض) د نبوت په اوم کال په مکه معظمه کښې دمسلمانی کورنی په غیږ کښې وزیږیدی کله یی چی په خبرو باندی ژبه ماته کړه نو د توحیدپه کلیمه یی ژبه وخوځوله.

دینځلس کلنی په عمر کښې درسول الله (ص) لخوا دحرقات دسریی قوماندان وټاکل سو، دهجرت په (۱۱) کال له رحلت نه دمخه سرور کائنات (ص) دمؤته دشهیدانو دانتقام اخیستلو اودشام دسرحدونو دخارنی پخاطر د (۱۸) کلنی په عمر دمجاهدینو داوه سوه کسیز لښکر دقوماندان په صفت وټاکی چی حضرت ابوبکرصدیق (رض) حضرت عمر فاروق (رض) حضرت ابو عبیده بن الجراح (رض) حضرت سعدبن ابی و قاص (رض) اوحضرت سعیدبن زید (رض) غوندی مشران صحابه دهغه لښکر عسکروو دحضرت اسامه (رض) دوفات کال (**۵۴**) هجری ښودل سویدی، دوفات ځای جرف اومدفن مدینه منوره.

(**۴**) **حضرت ابو ایوب انصاری** (رضی الله تعالی عنه)

دحضرت ابو ایوب انصاری اصلی نوم خالدبن زیدؤ، دخزرج قبیلی دبنو نجار رئیس ؤ.

دنسب شجره یی داده: ابوایوب خالد بن زید بن کلیب بن ثعلبه بن عبدعوف خزرجی، دمورنوم یی هندبنت سعد خزرجی وه له نبوی هجرت نه یودیرش کاله دمخه په یثرب (مدینه) کښې زیږیدلی ؤ.

له نبوی هجرت نه مخکښې دحضرت مصعب بن عمیر (رض) په دعوت سره په اسلام مشرف سوی ؤ په انصارو مؤمنانوکښې په سابقون الاولون کښې شمیرل کیدی دبیعت عقبه ثانیه دځلور اویا کسانوله جملی څخه یوتن ؤ. کله چی پیغمبر (ص) مدینی منوری ته هجرت وکړ نودهغه دسپرلی اوښی (قصوآء) دحضرت ابوایوب (رض) دکور په مخکی ګونډه ووهله اوپیغمبر (ص) دهغه په کورکښې دیره سو اوداسعادت الله (ج) حضرت ابوایوب (رض) ته په نصیب کړ.

دحضرت امیر معاویه (رض) دحکومت په دورکښې چی کله دقسطنطنیه دنیولو لپاره اسلامی لښکر روانیدی حضرت ابو ایوب انصاری (رض) سره له

دی چی عمریی له اتیاکالو اوښتی ؤ دیوعادی مجاهدپه صفت پدی غزا کښی برخوال ؤ پـه همدی سفر کښی وفـات سو او همالتـه دفـن کړای سو پـه (**۵۷**) هجری کال کښی چی کله سلطان محمد فاتح پرقسطنطنیه باندی داسلام بیرغ ورپوه نوبیا وروسته یی دحضرت ابوایوب انصاری (رض) قبر ولټوی اودهغه پرمزار باندی یی یوه ګونبده ودانه کړه.

(**۵**) **حضرت ابی بن کعب** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ابی بن کعب (رض) دانصارو دخزرج قبیلی د بنو نجار څخه ؤ. دنسب شجره یی داده:

ابی بن کعب بن قیس بن عبید بن زیاد بن معاویه بن عمرو بن مالك بن نجار بن ثعلبه بن عمرو بن خزرج الاکبر کنیت نوم یی ابوالمنذر اوالقاب یی سید المسلمین اوسید القراء وو له نبوی هجرت نه دمخه دایمان دخزانی مالك سوی ؤ.

له بدرنه واخله ترطائف پوری په ټولو غزاګانو کښی برخوال ؤ دقرآن کریم حافظ اودوحی کاتب ؤ، دومره لوی دینی عالم ؤ چی حتی درسول الله (ص) پـه ژوند کښی یی دمفتی وظیفه اجرا کوله، دحضرت عثمان (رض) دخلافت پـه دور کښی چی دقرآن کریم مصحف تدوین کیدی ددغه کمیسون مشر حضرت ابی بن کعب انصاری (رض) وټاکل سو.

حضرت ابی بن کعب (رض) دحضرت عثمان (رض) دخلافت پـه دورکښی پـه (**۳۲**) هـ کال کښی وفات سو.

(**۶**) **حضرت اسیدبن حضیر** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت اسیدبن حضیر دانصارو داوس قبیلی دعبد الاشهل لـه کورنی څخه ؤ. دنسب شجره یی داده.

اسیدبن حضیر بن سماك بن عتیك بن رافع بن امرؤ القیس بن زیدبن عبدالاشهل. له نبوی هجرت نه مخکښی دحضرت مصعب بن عمیر پـه دعوت سره په اسلام مشرف سوی ؤ پـه بیعت عقبه ثانیـه کښی شریك ؤ، پـه همدی بیعت کښی درسول الله (ص) لخوا دانصارو ددوو مشهورو قبیلو اوس اوخزرج

لپاره دولس نمایندګان وټاکل سول نهه دخزرج قبیلې څخه اودری داوس قبیلی څخه چی حضرت اسیدبن حضیر داوس قبیلی له دریو نمایدګانو څخه یو تن ؤ له بدرنه پرته چی دڅه معقول اوشرعی عذر لاامله پاتی سوی ؤ په نورو ټولو غزاګانو کښی برخوال ؤ حضرت اسید بن حضیر په (۲۰) هجری کال کښی په مدینه منوره کښی وفات سو، امیر المؤمنین عمر فاروق (رض) دهغه دجنازی لمونځ ادا کړ او په جنة البقیع کښی خاوروته وسپارل سو.

(۷) **حضرت ابو هریرة** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ابوهریرة (رض) دیمن ددؤس له قبیلی څخه ؤ. دنسب شجره یی داده:

ابو هریرة عبدالرحمن بن عامر بن عبدذی الشری بن طریف بن غیث بن هنیه بن سعد بن ثعلبه بن سلیم بن فهم بن غنم بن دؤس.

حضرت ابو هریرة (رض) دخپل دغه نوم په هکله وائی چی ماپیشو ساتلی وه چی له ځان سره به می ګرځوله، له هغی سره دمینی پخاطر خلګو ماته ابو هریره ویل په صحیح بخاری کښی راغلی دی چی رسول الله (ص) به هم هغه ته ابوهریره ویل. حضرت ابوهریرة (رض) له خپلی مورسره دهغو اتیاؤ کورنیو په جمله کښی شامل ؤ چی دحضرت طفیل ذوالنور (رض) ترقیادت لاندی یی د اوم هجری کال په لومړیو وختونو کښی مدینی ته هجرت وکړ اودا دخیبر دغزا وخت ؤ. حضرت ا بوهریرة (رض) به خپل ټول وخت درسول الله (ص) په خدمت کښی تیروی له همدی امله دحدیثودراویانو دلومړی ډلی دفهرست په سرکښی ځای لری اوله هغه څخه پنځه زره دری سه څلور اویا (**۵۳۷۴**) حدیثونه روایت سویدی. حضرت ابوهریرة (رض) دهغو اویا تنو اصحاب صفه څخه یوتن ؤ چی داغوستلو لپاره یی یو څادر قدری هم نه درلودی، او زیاتره وختونه بی په لوږه کښی تیرول.

حضرت ابوهریرة (رض) دخیبرله غزانه وروسته غزاګانو کښی له رسول الله (ص) سره ملګری ؤ ابو هریرة (رض) دحضرت عمر (رض) په دور کښی دبحرین دوالی په حیث ټاکل سوی ؤ اوهمدارنګه دامیر معاویه په دورکښی کله ناکله یی دمدینی دامارت وظیفه سرته رسوله حضرت ابو هریرة (رض) دروایتونو په

اختلاف په (**۵۷**) یا (**۵۸**) کښی د (**۷۸**) کلونو په عمر په مدینه منوره کښی له دی فانی دنیانه رحلت وکړ او په جنة البقیع کښی خاوروته وسپارل سو.

(**۸**) **حضرت ابوطلحه زیدبن سهل انصاری** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ابوطلحه زیدبن سهل دمدینی دانصارو دخزرج قبیلی دبنونجار له کورنی څخه ؤ.

دحضرت انس بن مالك (رض) دکونډی مسلمانی مورام سلیم (رض) په دعوت سره یی ایمان راؤړ اوهغی دده ایمان دخپلی نکاح په مهر کښی قبول کړ اوپدی ترتیب دحضرت زید بن سهل اوحضرت ام سلیم ترمینځ نکاح وسوه حضرت ابوطلحه خپل سر اومال داسلام په لار کښی وقف کړی وو.

دامبارك ایت دهغه په هکله نازل سو چی: (ویؤثرون علی انفسهم ولوکان بهم خصاصة) یعنی دوی نوروته پرخپل ځان ترجیح ورکوی اګرکه پخپله په تنګسه کښی وی.

دغزاپه هرمیدان کښی دخپل محبوب محمد رسول الله (ص) سره ملګری ؤ داحدپه جګړه کښی چی زیاتره صحابه کرام تیت پرك سول اومیدان یی پریښود ابوطلحه دهغو کسانوله جملی څخه ؤچی دسرور کائنات (ص) ترڅنګ ولاړؤ اودا شعر یی وایه:

نفسی لنفسك الفداء — ووجهی لوجهك الوقاء

یعنی زما ځان دی ستاله ځانه ځارشی اوزمامخ دی ستادمخ په وړاندی سپر وی. حضرت ابوطلحه د نبوی مدرسی شاګرد ؤ، له هغه نه دوه نوی (**۹۲**) حدیثونه روایت سویدی.

حضرت ابو طلحه زیدبن سهل انصاری (رض) دحضرت امیرمعاویه (رض) دحکومت په دور کښی پداسی حال کښی چی عمریی داویا کلونو په خواوشا کی ؤ دقسطنطنیه په جګړه کښی برخه واخیستله اودحضرت انس بن مالك دروایت له مخی په (**۵۱**) هجری کال کښی له دی فانی دنیا نه داخرت دنه ختمیدونکی ژوندانه په لور روان سو دهغه وفات پداسی حال کښی ؤ چی په کښتی کښی سپورؤ اوروح یی دعلیین په لوری والوتی.

(۹) **حضرت ارقم بن ابی الارقم** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ارقم بن ابی الارقم دقریشو دبنو مخزوم له پرگنی څخه ؤ.

دنسب شجره یی داده:

ارقم بن ابی الارقم عبدمناف بن ابوجندب اسدبن عبدالله بن عمروبن مخزوم بن یقظه بن مره بن کعب بن لوی د بعثت په لومړیو درپوکلونو کښی په اسلام مشرف سوی ؤ له نبوی هجرت نه دیرش کاله مخکی په مکه کښی زیږیدلی، دهغه کور درسول الله (ص) اودگوتو په شمیر مظلومو مؤمنانو لپاره پناه ځای اودحق ددعوت مرکز ؤ. په (۱۳) بعثتِ نبوی کال ذی الحجی په میاشت کښی مدینی منوری ته مهاجر سو.

دمواخات دعقد په لړکښی رسول الله ﷺ دده اوحضرت ابو طلحه زید بن سهل انصاری ترمینځ دوروروولی تړون کړی ؤ.

دجها دلړې چی پیل سوه حضرت ارقم بن ابی الارقم دغزا دهرمیدان اتل سپاهی ؤ حضرت ارقم بن ابی الارقم دروایتونو په اختلاف د (۸۳) یا (**۸۵**) کلنی په عمر په (**۵۳**) یا (**۵۵**) هجری کال کښی په مدینه منوره کښی وفات سو، مشهور صحابی سعد بن ابی وقاص د هغه دجنازی لمونځ ادا کړ او په جنت البقیع کښی دفن کړی سو.

(۱۰) **حضرت ابو جندل بن سهیل** (رضی االله تعالی عنه)

دحضرت ابوجندل اصلی نوم عاص ؤ، دقریشو دبنو عبد شمس له کورنی څخه ؤ د نسب شجره یی داده:

ابو جندل عاص بن سهیل بن عمرو بن عبدشمس بن عبدود بن نصربن مالك بن حسل بن عامر بن لؤی، دبعثت په لومړیو وختونو کښی دایمان دلا زواله خزانی مالك سوی ؤ اوکلونه کلونه یی دخپل پلار دلاسه په بند او زندان هتکړیو اوزولنو کښی تیرکړی او مصیبتونه یی زغملی وو ترڅو چی دحدیبی دصلحی په وخت کښی الله (ج) ورته نجات ورکړ اوبیا دساحل خواته ولاړ، وروسته بیا درسول الله (ص) په امر مدینی ته راغی اودمکی دفتح، طائف تبوك او نورو غزاگانو کښی له رسول الله (ص) سره ملگری ؤ دحضرت عمر

فاروق (رض) دخلافت په دورکښې چې کله دشام جګړې پيل سوې ابو جندل (رض) داسلامي لښکر ديوتکړه عسکر په صفت درومیانو پرخلاف پرله پسې شپږ کاله وجنګېدی چې په پای کې په (۱۸) هجري کال کښې همالته دعمواس دطاعون په ناروغي اخته او وفات سو.

(۱۱) **حضرت ابو دجانه انصاري** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ابو دجانه سماك بن خرشه دانصارو دخزرج قبيلې بنو ساعده ته منسوب ؤ د نسب لړی یې داده:

سماك بن خرشه بن لودان بن عبدودبن زيدبن ثعلبه بن طريف بن خزرج بن ساعده بن كعب بن خزرج الاکبر. له نبوي هجرت نه دمخه په اسلام مشرف سوی ؤ مشهور جنګیالی اوتوریالی ؤ دغزاګانو لړی چې پيل سوه دحق او باطل دمعرکې په هرميدان کښې یې دخپلې توری جوهر وښودی.

هغه ديمامې په جګړه کښې چې دحضرت ابوبکر صديق (رض) دخلافت په دور کښې دمرتدانو پرضد مينځ ته راغلې وه له حده زیاته میړانه وښودله او په پای کښې یې دشهادت جام وڅښی له هغه نه په سننِ ابوداؤد کښې صرف یوحدیث روایت سویدی چې (یووخت درسول الله (ص) په مجلس کښې صحابه کرامو ددنيا دشتمنی یادونه وکړه نو رسول الله (ص) وفرمایل: واوری بیاهم واوری چې ساده ژوند تيرول له ایمان څخه دی.

(۱۳) **حضرت انس بن مالک** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت انس بن مالك (رض) دخزرج قبيلې دبنو نجارله شريفې كورنی څخه ؤ اودنسب شجره یې داده:

انس بن مالك بن نضربن ضمضم بن زید بن حرام بن جندب بن عامر بن غنم بن عدی بن نجار دهغه کنيت نومونه دوه وو: حضرت ابو حمزه اوحضرت ابوثمامه لقب یې ؤ درسول الله خدمتګار. دمورنوم یې ؤ ام سلیم (رض) چې خورا مشهوره صحابیه وه له نبوي هجرت نه مخکې لاهغه ماشوم ؤ چې خپلې مور ورته داسلام تلقین اوښوونه کوله کله چې رسول الله (ص) مدينې منورې ته هجرت وکړ نوحضرت ام سليم (رض) خپل لس کلن زوی انس دهغه حضورته

دخدمتګار په توګه پیشکش کړچی هغه په شفقت سره ومنی. حضرت انس (رض) لس کاله دسرور کائنات (ص) په خدمت کښی ؤ اورحمة للعلمین هم ورباندی خاصه مهربانی کوله یووخت یی ورته دعا وکړه چی خدایه! دانس مال اواولاد زیات کړی اوجنت ته یی داخل کړی ددی دعاپه برکت هغه تر ټولو انصارو شتمن ؤ اوکله چی وفات کیدی دهغه دلوښواوزامنو اوله دوارو خواوو ځخه دلمسیانو شمیرله سلونه زیات ؤ حضرت انس دنبوی مدرسی شاګرد هم ؤ اودجهاد دمیدان عسکرهم وو.

هغه په (۹۳) هجری کال کښی د (۱۰۳) کلونو په عمر وفات سو، قطن بن مدرك کلابی دهغه دجنازی لمونځ اداکړ او بیا بصری ته نژدی په طف نومی ځای کښی خاوروته وسپارل سوله هغه ځخه (۱۲۸۶) حدیثونه روایت سویدی.

(**۱۳**) **حضرت ابن ام مکتوم** (رضی الله تعالی عنه)

دحضرت ابن ام مکتوم اصلی نوم عبدالله اوام مکتوم دهغه دمور عاتکه بنت عبدالله بن عنکثه بن عامر بن مخزوم کنیت نوم ؤ. دنسب شجره یی داده:

عبدالله بن قیس بن زائده بن اصم بن هرم بن رواحه بن حجر بن عدی بن معیص بن عامر بن لؤی القرشی.

حضرت عبدالله بن ام مکتوم دحضرت ام المؤمنین خدیجة الکبری سکنی دمامازوی ؤ دسرپه سترګوړوند خودزړه سترګی یی بیناوی، دبعثت په لومړیو وختونو کښی په اسلام مشرف سوی ؤ.

دخدای (ج) په دربار کښی دهغه مقبولیت له سورۀ عبس ځخه په ډاګه معلومیږی چی په لږ غوندی بی توجهی سره الله (ج) دخپل پیغمبر پام دهغه خواته راوګرځوی.

حضرت ابن ام مکتوم (رض) له دی امله چی ړوندؤ او په جهاد کښی یی برخه نسوه اخیستلی په ډیر تاسف سره اندیښنه ښکاره کړه چی دده مقام به دمجاهدینو له مقام ځخه کم وی اوپدی هکله یی دسرورکائنات (ص) حضورته عرض وکړ. الله (ج) دالنساء دسورت دیوایت نازلولو په وسیله هغه ته ډاډینه ورکړه چی:

(لا يستوى القاعدون من المؤمنين غير اولى الضرر والمجاهدون فى سبيل الله باموالهم وانفسهم)

ترجمة: يعنى له مسلمانانو څخه هغه کسان چى بى له څه عذرنه په کور کښى ناست وى له هغو مجاهدينو سره برابر ندى چى دخداى (ج) په لاره کښى په سر اومال سره جهاد کوى معنا داچى حضرت ابن ام مکتوم له دى خبرى نه مستثنى دى ځکه چى هغه نابينا اومعذور دى. د معذورى سره سره ابن ام مکتوم دقادسيه په جګړه کښى برخه واخيستله اوهمالته شهيد سو.

هغه دقرآن کريم حافظ ؤ اودحضرت انس (رض) اوذربن جيش په روايت له هغه څخه څوحديثونه هم روايت سوى دى.

پيغمبر (ص) به دخپل سفر په وختونو کښى کله نا کله عبدالله ابن ام مکتوم (رض) په مدينه منوره کښى دخپل جانشين اولمانځه دامام په توګه تعينوى.

(**۱۴**) **حضرت ابو لبابه انصارى** (رضى الله تعالى عنه)

دحضرت ابولبابه اصلى نوم رفاعه بن عبدالمنذرؤ، داوس قبيلى عمرو بن عوف کورنى ته منسوب ؤ له نبوى هجرت نه مخکښى په اسلام مشرف سوى ؤ اودعقبه ثانيه په بيعت کوونکو کښى شامل ؤ په بدر، احد، احزاب، خيبر، اويو شميرنورو غزاګانوکښى له رسول الله (ص) سره ملګرى ؤ په بيعت رضوان کښى هم برخوال ؤ او دمکى دفتح په وخت کښى دلس زره کسيز اسلامى لښکر غړى ؤ حضرت ابو لبابه انصارى (رض) دحضرت على کرم الله وجهه دخلافت په دور کښى وفات سو.

(**۱۵**) **حضرت اسعد بن زراره** (رضى الله تعالى عنه)

حضرت اسعد بن زراره (رض) دانصارو دخزرج دبنو نجار له کورنى څخه ؤ، اودنسب شجره يى داده:

اسعد بن زراره بن عدس بن عبيدبن ثعلبه بن غنم بن مالك بن نجار بن ثعلبه بن عمرو بن خزرج. دبعثت په (۱۱) کال دحج په مراسمو کښى يى په منى کښى درسول الله (ج) په لاس دايمان اوسرښندنى بيعت وکړ. حضرت اسعد بن

زراره (رض) په مدینه کښې داسلام دلومړنی معلم حضرت مصعب بن عمیر (رض) میلمه پال او ددعوت ملګری ؤ.

حضرت اسعدبن زراره (رض) دهجرت دلومړی کال دشوال په میاشت کښې وفات سو پخپله پیغمبر (ص) دهغه دجنازی لمونځ اداکړ او بیایی دبقیع په هدیره کښې خاورو ته وسپاری.

(**۱۶**) **حضرت ابو سلمه عبدالله مخزومی** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ابوسلمه دقریشو بنومخزوم قبیلی ته منسوب ؤ درسول الله (ص) دترور برره بنت عبدالمطلب زوی اورضاعی ورور ؤ. دنسب لړی یی داده:

ابوسلمه عبدالله بن عبد الاسد بن هلال بن عبدالله بن عمرو بن مخزوم. دبعثت په لومړیو دریو کلونو کښې چی لارسول الله (ص) په دارارقم کښې دیره نه وه نیولی په اسلام مشرف سوی ؤ.

دبعثت په پنځم کال یی له خپلی میرمنی ام سلمه هند بنت ابی امیه سهیل سره حبشی ته هجرت کړی ؤمدینی ته دمسلمانانو له هجرت کولو نه لږ مخکی بیرته مکی ته راغی اوبیا دبعثت په (۱۲) کال مدینی ته مهاجرسو. حضرت ابو سلمه داحد په غزا کښې زخمی سو او بیا څه موده وروسته له هماغه زخم نه شهیدسو اوپخپله پیغمبر (ص) دهغه دجنازی لمونځ ادا کړ.

(**۱۷**) **حضرت ابو العاص بن ربیع** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ابوالعاص بن ربیع دقریشو دبنوعبد شمس له کورنی څخه او دسرور کائنات (ص) زوم ؤ چی حضرت زینب (رض) یې په نکاح کښې وه، دده بله سکنۍ خور وه هغې ته هم دصحابیت درجه په نصیب سوی وه دحضرت ابوالعاص اصلی نوم لقیط ؤ.

دنسب لړی یی داده: ابوالعاص لقیط بن ربیع بن عبدالعزی بن عبد شمس بن عبدمناف بن قصی. په عبدمناف کښې دهغه نسب دسرور کائنات (ص) له نسب سره یوځای کیږی.

په (۲) هجری کال کښې په اسلام مشرف سو په (۱۳) هجری کال کښې دمرتدانو پرضد دیمامی په جګړه کښې شهیدسو اوحضرت زینب (رض) له

هغه ځخه دمخه په (۸) هجرى کښې وفات سوى وه.

**(۱۸) حضرت ابو سفیان مغیره بن الحارث** (رضى الله تعالى عنه)

حضرت مغیره بن حارث بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصى د سرور کائنات (ص) دتره زوى اورضاعى ورور ؤ چى حضرت حلیمه سعدیه دواړو ته شیدى ورکړى وى دحضرت مغیره دمورنوم غزنه بنت قبه ؤ او دبنو فهرله پرګنى ځخه وه.

حضرت مغیره دهجرت په (۸) کال هغه وخت په اسلام مشرف سو چى رسول الله (ص) له لس زره کسیز لښکر سره له مدینى نه دمکى خواته روان ؤ دمکى له فتحى نه په وروسته غزاګانو کښې په پوره میړانه برخوال ؤ.

په (۱۳) هجرى کال کښې دحج دادا کولو نه وروسته وفات سو، حضرت عمرفاروق (ض) دهغه دجنازى لمونځ اداکړ او په جنت البقیع کښې خاوروته وسپارل سو.

**(۱۹) حضرت ابو سفیان بن حرب** (رضى الله تعالى عنه)

دحضرت ابوسفیان بن حرب (رض) اصلى نوم صخرؤ، دنسب لړى یى داده:

ابوسفیان صخربن حرب بن امیه بن عبدشمس بن عبدمناف بن قصى چى په عبدمناف کښې دهغه نسب دسرور کائنات (ص) له نسب سره نښلى دهغه دکورنى نوم ؤ بنو امیه.

حضرت ابوسفیان بن حرب دسرور کائنات (ص) خسرؤ، دهغه لورحضرت رمله (رض) چى په ام حبیبه سره مشهوره ده له امهات المؤمنین ځخه وه ابو سفیان بن حرب (رض) دهجرت په (۸) کال دمکى دفتحى په وخت کښې په اسلام مشرف سو.

ابو سفیان (رض) دمکى له فتحى نه وروسته په ډیرو غزاګانو کښې ګډون وکړ اودحضرت عثمان بن عفان (رض) دخلافت په دورکښې د (۹۷) کلونو په عمر وفات سو درواېتونوپه اختلاف حضرت عثمان (رض) یا امیر معاویه (رض) بن ابوسفیان بن حرب دهغه دجنازى لمو نځ اداکړ اوپه جنت البقیع کښې خاوروته وسپارل سو.

(۲۰) **حضرت بلال حبشي** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت بلال بن رباح (رض) په نسب حبش او په مکه کښې دبنو جمع درئيس اميه بن خلف غلام ؤ دمحمدی بعثت په وخت کښې (۲۸) کلن ؤ، دبعثت په لومړيو وختونوکښې په اسلام مشرف سو، داسلام پخاطر يي داسی مصيبتونه وليدل چې په اوريدو سره يي دانسان غوني زيږه شي يوه ورځ حضرت ابوبکر صديق (ض) دهغه دتعذيب يوه صحنه وليدله، زړه يي وسوځيدی، هغه يي له اميه بن خلف نه دخپل يو مشرك غلام اوځه پيسو په بدل کښې واخيستی اوله غلامی نه يي ازاد کړ.

دبعثت په (۱۳) کال يي دنورو صحابه ؤ سره مدينی ته هجرت وکړ. دمواخات دعقد په لړکښې رسول الله (ص) دحضرت بلال اوحضرت عبدالله بن عبدالرحمن خثعمی ترمينځ ورورولی برقراره کړه. دغزاګانولړۍ چې شروع سوه حضرت بلال (رض) له بدرنه نيولی ترتبوك پوری په ټولو غزاګانو کښې درسول الله (ص) سره ملګری ؤ.

حضرت بلال (رض) درسول الله (ص) مؤذن ؤ دسرورکائنات (ص) له رحلت نه وروسته يي دمؤذن وظيفه پريښودله دجهاد لاره يي په مخ کښې ونيوله، دشام په جنګونو کښې موجودؤ، دبيت المقدس له فتح کيدونه وروسته يي دعمر فاروق (رض) په خواهش يوځل بيا دشکرانی په توګه اذان وکړ.

حضرت بلال دخپل عمر وروستی کلونه همالته په شام کښې تيرکړل او د عمر په شپيته کلنی په (۲۰) هجری کښې له دی فانی دنيانه رخصت سو.

(۲۱) **حضرت براء بن مالك** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت براء بن مالك دانصارو دخزرج قبيلی دبنو نجارله کورنۍ څخه ؤ، او دنسب لړی يي داده:

براء بن مالك بن نضربن ضمضم بن زيد بن حرام بن جندب بن عامر بن غنم بن عدی بن نجار. دمورنوم يي سمحاء ؤ دنبوی هجرت سره په سمه زمانه کښې په اسلام مشرف سو، دهغه خاصی مدرسی له شاګردانو څخه ؤ چې داصحاب صفه په نوم ياديږی.

له احد نه نیولی ترتبوك پوری په ټولو غزاګانو کښی شریك سوی اوله رسول الله (ص) سره ملګری ؤ همدارنګه دپیغمبر (ص) له رحلت نه وروسته دشام، عراق اوایران په جنګونوکښی دیواتل سپاهی په صفت برخوال ؤ چی په پای کښی دایران دباچا یزدګرد دخاص نماینده هرمزان دلاسه یی قوی ګوزار وخوړ زخمی سو اوله هماغه زخم څخه شهید سو.

(**۲۲**) **حضرت تمیم بن اوس داری** (رضی الله تعایی عنه)

حضرت تمیم بن اوس دشام له اوسیدونکو څخه ؤ، دقبیلی نوم یی لخم ؤ. مخکښی له اسلام نه دمسیحی دین پیرو ؤ. دنسب لړی یی داده:

تمیم بن اوس بن خارجه بن سودبن خزیمه بن ذراع بن عدی بن الدار. په (۹) هجری کال کښی له شام نه مدینی منوری ته راغی اوپه اسلام مشرف سو او بیا وروسته په مدینه کښی استوګن سودتبوك په غزاکښی له سرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ. حضرت تمیم بن اوس داری (رض) په (۴۰) هجری کال کښی وفات سو او په حبرون نومی کلی کښی خاوروته وسپارل سو.

دصحیح مسلم مشهور حدیث (الدین النصیحة) له همغه نه روایت سویدی.

(**۲۳**) **حضرت ثابت بن قیس انصاری** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ثابت بن قیس دانصارو دخزرج قبیلی ته منسوب او دنسب پوره لړی یی داده: ثابت بن قیس بن شماس بن زهیر بن مالك بن امرؤ القیس بن مالك اعز بن ثعلبه بن کعب بن خزرج بن حارث بن خزرج الاکبر.

حضرت ثابت بن قیس له نبوی هجرت نه دمخه اوله بیعت عقبه ثانیه نه وروسته دایمان دخزانی مالك سو درسول الله (ص) لخوا دخطیب لقب ورکړ سوی ؤ. دابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دورکښی دمرتدانو پرضد دیمامی په مشهوره جګړه کښی شهید سو.

(**۲۴**) **حضرت جعفر طیار** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت جعفر بن ابی طالب درسول الله (ص) دتره زوی اودحضرت علی کرم الله وجهه مشر ورور ؤ. هغه دبعثت په لومړیو وختونو کښی په اسلام مشرف سوی ؤ دحبشی دمهاجرینو مشرؤ مدینی منوری ته دخیبر دغزاپه وخت

کښې مهاجرسو له خيبرنه وروسته غزاګانوکښې ديوماهر قوماندان اوغښتلی سپاهی په توګه برخوال ؤ دمؤته په غزا کښې دحضرت زيدبن حارثه له شهادت نه وروسته يی بيرغ په لاس کښې ونيوی اوتر هغه پوری وجنګيدی چې دشهادت جام يی نوش کړ.

**(۲۵) حضرت جابر بن عبدالله انصاری** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت جابر بن عبدالله دانصارو دخزرج قبيلی دبنوسلمه له کورنی څخه ؤ، او دنسب اړی يی داسی ده:

جابر بن عبدالله بن عمروبن حرام بن کعب بن غنم بن سلمه له نبوی هجرت نه (۱۹) کاله دمخه په مدينه منوره کښې زيږيدلی دبعثت په (۱۳) کال په اسلام مشرف سو اودبيعت عقبه ثانيه له (۷۴) کسانو څخه يو تن ؤ.

دبدر اواحدپه غزاګانو کښې دخپل مجاهد پلارعبدالله بن عمرو (رض) په امر دکور دسرپرستی لپاره پاتی سو خو په وروسته غزاګانو کښې شريك ؤ.

په (۷۴) هجری کښې د (۹۴) کلونو په عمرپه مدينه منوره کښې وفات سو، دمدينی امير حجاج بن يوسف ثقفی دهغه دجنازی لمونځ اداکړ او په جنت البقيع کښې خاوروته وسپارل سو حضرت جابربن عبدالله دمحدثينو صحابه ؤ په لومړی رديف کښې ځای لری اوله هغه څخه يوزر پنځه سوه څلويښت حديثونو روايت سويدی.

**(۲۶) حضرت جرير بن عبدالله البجلی** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت جريربن عبدالله په عربو کښې دخوری وری قبيلی بنوبجيله څخه ؤ، دنسب پوره لړی يی داده:

جرير بن عبدالله بن جابر بن مالك بن نضربن ثعلبه بن جشم بن عوف بن خزيمه بن حرب علی بن مالك بن سعد بن نذير بن قسر بن عبقر بن انمار بن اراش بن عمروبن غوث بجلی هغه درسالت دزمانی په وروستيو وختونو کښې په اسلام مشرف سو او له ايمان راوړلونه وروسته بيرته يمن ته ولاړی.

دحضرت فاروق اعظم (رض) دخلافت په دور کښې دايران په جګړه کښې پداسی حال کښې برخوال ؤ چی دبنو بجيله دلوی لښکر اميرؤ دحضرت عثمان

ذوالنورين (رض) دخلافت په وخت کښې دهمدان دوالي په توګه مقرر سو.

حضرت جرير (رض) په (۵۴) هجري کال کښې په قرقيسيا کښې وفات سو له حضرت جريرڅخه سل ۱۰۰ حديثونه روايت سويدي.

(۲۷) **حضرت حمزه بن عبدالمطلب** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت حمزه درسول الله (ص) تره ؤ رسول کريم (ص) اوحضرت حمزه دواړو دابو لهب دوينزي ثويبه (رض) شيدي رودلي وي له دی امله رضاعي ورونه هم وو (اسدالله، اسد الرسول اوسيد الشهداء) دهغه القاب وو او کنيت نوم يي ابوعماره ؤ. دبعثت په (۲) کال په اسلام مشرف سودبدر په جګړه کښې دکفر غټې ستني لکه عتبه، شيبه، طعيمه بن عدی، اسد بن عبدالاسود او داسي نور ونړولي اومشرکانو به ويل چې حمزه بن عبدالمطلب دبدر په جګړه کښې موږ ته ډير لوی زيان ورسوی.

په احد کښې هم په ډيره ميړانه وجنګيدی او په پای کښې دحبشي غلام وحشي بن حرب له لاسه شهيدکړی سو هندبنت عتبه دهغه لړمون راوايستی اواوم يي وخوړی پيغمبر (ص) اويا ۷۰ ځلی دهغه دجنازی لمونځ اداکړ او همالته داحد په ميدان کښې دفن سو.

(۲۸) **حضرت حنظله بن ابی عامر** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت حنظله دانصارو داوس قبيلي دعمرو بن عوف له کورنی څخه ؤ، او دنسب پوره لړی يي داده:

حمظله بن ابی عامربن عمرو بن صيفی بن مالك بن اميه بن ضبيعه بن زيدبن عوف بن عمرو بن عوف بن مالك بن اوس، له نبوی هجرت نه وروسته په اسلام مشرف سو او په دريم هجری کال کښې په احد کښې پداسی شان شهيدسو، چې دواده له بسترنه پاڅيدی اودلحد غيږی ته ولاړی پرښتو هغه ته غسل ورکړ او له همغی ورځی نه په غسيل الملائکه سره مشهور سو.

(۲۹) **حضرت حذيفه بن اليمان** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت حذيفه بن اليمان ديمن د بنو غطفان قبيلی دعبس له کورنی څخه ؤ کنيت نوم يي ابو عبدالله اولقب يي (صاحب سرّ رسول الله) ؤ، له نبوی هجرت

نه مخکی مکی ته ولاړی اودرسول الله (ص) په مبارك لاس یی دایمان بیعت وکړ. دبدر په غزا کښی دځه عذر په اساس شریك نسو چی رسول الله (ص) معاف کړی ؤ خوله بدرنه وروسته په نورو غزاګانو کښی برخوال ؤ. دایران په جګړه کښی دحضرت نعمان بن مقرن له شهادت نه وروسته داسلامی لښکر امیرؤ اوهمدارنګه دحضرت عمرفاروق (رض) اوحضرت عثمان ذوالنورین (رض) دخلافت په دورکښی دمدائن والی ؤ او همالته په (**۳۵**) هـ کښی له دی فانی دنیانه رخصت سوله هغه ځخه ځه دپاسه سل حدیثونو روایت سویدی.

(**۳۰**) **حضرت حسان بن ثابت انصاری** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت حسان بن ثابت (رض) دانصارو دخزرج قبیلی دبنو نجارله معززی کورنی ځخه ؤ دنسب پوره لړی یی داده:

حسان بن ثابت بن منذربن حرام بن عمرو بن زید مناة بن عدی بن عمرو بن مالك بن نجاربن ثعلبه بن عمرو بن خزرج. کنیت نوم یی ابو الولید اولقب یی درسول الله (ص) "شاعر" ؤپه مدینه منوره کښی دهغه استوګنځی دنبوی مسجد لویدیځ لوری باب الرحمة ته مخامخ واقع ؤ.

دنبوی هجرت په وخت کښی دهغه عمرله شپیتو نه اوښتی ؤ، دسپین ږیرتوب په وخت کښی په اسلام مشرف سو خوهغه خپله شاعری چی په ټولو عربو کښی یی ساری نه ؤ داسلام اودالله درسول (ص) په خدمت کښی وقف کړه، داسلام دسر لوړی لپاره دمجاهدینو توری هغومره کارنسو کولای لکه دحضرت حسان بن ثابت انصاری (رض) شعر چی کوی. حضرت حسان (رض) د (۱۲۰) کلونو په عمرله شپیتم هجری نه مخکی وفات سو.

(**۳۱**) **حضرت حبیب بن زید** (رضی الله تعالی عنه)

حبیب بن زید (رض) دخزرج قبیلی دبنو نجارله کورنی ځخه اودنسب لړی یی داده:

حبیب بن زید بن عاصم بن کعب بن عمرو بن عوف بن مبذول بن عمرو بن مازن بن نجاربن ثعلبه بن عمرو بن خزرج. دمورنوم یی حضرت ام عماره (رض) وه داحد دجګړی قهرمانه بی بی چی پیغمبر (ص) دهغی په هکله دعا کړی وه:

(ای خدایه! ام عماره په جنت کښې له ماسره ملګری کړه). حضرت حبیب بن زید دخپلې مورام عماره او ورور عبدالله بن زیدپه شمول داحد په جګړه کښې پداسې میړانه وجنګیدل چې ددوی کارنامې دتاریخ په پاڼوکښې په زرینو کرښو ثبت دي حضرت حبیب بن زید دیمامې دجګړې په دوران کښې دمرتدانو دمشر مسیلمه کذاب لخوا په ډیره ظالمانه او بیرحمانه توګه شهید کړای سو.

(**۳۲**) **حضرت خبیب بن عدی** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت خبیب بن عدی دمدینې دانصارو داوس قبیلې څخه او له نبوی هجرت نه دمخه دایمان دخزانې مالك سوی ؤ دهغه لقب ؤ بلیغ الارض.

دبدر اواحد په غزاګانو کښې یې په پوره میړانه برخه واخیستله. د (۴) هجری دصفر په میاشت کښې بنو لحیان قبیلې یوه دسیه جوړه کړه دقرآن کریم دتعلیم په بهانه یې له رسول اکرم (ص) څخه دحضرت عاصم ترمشرۍ لاندې دیوهیئت غوښتنه وکړه پدې شپږکسیز هیئت کښې حضرت خبیب هم شامل ؤ. زینب بنت حارث له لحیانیانو څخه داوو اوښانو په بدل کښې واخیستی او د مکې په تنعیم نومې ځای کښې یې په زړه دردونکې شکل شهید کړ.

(**۳۳**) **حضرت خباب بن الارت** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت خباب بن الارت (رض) بنو تمیم قبیلې ته منسوب او دنسب پوره لړۍ یې داده:

خباب بن الارت بن جندله بن سعدبن خزیمه بن کعب بن سعدبن زید مناة بن تمیم. حضرت خباب بن الارت شپږم سړی ؤ چې په اسلام مشرف سوی ؤ. له هغه نه مخکښې پنځو کسانو ایمان راوړی ؤ: حضرت خدیجة الکبری ( رض) حضرت ابوبکر صدیق (رض) حضرت علی (رض) حضرت زیدبن حارثه (رض) اوحضرت ابوذر غفاری (رض).

خباب بن الارت په مکې ژوندانه کښې داسلام په خاطر ډیرزیات تکلیفونه لیدلي وو، هغه له هجرت نه وروسته په ټولو غزاګانو کښې برخوال ؤ حضرت خباب (رض) په (۳۷) هجری کال کښې په کوفه کښې وفات سو.

(**۳۴**) **حضرت خالد بن ولید** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت خالد بن ولید (رض) دقریشو دبنومخزوم له کورنۍ څخه ؤ دنسب پوره لړۍ یې داده:

خالدبن وليدبن مغیره بن مخزوم بن یقظه بن مره بن کعب بن لؤی القریشی حضرت خالدته درسول الله (ص) لخوا دسیف الله لقب ورکړل سوی ؤ کنیت نوم یې ابو سلیمان ؤ له بعثت نه (۲۷) کاله دمخه په مکه کښې زیږیدلی ؤ دهجرت داتم کال په لومړیو وختونو کښې دمکې له فتحې نه شپږ میاشتې مخکې دخپل ورور حضرت ولید بن ولید په دعوت سره په اسلام مشرف سو. بیا وروسته همالته په مدینه کښې استوګن سو.

حضرت خالدبن ولید (رض) له اسلام راوړلونه وروسته درسالت په مبارکه زمانه اوله هغې نه وروسته په ټولو غزاګانو کښې دیوماهر قوماندان په صفت برخوال ؤاو دکفر په ډیرو ترږمې ګوټونو کښې دهغه دتوری په برکت داسلام ډیوه بله سویده حضرت خالد بن ولید (رض) دخپل عمر په شپیتم کال په (۲۱) هجری کښې په حمص کښې وفات اوهمالته دفن سو.

(**۳۵**) **حضرت خالد بن سعید** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت خالدبن سعید (رض) دقریشو دبنوامیه له کورنی څخه ؤ، اودنسب پوره لړۍ یې داده: خالدبن سعیدبن امیه بن عبدشمس بن عبدمناف بن قصی دنبوت په لومړیو وختونو کښې په اسلام مشرف سو.

دبعثت په (۲) کال له خپلې میرمنې امینه سره حبشې ته مهاجر سو او بیا دهجرت دشپږم کال په پای کښې مدینې ته مهاجر سو دحدیبیې له صلحې نه په وروسته غزاګانو کښې برخوال ؤ دپیغمبر لخوا په (۹) هجری کښې دیمن دامیر په حیث وټاکل سو. دشام په جګړو کښې دابوبکر صدیق (رض) لخوا داسلامی لښکر دیوی ډلی قوماندان مقرر سوی ؤ.

حضرت خالدبن سعید (رض) د فحل په جګړه کښې دشهادت جام وڅښی.

(**۳۶**) **حضرت زید بن حارثه** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت زیدبن حارثه (رض) دبنوقصاعه قبیلې درئیس حارثه بن شراحیل زوی ؤ، دحضرت زید (رض) دمور نوم سعدی بنت ثعلبه وه حضرت رسول اکرم

(ص) حضرت زيدپه زوی والی سره (متبنی) نيولی ؤچی خلګوبه په ابتداء کښی ورته زيدبن محمد (ص) ويل په ځلورو لومړنيو مؤمنانو کښی يوتن دی يعنی حضرت خديجة الکبری (رض)، حضرت ابوبکر صديق (رض)، حضرت علی (رض) اوحضرت زيد بن حارثه (رض)، له هجرت نه وروسته په مدينه کښی دمهاجرينو اوانصارو دمواخات دعقد په لړکښی پيغمبر (ص) دحضرت زيد بن حارثه (رض) ورورولی له حضرت اسيدبن حضير اشهلی سره قائمه کړی وه.

حضرت زيدبن حارثه (رض) دحق اوباطل په معرکه کښی دجهاد دميدان يو اتل سپاهی اوغښتلی قوماندان ؤ.

دهجرت په اتم کال دمکی له فتحی نه وروسته دموته په جګړه کښی شهيد سو، پدی وخت کښی دهغه عمر د (**۵۲**) کلونو په شاوخوا کښی ؤ.

(**۳۷**) **حضرت زبير بن العوام** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت زبيربن العوام (رض) د قريشو دبنواسد قبيلی څخه ؤ، او دنسب پوره لړۍ يی داده: زبير بن العوام بن خويلد بن اسدبن عبدالعزی بن قصی له رسول الله (ص) سره له څو لارو دهغه دخپلولی پيوند ښتلی ؤ:

يوداچی په (قصی) کښی دهغه نسب له رسول الله (ص) سره يوځای کيدی بل داچی دهغه مورصفيه بنت عبدالمطلب درسول الله (ص) تروروه بل داچی ام المؤمنين حضرت خديجة الکبری (رض) بنت خويلد دهغه تروروه، بل داچی د حضرت ام المؤمنين عائشه صديقه (رض) مشره خورحضرت اسماء بنت ابی بکر صديق (رض) دهغه ښځه وه، حضرت زبير (رض) دمحمدی بعثت په وخت کښی پنځلس کلن ؤ، هغه په مؤمنانو کښی له سابقون الاولون څخه او په شپاړس کلنی کښی په اسلام مشرف سوی ؤ لومړنی توره چی دپيغمبر (ص) دحمايت په لاره کښی له تيکی نه راوتلی وه هغه دحضرت زبيربن العوام (رض) توره وه له همدی امله د هغه لقب ؤ حواری رسول اودهغه توره په اسلام کښی يوه يادګاری ښه وه په رسول الله (ص) پسی لږوخت وروسته يی مدينی ته هجرت وکړ اوچی دجهادونو لړی پيل سوه نوحضرت زبير (رض) دحق اوباطل دمعرکی په هرميدان کښی په پوره ميړانه برخوال ؤ همدارنګه درسالت له

دورنه وروسته دشام، عراق، ایران، اسکندریه په جگړو کښې هم شریك ؤ.

دجمل دجگړې په خواشینوونکو واقعاتوکښې حضرت زبیر (رض) دجنگ له میدان څخه ووتی اوله حضرت علی (رض) سره یې مقابله پرېښودله خوابن جرموز غداری وکړه پداسې حال کښې یې دحضرت زبیر (رض) سر غوڅ کړ او شهید یې کړ چې هغه دماپښین په لمانځه کښې په سجده پروت ؤ دشهادت په وخت کښې دهغه عمر څلورشپیته کاله ؤ بصرې ته نژدې په وادی السباع کښې خاوروته وسپارل سو.

(**۳۸**) **حضرت زید بن ثابت** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت زیدبن ثابت (رض) دخزرج قبیلې دبنو نجارله کورنی څخه ؤ، او دنسب پوره لړې یې داده:

زیدبن ثابت بن ضحاك بن زیدبن لوذان بن عمروبن عبدبن عوف بن غنم بن مالك بن نجار. ابوسعید دهغه کنیت نوم اوحبرالامت اوکاتب الوحی دهغه القاب وو. له نبوی هجرت نه دمخه په (۱۱) کلنی کښې په اسلام مشرف سوی ؤ دقرآن کریم حافظ او دوحی لیکوال ؤ.

په بدر اواحدکښې دعمر دکموالی لامله پیغمبر (ص) دشریکیدو اجازه ورنکړه خو په نورو یوشمیر غزاگانو کښې له رسول الله (ص) سره ملگری ؤ.

دقرآن کریم لومړنی مصحف چې دحضرت ابوبکر صدیق (رض) په وخت کښې تدوین سو داکار دڅلورو کسانو په وسیله سرته ورسول سو چې یوله هغونه حضرت زیدبن ثابت (رض) ؤ دحضرت عمر (رض) دخلافت په وخت کښې چې کله دقضا تشکیل جوړسو نوحضرت زیدبن ثابت انصاری (رض) یې دمدینې دقاضی په توگه وټاکی.

دحضرت عمر اوحضرت عثمان رضی الله عنهما دخلافت په دور کښې به ډیر ځله دامیر المؤمنین دغیابت په وخت کښې دخلیفه جانشین ؤ.

حضرت زیدبن ثابت دعمر په (**۵۲**) کلنی کښې په (**۴۵**) هجری کښې په مدینه منوره کښې وفات سو.

(**۳۹**) **حضرت زید بن خطاب** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت زیدبن خطاب (رض) دقریشو دبنوعدی له کورنی څخه اودنسب لړۍ یی داده:

زیدبن خطاب بن فضیل بن عبدالعزی بن رباح بن عبدالله بن قرط بن زراح بن عدی بن کعب بن لؤی، حضرت زید (رض) دحضرت عمر فاروق (رض) مشر ورور ؤ دبعثت په لومړیو دریو کلونوکښې له حضرت عمر (رض) نه دری کاله مخکښې په اسلام مشرف سوی ؤ، دبعثت په (۱۳) کال یی مدینی ته هجرت وکړ. له بدر نه وخله ترحجة الوداع پوری په غزاګانو اوسفرونو کښې له رسول الله (ص) سره ملګری ؤ دیمامی په جګړه کښې چی دحضرت ابوبکرصدیق (رض) دخلافت په دوران کښې دمرتدانو پرضد برپا سوی وه، حضرت زیدبن خطاب (رض) په پوره میړانه وجنګیدی او په پای کښې یی دشهادت جام وڅښی.

(**۴۰**) **حضرت زید بن ارقم** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت زیدبن ارقم (رض) دانصارو دخزرج قبیلی دبنوحارث له کورنی څخه ؤ اودنمسب پوره لړی یی داده:

زید بن ارقم بن زیدبن قیس بن نعمان بن مالك الاعز بن ثعلبه بن کعب بن خزرج بن حارث بن خزرج الاکبر دبیعت عقبه ثانیه څخه وروسته دحضرت عبدالله بن رواحه په لارښوونه په ډیر وړوکوالی کښې په اسلام مشرف سوی ؤ دبدر اواحدپه غزاګانو کښې دعمر دکموالی لامله دشریکیدو اجازه ورنکړای سوه لومړی غزاچی حضرت زید بن ارقم (رض) پکښې برخه واخیستله هغه دخندق غزاوه په بیعت رضوان کښې برخوال ؤ، اودمؤته غزاته له حضرت عبد الله بن رواحه سره یوځای روان سو چی هغه دده دپلارله مرګه وروسته دده روزنه اوپالنه کړی وه او په نسب کښې دهمدی کورنی یو خواخوږی غړی ؤ اوحضرت زیدبه ورته کاکا ویل. حضرت زیدبن ارقم (رض) دعمرپه اتیا کلنی په (۶۸) هجری کال کښې په کوفه کښې وفات سو.

(**۴۱**) **حضرت سعد بن معاذ** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سعدبن معاذ (رض) دانصارو داوس قبیلی دبنواشهل مشرؤ او

دنسب لړی یی داسی ده:

سعد بن معاذ بن نعمان بن امرء القیس بن زیدبن عبدالاشهل. کنیت نوم یی ابوعمرو ؤ.

له نبوی هجرت نه مخکښی دحضرت مصعب بن عمیرپه دعوت سره په اسلام مشرف سو دبدر دغزاپه وخت کښی یی دانصارو په نمایندگی پخپله وینا کښی هرډول قربانی ته چمتوالی څرگندکړ او بیادجهاد په میدان کښی داوس قبیلی بیرغ دهمغه په لاس کښی ؤ داحد اوخندق په غزاگانو کښی هم دجهاد دمیدان یوغښتلی سپاهی ؤ دبنوقریظه یهودوته دحضرت سعدبن معاذ (رض) په فیصله سزا ورکول سوه حضرت سعد بن معاذ (رض) ته دخندق په غزا کښی زخم رسیدلی ؤاو دبنو قریظه دمعاملی له فیصله کیدو نه وروسته له همغه زخم څخه شهید سو.

دهغه جنازه پرښتو اخیستی وه رسول الله (ص) له اوښکونه په ډکو سترگو دهغه له جنازی سره روان ؤ او په جنت البقیع کښی خاوروته وسپارل سو.

(**۴۲**) **حضرت سعید بن عامر** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سعیدبن عامر (رض) دقریشو دبنوجمح له کورنی څخه اودنسب پوره لړی یی داده:

سعیدبن عامربن خدیم بن سلامان بن ربیعه بن سعدبن جمع بن عمروبن مصیص بن کعب. حضرت سعید دهجرت په (۷) کال په اسلام مشرف سو، د خیبر، دمکی دفتح، حنین او تبوك په غزاگانو کښی دجهاد دمیدان یواتل سپاهی ؤ. درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دشام او یرموك په جگړو کښی هم دهغه دمیړانی کارنامی تاریخ په زرینو کرښو ثبت کړیدی.

دحضرت فاروق اعظم (رض) دوالی په توگه وټاکل سو چی دهجرت په (۱۹) کال دڅلویښتو کلونو په عمر همالته په حمص کښی وفات سو.

(**۴۳**) **حضرت سلمان فارسی** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سلمان (رض) دایران داصفهان څخه ؤاصلی نوم یی مابه بن بوذخشان بن مورسلان آب الملکی ؤداسلام دلمرله راختلونه مخکښی یی خپل

پلرنی دین یعنی اتش پرستی پریښودله، مسیحیت یی ومنی او بیاله ډیرو مزلونو وهلو اوکلونو تیرولونه وروسته مدینی ته ورسیدی اوهلته درسول الله (ص) حضورته ورغی اودهغه په مبارك لاس یی دایمان او سرښندنی بیعت وکړ رسول الله (ص) دمابه پرځای دهغه نوم سلمان کیښود اوهغه یی دغلامی له قید نه ازادکړ.

حضرت سلمان (رض) له یوی خوایو درویش عابد اوله بلی خوا دخدای دلاری مجاهدۇ داحزاب په جنګ کښی دخندق کیندلو پلان حضرت سلمان (رض) وړاندی کړی ؤ دحضرت عثمان ذوالنورین (رض) دخلافت په دورکښی وفات سو.

(**۴۴**) **حضرت سعد بن ابی وقاص** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سعدبن ابی وقاص (رض) دبنو زهره له پرګنی څخه اودنسب پوره لړی یی داده: سعد بن ابی وقاص مالك بن وهیب بن عبدمناف بن زهره بن کلاب بن مرة.

کنیت نوم یی ابواسحق اوله عشره مبشره ؤ څخه یوتن ؤ حضرت سعد (رض) دبعثت په وخت کښی د (۱۷) اویا (۱۹) کلنی په مینځ کښی ؤڅنګه چی دتوحید ددعوت ږغ یی غوږ ته ورسیدی سمدلاسه یی ایمان راؤړ او دمؤمنانو په سابقون الاولون کښی شامل سو مدینی ته دهجرت تروختنه پوری پرهغه باندی راز راز کړاوونه تیرسول له نبوی هجرت نه وروسته چی کله دجهادونو لړی شروع سوه حضرت سعدبن ابی وقاص (رض) له بدرنه ترتبوك پوری په ټولو غزاګانو کښی له سرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ. درسالت له دورنه وروسته جنګونو کښی دحضرت سعد کارنامی دومره څرګندی دی چی دمسلم امت دبچیانو غوږونه ورسره بیخی اشنا دی.

حضرت سعدبن ابی وقاص (رض) دهجرت په (**۵۵**) کال په مدینه منوره کښی وفات سو مروان بن الحکم دهغه دجنازی لمونځ اداکړ او بیاپه جنت البقیع کښی خاوروته وسپارل سو.

(**۴۵**) **حضرت سعید بن زید** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سعیدبن زید دقریشو له بنوعدی قبیلی څخه دحضرت عمرفاروق (رض) دتره زوی اواوښی ؤ اودنسب پوره لړی یی داده:
سعید بن زیدبن عمرو بن نفیل بن عبد العزی بن رباح بن عبدالله بن قرط بن زراح بن عدی بن کعب بن لؤی القریشی حضرت سعیدبن زید (رض) له عشره مبشره څخه یوتن ؤ.
دبعثت په لومړیو وختونو کښی په اسلام مشرف سو دلومونیو مهاجرینو په ډله کښی یی مدینی ته هجرت وکړ دبدر دغزاپه وخت کښی پیغمبر (ص) وظیفه ورکړی وه دشام لوری ته یی لیږلی ؤ یا داچی دبخاری دروایت له مخی هغه بدری صحابی دی.
په نورو ټولو غزاګانوکښی هم له سرور کائنات (ص) سره ملګری ؤدرسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دشام اوروم په جګړوکښی هم برخوال ؤ.
حضرت سعیدبن زید (رض) د (**۵۰**) او یا (**۵۲**) هجری کلونو په مینځ کښی په عقیق نومی کلی کښی وفات سو، بیا دهغه جنازه مدینی منوری ته راوړل سو، حضرت سعدبن ابی وقاص (رض) غسل ورکړ، عبدالله بن عمر (رض) دهغه دجنازی لمونځ ادا کړ او بیایی خاوروته وسپاری.

(**۴۶**) **حضرت سعد بن عباده** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سعدبن عباده (رض) دانصارو دبنوساعده قبیلی څخه لقب یی سید الخزرج اوکنیت نوم یی ابو قیس ؤ، دنسب پوره لړی یی داده:
سعدبن عباده بن دلیم بن حارثه بن ابی خزیمه بن ثعلبه بن طریف بن خزرج بن ساعده بن کعب بن خزرج الاکبر. له بیعت عقبه ثانیه نه مخکښی په اسلام مشرف سوی او بیا پدغه بیعت کښی دشاملو (**۷۵**) کسانوله جملی څخه ؤ.
له بدر نه واخله ترتبوك پوری ټولو غزاګانو کښی له سرور کائنات (ص) سره ملګری ؤحضرت سعدبن عباده انصاری (رض) په (**۱۵**) هجری کال کښی د دښمن په لاس پخپل کور کښی شهید کړای سو.

(**۴۷**) **حضرت سلمه بن اکوع** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سلمه بن الاکوع دبنو قمعه قبیلی دبنواسلم له کورنی څخه او

دنسب پوره لړی یی داده:

سلمه (سنان) بن عبدالله (اکوع بن عبدالله بن قشیربن خزیمه بن مالك بن سلامان بن اسلم. له شپږم هجری کال نه دمخه په اسلام مشرف سوی، مدینی منوری ته مهاجرسوی او همالته استوګن سوی ؤ په شپږم هجری کال کښی چی څوارلس سوه کسانو ترونی لاندی دسرور کائنات (ص) په مبارك لاس دسر ښندنی بیعت وکړ اوالله (ج) خپله رضا ورته اعلان کړه پدغه بیعت کښی حضرت سلمه هم شامل ؤ دبیعت رضوان نه وروسته غزاګانو کښی حضرت سلمه له سرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ حضرت سلمه ( رض) په (۴۷) هجری کښی په مدینه منوره کښی وفات سوله هغه څخه (۷۷) حدیثونه روایت سویدی.

(**۴۸**) **حضرت سالم مولی ابی حذیفه** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سالم مولی ابی حذیفه په اصل کښی ایرانی ؤ دهغه دپلار نوم درواياتو په اختلاف معقل یاعبیدؤ په تاریخ کښی داتفصیل نشته چی هغه څنګه اوڅه وخت مکی معظمی ته دغلامی په ځنځیر کښی ښکیل ورسیدی خودا ثابته ده چی له ازادی اخیستلونه وروسته حضرت ابوحذیفه بن عتبه بن ربیعه په زوی والی سره ونیوی.

حضرت سالم (رض) دبعثت په لومړیو وختونو کښی په اسلام مشرف سوی ؤ له سرور کائنات (ص) نه دمخه یی مدینی منوری ته هجرت وکړ. هغه هم مجاهدؤ اوهم ددین متبحر عالم اودقرآن کریم حافظ ؤ دصدیق اکبر (رض) دخلافت په دورکښی دمرتدانو پرضد دیمامی په جګړه کښی شهیدسو.

(**۴۹**) **حضرت سهیل بن عمرو** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت سهیل بن عمرو (رض) د قریشو دبنو عبد شمس له کورنی څخه او ؤ، دنسب پوره لړی یی داده:

سهیل بن عمرو بن عبدشمس بن عبدود بن نصربن مالك بن حسل بن عامر بن لؤی قرشی عامری، هغه دهجرت په اتم کال دحنین له غزا نه وروسته په اسلام مشرف سو دحافظ ابن عبدالبر (رح) دلیکنی له مخی حضرت سهیل بن

عمرو (رض) دیرموك په غزا کښې شهیدسو.

(**۵۰**) **حضرت شرحبیل بن حسنه** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت شرحبیل په نسب کندی الاصل ؤ دهغه دپلار نوم عبدالله بن عمرو بن بن مطاع ؤ خوهغه دخپلی مور بی بی حسنه په نامه مشهورؤ او په تاریخ کښې دشرحبیل بن عبدالله پرځای دشرحبیل بن حسنه په نامه یادیږی، هغه د بعثت په لومړیو وختونو کښې دتوحید دعوت ته لبیك وویل.

هغه له خپلی مور اودکورنی له نورو غړیو سره دمهاجرینو په قافله کښې شامل وو چې دقریشو دظلمونو دلاسه دسلوتنو په خواوشا کښې دبعثت په (۲) کال حبشې ته ولاړل دخیبر دغزاپه وخت کښې چې کله شپیته تنه مهاجرین له حبشې نه مدینې ته مهاجر سول حضرت شرحبیل هم پدغی ډله کښې ؤ له خیبر نه وروسته په نورو غزاګانو کښې له سرور کائنات (ص) سره ملګری ؤ، هغه دقرآن کریم ددرویشت تنو لیکونکو له جملی نه ؤ.

دصدیقی خلافت په دورکښې دمرتدانو پرضد جګړو کښې اوهمدارنګه دشام، روم، یرموك او نورو جګړو کښې دیو تکړه قوماندان په صفت برخه وال ؤ. حضرت شرحبیل بن حسنه (رض) دعمواس دوبا په ناروغی دعمرپه (۶۹) کلنی کښې وفات سو.

(**۵۱**) **حضرت صهیب رومی** (رضی الله تعالی عنه)

دحضرت صهیب پلار سنان بن مالك دایران دباچا لخوا دابله حاکم مقرر سوی ؤ. رومیانو چې کله پرابله باندی حمله وکړه حضرت صهیب چې په عمر وړوکی ؤ دمالونو په جمله کښې یې وتښتوی بیاوروسته یې دغلام په نوم خرخ کړ چې پدی سلسله کښې دعبدالله بن جدعان ترلاسه ورغی اوهغه ازاد کړ دبعثت یه لومړیو وختونو کښې په اسلام مشرف سودهغه دمور نوم سلمی بنت قعیدوه. داسلام په لاره کښې یې دبلال حبشی ، عمار بن یاسر عامر بن فهیره، خباب بن الارت اوابو فکیهه (رض) غوندی مصیبتونه وزغمل.

په رسول الله (ص) پسی لږ ورځی وروسته یی مدینی ته هجرت وکړ حضرت صهیب بن سنان بن مالك رومی دهجرت په (۳۸) کال په مدینه منوره

کښې دعمر په اویا کلنی وفات او په جنت البقیع کښی دفن کړل سو.

(**۵۳**) **حضرت ضرار بن ازور اسدی** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت ضرار بن ازور اسدی (رض) دخیبر په خواوشا کښی اوسیدونکی مشهوری قبیلی بنواسد څخه اودنسب پوره لړی یی داده:

ضراربن ازور بن خزیمه بن ربیعه بن مالك بن ثعلبه بن دودان بن اسدبن خزیمه. دهجرت په اتم کال دمکی له فتحی نه وروسته په اسلام مشرف سوی او دهجرت د (۹) کال په لومړیو وختونو کښی دخپلی قبیلی له یو هیئت سره مدینی منوری ته ولاړی اودسرور کائنات (ص) په مبارك لاس یی دسربښندنی بیعت وکړ.

دسرور کائنات (ص) درحلت تروختته یی دهغه په هدایت دبنوصیه اوبنو هذیل په قبیلو کښی دحق دتبلیغ وظیفه اجرا کړه.

دابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دورکښی دمرتدانو پرضدجګړو کښی برخوال ؤهمدارنګه دشام په اوږدوجګړوکښی کله دیوسپاهی اوکله دقوماندان په صفت شریك ؤ چی دروایتونو په اختلاف دیرموك له جګړی نه وروسته په (۱۵) هجری کال یاد شام دټولو سیموله فتحی نه وروسته شهید یا دعمواس دوبا په ناروغی وفات سو.

(**۵۳**) **حضرت طلحه بن عبیدالله** (رضی الله تعالی عنه)

حضرت طلحه بن عبیدالله (رض) دقریشو دبنو تیم کورنی ته منسوب اوله عشره مبشره ؤ څخه ؤ دنسب پوره لړی یی داده:

طلحه بن عبیدالله بن عثمان بن عمرو بن کعب بن سعد بن تیم بن مره بن کعب بن لؤی. دحضرت طلحه نیکه عثمان بن عمرو اودحضرت ابوبکر صدیق نیکه عامربن عمرو سکنی وروڼه وو دحضرت طلحه پلار عبیدالله داسلام له راتګ نه مخکښی مړسوی ؤخو دهغه مور صعبه بنت عبدالله حضرمی ژوندی وه او دصحابیت شرف ورپه برخه سوی ؤ.

دحضرت طلحه کنیت نوم ابومحمد اولقب یی طلحة الخیر ؤ له محمدی بعثت نه تقریبا پنځلس کاله مخکښی په مکه کښی زیږیدلی ؤ اوداسلام دلمر

له راختونه وروسته دلومړنيو مؤمنانو په ډله كښې شامل سو.

دنورو مظلومو مؤمنانو په څير حضرت طلحه (رض) هم داسلام پخاطر دمشركانو له لاسه سخت تعذيبونه وليدل.

په پيغمبر (ص) پسې لږوخت وروسته يې مدينې منورې ته هجرت وكړ او كله چې دغزاګانو لړۍ پيل سوه حضرت طلحه بيا دجهاد دميدان سپاهي ؤ، په بدر كښې درسول الله (ص) لخوا ماموريت ورسپارلى سوى ؤ خوپه احد كښې دسرور كائنات (ص) په څنګ كښې پداسې ميړانه وجنګيدى چې حضرت ابوبكر صديق (رض) دهغه پربدن باندې اويا زخمونه وشميرل اوتل به يې ويل: (داحد ورځ په واقع كښې دطلحه ورځ وه).

له هغه نه وروسته په نورو ټولو غزاګانو كښې هم حضرت طلحه درسول الله (ص) سره ملګرى ؤ حضرت طلحة الخير دعمر په څلور شپيته كلنى د(۳۶) هجرى كال دجمادى الاخر دمياشتې په لسمه نيټه دجمعې په ورځ دجمل په افسوسناك جنګ كښې دمروان بن الحكم په لاس شهيد سو.

(**۵۴**) **حضرت طفيل بن عمرو** (رضى الله تعالى عنه)

حضرت طفيل (رض) ديمن ديوې غربې قبيلې دوس څخه ؤ اودنسب پوره لړۍ داده: طفيل بن عمرو بن طريف بن عاص بن ثعلبه بن سليم بن فهم بن غنم بن دؤس.

دبعثت له لومړيو دريوكلونو څخه وروسته هغه وخت په اسلام مشرف سو چې دكعبې دزيارت لپاره مكې ته راغلى ؤ درسول الله (ص) په دعاسره دبيرته ستنيدو په وخت كښې دالهي نښانې په توګه يوه رڼا وروښودل سوه چې له همدې امله دهغه لقب ذوالنور.

په اوم هجرى كال كښې مدينې ته مهاجر سو درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دابوبكرصديق (رض) دخلافت په زمانه كښې دمرتدانو پرضد ديمامې په جګړه كښې په پوره ميړانه وجنګيدى او په پاى كښې شهيدسو.

(**۵۵**) **حضرت عبدالله بن مسعود** (رضى الله تعالى عنه)

حضرت عبدالله بن مسعود (رض) دبنوخندف قبيلې دبنو هذيل له كورنى

ښځه ؤ اودنسب لړی داده:

عبدالله بن مسعودبن غافل، بن حبیب بن شمخ بن فار بن مخزوم کنیت نومونه یی دوه وو: ابوعبد الرحمن اوابن ام عبد، لقب یی فقیه الامت ؤ.

رسول الله (ص) له اسلام راوړلونو لادمخه هغه ته ویلی ؤ: (ته تعلیم یافته هلك یی) هغه دیوي معجزي په لیدلو دبعثت په لومړیو وختونو کښي اسلام راؤړ اوله هغه وروسته درسول الله (ص) په خدمت کښي ؤ اودقرآن په زده کړه بوخت سو.

له هجرت نه وروسته چي دغزاګانو لړي پیل سوه، له بدرنه واخله ترتبوك پوري په هره غزا کښي له سرور کائنات (ص) سره ملګري ؤ.

حضرت عمر فاروق (رض) دخپل خلافت په دورکښي هغه دکوفي دوالي اودهغه ځاي دبیت المال دخزانه دارپه توګه وټاکی.

عبدالله بن مسعود (رض) دښه دپاسه شپیتو کلونو په عمر ددریم خلیفه حضرت عثمان (رض) دخلافت په دورکښي په (۳۲) هجري کال کښي په مدینه منوره کښي وفات سو، حضرت عثمان (رض) دهغه دجنازي لمونځ ادا کړاو دحضرت عثمان بن مظعون ترڅنګ په جنت البقیع کښي دفن کړاي سوله عبد الله بن مسعود (رض) ښخه د (۸۴۸) حدیثونو روایت سویدي.

(**۵۶**) **حضرت عکرمه بن عمرو** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عکرمه (رض) دقریشو بنومخزوم قبیلي ته منسوب اودنسب لړي داده: عکرمه بن عمرو (ابو جهل) بن هشام بن مغیره بن عبدالله بن عمرو بن مخزوم بن یقظه بن مره بن کعب بن لؤي د هجرت په اتم کال دمکي له فتحي نه وروسته په اسلام مشرف سو دهغه میرمن ام حکیم (رض) هم صحابیه وه.

حضرت عکرمه (رض) دحنین، طایف، اوتبوك په غزاګانو کښي له سرور کائنات (ص) سره ملګري ؤ درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دمرتدانو پرضد جګړو کښي اودشام په جنګونو کښي دیوغښتلي عسکر اویوه تکړه قوماندان په صفت برخوال ؤ.

په (۱۳) هجري کال کښي دیرموك په سخته جګړه کښي یي دشهادت جام

وښئي.

**(۵۷) حضرت عبدالرحمن بن عوف** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) دقريشو دبنوزهره له کورني څخه او دعشره مبشره ؤ يوتن دي دنسب لړي يي داده: عبدالرحمن بن عوف بن عبد عوف بن عبدبن حارث بن زهره بن کلاب بن مره بن کعب بن لؤي.

دبعثت په وخت کښي دهغه عمر ددېرشو کلونو په شاوخوا کښي ؤ (۱۳) لمبر مسلمان دي په هغه وخت کښي يي ايمان راؤړ چي لارسول الله (ص) په دار ارقم کښي ديره نه وه نيولي دهغه دمور نوم شفا (رض) بنت عوف وه، هغه هم صحابيه وه له هجرت نه وروسته دانصارو اومهاجرينو ترمنيځ دوروري دعقد په لړکښي دهغه ورورلي له حضرت سعدبن ربيع انصاري (رض) سره برقرار سوي وه په اسلامي غزاګانو کښي له سرور کائنات (ص) سره ملګري ؤ حضرت عبدالرحمن بن عوف (رض) دزياتي شتمني خاوندؤ اوهغه پنډونه مالونه دخداي (ج) په لاره کښي لګول په (۳۱) هجري کال کښي دڅه دپاسه اويا کلونو په عمر په مدينه منوره کښي وفات سو.

امير المؤمنين حضرت عثمان ذوالنورين يي دجنازي لمونځ اداکړ او په جنت البقيع کښي خاوروته وسپارل سو.

**(۵۸) حضرت عمار بن ياسر** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عماربن ياسر (رض) په اصل کښي ديمن دقحطان له پرګني څخه او دنسب لړي داده:

عماربن ياسربن عامربن مالك بن کنانه بن قيس بن حصين بن لوذيم بن عوف بن عامر الاکبر بن يام بن عنس، کنيت نوم يي ابو اليقظان اولقب يي (طيب المطيب) ؤ.

دبعثت په لومړيو وختونو کښي په اسلام مشرف سو دهغه مورحضرت سميه بنت خباط (رض) داسلام لومړني شهيده ده حضرت عمار (رض) داسلام په لارکښي بي شميره تعذيبونه اوکړاوونه وليدل ترڅوچي دبعثت په (۲) کال حبشي ته مهاجر سو.

مديني منوري ته دلومړنيو مهاجرينو په کتار کښي شامل ؤ دغزاګانو له شروع کيدو نه پس له بدرنه نيولي ترتبوك پوري په هرميدان کښي له سرور کائنات (ص) سره ملګري ؤ په شلم هجري کال کښي حضرت عماربن ياسر (رض) دحضرت عمر فاروق (رض) لخوا دکوفي دوالي په توګه وټاکل سو حضرت عماربن ياسر (رض) دڅه دپاسه نوي کلونو په عمر دصفين په جګړه کښي شهيد سو.

(۵۹) **حضرت عبدالله بن رواحه** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبدالله بن رواحه دانصارو دخزرج قبيلي دحارث بن خزرج له کورني څخه او دنسب پوره لړي يې داده:

عبدالله بن رواحه بن ثعلبه بن امرء القيس بن عمرو بن امرء القيس الاکبر بن مالك الاعز ابن ثعلبه بن کعب بن خزرج بن حارث بن خزرج الاکبر. کنيت نوم يي ابومحمدؤ له بيعت عقبه ثانيه نه مخکښي دايمان دخزاني مالك سو او په بيعت عقبه ثانيه کښي درسول الله (ص) لخوا دانصارو ددولسو نمايندګانوله جملي نه وټاکل سوله بدرنه تر مؤته پوري ټولو غزاګانو کښي برخوال ؤ چي په پاي کښي دمؤته په تاريخي غزا کښي شهيدسو حضرت عبدالله بن رواحه سربيره پردي چي دجهاد نامتو قوماندان ؤ خورا تکړه شاعر ؤ.

(۶۰) **حضرت عبدالله بن عباس** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبدالله بن عباس (رض) درسول اکرم (ص) دتره عباس بن عبد المطلب زوي ؤ کنيت نوم يي ابوالعباس اوالقاب يي داوو: الحبر، البحر، امام المفسرين، له نبوي هجرت نه دري کاله مخکښي په مکه کښي پيدا سوي ؤ.

حضرت عبدالله بن عباس (رض) ديارلس کلن ؤ چي رسول الله (ص) له دي فاني دنيا څخه رخصت سو.

حضرت عبدالله بن عباس (رض) دقرآن اوحديث اوفقهي لوي عالم ؤ. دقرآن لومړني تفسير دابن عباس (رض) تفسيردي، سره له دي چي دعمرپه لحاظ ډير کشرؤ خو حضرت عمر (رض) به دخپل خلافت په دور کښي له بدري لويانو صحابه ؤ سره په مجلس کښي کښينوی اوپه ځينو مسئلو کښي به يي فتوي

ورڅخه غوښتله دحضرت علي کرم الله وجهه دخلافت په دورکښې دبصري او بيا دايران دوالي په توګه وټاکل سو.

دخلفاي راشدينو ددور په جنګونو کښې چې ډيري څمکي دمسلمانانو په لاس فتح سوي عبدالله بن عباس (رض) په ډيرو غزاګانو کښې برخوال ؤ.

دحضرت حسن بن علي (رض) دخلافت په دورکښې داسلامي اردو اعلي قوماندان ؤ دژوند په وروستيو وختونوکښې په طائف کښې استوګن ؤ او دعمرپه (۷۱) کال په (۶۸) هجرى کښې وفات سوحضرت محمدبن حنفيه (رح) دهغه دجنازي لمونځ اداکړ او په طائف کښې دفن کړاي سو له حضرت ابن عباس (رض) (۲۲۶۰) حديثونه روايت سويدي .

(۶۱) **حضرت عبدالله بن عمر** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبدالله بن عمر(رض) دقريشوله بنوعدي قبيلي څخه اودنسب لړي داده: عبدالله بن عمر بن خطاب بن نفيل بن عبدالعزي بن رباح بن قرط بن زراح بن عدي بن كعب بن لؤي، دمورنوم يي زينب بنت مظعون ؤ او هغه هم صحابيه وه ام المؤمنين حضرت حفصه (رض) دهغه سکنۍ خور وه.

دعبدالله بن عمر (رض) کنيت نوم ابوعبد الرحمن ؤ لقب يي فقيه الامت ؤ دبعثت په ۲ کال په مکه کښې زيږيدلي دي، ښي اوکيږ لاس يي چي وپيژندی خودپخپله داسلام په غيږ کښې ؤ ځکه چي دهغه پلار عمر فاروق (رض) دبعثت په (۶) کال په اسلام مشرف سوي ؤ په (۱۱) کلني سره يې هجرت وکړ په بدر اواحد کښې دعمر دکموالي لامله اجازه ورنکړه سوه چي په غزا کښې شريك شي خو په نورو غزاګانو کښې ، دحديبيې په بيعت رضوان کي دمکي په فتحه اودحجة الوداع په سفر کښې له سرور کائنات (ص) سره ملګري و.

دشام، ايران اومصر په فتوحاتو کښې ديو غښتلي مجاهد په صفت برخوال ؤ. حضرت ابن عمر (رض) دعبدالملك بن مروان دخلافت په وخت کښې د (۸۴) کلونوپه عمرپه (۷۴) هجري کښې په مکه معظمه کښې وفات سو. حجاج دهغه دجنازي لمونځ ادا کړ او په (فخ المهاجرين) نومي هديره کښې دفن کړاي سو هغه دقرآن کريم اونبوي احاديثو لوي عالم وروسته له هغه څخه

(١٢٣٠) حديثونه روايت سوي دي داسلامي احکامو معتمد مفتي ؤځکه خو دفقيه الامت لقب ورکړل سويدي .

(**٦٢**) **حضرت عبدالله بن زبير** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبدالله بن زبير (رض) دقريشو دبنو اسدله کورني څخه اود نسب لړي داده: عبدالله بن زبيربن العوام بن خويلد بن اسدبن عبدالعزي بن قصي.

دابن زبير (رض) انا دسرور کائنات (ص) تروروه، دهغي نوم ؤصفيه بنت عبدالمطلب دابن زبير (رض) مور دام المؤمنين حضرت عائشي (رض) مشره خوروه، دهغي نوم ؤاسماء بنت ابوبکر صديق (رض) عبدالله بن زبير (رض) دهجرت په لومړي کال په مدينه کښي وزيږيدی، حضرت زبير بن العوام هغه دسرور کائنات (ص) حضورته بوتلی اوهغه (ص) ورته په خوله کښي خپلي مبارکي لاړي ورکړي اودعا يي ورته وکړه. درسالت دزماني په غزاګانو کښي دعمر دکموالي لامله شريك نسو خوپه وروسته جګړو کښي برخوال ؤ.

ديزيدبن معاويه دسلطنت په وخت کښي مکي ته ولاړی په همدي وختونو کښي دکربلا پيښه منځ ته راغله ديزيد له مرګه وروسته عبدالملك بن مروان پرتخت کښيناست حجاج بن يوسف ته يي امر وکړ چي پرمکه باندي يرغل وکړي ، هغه د (٧٢) هجري کال دذي قعدي په مياشت کښي مکه معظمه محاصره کړه، دشامي لښکر او دحضرت ابن زبير دپيروانو ترمينځ ډيره اوږده جګړه وسوه چي په پاي کښي حضرت ابن زبير (رض) د (٧٢) کلونو په عمر شهيد سو.

(**٦٣**) **حضرت عثمان بن مظعون** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عثمان بن مظعون (رض) دقريشو دبنوجمح له کورني څخه او دبعثت په بيخي لومړيو وختونو کښي په اسلام مشرف سوي ؤ په لومړني پنځلس کسيزه اودويمه يوسل اودري کسيزه ډله کښي يي حبشي ته هجرت وکړ اودريم هجرت يي مديني منوري ته وکړ. مديني ته له هجرت کولو نه وروسته دبدر په لومړني غزا کښي په پوره ميړانه وجنګيدی په همدي کال يعني دهجرت په دويم کال کښي وفات سو.

له مهاجرينو څخه لومړني څوك چي په جنت البقيع كښي دفن سوي دي حضرت عثمان بن مظعون (رض) دي . رسول الله (ص) پخپله دهغه دجنازي لمونځ ادا كړ او بيا وروسته خاوروته وسپارل سو.

(۶۴) **حضرت عمرو بن العاص** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عمرو بن العاص (رض) دقريشو دبنوسهم كورني ته منسوب او دنسب لړي داده:

عمرو بن العاص بن وائل بن هاشم بن سعيد بن سهم بن عمرو بن هصيص بن كعب بن لؤي بن غالب، كنيت نوم يي ابو عبد الله او لقب يي ؤ فاتح المصر. دمور نوم يي نابغه بنت حرمله بن حارث وه، حضرت عمرو بن العاص (رض) دمكي له فتحي نه مخكښي ايمان راؤړ هغه داسلامي اردو يو نامتو قوماندان ؤ دشام، روم، ايران، فلسطين او مصر په جګړو كښي برخوال ؤ په تيره بيا داچي دمصر فاتح ؤ او په مختلفو دوروكښي دهمغه ځاي والي هم ؤ.

حضرت عمرو بن العاص (رض) د (۴۳) هجري كال دكوچني اختر په ورځ وفات سو، پدي وخت كښي دهغه عمر دنوي (۹۰) كلونو په شاوخوا كښي ؤ دهغه زوي حضرت عبدالله بن عمروبن العاص دجنازي امامت وكړ اوبيا دمقطم غره په لمن كښي دفن كړاي سو.

(۶۵) **حضرت عباده بن صامت** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عباده بن صامت (رض) دانصارو دخزرج قبيلي دبنوسالم له كورني څخه او دنسب پوره لړي داده: عباده بن صامت بن احرم بن فهربن ثعلبه بن غنم بن سالم بن عوف بن عمرو بن عوف بن خزرج. كنيت نوم يي ابو الوليد ؤ دمور نوم يي قرة العين بنت عباده بن فضله ؤ. له نبوي هجرت نه مخكښي په اسلام مشرف سوي ؤ اوپه بيعت عقبه اولي اوپه بيعت عقبه ثانيه كښي يي درسول الله (ص) په مبارك لاس دايمان او سرښندني بيعت كړي ؤ.

په بيعت رضوان كښي چي څوارلس سوو صحابه ؤ كرامو درسول اكرم (ص) په مبارك لاس دقرباني اوسرښندني بيعت وكړ حضرت عباده (رض) هم شريك ؤ دمكي دفتح په وخت كښي له سرور كائنات (ص) سره ملګري ؤ.

درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته دشام اومصرپه جګړوکښي برخوال ؤ حضرت عمرفاروق (رض) دخپل خلافت په دورکښي حضرت عباده په فلسطين کښي دقاضي په حيث ټاکلي ؤحضرت عباده (رض) په فلسطين کښي استوګن سو اوهمالته په (۲۴) هجري کښي دحضرت عثمان (رض) دخلافت په دور کښي دعمر په (۷۳) کلني کښي وفات او په بيت المقدس کښي دفن کړاي سو. حضرت عباده بن صامت انصاري (رض) دقرآن اوسنت عالم ؤ له هغه څخه د (۱۸۱) حديثونو روايت سويدي.

(۶۶) **حضرت عبدالله بن جحش** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبد الله بن جحش دعدناني قبيلي بنومصر بنواسد بن خزيمه له کورني څخه او دنسب پوره لړۍ يي داده:

عبدالله بن جحش بن رياب بن عمربن صبره بن مره بن کثير بن غنم بن دودان بن اسدبن خزيمه. دهغه کنيت نوم ؤ ابو محمد دهغه لقب ؤ المجدع في الله (دخداي په لاره کښي غوږ پريکړي) دحضرت عبدالله بن جحش مور اميمه بنت عبدالمطلب دسرورکائنات (ص) سکنۍ تروروه اودهغه خور حضرت زينب بنت جحش (رض) له امهات المؤمنين څخه وه.

دبعثت په لومړيو دريوکلونوکښي چي لارسول الله (ص) په دارارقم کښي ديره نه وه نيولي په اسلام مشرف سو پدي وخت کښي څلورويشت کلن ؤ.

ددوو هجرتونو ثواب ورپه برخه سوي ؤ يوځل حبشي اوبل ځل مديني ته دبدرله دري سوه ديارلس کسانو څخه يوتن ؤداحد غزاته له روانيدونه دمخه يي دشهادت دعا کړي وه، الله (ج) دهغه دعا قبوله کړه او په احدکښي شهيد سو پدي وخت کښي دهغه عمرله څلويښتو کلونوڅخه اوښتي ؤ همالته په احد کښي له حضرت سيد الشهداء حمزه (رض) سره په يوقبر کښي دفن کړاي سو.

(۶۷) **حضرت عمرو بن عبسه** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عمرو بن عبسه (رض) دبنو سليم قبيلي ته منسوب اودنسب پوره لړي داده: عمرو بن عبسه بن عامر بن خالد بن غاضره بن عتاب بن امرؤالقيس. دهغه کنيت نوم ابونجيح ؤ حضرت عمرو بن عبسه (رض) دحضرت ابوذر

غفاري (رض) خيافي ورور (دمور زوي) ؤ.

دبعثت له لومړيو دريو کلونو څخه وروسته په اسلام مشرف سو دمکي له فتحي نه لږ ورځي مخکښې مديني ته ولاړی اوهلته استوګن سو.

دمکي دفتحي اوطايف په غزاګانو کښې له رسول الله (ص) سره ملګري ؤ حضرت عمرو بن عبسه (رض) دحضرت عثمان رض دخلافت دزماني په وروستيو وختونو کښې وفات سو.

(**۶۸**) **حضرت عبيده بن حارث** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبيده بن حارث دقريشوله بنومطلب څخه اودنسب لړي يي داده:

عبيده بن حارث بن مطلب بن عبدمناف بن قصي القريشي. (پدي کورني کښې مطلب اوعبد المطلب دوه بيلا بيل کسان دي) دحضرت عبيده کنيت نوم ابومعاويه ؤاولقب شيخ المهاجرين دهغه دمورنوم ؤ سخيله هغه په عمر کښې له رسول الله (ص) څخه لس کاله مشرؤ دبعثت په لومړنيو وختونو کښې په اسلام مشرف سو په شعب ابي طالب کښې دبنوهاشم دمحاصري په دوران کښې هغه هم له رسول الله (ص) سره ملګري ؤ.

مديني ته له خپلي کورني سره دهجرت په وخت کښې دهغه عمرله شپيتو کلونو څخه اوښتي ؤ له همدي امله په (شيخ المهاجرين) سره مشهور سو.

دبدر په غزا کښې په پوره ميړانه وجنګيدی چي په پاي کښې زخمي سو اوپه وادي صفاء کښې يي روح عليين ته والوتی او په همغي وادي کښې دفن کړاي سو پدي وخت کښې دهغه عمر (۲۳) کاله ؤ.

(**۶۹**) **حضرت عمرو بن جموح** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عمروبن جموح (رض) دانصارو دخزرج قبيلي دبنو سلمه له کورنی څخه اودنسب لړي داده: عمرو بن زيد حرام بن کعب بن غنم بن کعب بن سلمه. دحضرت عمرو بن جموح (ض) لقب سيد الانصار ؤ له بيعت عقبه ثانيه نه وروسته په اسلام مشرف سوي ؤ.

داحدپه غزا کښې سره له دي چي په يوه پښه ګوډ اومعذور ؤ په ډيره مينه شريك سو اولکه څنګه چي دهغه هيله وه په همدي غزا کښې شهيد سو.

(۷۰) **حضرت عبد الله بن سلام** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبدالله بن سلام بن حارث ديهودي قبيلي بنوقينقاع څخه ؤ. کنيت نوم يي ابو يوسف ؤ. دده اصلي نوم ؤ حصين دتورات اوانجيل لوي عالم ؤ.

له نبوي هجرت نه وروسته جوخت دپيغمبر (رض) حضورته ورغي اوپه اسلام مشرف سو هغه له يوي خوا عالم او له بلي خوا مجاهد ؤ.

دسورة رعدپه (۱۲) اودسورة احقاف په لومړي رکوع کښي الله (ج) دهغه يادونه کړيده حضرت عبدالله بن سلام (رض) دحضرت امير معاويه (رض) دخلافت په دور کښي په (۴۳) هجري کال کښي وفات سو.

(۷۱) **حضرت عتبه بن غزوان** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عتبه بن غزوان دقيس عيلان قبيلي دبنومازن له کورني څخه او دنسب لړي يي داده: عتبه بن غزوان بن جابر بن وهب بن شيب بن زيد بن مالك بن حارث بن مازن بن منصور بن عکرمه بن خصفه بن قيس بن عيلان.

دده کنيت نوم ابوعبدالله ؤ. دبعثت په لومړي وخت کښي په اسلام مشرف سو چي پدي وخت کښي دهغه عمر ديرش کاله وه ددوهجرتونو ثواب يي گټلی ؤ يوحبشي او بل مديني منوري ته. په غزاګانو اودحجة الوداع په سفرکښي له رسول الله (ص) سره ملګري ؤدرسول اکرم (ص) له رحلت نه وروسته دشام ايران عراق او فلسطين په جګړو کښي هم حضرت عتبه بن غزوان کله دمجاهدپه صفت او کله دقوماندان په توګه برخوال ؤ.

دحضرت عمر (رض) لخوا دبصري دوالي په توګه ټاکل سوي ؤ.

حضرت عتبه بن غزوان دعمري خلافت په دورکښي د (۵۷) کلونو په عمر په هغه سفر کښي وفات سو چي مکي معظمي ته دحج لپاره راغلي او بيرته بصري ته روان ؤ .

(۷۲) **حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام دانصارو قبيلي دبنو سلمه له کورني څخه اودنسب لړي يي داده: عبدالله بن عمرو بن حرام بن کعب بن غنم بن سلمه بن سعدبن علي بن اسد بن سارده بن يزيدبن جشم بن خزرج. دهغه کنيت نوم

ابوجابر ؤ. له نبوي هجرت نه تقريبا څلويښت کاله مخکښي په مدينه کښي زيږيدلي ؤ دبيعت عقبه ثانيه په وخت کښي يي دسرور کائنات (ص) په لاس دايمان اوسربښندني بيعت وکړ. دبدر اواحد په دواړو غزاګانو کښي په پوره ميړانه برخوال ؤ اوله خپلي هيلي سره سم داحد په غزا کښي شهيد سو. او دسرور کائنات (ص) په هدايت عبدالله اوعمرو بن جموح په يوه قبر کښي دفن کړاي سول.

(**۷۳**) **حضرت عدي بن حاتم طايی** (رضي الله تعالٰی عنه)

حضرت عدي بن حاتم طائي ديمن له طي قبيلي څخه وو چي مذهب يي عيسائي ؤ اوحاتم طائي ددغي قبيلي مشرؤ، دهجرت په نهم کال په اسلام مشرف سو. دحضرت ابوبکرصديق (رض) اوحضرت عمرفاروق (رض) دخلافت په دورکښي دشام، روم، عراق اوايران په ټولو جنګونو کښي شريك ؤ.

دحضرت اميرمعاويه (رض) دخلافت په دور کښي د (۱۲۰) کلونو په عمر په (۲۷) هجري کال کښي په کوفه کښي وفات سوله حضرت عدي بن حاتم طائي څخه (۲۲) حديثونه روايت سويدي .

(**۷۴**) **حضرت عمير بن سعد** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عمير بن سعد بن عبيد دانصارو داوس له مشهوري قبيلي او دعمرو بن عوف له کورني څخه ؤ. دنسب پوره لړي يي داده:

عمير بن سعد بن عبيد بن نعمان بن قيس بن عمرو بن عوف، له نبوي هجرت نه وروسته لا صغيرؤ چي دايمان دخزاني مالك سو له يوي خوا دعلم او کمال خاوندله بلي خوا دجهاد دميدان اتل ؤ دحضرت عمرفاروق (رض) لخوا دحمص دامير په توګه ټاکل سوي ؤ. دحضرت عمر (رض) دخلافت په دورکښي وفات او په جنت البقيع کښي دفن کړاي سو.

(**۷۵**) **حضرت عباده بن بشر** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت عباد بن بشر دانصارو داوس قبيلي دعبد الاشهل له کورني څخه اودنسب لړي داده:

عباد بن بشر بن دقش بن زغبه بن زعوراء بن عبدالاشهل. کنيت نوم يي

ابورافع ؤ حضرت عبادبن بشرله نبوي هجرت نه مخکښي دخپلي قبيلي درئيس حضرت سعدبن معاذ (رض) په دعوت سره په اسلام مشرف سوي ؤ.

له نبوي هجرت نه وروسته چي دغزاګانو لړي شروع سوه حضرت عبادبن بشرله بدرنه واخله ترتبوك پوري دغزاپه هرميدان کښي له سرور کائنات (ص) سره ملګري ؤ دحضرت ابوبکر صديق (رض) دخلافت په دور کښي ديمامي په جګړه کښي چي دمرتدانو پرضدپه تاريخ کښي ډيره لويه خونړي جګړه تيره سويده په پوره ميړانه وجنګيدی اوپه پاي کښي يي دشهادت جام وڅښی پدي وخت کښي هغه دپنځه څلويښتو کلونو په عمرکښي ؤ له هغه څخه يوازي دوه حديثونه روايت سويدي.

(**۷۶**) **حضرت قيس بن سعد بن عباده** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت قيس بن سعد (رض) دانصارو دخزرج قبيلي دبنوساعده له کورني څخه او دنسب لړي داده:

قيس بن سعدبن عباده بن وليم بن حارثه بن حزام بن خزيمه بن ثعلبه بن طريف بن خزرج بن ساعده بن کعب بن خزرج الاکبر، دمور نوم يي فکهيه بنت عبيده بن وليم وه دهغه پلار اومور دواړوته دصحابيت شرف په برخه سوي ؤ.

دحضرت قيس کنيت نوم ابوالفضل ؤ له نبوي هجرت نه دمخه په اسلام مشرف سوي ؤ هغه هم غازي ؤ اوهم ډير زيات سخي په (۲۰) هجري کال کښي دحضرت اميرمعاويه رض دخلافت په دورکښي په مدينه منوره کښي وفات سو.

(**۷۷**) **حضرت قتاده بن نعمان انصاري** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت قتاده بن نعمان دانصارو داوس قبيلي دبنو ظفرله کورني څخه او دنسب لړي داده: قتاده بن نعمان بن زيدبن عامربن سواد بن ظفر بن خزرج بن عمرو بن مالك بن اوس دهغه کنيت نوم ابوعمر ؤ، دبيعت عقبه ثانيه په وخت کښي په اسلام مشرف سوي ؤ.

په غزاګانو کښي له سرور کائنات (ص) سره ملګري ؤ درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته هم دجهاد دميدان يوغښتلي سپاهي ؤ اودعمر فاروق (رض) دخلافت په دور کښي په (۲۳) هجري کال کښي وفات سو.

**(۷۸) حضرت کعب بن مالک انصاري** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت کعب بن مالك (رض) دانصارو دخزرج قبیلي دبنوسلمه له کورني څخه او دنسب لړي داده: کعب بن مالك بن ابي کعب عمرو بن قین بن سواد بن بن غنم بن کعب بن سلمه بن علي بن اسد بن سارده بن یزید بن جشم بن خزرج، دمور نوم یي لیلي بنت زیدبن ثعلبه وه له نبوي هجرت نه (۲۷) کاله دمخه په مدینه منوره کښي زیږیدلي ؤ.

له بیعت عقبه اولي نه وروسته دحضرت مصعب بن عمیر (رض) په دعوت سره په اسلام مشرف سوي ؤ او په بیعت عقبه ثانیه کښي یي دسرور کائنات (ص) په مبارك لاس دایمان اوسرښندني بیعت کړي ؤ.

له بدر اوتبوك نه پرته په نورو ټولو غزاګانو کښي له رسول الله (ص) سره ملګري ؤ دحضرت امیرمعاویه (رض) دحکومت په دورکښي په **۵۰** هجري کال کښي د (۷۷) کلونو په عمروفات سو.

**(۷۹) حضرت مصعب بن عمیر** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت مصعب بن عمیر (رض) دقریشو دبنو عبدالدار له کورني څخه او دنسب لړي یې داده:

مصعب بن عمیربن هاشم بن عبدمناف بن عبدالداربن قصي. دتوحید دعوت ته یي دبعثت په لومړیو وختونو کښي لبیك وویل اوداسلام پخاطریي ډیر زیات تکلیفونه وګالل ددوو هجرتونو ثواب یي ګټلي ؤ یوځل حبشي ته او بل ځل مدیني منوري ته. له نبوي هجرت نه مخکښي دانصارو په غوښتنه درسول الله (ص) لخوا مدیني ته دقرآن دمعلم په صفت ولیږل سو چي دهغه په تبلیغ اودعوت سره ډیر زیات خلګ په اسلام مشرف سول.

حضرت مصعب بن عمیر(رض) دحق اوباطل په لومړني معرکه کښي ددري سوه اودیارلس سرښندونکو مؤمنانوله جملي څخه یوتن ؤ اوداحدپه غزا کښي هم ترهغه پوري دخداي (ج) په لارکښي وجنګید چي دشهادت جام یي وڅښی.

**(۸۰) حضرت مقداد بن عمرو** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت مقداد بن عمرو (رض) دبهراؤ اوسیدونکي او دقبیلي نوم یې ؤ

قضاعه له هغه ځایه دیمن کندي ښارته ولاړی دنسب لړي یي داده:
مقدادبن عمروبن ثعلبه بن مالك بن ربیعه بن ثمامه بن مطرود بن عمرو بن سعد. دهغه کنیت نوم ابوالاسود ؤ. له بعثت نه مخکښي مکي ته راغلي ؤ اود بعثت په لومړیو وختونو کښي په اسلام مشرف سوله نبوي هجرت نه وروسته يي مديني منوري ته هجرت وکړ هغه په ټولو مشهورو غزاګانو کښي له رسول الله (ص) سره ملګري ؤ.
په (۳۳) هجري کال کښي دڅه دپاسه (۷۰) کلونو په عمر په مدینه منوره کښي وفات سو، امیر المؤمنین حضرت عثمان بن عفان (رض) يي دجنازي لمونځ ادا کړ او په جنت البقیع کښي خاوروته وسپارل سو.

(**۸۱**) **حضرت معاذ بن جبل** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت معاذ بن جبل (رض) دانصارو دخزرج دقبیلي داوي بن سعدله کورني څخه او دنسب لړۍ يي داده:
معاذبن جبل بن عمروبن اوس بن عائذبن عدي بن کعب بن عمروبن داوي بن سعد بن علي بن اسد بن ساردة بن یزید بن جشم بن خزرج اکبر.
دبعثت په (۱۳) کال په اسلام مشرف سو او په بیعت عقبه کبیره کښي دانصارو د (**۷۵**) بیعت کوونکو له جملي څخه یوتن ؤله بدرنه ترتبوك پوري په ټولو غزاګانو کښي له سرور کائنات (ص) سره ملګري ؤ.
دقرآن اوسنت لوي عالم ؤ درسول الله (ص) لخوا دبنوسلمه دمسجد دامام په توګه ټاکل سوي ؤ همدارنګه درسول الله (ص) لخوادیمن دامیرپه توګه لیږل سوي ؤله نبوي رحلت نه وروسته هم دجهاد دمیدان سپاهي ؤ دشام اوروم، ایران اوعراق په جګړو کښي برخوال ؤ اودعمر په وروستیو وختونو کښي يي فلسطين ته کډه وکړه اوپه پاي کښي دعمر په (۳۶) کلني کښي وفات اودااردن دسیند پرغاره په بیسان نومي ښارکښي دفن کړاي سوله حضرت معاذبن جبل (رض) څخه (۱۵۷) حدیثونه روایت سوي دي.

(**۸۲**) **حضرت مغیره بن شعبه** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت مغیره بن شعبة دطائف دبنوثقیف قبیلي څخه اودنسب لړي يې دا

ده: مغیره بن شعبه بن ابي عامربن مسعود بن معتب بن مالك بن کعب بن عمرو بن عوف بن قیس. په (۵) هجري کال کښي مدیني منوري ته ولاړ درسول الله (ص) په مبارك لاس یي دایمان اوسربښندني بیعت وکړ اوهمالته استوګن سو هغه په بیعت رضوان کښي چي د(۶) هجري واقعه ده برخوال ؤ.

دحضرت عمر فاروق (رض) لخوا دبصري او بیا دکوفي دوالي په توګه ټاکل سوي ؤپه پاي کښي په (۵۰) هجري کال کښي د (۷۰) کلونو په عمر وفات سوله حضرت مغیره بن شعبه څخه (۳۳) حدیثونه روایت سوي دي.

(**۸۳**) **حضرت مثنٰي بن حارثه** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت مثني بن حارثه (رض) دعدناني نسل دمشهوري قبیلي بنوبکر بن وائل دبنو شیبان له کورني څخه اودنسب لړۍ یي داده:

مثني بن حارثه بن سلمه بن ضمضم بن سعدبن مره بن ذهل بن شیبان بن ثعلبه بن عکابه بن صعب بن علي بن بکر بن وائل.

په (۸) هجري کال کښي دمکي له فتحي نه وروسته مدیني ته ولاړی، په اسلام مشرف سو اوبیا همالته استوګن سو دعراق اوایران په جنګونو کښي دهغه په کارنامو باندي دتاریخ پاڼي ښکلي دي دجسر په مشهوره معرکه کښي زخمي سوي ؤ حتي بالاخره له همغه زخم نه شهید سو.

(**۸۴**) **حضرت هشیم بن عتبه** (رضي الله تعالی عنه)

حضرت هشیم بن عتبه دقریشو دبنوعبد شمس قبیلي ته منسوب او د قریشو دنامتو رئیس اوغټ مشرك عتبه بن ربیعه زوي ؤ دنسب لړۍ یي داده:

هشیم بن عتبه بن ربیعه بن عبد شمس بن عبدمناف بن قصي. دهغه کنیت نوم ابوحذیفه.

دبعثت په لومړیو وختونو کښي حضرت هشیم اودهغه میرمن سهله بنت عمرو دتوحید بلني ته لبیك وویل او داسلام راوړلو لامله ورباندي سخت کړاوونه راغلل ددوو هجرتونو خاوندؤ یوحبشي او بل مدیني منوری ته، په ټولو غزاګانو کښي په پوره میړانه برخوال ؤ.

دحضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په دور کښي دیمامي په جګړه

کښې دمرتدانو پرضد ترهغه وجنګیدی چي دشهادت جام يي وڅښې پدي وخت کښې دحضرت هشيم (ابوحذيفه) عمر د (**۵۴**) کلونو ؤ.

(**۸۵**) **حضرت هشام بن عاص** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت هشام بن عاص (رض) دقريشو دبنوسهم دقبيلي څخه اودنسب لړۍ داده: هشام بن عاص بن وائل بن هاشم بن سعيدبن سهم بن عمرو بن هصيص بن کعب بن لؤي.

دبعثت په لومړيو وختونو کښې په اسلام مشرف سو اوله سابقون الاولون څخه ؤ ددوو هجرتونو ثواب يي ګټلي ؤ يوځل حبشي اوبل ځل مديني منوري ته. دخيبر دغزا تروختته پوري په مدينه کښې نه ؤ له هغه وروسته په نورو ټولو غزاګانو کښې له رسول الله (ص) سره ملګري ؤ.

په صديقي دور کښې درومیانو پرخلاف جګړه کښې په پوره میړانه وجنګیدی اوپه همدي جګړه کښې شهيد سو دهغه جسد دآسونو ترقدمونو لاندي ټوټي ټوټي سو چي بيا دهغه ورور دمصر فاتح حضرت عمرو بن عاص هغه ټوټي راټولي کړي په بوري کښې يي واچولي اودفن يي کړ.

(**۸۶**) **حضرت يزيد بن ابو سفيان** (رضي الله تعالي عنه)

حضرت يزيد بن ابوسفيان (رض) دقريشو دبنوامیه له کورني څخه ؤدنسب لړۍ داده:

يزيدبن ابوسفيان صخربن حرب بن اميه بن عبد شمس بن عبدمناف بن قصي. دهغه کنيت نوم ابو خالد ؤ. دمکي دفتحي په وخت، په اتم هجري کال کښې په اسلام مشرف سوي ؤ دحنين په غزا کښې له سرور کائنات (ص) سره ملګري ؤ درسول الله (ص) له رحلت نه وروسته په صديقي اوعمري دور کښې دروم، شام په اوږدو جنګونوکښې شريك ؤ دشام له فتحي نه وروسته دحضرت عمر فاروق (رض) لخوا دشام دوالي په صفت وټاکل سو حضرت يزيد بن ابو سفيان (رض) په (۱۸) هجري کښې داجل داعي ته لبيك وويل.

**يادونه**: دځينو صحابه ؤ کرامو (رض) دژوند دځينو پيښو او دشهادت او وفات په نيټو کښې دسيرت ليکونکو اومؤرخينو ترمينځ اختلاف سته خو

موږ دموضوع داختصار لپاره داختلافي روايتونو له راوړلونه ډډه کړېده او يوازي ارجح اقوال مو را غونډ کړيدي.

**(اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّم وَبَارِك عَلیٰ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلیٰ آلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ).**

پایٖ

## دحقپالونكي مأخذونه

**صحيح بخاري**، امير المؤمنين فى الحديث ابى عبدالله محمد بن اسماعيل البخارى. رحمه الله

**صحيح مسلم**، امام ابى الحسين مسلم بن الحجاج ابن مسلم القشيرى النيسابورى. رحمه الله

**جامع الترمذي**، امام الحافظ ابى عيسٰى محمد بن عيسٰى الترمذى. رحمه الله

**مسند احمد بن حنبل**، امام احمد بن حنبل الشيبانى. رحمه الله

**طبقات ابن سعد**، محمد بن سعد بن منيع أبو عبدالله البصري الزهري. رحمه الله

**الإصابة فى تميز الصحابة**، حافظ ابن حجر العسقلانى. رحمه الله

**الإستيعاب فى معرفه الأصحاب**، حافظ ابن عبد البر النمرى القرطبى. رحمه الله

**السيرة النبوية**، ابو محمد عبد الملك ابن هشام. رحمه الله

**زاد المعاد**، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد الحافظ ابن قيم الجوزية. رحمه الله

**اسد الغابة**، عزالدين أبوالحسن علي بن محمدبن عبد الكريم المعروف بـ"ابن الأثير". رحمه الله

**حياة الصحابة**، علامة محمد يوسف البنورى الكاندهلوي. رحمه الله

**البدايه والنهايه**، الامام الحافظ ابي الفداء اسماعيل بن كثير الدمشقي. رحمه الله

**الفاروق**، علامه شبلى نعمانى. رحمه الله

**پچاس صحابه**، مولانا طالب الهاشمى (حفظه الله)

**رجال حول الرسول**، خالد محمد خالد (حفظه الله).

**شهدآء الصحابة في صدر الإسلام**، محمد نهمي عبدالوهاب (حفظه الله).

**دروس وعبر**، دوكتور مصطفي سباعي (حفظه الله).

**سو شيدائي**، ..........

**تيس پرواني**، ..........

**٤٠ جان نثار**، ............

کتب خانهٔ صداقت
ارگ بازار کندهار

احمد حبیبی
مکتبه حبیبیه
ارگ بازار، کندهار، افغانستان